تفسیر ابوحنیفہ

تالیف

علامہ عصر وحید الدہر ابو الفضل مولانا محمد عبد اللہ السید الایوبی

الفتوحاری المیلمانخیلی العنفی النقشبندی عم فیضہ

مکتبۃ القراءۃ والتجوید

کافی روڈ مشاہدہ کوئٹہ

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner



Maktaba Tul Ishaat .com



تمام فنون کے کتب کے پی-ڈی-ایف ہمارے ویب سائٹ سے اور پلے سٹور سے فری ڈاون لوڈ کریں۔ ہم روزانہ کی بنیاد پر اس میں مزید کتب شامل کر رہے ہیں اس لیے آپ ہفتے میں ایک بار ضرور ہمارے پلے سٹور اور ویب سائٹ کو چیک کیا کریں۔

ابھی مطلوبہ پی-ڈی-ایف مفت ڈاون لوڈ کریں



تفاسیر	خطبات	منطق
احایث	سیرت	معانی
فقہ	تاریخ	تصوف
سوانح حیات	صرف	تقابل ادیان
درس نظامی	نحو	تجوید
لغت	فلسفہ	نعت
فتاوی	حکمت	تراجم
اصلاحی	بلاغت	تبلیغ ودعوت
تمام فنون		

مکتبۃ الاشاعت ڈاٹ کام

Maktaba Tul Ishaat.com

بسم الله الرحمن الرحيم

په پښتو ژبه کښې اولنی او په افغاني تاريخ کې يې
ساری په زر گونو جديد او نوو مسئلو باندې مشتمل

تفسیر اوبی حقی

دوهم ټوک ۲

تالیف اوتصنیف

د علامة العصر ابو الفضل شيخ التفسير والحديث فقيه دوران مفسر الزمان

حضرت مولانا محمد عبيد الله الاوبی

الكندهاري السليمانخيلي الحنفي النقشبندي حفظه الله تعالى

مكتبة القرآن والجود

كانسي روډ شالدره كوټه

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

د کتاب پېژندنه

د کتاب نوم ..... تفسير ايوبي پښتو دوهم ټوک

مولف ..... الحاج مولنا محمد عبيد الله الايوبي الكندهار السليمانخيلي الحنفي حفظه الله تعالى بفضله الوهبي

کمپوزر ..... حبيب الحق حقاني

ټايپ ..... حقاني کمپيوټر اداره

نشر کوونکي اداره ..... مكتبة القراء ت والتجويد كاتسي رود كوټه

د چاپ ځای ..... لاهور پاکستان







د چاپ کمپوز، ژباړې (ترجمې) او سمون (تصحیح) لپاره!

حقاني کمپيوټر:- ستاسو کتابونه، مجلې، خبرې پاڼې او نور طباعتي توکي په ښه څرنګوالي او معيار کمپوزوي. که غواړئ چې پښتو، پارسي، اُردو، عربي او انګرېزي ليکنې مو په ښلو خپلو معياري تورو او پروګرامو کمپوز شي، که غواړئ چې خپل کتابونه په ښه ستېنډرډ چاپ کړئ؛ نو حقاني کمپيوټر ته مراجعه وکړئ. په کوټه کې د ښه کمپوز او چاپ يوازېنی مرکز.

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

جميع الحقوق محفوظة

جميع حقوق الملكية الأدبية والفنية محفوظة لمكتبة القراءة والتجويد - بالمحفوظ ويحظر طبع أو تصوير أو ترجمة أو إعادة تنضيد الكتاب كاملاً أو جزءاً أو تسجيله على أشرطة كاسيت أو إدخاله على الكمبيوتر أو برمجته على اسطوانات ضوئية إلا بموافقة الناشر خطياً.

Copyright ©
All rights reserved

Exclusive rights by Maktabatul-Qraati waltajweed Quetta - Pakistan. No part of this publication may be translated, reproduced distributed in any form or by any means, or stored in a data base or retrieval system, without the prior written permission of the publisher.

الطبعة الأولى

١٤٢٥ هجري - ٢٠٠٥ ميلادي

مكتبة القراءة و التجويد

كوئٹه - پاکستان

MAKTABTUL-QIRRAT
WALTAJWEED
KANSI ROAD
QUETTA

الحمد لله وحده والصلواة والسلام
على من لانبي بعده .

وبعد: هغه ذات لره دي تولي ستاينې وي کوم چا چې له عدم څخه ودې ټولو کائناتو لره وجود ور په برخه کړ، او درودونه او سلامونه دي دده پر اخري استاذي حضرت محمد ﷺ وي، کوم چا چې راته د دين حقه لار ښودنه وکړه، او د خدای ﷻ کامل رحمتونو دې دده پر ملګرو وي، کوم چې د حق معيار او د هدايت ستوري دي .

محترمو لوستونکو: علماء کرام لکه څرنګه چې صادق مصدوق عليه السلام فرمانيلي دي د انبياء کرام عليهم الصلواة والتسليم وارثان دي، تر څو چې الله تعالى ددې دنيا ثبات ولري، نو دوئ به د الله تعالي ومخلوق ته لارښوونه کوي، خو کله دا لار ښونه د ژبې په تقرير، کله د قلم په تحرير وي، خو زما په صحيح اند کومه لارښونه چې

Maktaba Tul Ishaat.com

Scanned by CamScanner

د قلم په تحرير وي د هغې کتې د هري وي،
ولي چې يو خوا دا چې هغه د ډېرو انسانانو تر
لاسونو پورې رسېږي او بل دا چې تر ډېرې
زمانې پورې پاتې وي. دا يو څرنګند حقيقت دی چې د امت محمديه ﷺ
پوهانو او علماوو که د يوې لورې د دين خدمت د درس او تدريس په
ذريعه سره کړی دی، نو ورسره يې د قلم نوک هم په کار اچولی دی، چې
په همدې وجه نن زمونږ په کتابونو کښې د دين مسئلې هم هغسې روغې
رمتې پاته دي ولي چې د ژبې په الفاظو اوتعبيرونو کښې د هر فرق راځي،
خو قلم يواځنی لاره ده چې نقش يې هم هغسې د پخوا په شان پاته وي،
که څه هم علماوو په هر وخت کښې پخپلو وعظونو او نصيحتونو سره هم
د امت لارښونه کړېده. او اوس يې هم کوي. خو د قلم په پرتله يې ونلوه
زياته ده بيا هم د کتابونو د تصنيف او تاليف چې کومې کتې دي هغه
ورځځه تراسه کيدلای نه سي.

دالله تعالي په لوي فضل او احسان سره د وخت مشهور صاحب تقرير،
صاحب تحرير، صاحب تصنيف والتاليف او د افغانانو په غم شريك زما
استاد او زما مربي علامه زمان **حضرت مولانا محمد عبد الله الايوبي**
السليمانخيلي الحنفي الكندهاري دام فيضه الجاري، كه د يوې خوا په
قسم قسم مصروفياتو، او د حديثو او قرآن په درس او تدريس اخته وو،
خوله هغه سره سره يې هغه پر دين مين خلګ هم هېرنه کړه، کوم چې په
نورو وطنو کښې د هجرت ژوند تېروي، او د خپل ديني او روحاني
استاذانو څخه په فراق کښې دي، او يا هم هغه مسلمانان چې د اطرافو
په کوښو کښې خپل ژوند تېر وي. خو يو داسې کامل استاذ ورته ميسر
نه وي. نو يې قلم را اوچت کړ تر داسې چې د الله تعالی په فضل او کرم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سره يې هيڅ داسې يو کتاب پرېنښود، کوم ته
چې د حواشۍ او يا نکاتو ضرورت و، نو داسې
چې درسي اوغير درسي کتابونه يې په خپلو
حواشيوو سره ښائسته کړه .

خو يواځنۍ ارمان چې د افغانانو په زړه کښې و

هغه په خپله مورنۍ ژبې پښتو باندې د وخت پر نوو مسئلو باندې مشتمل يو تفسير وو، د کوم اعزاز چې الله تعالې وده ته ورپه برخه کړ، چې دا دی ستاسو په لاسونو کښې يې اوس دوهم ټوک لکه خلاندې لمر وځلېد، کوم چې په يوه مکمله سپېاره باندې محيط دی، لکه دا ويار چې الله تعالې وده ته ورپه برخ کړ همدارنګه د چاپ او کمپوزولو چار يې د ښه معيار يواځنۍ اداري مکتبة القراءت والتجويد کوټې وسرته ورسولې، چې هسې دا ويار بيا الله تعالى ددې اداري وچلونکو ته ورپه برخه کړ.

د الله تعالى څخه ورته بشپړه صحت، په قلم کې روانګي، او په دماغ کښې ورته نور هم چمتوالى غواړو

والسلام

د مکتبة القراءت والتجويد باني

قاري فضل الحق حقاني کوئه بلوچستان

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا
سکين او pdf سو. د دعا په هيله احمدي!
واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بسم الله الرحمن الرحيم

اَلْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى رَسُوْلِهٖ وَآلِهٖ وَصَحْبِهٖ اَجْمَعِيْنَ.

ژوپښې وايي:- چې هم دا اوس زه شروع کوم په تفسیر شریف یعنې په دوهم جلد د جمعې شریفې د سحار په وخت کې په توفیق د رب العزت جل سلطانه په دوهم (۲) د ربیع الثاني اوائل /۱۴۲۵هـ ق

قال تبارك وتعالى

وَاِذِ اسْتَسْقٰى مُوْسٰى لِقَوْمِهٖ فَقُلْنَا اضْرِبْ بِّعَصَاكَ الْحَجَرَ

او په یاد کړئ هغه وخت چې طلب د سقیا یعنې د ابو وکړی موسی ﷺ لپاره د قوم نو مور ده ته ووېل چې ته پخپلې لکړې ډبره ووهه، یعنې له هغې ډبرې د خدای ﷻ په عظیم قدرت خپل به تاسې ته اوبه د چینلو وغیره در کړي.

ژوپښې وايي:- وایي چې دا هغه وخت و چې بنې اسرائیل په تیه کې وه اوبه نه وې او دوئ تږي وه.

پوه شه:- چې دا لکړه د آس د آدم ﷺ د جنت له درختې څخه را استلې وه چې وږدوالی یې لس (۱۰) گزه وو، پر قد د موسی ﷺ او شکل یې داسې و آنو د غه دوه سرونه یې په ظلمت کې د شپې لکه څراغان لګېدله، او دا لکړه قرناًبعد قرن و انبیاء ﷺ ته په میراث پاته سوې وه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حتی چې د شعیب علیه السلام لاس ته رسېدلې وه او شعیب علیه السلام چې د موسی علیه السلام خسر و موسی علیه السلام ته یې ورکړه

پوهاند:- چې دا ټول نعمتونه دی پر اسلافو د یهودیانو فی زمن موسی علیه السلام .

فائده:- په دې ډېره کې اختلاف دی اول دا چې الف ولام د الحجر د عهد لپاره دی او که د جنس لپاره.

نورویش وایي:- الف ولام جنسي دی یعني یوه ډېره له ډبرو څخه که څه هم لوی دلیل دی د قدرت الهي او ستره معجزه ده د موسی علیه السلام ولي ډېره که معینه وي شاید د چا وهم په و دې ته ولاړسي چې د دې ډبرې په داغه خاصه وي چې هر څوک چې په لرګي و وهي دا به اوبه راباسي لکه خاصیت د آهني روبا په راکشولو کې د وسپني وخان ته، او په مطلق ډېره کې دا توهم ګنجائش نه لري، مګر بیا هم راویان وایي مثلا ابن عباس رضي الله عنه وایي چې دا مربع معینه ډېره وه چې د موسی علیه السلام سره به په ټوبره کې ورسره وه په مقدار د سړي د سر وه، او عطاء رحمه الله هم د ابن عباس رضي الله عنه تائید کوي چې دی وایي چې دې ډبرې څلور مخه درلوده او له هر مخه څخه درې چینې راتلې چې دولس کهړۍ (۱۲) او بني اسرائیل هم دولس (۱۲) قومه "سبط" وه یوه یوه چینه به یو یو قوم ته روانه وه.

او له قتاده رضي الله عنه روایت دی چې دا ډېره د کوه طور چې موسی علیه السلام د اوبو لپاره ورسره ګرځول هر ځای چې به په تیه کې بني اسرائیلو وارول او د اوبو ضرورت به پیدا سو نو موسی علیه السلام به لګړه ووهل دولس (۱۲) چینې به خندې روانې سوې ډېرې خوړې اوبه یې وې، او ښېې لکه قوم ته موسی علیه السلام یې اوبه ورکولې او چې بار بدل به بیا به موسی علیه السلام لګړه ووهله اوبه یې وچې سوې.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او بعض مفسرین وایي چي روایت په بخاري او مسلم کي هم موجوده دی چي بني اسرائیلو چي به غسل کاوه لخ لخ به وه او یو د بل عورت ته یې سره کتل او موسیٰ علیه السلام به ستر د عورت کاوه، نو بني اسرائیلو په خپلو کي سره ویله چي موسیٰ علیه السلام چي دونه ستر کوي چوره به وي د شرم له سببه لخ زمور سره نه لمبیږي، نو خدای ﷻ دا تهمت د دوئ پر خپل دوست باندي نه و پېرزو نو موسیٰ علیه السلام یوه ورځ کوښه له خلګو څخه په یوه واله کي لمبیدی اولنګ یې نه و وهلی او کالي یې پر یوه ډبره ایښي وه نو دی چی اوبو ته ورشوه سو ډبري د کالو سره میدان کړه، موسیٰ علیه السلام لخ پسي راووتی او نعري یې کړې "ثوبي حجر ثوبي حجر" یعني ودربره زما کالي راکړه خو ډبره نه درپدله او پر څو مجلسه د بني اسرائیلو تپره سوه او موسیٰ علیه السلام لخ په پسې و بني اسرائیلو چي ولیدی موسیٰ علیه السلام نو یې وویل چي زمور ګمان غلط و ولي چي موسیٰ علیه السلام خو چوره نه دی.

نو ډبره ودرپده موسیٰ علیه السلام چي کالي واغوسته نو یې ډبره یو څو لګرې ووهله، په حدیث شریف کي داسي راغلي دي چي د موسیٰ علیه السلام له وهلو څخه په قدرت د خدای ﷻ پر ډبره تغمي پیدا سوې لکه سړی چي په لرګي ووهي نو جبرائیل علیه السلام وه موسیٰ علیه السلام ته وویل چي د اډبره د رسره واخله "فلی فیه قدرة ولک فیه معجزة، نو موسیٰ علیه السلام ډبره په توبره کي واچول.

ژوپښ وایي:- چي مظهري وایي چي راتلل د جبرائیل علیه السلام په بخاري او مسلم کي نسته نوره قصه روح البیان او مظهري په اجمالاً او تفصیل سره راوړې ده

ژوپښ وایي:- چي دا قصه خو بېله کوم شکه معجزه د موسیٰ علیه السلام وه لکن اعجب تردي معجزې معجزه د رسول کریم ﷺ ده چي بخاري او مسلم او اصحاب التصانیف الصحاح یې روایت کوي چي څو واره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پېښه سوې ده چې په بعض سفرو کې ﷺ بلکه په مدینه منوره کې هم چې اوبه به نه وې د اوداسه او رسول الله ﷺ ته به یو پیاله قدر اوبه د اوداسه به چاراوړې چې په هغې پیالې کې به د علیه السلام په پراخه توګه لاس مبارک نه خایه دی او صحابه کرام ﷺ ورته راغله چې نورې اوبه خو نسته پیله دغې پیالې د اوبو، نو علیه السلام په پر پیاله لاس مبارک کښېښوی راوې د حدیث وایي چې زما قسم په خدای ﷻ دی چې ما په سترګو ورته کتله چې د هرو دوو ګتو د علیه السلام به چینه د ابو رابهېدله.

په بعض واقعاتو کې به له راوي څخه چا پوښتنه وکړه چې "کَمْ کُنْتُمْ" یعنې تاسې څو کسان واست چې په دغو اوبو مو اودسونه تازه کړه؟ نو هغه به ورته وویل "لو کنا مائة الف لکفانا لکن کنا الف وخمس مائة" او په بعض واقعاتو کې به راوي ورته وویل "کنا ثلاثین رجلا" په هر حال راوتل د ابو له ډېرو خو رواجي کار دی لکه چینې د غرو. لکن راوتل د زلالو اوبو د وینو او غوښو څخه هیڅ امکان نه دی.

ولهذا:- موږ وویل چې معجزه د رسول کریم ﷺ تر معجزې د موسی ﷺ اعجبه ده، او آنحضرت ﷺ د بعض دغو واقعاتو په باره کې داسې وفرمایله ﴿حی علی الطهور المبارك والبرکة من الله عز وجل﴾

پوښتنه:- چې دروښ ددغې معجزې ﷺ نقل بالمعنی وکړی، ولې چې تفصیل د ټولو روایاتو په لفظ سره عربي او بیا د هغو الفاظو ترجمه په پښتو کول ډېر وخت او ځای غوښتی، زه امید کوم چې ناظران دې کتابونه د صحاح سته وو مطالعه کړي نو به تصدیق زما د نقل ورته حاصل سي وبالله التوفیق.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَانْفَجَرَتْ مِنْهُ اثْنَتَا عَشْرَةَ عَيْنًا

نو را ووتلې لـه هغې ډبرې څخه دولس (۱۲) چينې

پوښتنه:- په نفس وينا د خدای ﷻ خو دولس (۱۲) چينې نه دي راوتلي ؟

ځواب:- هو لکن ټوله مفسرين رحمهم الله وايي چې دغه ايت قرآني يعنې "فانفجرت" د محذوف سره مربوط دی يعنې "فضرب فانفجرت آه

پوښتنه:- چې "فانفجرت" او "فانفجست" چې په بل آيت قرآني کې راغلې معنا يې وه آه عند اکثر المفسرين، او دا دولس (۱۲) چينې په عدد د اسباطو د بني اسرائيلو وې، مفسرين رح وايي چې دا اوبه به ډبرې شپږيني وې او د هر قوم او سبط لپښتې معلوم وه، حکمت د دولسو (۱۲) چينو يا تضاد په منځ کې د قومو د بني اسرائيلو او يا عدم الازدحام على عين واحد دی فافهم .

فائده سنيه:- في دفع خرافات اهل الطبعية.

ډوبښې وايي:- چې راغب اصفهاني رحمه الله او قاضي بيضاوي رحمه الله وايي چې بعض جاهلان دعلم طبعي

ډوبښې وايي:- چې بعض ناپوهان د مکاتبو او بنوڼيو د اسلامي ممالکو چې دوئ خان ته روشن فکران وايي او سائنس دانان هم وايي او په حقيقت کې هغه جاهل ترين د انسانانو هم دوئ دي د دغې معجزې د موسى عليه السلام چې په مذکوره آيت قرآني کې خداي ﷻ ذکر کړه منکر دي او په دې انکار سره په اتفاق د امت مرحومه دوئ کافران دي، دوئ وايي چې راوتل د چينو په ضرب د موسى عليه السلام څرنګه امکان پذير دی،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

راغب رحمه الله وایی چې اولاً دوئ اندازه د قدرت عظیمه درب العزة ﷻ نه ده لکولې چې خداي ﷻ څرنګه تغیرات خارجه عن العادة البشریة په طبائعو کې د مخلوقاتو او کائناتو راولي ومع ذالك، د دوئ پر طریقه د عقل صرف چې ددوئ څخه څوك پوښتنه وکړي چې یوه ډبره چې د مقناطس په نامه یاد ږي چې په پښتو یې آهن روبا بولي څرنګه وسپنه له لهرې خای څخه وخان ته راکشه وي؟ او یا پوښتنه څندي وکړه سي چې یوه ډبره سته چې په نامه د باغض الخل یاد ږي یعني ددې ډبرې د سرکې سره بغض اوعداوت دی حتی چې په یو لوښي کې چې سرکه وي او دا ډبره ورایله کړي په سرکه کې نه غو ته کېږي بلکه د باندې تر لوښي اوسرکې راوزي، او ابو العلاء المغربي وایي په خواصو کې د ډبرو یو قسم ډبره سته چې حلاق الشعریه یې بولي یعني د وېښتانو خریونکې چې د هرځای په وېښتانو پوري یې ومورږي هغه پاك ایسته کوي او داسې سپکه ډبره ده چې دا دومره وي لکه د مېچنې پل چې وې تلې یو درهم تول یې وي، او که په خونه کې دا ډبره پرته وي چې هلته بنځې یانر سر رېمنځه وي او ورېښتان څندي تویږي دغه ډبره داټوله وېښتان وځان ته راکشه وي حتی چې سړی ورته وګوري خیال بې داسې چې داده وېښتانو کوټه ده نو د دغو ډبرو په باب کې که څوك د دغو جاهلانو څخه پوښتنه وکړي چې مذکوره ډبرې ولې دا خارج عادة الاحجار کارونه کوي، دوي په جواب کې وایي چې دا کارونه د دغو ډبرو طبعیة دی یعني صنعت د حکیم مطلق جل سلطانه کارنه په کښې لري.

نو مورږ ودوي ته وایو چې تاسې نو ولې ددې آیت څخه انکار کوي شاید چې ددغه موسوي ډبرې دي هم دا طبیعت وو چې د مخکې څخه بې اوبه راکشولې.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَدْ عَلِمَ كُلُّ اُنَاسٍ مَّشْرَبَهُمْ كُلُوْا وَاشْرَبُوْا مِنْ رِّزْقِ اللّٰهِ وَلَا تَعْثَوْا فِي الْاَرْضِ مُفْسِدِيْنَ ۝

په تحقیق معلوم وورتولو انسانانو ته یعني هر سبط ته د یهودیانو خپل ځای د شرب یعني خپل لښتی چي د بل پر لښتي او به نه چښي "وقد مر و جهه" او تاسي خورک کوئ په تقدیر د قلنا یعني چي ربط نحوي د ماقبل سره صحیح سي او تاسي چښل کوئ د رزق څخه د خداي ﷻ یعني چي من او سلوی ده، او د ډبري اوبه دي او تاسي فساد مه کوي په مځکه کي.

لغوي بحث - چي "عثی" سخت فساد ته وایي نو مفسدین یې حال مؤکد دی، بیضاوي، مظهري او نور مفسرین رحمهم الله هم وایي چي دې حال مؤکده ته څه ضرورت وو، دوئ وایي چي که څه هم د "عثی" استعمال خو غالباً په فساد کي وه لکن بعض "عثی" خو فساد نه وي لکه مقابله د ظالم متعدي په فعل سره د هغه او بعض "عثی" مستلزم وي لکن صلاح راجح لره وي لکه خضر ﷺ چي هغه نابالغه کشنی مړ کړی کما سیأتي في القرآن، او یا خضر ﷺ د هغه کښتی چي دی او موسی ﷺ او نور خلک په کښتی کي سپاره وه د ابو وخوا ته تخته وکښل کما سیأتي في هذ التفسیر ان شاء الله تعالي

د وړښې وایي:- چي ګویا د "عثی" تفسیر پر دي تقدیر نفس تجاوز پر بل دی نو که فساد وي کما هو المتعارف او که مقابله وي او که اصلاح راجح په کښې وي او مظهري یو بله توجیه کړې والله اعلم بصحته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه:- څه ضرورت وو چې خداي ﷻ موسی ﷺ په غرق کې دفرعون په وخلو د دریاب په لکړه سره، اویا په طلب دبني اسرائیلو په وخلو سره ددیرې په لکړه سره امر کړی خداي ﷻ خو پر فلق البحر او پر اخراج د اوبو بهله ضرب العصا هم قادر وو ؟

ځواب:- د خداي ﷻ عادت دی چې په دار الاسباب کې سببیات په اسبابو پورې مربوط کړي دي. او بل حکمت الهي دا وو چې انسانانو ته دا وښیي چې ټوله مسببات صرف په قدرت الهي پورې اړه لري او اسباب موثر فی الحقیقة نه دي کما فی الموضعین المذکورین. ولي په دغو دوو ځایو هر عاقل په دې پوهیږي چې ضرب العصی موثر حقیقي د فلق البحر او یا د اخراج د اوبو خونه دی.

وَاِذْ قُلْتُمْ يٰمُوْسٰى لَنْ نَّصْبِرَ عَلٰى طَعَامٍ وَّاحِدٍ

او په یاد کړئ هغه وخت چې تاسي ووویل یعني ستاسي اسلافو په زمانه کې د موسی ﷺ چې مونږ هر ګز صبر نه سو کولای پر دغه یوه خوراک چې من اوسلوی وه چې په قسمت کې مونږ ته مقرر دي.

پوښتنه:- چې د وحدت معنا داده چې بدلیږي نه، ورنه دا خو دوه طعام وو کما لایخفی.

پوښتنه:- چې دا بیان د بل جنایت دی د اسلافو د بني اسرائیلو چې دوئ نا شکري د نعمت د خدای ﷻ چې من او سلوی وه وکړه.

پوښتنه:- مخاطب په آیت کې خو بني اسرائیل مو جودین په زمانه کې د علیه السلام دي او ناشکري د نعمت د خداي ﷻ خو ددوئ اسلافو کړې وه ؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب:- لکن چونکه د حاضرینو د عصر نبوي ﷺ او ددوئ د اسلافو سره مشابه وه نو ځکه یې مخاطب دوئ کړه یعني لکه اسلافو ددوئ چې له نعمت الهي ناشکري کړې وه چې من اوسلوي وه، حاضرینو د عصر نبوي ﷺ هم ناشکري د نعمت الهي چې آنحضرت ﷺ دی وکړه یعنې ایمان یې پر رانه وړی.

سوال:- حاضرین د عصر نبوي ﷺ په نعمت والي دعلیه السلام پو هېدله؟

ځواب:- هو ولي دوئ به دده ﷺ په راتګ خلګو ته زېری ورکاوه او پر مشرکانو بې د جنګ په وخت کې د رخواست د نصرت کاوه په روئ د علیه السلام کما یدل علیه قوله تعالی ﴿ وکانوا یستفتحون ﴾ الایة.

پوهه شوه:- چې قاضي بیضاوي رحمه الله وایي چې چونکه "من" او "سلوٰی" طعام د اهل تلزز وه او بني اسرائیل کښت کاره خلګ وه نو ددوئ و خپل عادي خورك ته اشتیاق وسو، یعني سبز یجات وغیرها کما سیناتي نو ځکه یې له من اوسلوٰی څخه بیزاري ښکاره کړه.

فَادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُخْرِجْ لَنَا مِمَّا تُنْبِتُ الْأَرْضُ مِنْ
بَقْلِهَا وَقِثَّآئِهَا وَفُومِهَا وَعَدَسِهَا وَبَصَلِهَا

نو ته خواست وکړه زموږ لپاره

پوهه شوه:- چې کلمه د "فا" سببیه ده یعني زموږ عدم صبر پر طعام واحد باندې سبب دی ستاسو د سوال د خداي ﷻ څخه ستا چې موږ ته راوباسي او ښکاره کړي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه:- چې "یخرج" مجزوم دی چې جواب د امر دی کما هو القانون النحوي او مفعول د یخرج محذوف دی اي شیئا، د بعض هغه شیانو څخه چې مخکه یې شنه کوي.

پوښتنه:- چې اصل د "مما" من ما وو نو کلمه د من تبعضي ده او کلمه ما موصله ده.

پوښتنه:- د بعض مافي الارض سوال له دې جهته دوئ وکړی چې تولـه ماتنبت الارض تر حصر وتلي دي نو سوال یې ممکن نه دی.

فائده:- نسبت د انبات و مخکې نه سره ددې چې شنه کونکی خو خداي ﷻ دی، مجازي دی چې قابل یې په خای کې د فاعل درولی دی کما في انبت الربیع البقل، د بقل څخه یعني د سبزي کاریو څخه د مخکې مراد هغه سبز یجات دي چې خوړل کېږي لکه پالك بېنډی، ګندنه مارو کډو شیرین کډو ګوبی، الی غیر ذلك.

پوښتنه:- چې د اعراب د لارې بعض مفسرین وایي چې "بقلها" بدل دی د "ما" موصوله څخه په اعاده د حرف جر، او بعض مفسرین رح وایي چې "من بقلها" حال دی د ضمیر څخه چې د "تنبت" سره مقدر دی او راجح و "ما" موصوله ته دی والتقدیر ماتنبه الارض کائنا من بقلها او بادرنګ یا چمبرخیال د مخکې، او د قوم تفسیر چاچې په اوږه کړی دی هغه ضعیفه تفسیر دی ولي د معظم د خوراکي موادو ذکر چې غنم دي نه راغلی، نو بنه تفسیر هغه دی چې معظمو مفسرینو یې تفسیر کړیدی لکه تفسیر کبیر بیضاوي روح البیان او مظهري د عطاء رحمه الله څخه هم روایت کړی دی یعني غنم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ژوپښتی وایي:- چې د ابن عباس رضی الله عنه څخه روایت دی چې قوم دوډی د غنمو ته وایي مراد د ماتنبت الارض انبات بالواسطه مراد دی ولي چې دوډی خو د مځکي څخه نه شنه کیږي او عدس ټولو اقسامو ته د دال شامل دی او ماشو ته هم او بصل په پښتو پیازو ته وایي وټولو اقسامو ته د هغه .

قَالَ أَتَسْتَبْدِلُونَ الَّذِي هُوَ أَدْنَىٰ بِالَّذِي هُوَ خَيْرٌ

نو موسی علیه السلام دوئ ته په استفهام انکاري وویل یعني دا خواست مه غواړئ، آیا تاسي بدلوئ ادنی شی یعنې بېکاره او اخس شی یعنې چې تاسي یې ذکر وکړې په هغه شي سره چې هغه خیر او ښه دي یعني چې من او سلوی دي یعني تاسي چې په عوض کې د ښه شي بېکاره شی غواړئ .

تشریح:- وجه د خیریت د من او سلوی داده چې اول خو بې تکلیفه او خواری تاسي ته رسېږي، او بل د بدن انساني لپاره تر مذکوره شیانو چې تاسي یې مطالبه کوئ ګټور دي، او تر ټولو لوي خیریت او فضیلت یې دادی چې په اخرت کې حساب هم نسته، م، ر، ب، د .

اِهْبِطُوا مِصْرًا فَإِنَّ لَكُمْ مَا سَأَلْتُمْ

ژوپښتی وایي:- چې چونکه بني اسرائیلو اصرار پر خپل مطالبه باندي وکړی نو خداي ﷻ دوئ مخاطب کړه چې تاسي ووزئ او ولاړسئ مصر ته ولي چې تیه خو بیابان دی او ستاسي مطلوبه شیان په دې دښت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کي نه برابرې بلکه دا شيان په امصارو کي دستياب کېږي نو ستاسي لپاره به مطلوبه شيان هوري تاسي ته ميسر سي .

پوښتنه:- چي "ان" فان لکم آه کي علة دی د هبوط ومصرته .

ځواب:- ضحاك وايي چي مراد د مصر څخه مصر فرعون دی .

سوال:- مصر فرعون خو علم او نوم دی نو غير منصرف دی نو تنوين يې ولي ورکړی دی ؟

ځواب:- عجمه چي ساکن الاوسط وي صرف يې روا دی، کَهِنْدٌ ونُوْحٌ ورَغْدٌ کما تقرر فی النحو، او مظهري د مصر يو بنار د بنارو اراده کړی دی، اوروح البيان وايي چي مصر فرعون مراد نه دی او نه مطلق مصر مراد دی بلکه مراد بيت المقدس دی ﴿ لقوله تعالی ياقوم ادخلوا الارض المقدسة التي کتب الله لکم ﴾ نو سره ددې تصريح په ارض مقدسه سره به څرنګه اراده د مصر فرعون روا وي ببضاوي اراده د مصر فرعون په صيغه د ضعف راوړي ده اشاره کړې الی ماقال روح البيان لانه الاظهر مګر تائيد د ارادې د مصر فرعون هم سته ولي چي په مصحف کی د عبد الله ابن مسعود ﷺ غير منون راغلي دي قاله البيضاوي رحمه الله

قاعده:- په نحو کي وايي چي په نومانو کي د بنارو او يا د وطنو په تاويل د بلدة او قرية واخلئ نو غير منصرف لاجتماع العلميه والتانيث فيه، او کې په تاويل د بلد او مکان واخلئ نو منصرف دی لعدم التانيث

پوښتنه:- چي مصر په اصل لغت کي لوئ بنار ته وايي اوګاهي قريه جامعي ته هم مصر وايي .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَضُرِبَتْ عَلَيْهِمُ الذِّلَّةُ وَالْمَسْكَنَةُ

او وهل سوی دی پر دوئ باندي ذلیل والی، سپکوالی، او مسکنت او فقر.

پوهه شه:- چې ضربت دلته یا په معنا د احطیة دی کما في قولهم ضربت علی فلان العقبة اذا احیطت به، او یایي معنا داده الصقت بهم نو ماخوذ دی د ضرب الطین علی الحائط یعنې ختمي یې په دیوال پورې ومښلې.

پوهه شه:- چې دا جزاء د ناشکرۍ ددوي د نعمت الهي ده، او سپک والی د دوئ دادی چې په ټوله نړۍ کې دوي خوار او ذلیل دي، او فقر د یهودیانو مراد ځندي فقر القلب دی او حرص دمال دی، او یامراد دی دا چې یهودیان که څه هم اغنیاء وي لکن په لباس د فقر او ذلت ژوند کوي ددې سببه چې پر موږ باندي جزیه یعنې مالیه او سرغم بالانسي.

پوهښتنه:- خداي ﷻ د یهودیانو د ذلت او مسکنت څخه اخبار وکړي، او سره ددې یهود خپل مستقل حکومت په دې زمانو کې لري بلکه داسي جابر حکومت لري چې شاوخوا ممالک عربیه اسلامیه لکه مصر، شام، فلسطین، بیروت حتی سعودي عربستان ټوله ددوئ د حکومت څخه په خوف او خطر کې دي کما سمعت في النشریات العامه

ځواب:- دا آیت په دې ځای کې مطلق راغلی دی او په بل ځای کې مقید دی په دې سره ﴿وضربت علیهم الذلة، اینما ثقفوا، الابحبل من الله وحبل من الناس﴾ یعنې یهود به په ذلت کې وي هر چیرې چې دوئ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پیداکړه سي مګر نه هغه وخت چي خداي ﷻ ددوئ سره کومك وکړي او خلګ هم ددوئ سره کومك وکړي، د خداي ﷻ د کومك معنا داده چي څه وخت چي مسلمان د خداي ﷻ د اوامرو او منهیاتو څخه مخالفت په ډګه پیمانه مختاره کړي، نو خداي ﷻ عذابًا لهم في الدنیا یهود پر دوئ مسلط کړي، او د حبل من الناس معنا داده چي نور کافران به ددوئ کومك وکړي او دیهودیانو موجوده حکومت هم پر دغه اساس مابین ته راغلی دی یعني چي د ډموړي حکومتو اهل یعني عمومي او اکثره یې شبراً بشبر د کافرانو د افعالو او اخلاقو سره اخته وه نو خداي ﷻ یهود پر مسلط کړه یعني د مسلمانانو د دغو هیوادو په زړو کي بیره د یهودو پیدا کړه او د یهودو د زړو څخه بیره دمسلمانانو وه ایستل د بلي خوا د دهشت ګرد اعظم د ټولي دنیا یعني امریکا هم د یهودو سره مالي مرستي او د اسلحې کومکونه شروع کړه تا چي اسلامي قوتونه کمزوري او د پښو واچه وي، نو لهذا هره بین المللي جرګه چي دیهودو پر ضد تصویب وکړي که څه هم په اتفاق الرای وي ظالم امریکا هغه بین المللي قانون ویتو کړي.

فائده:- په اصول الفقه کي وایي چي مطلق او مقید چي په یوه واقعه کي وي مطلق پر مقید محمول وي نو ددې سببه دا آیت پر هغه مقید آیت محمول دی.

درویش وایي:- چي هم دغه عذاب د (۲۵) کلو څخه د افغانستان پر مسلمان ملت جریان لري ولي چي زما په یاد دي چي د افغانستان عمومي اسلامي وګړي ډیر پر دین مین او د اسلامي قوانینو پابنده خلګ وه چونکه په آخري دورکي د ظاهر شاه د حکومت دیني قوانین یې تر پښو لاندي کړه یعني عموماً خلګو، نو خداي ﷻ عذاباً لهم یو وار روس

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پر مسلط کړی. او بیا اوس یې امریکا پر مسلط کړی لکن چونکه د روس پالسي زور او توپك سالاري وه نو ناکامه او شرمنده د افغانستان څخه ووتی او امریکایانو چې ولیده چې د افغانستان غیور خلګ په زور سره څوك نه سي مهارولای او دوئ ولیدی چې د دنیا لوي ابر قدرت چې امریکا په خپله هم څندي بهرېدی د افغانستان غیورو مسلمانانو د ابد لپاره پر ګودو کړی او امریکا یې هم د خطرې څخه د روس بیغمه کړی نو امریکایانو لپاره د مهارولو د افغانستان د خلګو بله پالیسي مختاره کړه یعني د والو ورکولو لار یې وخوانینو او مشرانو او قومندانانو ته د افغانستان په مخه واخسته والله اعلم چې امریکا به په په دې پالیسي کې کامیابه سي او که نه، اللهم نغراً و ذلاً للامریکا کما ذللت الروسیه.

تبصره:- که مسلمانان د هر هیواد وخپل اسلامي دین ته د عزت په سترګو وګوري یعني اسلامي احکام په عمل کې پیاده او عمل په ټولو دیني او اسلامي احکامو که اوامر وي او که منهیات وکړي، نو هیڅ کفري طاقت که څه هم ډیر ابر قدرت او جګ خولي وي د مسلمانانو د مقابلې طاقت به ونه لري او د شکست سره به مخامخ سي.

﴿ قال الله تعالي وانتم الاعلونه ان کنتم مو منین ﴾ یعني که تاسي په حقه او کمال سره مسلمانان یاست نو تاسي به عالي یاست پر کافرانو، ددې دلیل دادی چې په عصر نبوي ﷺ کې هم دوه سپر قدرتونه وه یعني روم او پارس څرنګه یې د مسلمانانو د خوا څخه شکست ورپه برخه سو تاسي د تبوك غزا د قرآن کریم څخه مطالعه کړئ چې وروسته پر خپل ځای په دې تفسیر کې به هم راسي ان شاء الله تعالی، او د پارس کسرئ چې د علیه السلام مکتوب چې و دته یې لیکلی وو توته توته کړی یعني څیري یې کړی او علیه السلام چې دا واقعه واورېدل نو یې وویل چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اللهم مزقهم كل ممزق يعني خدايه ته پارسيان هم توك توك كړي څرنګه چې د پارسيانو حكومت د ابد لپاره په لږ مده كې د مابين څخه ولاړي.

وَبَآءُو بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ ذٰلِكَ بِاَنَّهُمْ كَانُوْا يَكْفُرُوْنَ بِاٰيٰتِ اللّٰهِ وَ يَقْتُلُوْنَ النَّبِيّٖنَ بِغَيْرِ الْحَقِّ ذٰلِكَ بِمَا عَصَوْا وَّكَانُوْا يَعْتَدُوْنَ ﴿۶۱﴾

او دوئ رجوع وكړه په غضب د خداي ﷻ

پښتو ګرامر:- چې "بوء" كه څه هم په معنا د رجوع ده لكن د بوء استعمال خوا مخوا په شر سره كېږي.

او دا غضب د خداي ﷻ چې پر دوئ مسلط سو په سبب ددې چې دوئ به همېشه كفر كاوه په آياتو د خداي ﷻ يعني په معجزاتو د انبياؤ عليهم السلام من فلق البحر، واظلال الغمام، وانزال المن والسلوي وانفجار العيون من الحجر، كما قد عدت عليهم، او يامراد د آياتو څخه آياتونه دكتب المنزله وو دي كالانجيل والقرآن او آيت الرجم او په هغو آيتو كې چې به نعت د عليه السلام په كتبي ذكر سوى وو په تورات كې، او وژل بې انبياء ﷺ ولي چې دوئ مړ كړى شعيب، ذكريا او يحيى و غيرهم عليهم السلام.

پښتو ګرامر:- قتل د نبي خو ضرور بغير الحق وي ولي چې وژل پر حق خو يا دادى چې سړى قصاصاً ووژل سي، او يا محصن زنا وكړي او يا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مرتد سي العياذ با لله نو دا كارونه خو په انبياء عليهم السلام كي هيڅ نسته لعصمتهم عن الذنوب.

ځوابښ وايي:- چي ددې سوال په جواب كي بيضاوي او مظهري او روح البيان وغيرها داسي وايي اي عندهم يعني ددوئ په نيز هم ناحقه قتل وو اذ لم يروا فيهم ما يعتقدون به جواز قتلهم كما مر من الا مور الثلثة المجوزة للقتل بل حملوا هم على ذالک اتباع لهوى وحب الدنيا

حاصل د جواب دادی:- چي قيد د بغير الحق لپاره د احتراز نه دی بل كي دا قيد لازم دی لپاره د شفاعت ددوئ ذكر سو، مثلا دعوت الله سميعا لكن پر دغه جواب قفال رحمه الله دا سوال كړی دی چي ددوئ عقيده خو داوه چي دغه مقتولين انبيا نبيان نه دي او معجزات ددوئ صرف توهمات دي، او هم په دغه سبب دوئ دغه نبيان وورژله، او صاحب كشاف د دفعي ددغه سوال داسي عبارت ويلی دی "فلو سئلوا وانصفوا من انفسهم لم يذكروا وجها يستحقون به القتل عندهم.

سوال:- په قرآن مبارك كي خداي ﷻ وايي ﴿ انا لننصر رسلنا الاية﴾ او په بل آيت كي خداي ﷻ وايي ﴿وقد سبقت كلمتنا لعبادنا المرسلين انهم لهم المنصورون ﴾ او په دې آيت كي خداي ﷻ وايي "ويقتلون النبين آه" نو دا په مابين كي د آيتو تعارض نه دی ؟

ځواب:- ابن عباس رضي الله عنه او حسن بصري رحمه الله وايي چي هر نبي چي په قتال د كفارو به مامور وو پر هغو باندې خداي ﷻ كافر نه دی مسلط كړی بلكه د هغو يې په جنګ كي كومك كړی دی، او هغه انبياء چي بني اسرائيل وورژله هغوته امر د قتال د كفارو نه وو وركړی، نو چي خداي ﷻ كفار ددوئ پر قتل مسلط كړه دا كرامت او رفع د منزلت ددوئ وه "كمثل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

من يقتل في سبيل الله من المؤمنين فدفع التعارض المتوهم من البين والحمدلله

او بعض مفسرين رح په جواب کې د تعارض متوهم دامسي وايي چې مراد د نصرت څخه د انبياء عليهم السلام كما في الايتين المذكورين نصرت په حجت او دليل او معجزه سره مراد دی، او هغه نصرت خو خداي ﷻ د ټولو انبياوو سره کړ دی قوله "ذالك آه" اي المذكورمن الكفر بالايات العظام وقتل الانبياء عليهم السلام په سبب د عصيان ددوئ دی نو لفظ د "با" سببي دی او ما مصدري دی، او دوئ وه چې تجاوز يې د امر الهي څخه کاوه يعني دوئ عصيان او همېشه والی د تجاوز الحدود الالهيه دوئ وکفر ته ورسول ولې چې د عادته سره سم چې څوك پر صغيره ګنهو دوام وکړي لکه مثلا د نامحرمو پېغلانو او خوانانو بښځو سره خبري کوي سړی کبيره ګناه ته رسوي لکه زنا په مثال مذکور کې لکه مداومت پر کبيره ګنهو سړی وکفرته رسوي ګاهې.

مسئله:- د آيات مذکوره ووځخه دامعلومه سوله چې د حلالو خوندورو ماکولاتو خورك مباح دی كالمن والسلوى لبني اسرائيل وقد ورد في الحديث الصحيح ان النبي ﷺ كان يحب الحلوى والعسل ويشرب الماء البارد العذب.

فائده:- عدس او زيتون غوړي خورك د انبياء كرامو دی په حديث نبوي ﷺ کې راغلي دی "عليكم بالعدس فانه مبارك مقدس وانه يرقق القلب ويكثر الدموع فانه بارك" يعني دعا د بركت کړې ده سبعون نبيا اخرهم عيسى بن مريم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب:- د عدس خورك بدن سپکوي لپاره دعبادت د خداي ﷻ او شهوت حیواني په جوش نه راولي لکه غوښي او دغنمو ډوډۍ، ناري خوایي عمر بن عبد العزیز به یوه ورځ ډوډۍ د زیتون په غورو پوري خوړله او یوه ورځ به یې په عدسو پوري او بله ورځ بې غوښي خوړلې، او مهماني د ابراهیم ﷺ به د عدسو څخه خالي نه وه وهذا کاف في فضیلة العدس.

سوال:- خورك د پیاز او وړې او ګندنې او هر هغه شی چې بد بویه وي مباح دی یعني حرام نه دی.

سوال:- په صحیح حدیث کي راغلي دي "من اکل البصل" یعني پیاز "والثوم" یعني وړه "والکراث" یعني ګندنه "فلایقربن مسجدنا" یعني زمونږ مسجد ته دي نه راځي مراد په حدیث نبوي ﷺ کي فقط مسجد نبوي مراد نه دی ولهذا لم یقل مسجدي بلکه عام مسجدونه د مسلمانانو دي "فان الملا ئکة تتاذی مما یتاذی منه بني آدم" ولي چې ملکي ازارېږي د هغه شي څخه چې انسانان په ازارېږي چې بد بویي ده لکه په دغو درو ما کولاتو کي سته، نو پوښتنه داوه چې ددې حدیث مبارك او د مسئلې تر مابین منافات نسته ؟

ځواب:- یا منافات نسته ولي چې په حدیث شریف کي منع د اکل څخه نه ده راغلې یعني لا تاکلواهذه الماکولات مذکورة، بلکه د تقارب یعني د حضور څخه د مساجدو منع راغلې ده په سبب د بوي یې ددې حدیث څخه دا هم معلومه سوله چې که په مسجد کي څوك نه وي هم دي آکل د دغو شیانو مسجد ته نه ورځي ولي چې ملکي خو په مسجد کي سته که څه هم انسان نسته.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله:- بعض فقهاء رحمهم الله پر مساجدو باندي نور مجامع الناس قياسه وي او پر اشياء ثلثه هر بد بويه شي هم قياسه وي لكه چرس وغيره والله اعلم.

فائده:- عليه السلام چي د دغو درو شيانو د خورك پر هېز كاوه، لانه ﷺ كان يناجي الملائكة ويناجي الله ﷻ فلذا رخص لسائر الناس، لكن مع هذا اقتداء په افعالو او اقوالو او احوالو كي په عليه السلام پسي عزيمت دى قال المولوي المعنوي عبدالرحمن الجامي قدس سره

يا نبي الله السلام عليك
انما الفوز والفلاح لديك

يعني فوز وفلاح ستاپه متابعة پوري مربوط دى.

گر نه رفتم طريق سنت تو
صنم از عا صيان امت تو

مانده ام زير بار عصيان پست
افتم از پاي اگر نه گيري دست

پوښتنه:- كه يو چاته دغو دروشيانو بدني فائده كول او يا د يوې مريضي دوا يې وه نو خورك يې بېله كراهيته او بېله منع د دخول څخه د مسجد روادى او كه څرنگه؟

ځواب:- په حديث صحيح كې راغلي دي ﴿ان كنتم لابد لكم من اكلها فاميتوها طبخا﴾ كه تاسي لره چاره نه وه د خورك څخه د دغو درو شيانو نو دوئ مړه كړئ په پخېدو سره، مراد له مرگه څخه ازاله د بد بويي د دغو شيانو چي پاخه يې كړي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا

يعني به محمد ﷺ سره سواء كان اخلاصاً او نفاقاً فدخل فيه المنافقون.

وَالَّذِينَ هَادُوا

اي دخلوا في دين اليهودية

وَالنَّصَارَىٰ

اي الداخلين في دين النصارى

وَالصَّابِئُونَ

وهم قوم خرجوا من كل دين ويقال لهم الدهرية

مَنْ آمَنَ

يعني د دغو ډلو څخه

بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ

يعني بمحمد ﷺ بالقلب واللسان يعني منافقين نفاق پربردي او يهوديان دين د يهوديت پربردي چې دين منسوخ دی، او د عليه السلام سره په دين اسلام کې داخل سي، وهكذا النصارى دين منسوخ پربردي او اسلام ته غاړه کښېږدي، وهكذا دهريين صانع اكبر اوسنی دين پربردي او پر ورځ د آخرت او جزاء هم ايمان راوړي، نو پر دې تفسير دا سوال نه واردېږي چې د مومنانو په باره کې ايمان ته ضرورت و چې ددوئ په حق کې هم خداي ﷻ وويل ﴿من آمن منهم آه﴾ وجه الدفع يې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

داده چي په "ان الذين امنوا" کي خو منافقين هم داخل وه نو ددوئ په باره کي ﴿من آمن منهم﴾ اي آمنوا اخلاصاً وبتركوا النفاق" خداي ﷻ ووايه .

پوښتنه:- چي صاحب الكشاف او صاحب د روح البيان د "الذين آمنوا" يوازي منافقين مراد کړي دي ولي چي معطوفات يې ټوله کفار دي .

ځواب:- لفظ د يهود که عربي وي نو مشتق دی د هاد په معنی د تاب نو دا نوم پر دوئ هغه وخت کښېښول سو چي دوئ تو به د عبادة العجل څخه وکښل، او که دا عبراني لفظ وي او په عربي مستعمل سوی وي نو اصل يې يهودا وو چي مشر زوئ د يعقوب ﷺ وو، نو گويا دغه قوم د يعقوب ﷺ د مشر زوئ په نامه مسمی سوي دي .

ځواب:- نصارىٰ جمع د نصران ده لکه ندامیٰ جمع د ندمان ده، نو دې ډلې ته چي نصاری وايي په دې سبب چي کومك د عيسىٰ ﷺ يې کړی وو، او بعض مفسران وايي چي دوئ د عيسىٰ ﷺ سره ملګري په يوه قرية کي وه چي د هغې نوم نصران وو نو په نامه د هغې قريې يې مسمیٰ کړه سوه، بيضاوي ﷺ وايي چي "ياء" په لفظ نصرانی کي لپاره د نسبت نه ده بلکه لپاره د مبالغې ده لکه احمري چي عرب وشديد الحمرة سړي ته وايي .

پوښتنه:- چي مور چي نصارىٰ جمع د نصران وبلله نو هغه سوال متوهم دفع سو چي نصارىٰ خو به جمع د ناصر وي او فاعل خو پر فعالي نه جمع کېږي .

پوښتنه:- چي مور تفسير د "صابئين" په دهريانو سره وکړی هغه د دېرو مفسرينو ﷺ خوښ تفسير دی، او بيضاوي ﷺ وايي چي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

"صابئین" یو قوم دی په مابین کي د نصاری او یهودو یعني بعض احکام یې د دین د عیسی علیه السلام څخه اخستی دی، او بعض احکام یې د دین موسی څخه اخستي دي او مجموع یې خپل دین ګرځولی دی، او بعض وایي چې دوئ عبادت د ملکو کوي او بعض وایي چې دوئ عبدة الکواکب دی نو که لفظ عربي وي نو مشتق دی د صباء "بمعنی خرج" او یا د صبا څخه مشتق دی په معنا دمال "لانهم خرجوا ومالوا عن سائر الادیان الی دینهم الباطل قاله البیضاوي رحمه الله تعالی.

شرویش وایي:- چي دا تائید د اول تفسیر چي مونږ په دهریانو سره وکړی کوي کما لایخفي.

مسئله:- "صابئین" چي په هره معنا وي ذبائح یې مردار دي او ددوي د ښځو سره نکاح هم نه ده روا کذا في روح البیان.

فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٦٢﴾

نو دوئ لره ثواب د دوئ دی یعني چي خداي ﷻ د دوئ سره وعده کړې ده چي جنت او نعیم د جنت دي او هیڅ بهره نسته پردوئ او نه به دوئ غمجن وي په ورځ د اخرت.

پوهه شه:- چي خوف بهره د اینده شي څخه او غم پر تېر سوي شي وي، نو کفار په ورځ د قیامت هم د عذاب النار څخه ببرېږي او هم به غمجن وي چي مونږ ولي ایمان نه راوړی پر خداي ﷻ او پر نبي علیه السلام د خپلي زمانې او هغه مومنان چي په دنیا کي په عمل کي تقصیر او کوتاهي کړي وي هغه به پر تضییع العمر في اللهو والعب باندي غمجن وي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پښتو:- چې کلمه د "من" موصوله او "آمن" صله ده، نو "من" مبتداء ده "فلهم اجرهم آه" يې خبر دی او ټوله جمله خبر د "ان" ده او د قانون نحوي سره سم چې موصول متضمن معنا لره د شرط وي کما في مانحن فيه په جزاء کې فاء راوړه کېږي.

سوال:- سیبویه چې د امام النحاة په ستر که علماء د عربیت وړته ګوري هغه دخول د فا په خبر کې د "ان الذین" روا نه ګڼي.

ځواب:- هو نقل صحیح دی لکن نورو امامانو د علم النحو د سیبویه دغه قول رد کړی دی په دې ایت سره.

﴿ان الذین فتنوا المؤمنین والمؤمنات ثم لم یتوبوا فلهم عذاب جهنم﴾

درویش وایي:- چې حق القول بان فوق کل ذي علم علیم، افسوس پر حاسدانو د دروېش چې په تصانیفو او حواشیو کې د دروېش ګرځي چې یوه خبره غلطه په کښې پیدا کړي نو د حسد سُړنا په خوله کې ونسي تاچې اعلان د غلطیا د دروېش په کښې وکړي.

ای بې بخته حاسده عبید الله کله یا قولاً او یا تحریراً دا ویلي دي چې زه له خطا او سهوي او نسیان او غلطیا څخه معصوم یم بلکه عجبه لا دا ده چې مغلظ حاسدان نه پوهېږي چې سهو د کاتب څخه صادره سوې وي هغه هم د دروېش ته منسوبه وي ځکه په قرآن مبارک کې دغه عبارت سته. ﴿ ومن شر حاسد اذا حسد ﴾

پښتنه:- ته د حاسدانو څخه همېشه شکایت کوي سبب یې څه دی؟

تفسیر ایوبي حنفي د نصیراحمد احمدي لخوا سکین او pdf سو. د دعا په هیله احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ثواب:- زما په خپل خان خوا نه ده بنده ولي په حسد او غيبت کي ددوئ ماته ډېره فائده رسېږي، ولي چې ددوئ د افعال حسنه ثواب ماته رانقل کېږي زما پردوئ زړه سوځي چې ستاسي په حسد خو رب جل وعلا خپل نعمت د ما څخه نه اخلي البته زما په خپله ګناه سره که يو نعمت د ما څخه اخلي وابيخلي، اخر خو علماء ياست خلګو ته وعظ او نصيحت د حسد کوئ چې ګناه کبيره ده او خپله عمل نه په کوي، او دا تبليغ هم کوي چې غيبت او بهتان ګناه کبيره او په خپله عمل نه په کوي

بيت

واعظان کين جلوه درمحراب ومنبر ميکند　　چون به خلوت ميروند آن کار دېر ميکند

او په دې هم نښه پوهېږي چې کاروان د تصنيف د درويش دکلو څخه روان دی ستاسي په غيبت نه راګرځي او دا مسئله به هم تاسي ليدلې وي چې په غيبت کي حق العبد سته هغه عبد يې په ورځ د قيامت غوښتونکی دی سعدي شيرازي څرنګه خوږ نصيحت کړی چې وايي

زبان آمد از بهر شکر وسپاس　　به غيبت نګر داندش حق شناس

ګر ګاه قران وپند ست گوش　　به بهتان باطل شنيدن مکوش

دوچشم ازپې ضع باري نکوست　　زعيب برادر فرو گير ودوست

وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَكُمْ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ الطُّورَ خُذُوا مَا آتَيْنَاكُمْ بِقُوَّةٍ وَاذْكُرُوا مَا فِيهِ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ۝

او په ياد کړئ اې بني اسرائيلو د عصر نبوي ﷺ هغه جنايت ستاسي د نيکه ګانو د عصر د موسی ؑ چې مور واخسته ټينګه وعده ستاسي څخه يعني ستاسي د اسلافو څخه چې تاسي به متابعت د موسی ؑ کوئ او عمل به په توراة کوئ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوهه شه:- چې دا واقعه ترتیبه د مخه وه چې فرعون غرق سو او دوئ سالم پاته سوه، او موږ پورته کړی سر ببره پرتاسي یعني ستاسي پر اسلافو طور .

پوهه شه:- چې په رفعنا کي واو عاطفه دی لپاره د مطلق جمعي او یا واو حالي دی په تقدیر د "قد" کما هو القانون النحوي في وقوع الماضي حالاً ، او د طور څخه مراد یا معین غر دی او بعض مفسران وایي چې طور په سرياني ژبه نفس غره ته وایي .

پوهه شه:- چې نسبت د رفع الطور خداي ﷻ وخان ته وکړی په دې اعتبار چې امر په رفع الطور خداي ﷻ وو که څه هم رافع الطور ظاهراً جبرئیل علیه السلام وو، بغوي رحمه الله وایي چې څه وخت چې موسی علیه السلام ته توراة ورکړه سو او ده وښي اسرائیلوته وویل چې دا کتاب قبول کړئ او عمل په وکړئ په احکامو دده، دوئ چې د تورات احکام واورېده ډېر سخت احکام په کښې وه یعني ډېر داسي اعمال شاقه چې دوي به عادت نه ورسره درلودی په هغو مامور سوَه، او ډېر داسي اعمال وه چې دوئ به محبت ورسره درلودی د هغو څخه نهي سوله نو بني اسرائیلو د قبوله څخه انکار وکړی، نو خداي ﷻ جبرئیل علیه السلام امر کړی چې یو غر له بېخه څخه پر راوه کاږه پر اندازه د قوم د موسی علیه السلام چې فرسخ په فرسخ کي وه نو جبرئیل هم غر پر دوئ را پورته کړی او لکه سایوان پر سرو د دوئ، او ورته وه یې ویل که چیري توراة نه قبله وئ دا جبل درباندي ایله کوم فسجدوا وقبلوا احکام التوراة باسرها" نو دا معنی ده ددې قول د خداي ﷻ "خذوا ما اتیناکم" یعني در واخلئ او قبول کړئ او عمل په وکړئ په هغه کتاب چې ما تاسي ته در واستاوه .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه شئ:- چې د "خذوا" سره "قلنا" محذوف دی لپاره د ربط د ماقبل سره کما هو القانون النحوي .

فائده:- پر یهودو چې یې غر را پورته کړی نو دوئ پر سجده سوله لکن سجده یې پر نیم مخ وه او په یوه ستر ګه یې غره ته کتله و هذه السجدة هي المعتاد لهم الی یومنا هذا. قوله بقوة یعني په کوشش تام سره او په همیشه توب سره قوله تعالي ﴿ وَاذْكُرُوْا مَافِيْه﴾ یعني تاسي په یاد کي ساتئ او هېره وئ مه او درس یې هم کوي قوله تعالی "لعلکم تتقون"

پوه شئ:- چې چونکه ترجي حقیقةً پر خداي ﷻ محاله ده، او لعل لپاره د ترجي دی، نو له دې سببه بعض مفسرین رحمهم الله لعل په معنا د لعم بولي او ترجمه د ایت داسي کوي "لکي تتقوا المعاصي" او بعض مفسران د رجا او امید راجع وبني اسرائیلو ته بولي، او داسي ترجمه د ایت کوي "رجاء منکم ان تکونوا متقین" او څوک د متقین دا معنا کوي چې تاسي به د هلاکت في الدنیا څخه خلاص سي او د عذابه څخه د قیامت به هم خلاص سئ .

سوال:- پر بني اسرائیلوا باندي د طور راپورته کول خو اجبار د دوئ دی پر ایمان باندي او اجباري ایمان خونه دي صحیح ؟

ځواب:- چې جبر خو هغه دی چې سړی مسلوب الاختیار وګرځي نو دوئ په اختیار ایمان راوړي لکن د بېړي دطور د نسکورېدو پر دوئ نو دا خو لکه کافر چې په جنګ کي د مسلمانانو ایمان راوړي په اختیار لکن د بېړي د مرګ نو دې ته اکراه وایي چې معنا یې سلب الرضا ده نه سلب الاختیار او اجبار چې الجا یې هم بولي سلب د اختیار ته وایي کذا قال القفال رحمه الله وکذا في حواشي البیضاوي رحمه الله .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال:- په قرآن کريم کي راغلي دي "لااکراه في الدين" او په بل ځای کي داسي راغلي دي "افانت تکره الناس حتی يکونوا مومنين.

ځواب:- روح البيان او سليمان جمل او نور ګنړ شمير مفسرين رح وايي چې دا ايتونه د مخه تر امر بالقتال د کافرانو سره نو په آياتو سره د امر بالحرب مع الکفار منسوخ دی.

عنايت الهي پر امت محمدي ﷺ د خداي جل سلطانه وعز برهانه دادی چې زمونږ قرآن کريم يې په (۲۳) کاله زمانه کي د نبوت محمدي ﷺ تکميل کړی، او په کرار کرار يې مونږ د عباداتو سره اموخته کړو او په تدريج يې د محرماتو څخه ببزاره کړو په دې تفسير کي به ان شاءالله العزيز په خپل ځای کي راسي چې په څونه ډېر تدريج پر مونږ د ميشتي د روژې روژې فرض کړه سوې او په آخر کي راته وويل سوه "فمن شهد منکم الشهر فليصمه، او په څومره تدريج يې پر مونږ شراب حرام کړه او په آخر کي يې وويل چې شراب رجس يعني مردار مشروب دی فاجتنبوه آه، وهکذا العبادات الاخر سوی الايمان والکفر اللهم لک الحمد علی احسانک مع الامة المرحومه.

ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ مِّنۢ بَعْدِ ذٰلِكَ ۚ فَلَوْلَا فَضْلُ اللّٰهِ عَلَيْكُمْ وَرَحْمَتُهٗ لَكُنْتُمْ مِّنَ الْخٰسِرِيْنَ ﴿۶۴﴾

بيانو تاسي يعني ستاسي نيکه ګانو مخ واړاوه دوفا څخه لـه عهد او ميثاق مذکور پس لـه محکمه ميثاقه څخه نو که نه وای فضل دخداي ﷻ او رحمت د خداي ﷻ يعني چې مهلت يې درکړی او سمدلاسه يې عذاب درنه کړی نو به تاسي وای لـه خاسرينو څخه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پښتو ژباړه:- چې خسران د تجارت دادی چې د سړي راس المال د تجارت هم د لاسه و وزي ګټه خو پرېږده.

شروېښ والېي:- چې تر "تولیتم آه" د مخه آیت یعني و "اذاخذنا میثاقکم آه" صریح دی په دې ګې چې اخذ المیثاق په رفع د جبل د اسلافو د یهودو په زمانه کې د موسی علیه السلام وه، وصرح بذالک البغوي رحمه الله حتی قال فلما راو ان لا مهرب قبلوا وسجدوا الخ، نو ددې عبارت څخه خو صراحةً دا معلومه سوه چې هغه اخذ المیثاق پای ته ورسېدی، او دغه رنګه درست آیت یعني "ولقد علمتم الذین اعتدوا آه" په باره کې د اسلافو د یهودیانو دی اذا علمت هذا نو دغه آیت "ثم تولیتم آه" هم په باره کې د اسلافو د یهودیانو دی، او په دې آیت کې چونکه لفظ د "ثم" د تراخي او لفظ د "من بعد ذالك آه" راغلی دی نو داسې معلومېږي چې دا تولي ددوئ وروسته تر "اخذ المیثاق برفع الجبل" د یهودیانو د اسلافو څخه پېښه سوې ده او مظهري هم د "تولیتم" تر جمه داسې کړې ده "اي اعرضتم عن الوفاء بالمیثاق" یعني په و "اذ اخذنا میثاقکم" کې ذکر سوه نو د هغې تولي معنا داده چې اسلافو د یهودیانو د عصر نبوي ﷺ په هغه امر د خدای ﷻ چې "خذوا و اذکروا" وفاء یې ونه کړه.

شروېښ والېي:- چې پر دغسې تفسیر کلام آلهي تولـه منتظم او متسق کړخي یعني تولـه په باره کې د اسلافو د یهودو دي، نو هغه تفسیر چې مظهري کړی دی "ویمکن ان یراد ولولا فضل الله علیکم ببعثت النبي محمد ﷺ آه" ددې مقتضي دی چې مخاطب په "تولیتم" سره حاضرین د عصر نبوي ﷺ دي "فحنئذ ینفک النظم القرآني یعني قولـه تعالی ثم تولیتم آه عن السابق والسیاق لان الکلام السابق یعني قولـه واذ اخذنا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

میثاقکم آه واللاحق یعني الذین اعتدوا آه کلاهما في شان اسلاف الیهود لا في شان الیهود الحاضرین في العصر النبوي ﷺ وقد اشار المظهري الی ضعف هذا التوجیه بایراده بقوله ویمکن ان یراد آه واورد بیضاوي رحمه الله هذا التوجیه مع الاول بقوله بتوفیقکم للتوبه او بمحمد ﷺ

او خفاجي رحمه الله په شرح کي د بیضاوي ددې دواړو توجیهو په زړه پورې مفصل بیان کړی دی، او صاحب د روح البیان رحمه الله صرف اوله معنا د آیت مذکوره کړې ده او دوهمي توجیه ته یې اشاره هم نه ده کړې او د "والله عنده علم کتابه العزیز" دروښ خو شه چین د تفاسیرو بیان پوره درته وکړی.

وَلَقَدْ عَلِمْتُمُ الَّذِيْنَ اعْتَدَوْا مِنْكُمْ فِي السَّبْتِ فَقُلْنَا لَهُمْ كُوْنُوْا قِرَدَةً خٰسِـِٕيْنَ ۝

لغوي تحقیق:- چي لام موطئه د قسم دی یعني قسم په خداي ﷻ دی چي تاسي اې معاصرینو د عصر نبوي ﷺ خبر یاست په هغو کسانو چي ستاسي اسلاف دي چي تجاوز یې کړی په تعظیم کي د یوم السبت.

فائده:- سبت په لغت کي قطع ته وایي یاپه دې سبب چي خداي ﷻ په دغه ورځ د شنبې قطعه د خلق السموات والارض کړې ده، او یاپه دې سبب چي یهودیانو ته د خداي ﷻ له خوا څخه امر سوی وو چي د دنیا کارونه به په دغه ورځ نه کوئ، او فقط او خاص د خداي ﷻ عبادت به کوي او بعض یهودو دا امر الهي نه کړی اجراء او په دغه ورځ یې بنکار د ماهیانو کاوه نو موږ په سبب د دغي جریمي ددوئ ودوئ ته وویل چي وګرځېږي بېزوګیان او د خداي ﷻ په دربار کي خوار او ترتلي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال:- بیزو والی خو ددوئ په قدرة کي نه وو نو دوئ څرنګه په بیزو والي سره د خپلو خانو مامور سوه ولي چي د امر تقاضا داده چي مامور به توان او قدرت پر مامور به لري.

ځواب:- دا شرط په امر تکلیفي کي دی او دلته امر تکویني دی "وهو لایقتضي ذالك" قصه داده چي په زمانه کي د داوٗد علی نبینا وعلیه الصلوة والسلام یوه قریه وه چي نوم یې ایله وه او د دریاب پر غاړه واقع وه نو دوئ یعني اهل ددې قریې چي یهود وه له بنکاره د ماهیانو ممنوع وه د شنبې په ورځ بلکه په عبادت د خداي ﷻ مامور وه نو د امتحان الهي سره سم چي ورځ به دشنبي سوه ماهیان د دریاب به په هیئت اجتماعي سره د دریاب غاړې ته رانژدې سوه او پزي بې تر اوبو رایستلي وې او چي د شنبې ورځ به تیره سوه نو ماهیان به په اوبو کي سره متفرق سوه، نو شیطان ودوئ ته دا وسوسه په زړو کي ور واچول چي تاسي خو د بنکار څخه د ماهیانو یعني د نیولو څخه منع یاست، نو داسي وکړئ چي دریاب ته نژدې حوضونه جوړ کړئ او له دریابه لښتی وکاږئ د شنبې په ورځ دي هر سړی په یوه لرګي ماهیان د خپل حوض د لښتي پر خوا را پوري وهي وي او هغه به د لښتي څخه حوض ته ورځي چي مازدیګر سي د لښتي خوله دي په خاورو بندوي او دیکشنبې په ورځ دي هر سړی د خپله حوض څخه ماهیان بې تکلیفه بنکاره وي او دوئ هم ډېرو کسانو په دغه هیله د ماهیانو په بنکار لاس پوري کړی، نو اهل قریه دري حصې سوله یوه ډله خو هم دغه بنکاریان وه او بله ډله یې وه چي نه یې بنکار کاوه او نه یې بنکاریانو ته نصیحت کاوه، اومتدین علماء ددوئ په وعظ او تبلیغ د بنکاریانو یې خوله خلاصه کړه او دا بې ورته ویل چي دا عمل ستاسي عین بنکار دی دا کار مه کوئ، نو چونکه بنکاریانو یې په خوله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نه کول نو هغه متدین علماء د قریې څخه څندي پار مسوه او نژدې وقریې نه یې خیمې و درولې او دایې همیشه ورته ویل چې یو وخت عذاب الهي پر تاسې راځي.

فائده:- دا قریه ایله په مټ کې د مدیټې منورې او د شام وه پر غاړه د قلزوم د دریاب او په دې قریه کې اوسیدل.

فائده:- خلویښت کاله دوئ دا ښکار وکړې او چونکه عذاب الهي ژر نه راتلی نو دوئ ورځ په ورځ دلاوره کیدل او متدین علماءدوئ (۱۲) زره کسه وه.

فائده:- ددې قصې ذکر په قرآن مبارک کې او مخاطب کول د معاصرینو د نبي ﷺ من الیهود څه حکمت د خداي ﷻ دی.

ځواب:- حکمت الهي تحذیر او ډیرول د معاصرینو یهودیانو یعنې که تاسې پر علیه السلام ایمان نه راوړئ او په وعظ قرآني عمل نه وکړئ نو امکان سته چې تاسې به هم په ورته عذاب د اسلافو ستاسې اخته سې کما وقع مثل عقوبة اسلاف الیهود علی فرقتین منهم بنې النفیر وبنې قریضة.

پوښتنه:- دا معاصرین ولې نه سوه مسخ لکه اسلاف ددوئ؟

ځواب:- مسخ د ظاهر په برکت د علیه السلام د تولو مسلمانانو ځځه پورته سوله لانه ﷺ رحمة للعالمین.

فائده:- قردة او خاسئین دواړه خبر د "کونوا" دي والمعنی کونوا جامعین بین القردیة والخسیئة یعني ذلة او طرد تمام القصة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چونکه منع کونکي علماء چي تعداد يې (۱۲) کسه وو د ايله څخه ووتل نو د ورځي به دوئ کلي ته د ايلې راتله لپاره د خريد او فروخت د مايحتاج اليه، نو يوه ورځ چي دوئ کلي ته ورغله د ټولو کورو دروازې ترلي وې او هيڅ څوک په قريه کي نه وو. دوئ حيران سوه چي څه پېښه ده هره دروازه چي بې وتکول چا جواب نه ورکاوه.

ټشريح:- چي د ظاهر سره موافق بيضاوي رحمه الله او مظهري رحمه الله دواړو په دې مقام کي له ظاهره د قرآن مبارک يوازي قردة يعني بيزوګيان ذکر کړي دي، اوروح البيان بيزوګيان او سرکوزان دواړه ذکر کړي دي او دير اوږد بيان يې په دې خای کي کړی دی والله اعلم.

ټنبيه:- د بعض خلګو خيال دادی چي د بيزوګيانو نسل هم ددغه وخت څخه شروع سوی دی لکن دا ګمان غلط دی ولي چي مسخه سوی انسانان توالد او تناسل نسي درلودلای بلکه د بيزوګيانو نسل له پخوا څخه هم وو، او موجوده بيزوګياني پس له دري ورځو ټولي مړې سوې.

ټنبيه:- هغه د واعظانو ډلي خو يقيناً ددې عذاب څخه نجات پيدا کړی او هغه د بنکاريانو ډله خو يقيناً تردې عذاب لاندي راغله، او دريمي ډلي چي بنکار يې نه کاوه، او نه يې بنکاريانو ته نصيحت کاوه محتمل پاته دي په يو حديث شريف کي داسي راغلي دي ﴿ان الله يعذب العامة بعمل الخاصة﴾ لکن په بل حديث مبارک کي راغلي دي چي څه وخت چي خبث او معاصي په خلګو کي ډېره سي يعني خاصةً بعض کسان چي هغه ددې معاصيو څخه پاک وي لکن اهل عصيان ته تبليغ او نهي عن المنکر نه کوي نو که عذاب الهي نازل سي ټوله په هغه عذاب کي شاملېږي "ثم يبعثون على نياتهم واعمالهم" يعني دنياوي عذاب به

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

عام وي، او اخروي عذاب به خاص وي په مرتکبينو سره د معاصيو وهو الظاهر والله اعلم بالصواب.

فَجَعَلْنٰهَا نَكَالًا لِّمَا بَيْنَ يَدَيْهَا وَمَا خَلْفَهَا وَمَوْعِظَةً لِّلْمُتَّقِيْنَ ۝

نو موږ وګرځوله دا مسخه او يا عذاب عبرت يعنې ځوك چې دغه واقعه واوري نو هغه منع سي د معصيت الهيه څخه نو د "نكال" اصل معنى منع ده څكه د پښو و بند ته نكل وايي، لمنعه الشخص عن الحركة" او دا نكال عبرت دې هغو خلګو لره چې حاضر دي و يقريبي ته د ايلې او هغو خلګو لره چې لرې دي د ايلې څخه او يا معنا داده چې دغه عقوبت نكال او عبرت دې د اهل قرې لپاره چې هغه دولس زره (۱۲۰۰۰) كسان واعظان وه د شا وخوا دقرية الايله لپاره، او يا معنا داده چې دغه عقوبت عبرت د معاصرينو ددوئ لپاره او د هغو كسانو لپاره چې وروسته تر دوئ پيدا كېږي، او يا عبرت د مابين يديها يعني تر دوئ له مخه تېر سوي وه، او د هغو كسانو لپاره چې تر دوئ وروسته نسل دې ولي چې دا واقعه په كتابو كې د اولنيو انبياء عليهم السلام راغلي وه او په كتابو كې د متاخرينو هم شهرت لري.

پوښتنه:- په نحو كې وايي چې كلمه د "من" د ذوي العقول لپاره او كلمه د "ما" د غير ذوي العقول لپاره ده، نو د مابين يديها وماخلفها څخه څو انسانان مراد دي، نو څرنګه تعبير ددوئ څخه په ماسره صحيح دي؟

ځواب:- اولاً چې تحقيق دادې چې كلمهَ د "من" كه څه هم خاصه په ذوي العقولو پورې ده لكن كلمه د "ما" عامه ده كما في قوله تعالى

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

"والسماء ومابناها الاية" وثانيها على تقدير التسليم، چې تعبير ددوئ څخه په کلمه د "ما" لپاره د تحقير او اهانت دی وههنا کلام دقيق في شروح البيضاوي ولصعو بة فهمه لايليق ايراده ههنا او دا مسخه او عقوبت پند او نصيحت دی لپاره د تقوې دارو خلګو د امت محمدي ﷺ

بيت

پندگير از مصائب ديگران
تانگيرند ديگران زتو پند

نرود مرغ سوي دانه پراز
چو ديگر مرغ بينند اندر بند

پوهه شه:- چې دا عقوبت جزاء ده د هغه چا چې قدر د احسان الهي نه وکړي او د منعم حقيقي ﷻ د نعمت قدر ونه کړي او په حلم د خداي ﷻ خطا وځي او معصيت ته دوام ورکړي.

فائده:- مسخ د ابدانو خو ددې امت څخه پورته ده لکن مسخ القلوب اوس هم سته قالوا علامه مسخ القلوب درې شيان دي.

(۱) په عبات کې د خداي ﷻ حلاوت او خوند نه محسوسه وي.

(۲) د ګناه څخه نه بېربېږي.

(۳) او د مرګ څخه د چا عبرت نه اخلي، او د عوف بن عبد الله رحمه الله څخه روايت دی چې اولياء الله و به خلګو ته دا درې نصيحتونه کول.

(۱) من اصلح مابينه وبين الله اصلح الله مابينه وبين الناس.

(۲) ومن عمل آخرته كفاه الله امر دنياه.

(۳) ومن اصلح سريرته اصلح الله علانيته.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وقال محمد بن علي الترمذي رحمه الله اولاً .

(۱) اصلاح د کوچنيانو په ديني مدرسو کي کېږي .

(۲) اصلاح د غلو او قطاع الطريق په بندي خانو سره کېږي .

(۳) اصلاح د بنځو دکور په اوسېدو سره کېږي .

(۴) اصلاح د سپين ږيرو په مسجدو سره کېږي يعني لزوم المساجد للجماعة في الصلوة الخمس

وَإِذْ قَالَ مُوسٰى لِقَوْمِهٖٓ إِنَّ اللّٰهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تَذْبَحُوا بَقَرَةً

پېژندنه:- چي دا بل پېغور الهي دی وموجودينو ته د عصر نبوي ﷺ په بيان سره د يو جنايت چي ددوئ د اسلافو څخه پېښ سوی وو والمعنى په يادکړئ هغه خبره د موسى عليه السلام چي قوم ته يې وويل چي خداي ﷻ تاسي امر کوي چي تاسي ذبح کړي يوه غوا يعني د جنس د بقر که نروي او که ښځه كذا قالوا .

پېژندنه:- چي اول ددې قصې قوله تعالى دی ﴿وَإِذْ قَتَلْتُمْ نَفْساً فَادَّارَأْتُمْ فِيهَا﴾ كما سيئاتي وهذا باتفاق المفسرين رحمهم الله او سبب د تقديم د اخير د قصې پر اول باندې په اجماع د مفسرينو رحمهم الله دا دی چي دا اوسنی آيت مشتمل دی پر بله نوع د معاصيو او بدي څخه د اسلافو د بني اسرائيلو چي دوئ استهزاء او پسخند په دغه امر الهي په ذبح د بقرې واهه كما سيئاتي. او چابك يې امتثال د دغه امر الهي ونه کړی بلکه دهر او اوږده سوالونه يې د موسى عليه السلام څخه وکړه اصل قصه د روح البيان او مظهري د تفسير سره موافق دا وه چي په بني اسرائيلو کي يو غني

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سړی چې نوم یې عامل و او د دې غنې د اکازوئ یا زامن وه اودې سړي بل وارث نه درلو دی بېله دغه ابن العم نو چونکه د اکازوي یې ومرګ ته د هغه غنې ډېر انتظار وکړی خو هغه په خدایي مرګ نه مړ کېدی نو د اکازوي پر ور ولاړ سو هغه غنې یې مړکړی تاچې دی یې میراث یوسي او بیایې د شپې له مخه یو وړی د یو بل کلي پر شاوخوا یې وغورځاوه سحار چې د هغې قریې خلګو مړی ولیدی او د اکا زوي قاتل یې په خبر کړی، نو دعوه د قتل یې پر هغه کلي والو وکړه موسی ﷺ چې کلي وال راوغوښتل هغو د قتل څخه انکار وکړی، نو موسی ﷺ ته یې وویل ته و خدای ﷻ ته خواست وکړه چې ددې مقتول قاتل معلوم کړي موسی ﷺ چې درخواست وکړی نو خدای ﷻ ورته وویل چې ته دوئ ته ووایه ان تذبحوا بقرة آه .

ژوبښې وایي:- چې دا شان نزول اقرب دی و حق ته تر هغه شان نزول چې بیضاوي رحمه الله بیان کړی حیث قال کان فیهم شیخ موسر فقتل ابنه بنو اخیه طمعا في میراثه آه ولي چې په دې شان نزول کي طمع د میراث د شیخ ژر نسته، ولي شیخ خو ژوندی دی هلته به دوئ ته میراث رسېږي چې شیخ مړسي نو د شیخ د مرګ درک و دوئ ته څه معلومېدی .

قَالُوٓا۟ أَتَتَّخِذُنَا هُزُوًا ۖ

دوئ و موسی ﷺ ته ووېل چې ته په موږ پسخند وهې یعني موږ د مړي د قاتل پوښتنه کوو او ته راته وایې چې غویی ذبح کړئ .

پوهه ۵۵:- چې هزو خو مصدر دی نو حمل یې یا مبالغةً دی لکه زيدٌ عدلٌ چې مجاز في النسبة یې بولي، او یا مصدر په معنی د مفعول دی اي مهزوء بنا چې مجاز في الطرف یې بولي او یامضاف وړسره محذوف

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

دی اي اهل هزء چي مجاز بالحذف يې بولي والاول اولي لاشتماله على المبالغة كما تقرر في علم البيان

پوښتنه:- چي "قالوا" جمله مستانفه ده او استيناف بياني دی کانه قيل فماذا فعلو في جواب الامر الالهي هل تسارعوا الى الامتثال املا وحاصل الجواب انهم لم يتسارعوا بل اشتغلوا بمالايعني من الاسئلة

قَالَ اَعُوْذُ بِاللّٰهِ اَنْ اَكُوْنَ مِنَ الْجٰهِلِيْنَ ﴿۶۷﴾

موسی ﷺ ورته وويل چي زه پناه په خدای ﷻ غواړم چي زه به د جاهلانو د جملې څخه خان ګرځوم ولي چي په خای کي د جواب شرعي استهزاء کول د جاهلانو کار دی

پوښتنه:- دوئ خو موسی ﷺ ته وويل چي ته په موږ پسخند وهې نو موافق د دوئ د سوال خو دا وو چي يا پسخند نه وهم نو ولي موسی ﷺ ورته وويل اعوذ بالله آه ؟

ځواب:- په علم معاني کي وايي چي دا جواب دی سره د دليله يعني د استهزاء په خای کي د جواب جهل ورسره لازم دی، او لازم په ما کي نسته يعني جهل نو ملزوم هم په ماکي نسته يعني الاستهزاء، ويقال لمثل هذا الجواب : الجواب على الطريق البرهاني في مصطلح علم المعاني.

پوښتنه:- چي صاحب د روح البيان او مظهري رحمه الله دواړه وايي چي څه وخت چي بني اسرائيلو ته دا معلومه سوه چي ذبح د بقرې د خدای ﷻ د خوا عزم او جدي دی او د دوئ د عقولو څخه د اډيره بعيده معلومېدل چي د بقرې مذبوح چي په يوه جزء سره مړی دي ژوندی سي او خپل قاتل به وښائي او د خدای ﷻ له قدرت عظيمه څخه غافله وه او د دوئ له

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

غايت حماقت څخه د اخيال وو چې داسې غوا به نو يو بل ډول غوا وي نو خکه يې په طلب کې د وصف د هغې سوالات شروع کړه کما سيئاتي، په حديث شريف کې چې روايت يې عکرمة ﷺ مرسلاً کړی دی راغلې دي چې رسول الله ﷺ وويل لو ذبحوا اي بقرة ارادوا لاجزئتهم ولكنهم شددوا على انفسهم فشدد الله عليهم .

ژوپښې وايي:- چې د خداي ﷻ د اوامرو پلټنه نه ده پکار بلکه بېله چون او چرا و اوامرو ته د خداي ﷻ دي لبيك وويل سي بلاتوقف.

حكمت الهي: اکثر مفسرين رحمهم الله وايي چې په بني اسرائيلو کې يو صالح د خداي ﷻ دوست سړی وو او يو زوي يې کوچنی درلو دی او يوه ګستره ياګلګی يې درلوده نو څنګله ته يې وروستل او خداى ﷻ ته يې مناجات وکړی چې زه دا ګستره وتاته امانت درکوم زما د زوئ لپاره چې لو سي، او ماينه يې په دې خبره کړه چې که زه مړسوم او زما زوئ لوی سو او تاسې ضرورت د نفقې درلودی نو فلاني څنګله ته دي ورسي او داسې خواست دي وکړي يااله ابراهيم ﷺ واسمعيل ﷺ واسحاق ﷺ رد علي امانة ابي، خير صالح سړی وفات سو او زوئ چې لوي سو ډېر صالح او د مور ډېر اطاعت او عزت يې کاوه او ګستره په څنګله کې لو سوله او د هرچا څخه به څغاسته او چا يې قدرت پر نيولو نه درلو دی او هيڅ د څنګله ليوانو او پرانګانو وغيره کار نه په درلو دی لاتها امانة عند الله ﷻ او په رنګ تکه ژړه وه چې خلګو به مذهبة بلل لان لونها كلون الذهب الاصفر، او دا خوان به شپه درې حصې کړځوله نو يوه درېمه بې د خداى ﷻ عبادت کاوه اويوه درېمه بې خوب کاوه او يوه درېمه به د مور وسر ته ناست وو چې نه بايده مورته يو ضرورت پېښ نسي، او دې خوان به د ورځې بوټي ټولوله او په شابې بازارته راوړه په هر مبلغ چې بې خرڅ

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

کړه دربمه د هغه مبلغ بې په رضاء د خدای ﷻ خیرات کړه اویوه دربمه بې د مور او خپل د خان لپاره وډی وغیره په رانیوله اویوه دربمه بې مورته ورکړه بالاخیر مور ورته وویل چې زویه دا لرګي او بوتې پرتاډیر تکلیف دی او ستا پلار په وخت د مرګ ماته داسي وصیت وکړي چې هر وخت چې زمازوی خوان سو او تاسي محتاجه سواست نو مایوه ګستره چې په فلاني ځنګله کي ده ما و خدای ﷻ ته امانت ورکړې ده نودي دی هغه ځنګله ته ورسي هغه مخنی خواست دي وکړي، نو مور و زوی ته وویل چې ته هغه ځنګله ته ورسه او خواست وکړه که ګستره در لره راغله نو تر غاړې یې ونه سه او کورته یې را وله نو بیابې خرڅه کړو خپله ګزاره به په کوو، خوان چې ځنګله ته ورغلی او خواست یې لکه چې د مخه ذکر سو وکړی خوان ته ګستره په ځغاسته راغله خوان ترغاړه ونیوله د کور پر خوایې روان کړه نو ګستري خبري ورسره وکړې په قدرت د خدای ﷻ او ورته وه یې ویله چې ای خوانه چې د مور فرمان برداره یې فرما سپور سه دا به و تاته اساني وي د پښوتر تګ خوان ورته وویل چې ماته مور د سپرتیا امر نه دی راکړی بلکه وې ویل چې تر غاړه یې و نسه نو ګستري ورته و ویل که ته پر ماسپور سوی وای بیابه دي پر ما قدرت نه وای پیداکړی ابداً، او هغې ورته وویل که تاغره ته امر ورکړی وای چې د بیخه و خپړه او زما سره روان سه غر به درسره روان سوی وای، لبرک لامك نو خوان ګستره مورته را وسټله مابنام مور ورته وویل چې زویه ته فقیر یې او د ورځي بوتې په شا را وړې او د شپې د خدای ﷻ عبادت دبرګران تاته تمامېږي نوصبا دا غوا بازار ته بوزه او خرڅ یې ګړه خوان ورته وویل چې په څویې خرڅ کړم مور ورته و ویل چې د بنې غوا قیمت درې دینار دی نوتې هم په درې دیناره که یې مشتري پیدا سو خرڅه کړه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لکن مورورته و ويل که د دري دينار مشتري پيداهم سو يو وار به زما
سره مشوره کوې، خوان صبا غوا کنج ته د غواوو يعني د غواوو د
خرڅېدو ځای ته وروستل، نو خدای ﷻ يوه ملکه په رنګ د سړي کنج ته
ور واستوله چې د خوان امتحان وکي د مور په اطاعت کي، وان کان الله
به خبيراً او د دې لپاره چې خلګو ته خپل قدرت او د مور د اطاعت قدر
وښيي نو ملکي و خوان ته و ويل چې غوا دي په څو ده! خوان ورته وويل
چې په دري ديناره ملکي دري دينار پر را وکښل او وې ويله چې واخله دا
غوا زماده خوان ورته و ويل چې د مور سره يوار مشوره کوم ملکي ورته
وويل چې د مور مشوره پرېږده زه به شپږ ديناره درکړم، خوان ورته و ويل
چې که په تول د غوادينارونه ته راکړې د مور بې مشورې بې درباندې
خرڅه نه کړم، ملکي ورته و ويل چې ښه دی د مور سره دي ما بنام
مشوره وکړه صبا زه بيا راخم او په شپږ ديناره به يې درڅخه رانسم خوان
غوا بيرته را وستل او مور ته يې د خريدار قصه وکړه مور يې ورته و ويل
چې نو دي ولي نه پر خرڅول خوان ورته و ويل خوتا و ويل چې زماسره به
مشوره کوې، لکن خوان ورته و ويل چې هغه سړي وعده وکړه د بيا چې
صبا راځي او په شپږ ديناره يې رانسي مور يې ورته و ويل چې پرخرڅ يې
کړه لکن که دي خرڅوله زماسره به يو وار مشوره کوې خوان چې صبا
غوا کنج ته ور وستله هغه سړی بيا ورته راغلی ورته وېويله چې د
مورسره دي مشوره وکړه هغه خوان ورته و ويل هو لکن مور راته و ويل
چې په وخت کي د خرڅولو به بيا هم زما سره مشوره کوې مشتري ورته و
ويل چې د مور تر مشورې تېر سه زه به (١٢) دينارددرکړم خوان هغه
مخنی خواب ورته و وايه نوبې غوا بېرته کورته راوستله او مشتري و ويل
چې صبا بيا راخم غوا په (١٢) ديناره زماده خوان چې کورته راغلی او د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دولس (۱۲) دیناړو قصه یې مور ته وکړه موربې ورته و ویل چې زویه دا انسان نه دی بلکه ملکه ده په صورت کې د انسان چې خدای ﷻ ستا امتحان کوي، نو صبا چې ورغلې هغه سړي ته و وایه چې مور ې ستا سره مشوره کوو چې مور ې دا غوا خرڅه کړو اوکه نه صبا چې خوان ورغلی نو هغه سړي ته یې د مشورې خبره وکړه نو ملکي ورته و ویل چې ولاړ سه مورته دي ووایه چې غوامه خرڅوه ولي چې موسی بن عمران ﷺ یې ستا څخه رانیسي د یوه قتیل د قاتل د معلومولو لپاره نو که مو خرڅوله ورته و وایاست چې مور ې دا غوا په دونه قیمت درکوو چې پوست بې د دیناړو را ډکوي، اخر الامر چې بني اسرائیلو پلټنې ډیرې ډیرې شروع کړې خدای ﷻ په جواب جواب سره غوا د خوان او مور پر غواټپه او حصرکړه او بیا مجبوراً هغه غوا په قیمت مذکوره بني اسرائیلو رانیوله کما سیأتي بیانه في الایات التالیه .

ډروښې وایي:- چې په دې حکایت کې ډیر عبرت او نصائح ستە .

(۱) د شیخ صالح توکل پرخدای ﷻ .

(۲) د خدای ﷻ رحم پرخپلو دوستانو .

(۳) بایدامانت د چا نسي ضائع ولي چې خدای ﷻ د شیخ صالح امانت نه کړی ضائع .

(۴) د مور بر او اطاعت د مور برکتونه .

(۵) د امر الهي پلټنه او چون و چرا په کښې ویل سبب د دوني لوي مصیبت کړځي لکه په مذکوره قصه کې چې بني اسرائیلو ته پېښې سو

(۶) د ناحقه وژلو د چا بد عواقب .

ډروښې وایي:- چې بعض جاهلان چونکه په مذکوره قصه کې د غوا خبري د خوان صالح سره راغلې نو دا قصه موضوعي او بې بنیاده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بولي لكن د حيوان خبري د انسان سره په صحيح حديثو سره ثابتي دي چنانچه په صحيح حديث كي چي روايت يې امام بخاري رحمه الله او امام مسلم رحمه الله او نورو محدثانو رح كړی دی، دا سي راغلي دي چي آنحضرت ﷺ يوه ورځ په خپلو خبروكي و ويل چي يو سړی وو چي غويی يې لپاره د يوي يعني قلبه كشي لپاره را رهي كړی وٶ، نو پر سپور سو غويي ورته و ويله چي ژه خدای ﷻ د حراصت يعني يوي لپاره پيدا كړی يم نه د سپرتيا لپاره، صحابه كرامو ﷺ و ويل "سبحان الله بقرة تكلمت" عليه السلام ورته و ويل "انا اومن به وابو بكر ﷺ وعمر ﷺ" راوي د حديث وايي چي ابوبكر ﷺ او عمر ﷺ په دغه مجلس كي حاضر وه، او دغه رنگه په بخاري او مسلم كي راغلي دي يوه ليوه او شرمښ د شپانه سره خبري وكړې، حاصل دا چي خبري كول په قدرت الهي پوري اړه لري نه په لويه ژبه سره اونه په نری ژبه پوري، بلكه حيوانات خو پرېږده جمادات هم په قدرت د رب جل وعلا خبري كولای سي و قد ورد في الحديث الصحيح انه ﷺ قال اني لاعرف الحجر الذي يسلم علي حين جاورت الحراء اوكما قال

قَالُوا ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَنَا مَا هِيَ

بني اسرائيلو وموسی عليه السلام ته و ويل چي ته خواست وكړه و رب ته ستا چي مونږ ته بيان كړي چي څه شی ده هغه غوا چي مړی په ژوندی كېږي بيضاوي او مظهري او صاحب د روح البيان بلكه اكثره مفسران رحمهم الله تعالی د "ماهي" معنا دا سي كوي "ما مايتها و صفتها" وروسته وايي چي حق د سوال دا وو چي دوئ دا سي ويلي واى ﴿اي بقرة هي او كيف هي لان السوال عن الحال والصفة يكون باحد هذين اللفظين يعني اي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شيئ او کيف» ولي چي اهل معقول په متفقه توګه وايي چي کلمه د ماسوال دجنس څخه دشي وي غالباً. او جنس د بقرې څو دوئ ته معلوم و

پوښتنه:- نو دوئ ولي سوال په "ماهي" سره وکړی ؟

ځواب:- چونکه دوئ د مري ژوندي کيدل او قاتل ښوول په مطلق هر فرد چي د جنس د بقر وي بعيد او غير ممکن باله او د دوئ دا زعم او ګمان وو چي دا بقره د نورو بقراتو څخه بون بعيد لري حتی لکه دا غوا به د جنس د بقراتو څخه نه وي بلکه لکه جنس آخر چي وي نو ځکه دوئ دا غوا داسي فرض کړه چي مورِ يي ګويا جنس نه پيژنو نو ځکه يي سوال په "ماهي" سره وکړی .

الاعراب:- کلمه د "ما" مبتداء ده او کلمه د "هي" خبر دی او دا جمله منصوب محلاً مفعول د "يبين" ده يعني "يبين لنا" جواب هذا السوال او ټوله جمله جواب د امر يعني "ادعو" ده او په حيز کي د جزم ده .روح البيان

قَالَ إِنَّهُ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ لَّا فَارِضٌ وَلَا بِكْرٌ عَوَانٌ بَيْنَ ذَٰلِكَ فَافْعَلُوا مَا تُؤْمَرُونَ ﴿٦٨﴾

موسی و ويل چي شان دا دی چي خدای ﷻ وايي چي دغه بقره مامور بذبحها نه به زړه وي سالخورده اونه به داسي خوانه وي چي تر اوسه لنګه سوي نه وي او په منځ کي د دغو دوو سنو کلو به وي او تاسي په امر کړه سوي ياست چي ذبح د بقرې ده، نو امر په معنا د مامور دی.

پوښتنه:- چي عوان هغه حيوان ته وايي چي څو واره لنګه سوې وي کذافي المظهري، لکن دروښ وايي چي ددې تطبيق پر غوا د يتيم د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

صالح متوكل دِ هر مشكل دى فتفكر في القضية المذكورة من قبل.

فائده:- حروف د بكر د اوليت لپاره دى ومنه البكرة بضم الباء بمعنى اول الصبح و الباكورة په معنا د اولي مېوې.

فائده:- چونكه "ذالك" اشاره ده و "فارض" او "بكر" ته په تاويل د مذكور نو له دې سببه اضافت د "بين" و "ذالك" ته روا سو، او هغه سوال نه وارد برې چې د "بين" لفظ خو متعدد شي ته مضاف كېږي او "ذالك" خو مفرد دى.

فائده:- بيضاوي او مظهري او اسمعيل الحقي ﷺ وايي چې دلته يو سوال پيداكېږي چې د راجع كولو څخه د ضمير معلومېږي چې د اول الامر څخه مراد د رب جل وعلا شانه هغه بقره معينه د صالح سړي د زوي او د ماينې وه نو به څوك دا سوال كوي چې دلته خو تاخير د جواب او بيان تر وخت د خطاب اول لازمېږي.

جواب:- دا دى چې تاخير د بيان تر وخت د خطاب جائز دى مګر تروخت دحاجت تاخير ناجائز دى لكن اكثر حنفيان ح او بعض شافعيان ح وايي چې تاخير او څنډول د بيان تر وخت د خطاب هم ناجائز دى، نو دوئ وايي چې د اول الامر څخه مراد د بقرې څخه مطلق ده لكن د دوي په سوالو سره هغه مخصوص وګرځېدله كما مر في الحديث النبوي ﷺ لو ذَبَحُوا اَيَّةُ البَقَرة ارادوا لاَجْزَئتهم آه" لكن پر دې تقدير نسخ د حكم الهي قبل الفعل لازمېږي.

جواب:- چې نسخه قبل الفعل خو روا ده لكه په ليلة المعراج كې چې پر عليه السلام پنځوس لمنځونه فرض سوه او قبل العمل وه پنځه ته

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

منسوخ سوه كما في حديث البخاري ﷺ وغيره من الحديث الطويل في قصة المعراج النبوي ﷺ.

پوښتنه:- تخصيص د مطلق ولي نسخه ده ؟

ځواب:- تخصيص وتقيد چي تر مطلق وروسته وي د هغه مطلق د اطلاق ناسخ دی او که چېرې قيد وروسته نه وي بلکه متصل وي هغه ته نسخه نه وايي بلکه تخصيص يې بولي لکه په كفارة اليمين کي پر قرائت د جماهيرو داسي راغلې دی "فصيام ثلاثة ايام" او په قرائت کي د ابن مسعود ﷺ داسي راغلي دي "فصيام ثلاثة ايام متتابعات" نو دا نخسه نه ده بلکه دې ته تخصيص وايي.

پوښتنه:- چي اطلاق او تقييد که په دوو واقعو کي وي نو مقيد پر مطلق نه حمل کېږي كما حمله الشافعيه ﷺ بل يجري المطلق على اطلاقه والمقيد على تقييده قال تعالى في حكم كفارة الظهار فتحرير رقبة وفي كفارة القتل الخطا فتحر ير رقبة مؤمنة كذا في نور الانوار وغيره من الكتب الاصول.

ځواب:- په پښتنو کي بلکه په ډېرو نورو قومو کي هم دا مشهوره ده چي بقره د بني اسرائيلو غوا وه يعني "تاء" د بقرة لپاره د تانيث ده او د اخفش د قول څخه چي مظهري هم رانقل کړی دی كما مر هم دغه تصريحاً معلومېږي او بناءً على هذا د دروېش په بعض ځايوکي په کستره تفسير کړی دی او په بعض ځايوکې په غوا لکن د ورستني آيت څخه يعني تثير الارض ولاتسقي الحرث آه دا فهمېږي چي په بقره کي کلمه د تا لپاره د وحدت ده او دا مذبوح غويی وو ولي چي د محکي قلبه کشي چي په پښتو يې يوې بولي او د اوبو را کښل د ځاه څخه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عادت غالباً په نرو غويو سره خلک کوي په غواووسره يې نه کوي نو ځکه بعض مفسران رح تفسير د "ان تذبحوا بقرة" داسي کوي "اي بواحد من جنس البقر .

سوال:- که دا بقرة غويی وای نو ضمائر د مونث ولي په ټوله قصه کي ورته راجع کيدله ؟

ځواب:- که کلمه د "تاء" لپاره د وحدت وي او دا بقرة نر غويی او جوانه هم وي نو تانيث لفظي خو ورسره دی نو په اعتبار د تانيث لفظي ضمير د مونث ورته راجع کېږي مثلاً په "تمرة" کي تاء د وحدت لپاره بالاتفاق ده لکن ضمير د مونث ورته راجع کېږي البته ارجاع د ضمير مذکر په اعتبار د معنا جنسي هم ورته صحيح دی .

ډروېښ وايي:- چي امام ابو منصور الماتريدي رحمه الله وايي چي په آيت مذکور يعني تثير الارض آه، کي دا معلومېږي چي دا بقرة د بني اسرائيلو غويی وو په هغه دليل چي اثارة الارض وسقی الحرث من عمل الثيران يعني د نرو غويو کار وو، كما قلت آنفاً وقال ذلک الامام رحمه الله في ارجاع الضمائر المونثة اليها هي مبنية على التانيث اللفظي كما مر آنفاً وسئل له ذلک الامام رحمه الله بقوله تعالى وقالت طائفة .

ډروېښ وايي:- چي نهايت توجيه د قول مشهور دا ده چي د هغه زماني خلکو په سبب د مسکنت او فقر په غواوو هم يوې او قلبه کشي او سقی الحرث کوله "و الی المشهور ذهب الامام ابو يوسف رحمه الله و حقيقة العلم عندالله العزيز العليم .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ژوپښه وایي:- چې شاید مطالعه کونکي د دې تفسیر په دونه تحقیق په بقرة د بني اسرائیلو په نورو تفاسیرو کې نه کې مطالعه والله الموفق.

قَالُوا ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَنَا مَا لَوْنُهَا ۚ قَالَ إِنَّهُ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ صَفْرَاءُ فَاقِعٌ لَوْنُهَا تَسُرُّ النَّاظِرِينَ ﴿٦٩﴾

بني اسرائیلو و ویل چې ته خواست ستا وخدای ﷻ ته وکړه چې موږ ته دې بیان وکړي چې د دې غوا به رنګ څرنګه وي، نو موسی ﷺ ورته وویل چې شان دا دی خدای ﷻ وایي چې دا غوا به ژړه وي او صاف ژړ رنګ بې وي چې و دې ته کتل به خوشحالي او خوند پیداکوي په زړو کې د کتونکو.

پوهه:- چې "فاقع" تاکید دی د صفرة او "فاقع لونها" مبتداء او خبر دی، او جمله صفت د بقرة وماقیل ان فاقع مرفوع علی الفاعلیة فلیس بشئ، ابن عباس ﷺ وایي چې شدید الصفرة به وي، او حسن البصري ﷺ الصفراء السوداء قال المظهري ولیس بشیئ ولي چې فقوع خالص والي ته ژړ والی وایي نوځکه تاکید د صفرة واقع کېږي کما یقال اصفر فاقع او سواد تاکید د حلوك دی کما یقال اسود حالك او د سور والي په تاکید کې احمر قاني ویل کېږي، او د شین والي په تاکید کې اخضر ناضر ویل کېږي له ټولو دغو تاکیداتو څخه مقصود مبالغه په هغه رنګ کې وما في روح البیان چې داسي به ژړه وي چې ښکر او ښو نګري بې هم ژړ وي فاغراق لا مبالغة فافهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځانګړتيا:- د حضرت علي ﷺ څخه روايت دی چې د ژړ رنګ بوتونه په پښتو کول خوشحالي ډېره وی ﴿لقوله تعالى تسر الناظرين﴾ او ابن زبير ﷺ او محمد بن کثير رحمه الله منع کړې له تورو چوتو څخه ولي چې لابس ته يې غم پيدا کېږي او د تاريخ په پاڼو کې راغلي دي چې د فرعون موزې سرې وې، او دده د وزير هامان موزې د اوسپنې وې او توري موزې يا بوتونه د علماوو دي او په صحيح روايت سره ثابته ده چې د عليه السلام موزې توري وې

قَالُوا ادْعُ لَنَا رَبَّكَ يُبَيِّنْ لَنَا مَا هِيَ إِنَّ الْبَقَرَ تَشَٰبَهَ عَلَيْنَا

بنې اسرائيلو وموسىٰ عليه السلام ته و ويل چې ته خواست وکړه زموږ د رب څخه ستا چې موږ ته دي بيان کړي د دغې غوا به څه حال او صفت وي ولي دغه بقره چې موصوفه په عوان او صفرة سره وي ډېري دي نو پر موږ مشتبه ده چې کومه غوا ذبح کړو .

سوال:- دا پوښتنه خو دوئ اول وار وکړه نو بيا په راګرځولو کې څه فائده سته ؟

ځواب:- هو سوال اول خو دی لکن په را ګرځولو کې غرض مزيد توضيح د بقرة مامور بالذبح دی، او دا قول د دوئ ان البقر آه عذر دی د دوئ له خوا په راګرځولو کې د اول سوال .

ځانګړتيا:- په هيڅ لفظ قرآني کې دونه ډېر قراءت نه دي راغلي لکه په لفظ کې د بقرة او تشابه، په دې ځای کې په يوه قرائت کې الباقر راغلی دی و هو اسم لجماعة البقر، او په بل قرائت کې الابقر راغلی دی او په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بل قرائت کي بواقر راغلی دی و کلاهما جمعا بقر، او په بل قرائت کي يتشابه او په بل کي تتشابه بالتذکير والتانيث نو تذکير يې په اعتبار د لفظ د بقر دی او تانيث يې په اعتبار د معنا جنسي دی ولې چې د اسم جنس تذکير او تانيث دواړه روا دي نحو نخل منقعر والنخل باسقات كما في القرآن المجيد او بل قرائت تشّابه بادغام التاء في الشين او په بل قرائت کي تشابه راغلی دی چې يوه تا يې خندي حذف کړې ده او په بل قرائت کي تشابهت مخفف راغلی دی، او په بل قرائت کي تشابهت مشدد راغلی دی او په بل قرائت کي متشابه راغلی دی او په بل قرائت کي متشا بهت راغلی دی، او په بل قرائت کي مشتبهة راغلی دی او په بل قرائت کي متشبه فتامل في صيغها وابوابها وتذكيرها وتانيثها وفعليتها واسميتها او ارجع الى كتب القراءت .

وَإِنَّآ إِنْ شَآءَ ٱللَّهُ لَمُهْتَدُونَ ۝

او مور به که اراده د خدای ﷻ وه لار به پيدا کړو يعني و ذبح ته د هغي غوا او يا وقاتل ته د مقتول، روى البغوي رحمه الله عن ابي هريرة رضي الله عنه ﴿قال قال رسول الله ﷺ لولم يستثنوا لما بينت لهم اخر الابد ﴾ يعني که دوئ ان شاء الله نه وای ويلې دوئ ته به تعيين د غوا نه وای سوی تر اخر د ابد

قَالَ إِنَّهُۥ يَقُولُ إِنَّهَا بَقَرَةٌ لَّا ذَلُولٌ تُثِيرُ ٱلْأَرْضَ وَلَا تَسْقِى ٱلْحَرْثَ مُسَلَّمَةٌ لَّا شِيَةَ فِيهَا

موسی عليه السلام وويل چې خدای ﷻ وايي چې دا به داسي غوا وي او يا به دا سي غويی وي علی التفسيرين المذكورين چې نه به خواره سوې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وي يعني دنكره سوې به نه وي چې قلبه كشي كوي په مخكه يعني د ذراعت لپاره او نه به د كښت لپاره اوبه په راخېژي.

پوهه شه:- چې كلمه د لاثاني زائده ده او دواړه فعله صفت موضحه د ذلول دي والحاصل لا ذلول مثيرة و ساقية او نه به وي ددې غوا يا غوايی رنګ مخالف د رنګ څخه د پوست د دي.

پوهه شه:- چې شية مصدر دی پر وزن دعدة و تصريفه وشي يشي وشيا وشية فهو واش اذا اختلف بلونه لون مخالف.

قَالُوا الْآنَ جِئْتَ بِالْحَقِّ

بني اسرائيلو و ويل چې اوس راتګ وكړی په حقيقت حال د بقره او توله بيان د حال د بقره.

پوهه شه:- چې مراد د حق څخه ضد د باطل نه دی يعني هغه د مخه بيانات باطل وه لان هذا كفر.

فَذَبَحُوهَا وَمَا كَادُوا يَفْعَلُونَ ﴿٧١﴾

پوهه شه:- چې پس له دې قوله د بني اسرائيلو "الئن جئت آه" دستي عمل د ذبح د بقرې نه دی سوی بلكه تقدير دكلام داسي دی "فطلبوها بكمال اوصافها فلم يجدوها الامع الفتى فاشتروها بملا سكها ذهبا فذبحوها" نو يې حلاله كړه بقره اود وئ يعني بني اسرائيل ودې ته نژدې سوي نه وه چې دا كار دي وكړي يعني بقره خو يې ذبح كړه لكن قبلاً ودې ته نژدې نه وه چې ذبح دې كړي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوهه شه:- چي جمله "وما كادوا آه" حال دی د ضمير څخه د "ذبحوا آه" روح البيان نقل کړی دی د يو چا څخه چي د ابتداء څخه د امر الهي د ذبح تر وخت پوري د ذبح څلوېښت کاله تېر سوه و هذا بعيد جداً عقلاً و نقلاً كما لايخفى .

پوهه شه:- سبب د "ماكادوا يفعلون" يا خو تطويل او کثرت د سوالو د دوئ وو او يا سبب گران والی او ثقل د ثمن د بقري وو او يا له سببه د ظهور د قاتل د رسوايي څخه بهريدل و هذا الوجه انما يصح اذا كان طرح بنو اسرائيل المقتول عند قرية من غير اليهود و دعوا القتل على اهل القرية فتامل .

وَإِذْ قَتَلْتُمْ نَفْسًا فَادّٰرَءْتُمْ فِيهَا ۖ وَاللّٰهُ مُخْرِجٌ مَّا كُنْتُمْ تَكْتُمُونَ ۝

هذا اول القصة يعني په ياد کړئ هغه وخت چي تاسي ووازه يو سړی

پوهه شه:- خطاب د جمع که څه هم قاتلان دوه کسه وه په سبب د وجود د قتل په دوئ کي يعني اسناد يې مجاز دی حيث اسند الى الكل ماصدر عن البعض كما يقولون بنو فلان قتلوا مع ان القاتل منهم واحد، نو تاسي هر چا دفع د خپل ځانه کوله او مړی مو پر بل تاوانه وه نو اصل معنا د "درء" دفع ده او حاصل د معنا يې اختصام دی .

پوهه شه چي اصل "ادارئتم تدارئتم" نو يې تاپه دال کي مدغمه کړه لقرب المخرج چونکه ابتداء بالساکن په عربي ژبه کي نسته نو همزه د وصل يې ورته را جلب کړه، او خدای ﷻ مخرج يعني مظهر دی د هغه شي چي تاسي پټاوه يعني القاتل .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال:- لفظ د مخرج خو په حال د نزول د قرآن په معنا د ماضي دی او قانون نحوي دی چي اسم فاعل چي په معنی د ماضي وي عمل نسي کولای نو دلته څرنګه مخرج عمل په "ماکنتم آه" کي عمل وکړي يعني چي "ماکنتم آه" مفعول د مخرج وګرځېدی او منصوب محلاً سو ؟

ځواب:- په عمل کي د اسم فاعل زمانه د تکلم اعتبار نه لري حتی يرد ماقلت، بلکه معتبر حال د حکم دی چي تر اسم فاعل د مخه وي چي هغه دلته "تدارء" دی ﴿ولاريب ان الاخراج لما کنتم تکتمون﴾ تر تدارءتم وروسته وۍ يعني مستقبل وۍ او اسم فاعل چي په معنا د مستقبل وي عمل کولای سي .

فائده:- حالت د ماضي چي حاضر فرض کړي او تعبير په اسم فاعل ځندي وکړي هغه هم عمل کولای سي کما اعمل باسط ذراعيه فافهم .

فائده:- روح البيان وايي چي مخاطب په قتل سره بني اسرائيل في زمن نبي ﷺ دي او سره ددې دا قتل خو په اسلافو کي ددوئ پيداوو لرضاهم بفعل اولائك .

والمعنی په ياد کړئ اي بني اسرائيلو د عصر نبوي ﷺ وقت د قتل د اسلافو ستاسي يو سړی چي نوم يې عامل بن شراحيل وو .

فَقُلْنَا اضْرِبُوهُ بِبَعْضِهَا

نو مورږ پس له ذبحي ودوئ ته وويل چي تاسي دا مړی په بعض د هغي بقرې ووهي .

تفسير ايوبي حنفي د نصيراحمد احمدي لخوا سکين او pdf سو. د دعا په هيله احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوهه شه:- چې جمله د "فقلنا آه" عطف دی پر ،اداربتم، او "والله مخرج آه" جمله معترضه ده په مابین کې د معطوفینو او ضمیر مذکر د فاضربوه راجع نفس ته دی په تاویل د شخص.

فائده:- چونکه خدای ﷻ لفظ د بعض مطلق ووایه نو ښه دا ده چې پر خپل اطلاق پاته سي يعني اې بعض کان لکن مع هذا، بعض مفسران رح وایي چې د لکی په ښخ يې ووهئ بعض وایي په ژبه د غوا يې و وهې بعض وایي چې په راسته وراته يې و وهئ.

فائده:- مشبه د وروسته يعني كذالك آه محذوف دی يعني دوئ مقتول وواهه په بعض د بقرې هغه ژوندی سو په قدرت د خدای ﷻ او تر ښارګو يې وښې بهبدلې او وې ویل چې زه فلاني وفلاني ذبح کړم او دا چې يې و ویل نو سمدستي غځار اومړ سو، نو قاتل يې د میراث څخه محروم سو لکن چونکه مدعي د قصاص يې نه وو نو ځکه قصاص نه سو و ما في روح البيان فاخذ او قتلا آه محل بحث الا ان يقال قتلا سياسة .

فائده:- موسی ﷺ ولي په خپله هغه مړی نه وواهه تا چې څوك توهم د سحر ونه کړي

كَذٰلِكَ يُحْيِ اللّٰهُ الْمَوْتٰى

او دغسې خدای ﷻ ژوندي کوي مړي يعني په سبب ظاهري چې هغه په نیز د عقل موثر في الحقيقة نه دي

وَيُرِيكُمْ اٰيٰتِهٖ لَعَلَّكُمْ تَعْقِلُوْنَ ۝

او په تاسې کې اې بېوفوفانو د بني اسرائيلو خدای ﷻ وښي دلائل د قدرت خپل يعني هغه څوك چې پر احياء د نفس واحدة قادر وي په صرف سبب ظاهري غير موثر هغه قادر دی پر ژوندي کولو د ټولو انسانانو په ورځ د قيامت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه:- د بني اسرائيلو مړی خو خدای ﷻ په خپل قدرت عظيمه ژوندی کړی نو ولي خدای ﷻ اول وار دا مړی نه ژوندی کاوه يعني ببله شرط د ذبح د بقري ؟

ځواب:- عادت الهي په دې سره جاري دی چي په دار الاسباب دنيا کي تقديرات خپل په اسبابو پوري مربوط کوي که څه هم عقلاً وشرعاً هغه صرف اسباب ظاهره وي او موثر نه وي، او بل دا چي په شرط ولو کي د ذبح البقرة تقرب الی الله عز وجل ته دی او بل په ذبح د غوا د يتيم نفع مالي د يتيم وه او د توکل علی الله خاصه فائده ظاهرول وه يعني چي پلار د يتيم پر توکل علی الله خپل ګستره په ځنګله کي خوشي کړه او په دې اشتراط کي دا فائده هم ظاهره سوه چي څوک چي تقرب الی الله ﷻ ته کوي په مالي شي بايد په انفس او په هغه ګران قيمت سره دې کوي لکه په ما نحن فيه د يتيم غوا کما مر من قيمتها "ويوئيده" هغه حديث چي ابو داوٗد يې روايت کړی دی چي عمر ﷺ اضحيه وکړه په يوه نجيبه اوښه سره چي قيمت يې درې سوه دينار وو چي په هغه زمانه کي تر دغي او بني ګران مايه اوښه هيڅ نه وه .

فائده تصوفيه - پوه سه چي صوفيه کرام رح د بعض نصوص د باطن څخه يو بل بيان کوي نه په دې معنا چي هغه معنا چي دوئ يې بيانوي تفسير مستقل دی بلکه تفسير خو هغه دی چي د ظاهر الفاظو څخه د قرآن بحسب اللغة العربية مع ملاحظة العلوم العربية كالنحو والصرف والمعاني والبيان وغيرها فهمېږي لکن دا اشارات تصوفيه صرف يو بيان کنايي دی .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نو واوره چي دوئ وايي چي که څوك غواړي چي لوي د بنسن خپل چي زما په موت حقيقي کي يعني الجهل بالمعارف والعلوم الحقة کوشش کوي وهو النفس الامارة بالسوء دی وپيژنم نو لازم داده چي دی د دنفس امارت غوا چي قوة شهوية دی ذبح کړي يعني شهوات نفسيه دي په رياضاتو او اذکارو او خلوت خانو سره زائل کړي په داسي وخت کي د خوانئ او د سپين ږيرتوب په منځ کي وي کما قال الله تعالى في بقرة بني اسرائيل لافارض ولابکر عوان آه وهکذا الى اخر القصة القرآنية، نو پر موږ مومنانو دا واجب ده چي موږ کوشش وکړو په احياء کي د نفوسو خپل په حياء حقيقي سره يعني نفس امارة خپل مطمئنه وګرځوو او زړونه خپل په اصلاح حقيقي سره اصلاح کو يعني پر صرف لحم صنوبري باندي پرې نږدو بلکه معدن د معارفت الهيه يې وګرځو ليتميز قلو بنا عن قلوب الحيوانات العجم، او اعمال او عبادات په اخلاص حقيقي سره وکړو يعني على طريقة ماجاء في الحديث النبوي ﷺ ان تعبد الله كانك تراه الى اخر الحديث كما في الحديث المتفق عليه الطويل وورد في الحديث الصحيح ان الله لاينظر الى صوركم و احوالكم بل الى قلوبكم واعمالكم، سعدي شيرازي رحمه الله وايي

شخصم بچشم عالميان خوب منظر است
وز خبث با طنم سر خجلت فتاده پيش
طاؤس را بنقش نگاري که هست خلق
تحسين کنند او خجل ازپای زشت خويش

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ثُمَّ قَسَتْ قُلُوبُكُمْ مِنْ بَعْدِ ذٰلِكَ فَهِيَ كَالْحِجَارَةِ اَوْ اَشَدُّ قَسْوَةً

پوهه شئ:- چي کلمه د "ثم" لپاره د استبعاد ده او مخاطب معاصرين د نبي ﷺ دي بالخصوص ملايان د يهودو او قسوة او قساوة غلظت او صلابت ته وايي لکه په ډبره کي نو په زړو کي قساوت عبارة دی دعدم قبول الحق والعبرة بحال الغير، نو په اصطلاح دعلم بيان په قست کي استعارة تبعية ده، او يا استعارة تمثيلية وتحقيقها في العلم المذکور او کلمه د "او" خو لپاره اصلاً د شك ده او شك پر خداي ﷻ محال دی زړ دلته يا لپاره د تخيير ده يعني اوريدونکي د حال مخير دي په دې کي تشبيه له ډبري سره کوي، اوکي د "اشد قسوة" کما في او الواقع بعد الامر نحو اقتل کذا وکذا. او يا کلمه د "او" لپاره دشك ده لکن شك راجع دی وناظر ته دحال د دغو يهودو يعني هغه شك دی چي دکوم شي سره مشابه دي زړونه ددوئ .

پوهه شئ:- چي "او اشد قسوة" معطوف دي پر لفظ د حجارة نو معنا داده چي زړونه ددوئ په قسوة کي لکه ډبره دي او يا لکه اشد قسوة تر ډبري لکه وسپنه او بعض مفسران رح وايي چي اشد قسوة معطوف دی پر کالحجارة نو پر دې تقدير لفظ د مثل ورسره مقدر دی فالمعنى فهي کالحجارة او مثل ماهو اشد منها. بيا مضاف حذف سو او مضاف اليه يې په خای کي ودرېدی .

پوهه شئ - لفظ د "اقسى" چي اسم تفضيل دی او تر اشدقسوة کوتاه دی ولي نه وويل سو ؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب:- په لفظ کي د "اشد" مبالغه ده په شدت کي چي پر شدت ماده وضعيه دلالت کوي بخلاف اقسى لانه انما يدل على الشدة صيغة فقط فتامل .

زړښت وايي:- چي هذا حاصل مافى التفاسير الحاضرة عند الفقير وتشريح تلك التفاسير، نو اوس واوره سليسه ترجمه د ايت مذکوره او بيا کلک سوه زړونه ستاسو وروسته تر هغه نو ستاسو زړونه لکه دبري دي يا سخت تر دبري لکه وسپنه .

پوښتنه:- ستا دا تفسير خو د پښتنو لپاره دی نو پښتانه به استعاره بتبعه او استعاره تمثيليه، او يا ورته ودغو ته د عربي علومو په اصطلاحاتو څه پوهېږي نو څرنګه عبيدالله ته د موضوع د تفسير د باندي نه ولاړي ؟

ځواب:- زه منم چي زما دغه تفسير د پښتنو لپاره دی لکن ما هيڅ کله دا نه دي ويلي چي د تفسير د پښتنو د عوامو لپاره دی نو په اصطلاحي عربي مسائلو که څه هم عوام الناس نه پوهېږي لکن علماء او طالبان په پوهېږي فلم اخرج عن موضوع التفسير هداك الله تعالى .

وَإِنَّ مِنَ الْحِجَارَةِ لَمَا يَتَفَجَّرُ مِنْهُ الْأَنْهٰرُ

او په تحقيق بعض له دبرو څخه هر آينه په کثرت سره بهېږي له هغه څخه ولې .

تشريح:- په دي آيت کي بيان دی د کثرت د قسوت د زړو د دوئ يعني د بني اسرائيلو تر دبري او بيان دی د اشد قسوة .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده:- مِنَ الْحِجَارَةِ خبر مقدم دی د "اِنّ" او خبر یې "لَمَّا" دی او لام لپاره د تاکید دی او د "منهُ" ضمیر راجع دی و "مَا" ته او "مَا" عبارة دی د ډبري څخه نو تذکیر د ضمیر په اعتبار د لفظ د "مَا" دی، او تفجر بهېدل دي د اوبو په کثرت سره او انهار جمع د نهر ده چې مجری وسیع ته وایي

وَإِنَّ مِنْهَا لَمَا يَشَّقَّقُ فَيَخْرُجُ مِنْهُ الْمَاءُ

او په تحقیق بعض له ډبرو وچوي نو راوزي له هغه ډبري څخه اوبه

یعني چینه دون النهر.

فائده:- اصل د یشقق یتشقق و بیا یې تا په شین کي مدغمه کړه.

پوهه:- چې دا عبارت قرآني لپاره د تعمیم د اوبو بهېدلو دی له ډبرو څخه د قسم د ترقي نه دی ولي چې تفجر تر تشقق بالا دی فافهم.

وَإِنَّ مِنْهَا لَمَا يَهْبِطُ مِنْ خَشْيَةِ اللّٰهِ

او بعض له ډبرو څخه د لوړه ځایه څخه راشوه سي کښته ځای ته له ډبري د خداي ﷻ.

والحاصل:- چې د بعض ډبرو څخه اوبه د ولو په شان راوزي او د بعض ډبرو څخه اوبه د چینو پر ډول راوزي او انسانان او حیوانان او نباتات نفع څندي اخلي بخلاف هولاء الیهود چې د دوئ له زوړو څخه نه د معرفت الهي ولي راوزي او نه د اقرار په نبوت محمدي ﷺ چینې راوزي، او بعض ډبري د خداي ﷻ له ډبري کښته راشوه کبړي بخلاف هولاء الیهود چې دوئ د حسد او تکبره له لوړي څخه وکښته ځای ته د انقیاد و امر الهي ته د ډبري د خداي ﷻ نسوه راشوه فحق القول ﴿ان قلوبهم اشد قسوة من الحجارة﴾

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده جليله:- معتزله وايي چي خشيت د ډبري پر طريقه د فرض دی يعني ان كان له عقل لفعل ذلك، او قاضي ناصر الدين البيضاوي رحمه الله سره ددې چي ناموړی سني شخصيت دی په دې مقام كي وايي چي خشيت پر حقيقت باندي نه دی محمول ولي چي حقيقت خشيت علم او فهم غواړي چي په جماداتو كي نسته بلكه مراد دلته مجازا انقياد د امر الهي دی، علامه مظهري رحمه الله دا خبره د بيضاوي ليس شيئ ګڼلې ده، او علامه بروسوي رحمه الله وايي چي مذهب د اهل السنت والجماعت دادی چي ډبره كه څه هم جماد ده لكن خداى ﷻ ودې ته فهم ورکړی دی چي په هغه فهم د خداى ﷻ څخه بهرې فوق د بهري د بعض انسانانو، او تولو جماداتو او نباتو ته خداي ﷻ فهم قوت د تسبيح او تهليل ورکړی دی چي پرته له خداي ﷻ څوك نه په پوهېږي، قال جل ذكره ﴿وان من شيئ الا يسبح بحمده ولكن لاتفقهون تسبيحهم ﴾ وقال عز من قائل ﴿والطير صافات كل قد علم صلاته وتسبيحه﴾ فعلينا الايمان بذلك وتفويض علمه الى الله عزوجل، او په ډبرو كي حقيقت خشيت سته په حديث كي د هجرت نبوي ﷺ راغلي دي چي څه وخت چي عليه السلام په معيت د ابوبكر رضي الله عنه د شپې له مخه د مكې مكرمې له بناره ووتل اول د ثبير غره ته ورغلل ثبير ورته وويل چي زما څخه كښته سئ ولي چي كفار د مكې ستا د وژلو په طلب كي سر ګرم دي خو زه د خداي ﷻ څخه بېرېږم چي په ما كي ته ونه وژل سي او ما به خداي ﷻ په عذاب كړي نو جبل ثور ور ناري كړې الي يارسول الله ﷺ ماته راسه اي رسول د خداي ﷻ او په حديث متفق عليه كي راغلي دي چي آنحضرت ﷺ چي ممبر د مسجد نبوي ﷺ نه و جوړسوی تكيه يې ويوې ستني د مسجد چي د خرما وچ لرګی وو كوله بيا څه وخت چي ممبر نبوي ﷺ جوړ سو او عليه السلام د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خطبې لپاره پر ممبر کښې نستې هغه ستن له فراقه د نبي ﷺ په ژړا سوه حتی چې اهل مسجد ټولو واورېدل حتی چې نبي ﷺ ېبرته ورته راکښته سو او ستن يې په غېږ پوري ونيول فتحن کحنين الصبي الذي يسکت فسکتت، او في المثنوي

انکه اورا بنود از اسرار داد　　کی کند تصديق اوناله جماد

او داغه رنګه په صحيح حديث کي راغلي دي چې د هغه پسه غوښو چې په خيبر کي يهودايانو زهر ور اچولي وه او نبي کريم ﷺ ته يې د مهمانۍ په توګه راوړي وې پس له دې چې عليه السلام يوه يا دوې ګولې خندي وخوړلې، نو هغه غوښو ورته يې وويل چې په ما کي زهر دي ما بالامه خورئ.

ډروېښې وايي:- چې دا حديث ډېر طويل دی، وايضاً قد ورد في الحديث الصحيح ﴿ان النبي ﷺ يوماً اراد قضاء الحاجة وامر شخصاً ان يقول لهاتين الشجرتين ان ياتيا فآتيا وضمتا فاستترالنبي ﷺ بهما فاذا قضا الحاجة ذهبتا الى مكانها او كما جاء الحديث﴾ وفي المثنوي

نطق آب ونطق خاک ونطق گل　　هست محسوس حواس اهل دل

فلسفي کو منکر حنانه هست　　از خواص اولياء بيگانه است

وقد ورد في الحديث المتفق عليه بينما راع في غنمه عدا الذئب فاخذ منها شاة فطلب الراعي حتى استنقذها منه فالتفت اليه الذئب فقال من لها السبع يوم ليس لها راع غيري فقال الناس سبحان الله ذئب تكلم فقال عليه السلام انا او من به ابوبكر وعمر قال الراوي وماهما ثَم

وايضاً ورد في الحديث الصحيح عليه السلام وايي چې زه هغه دبره پېژنم چې زه به قبل النبوت غار حرا نه تلم دي به ويل السلام عليكم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شروبش وايي:- چي که زه د تسبيح او جزوع د جمادات په تفصيل بيان کړم ورقي به ډکي سي لکن

تا طبع شریفت نپذیرد ملالتی ان به که بیان را بدعاء مختصر کنم

وَمَا اللَّهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُونَ ﴿٧٤﴾

او نه دی خداي ﷻ غافل او ناخبره له هغه کارو څخه چي تاسي يې کوئ.

پوهه شه:- چي په دې آيت کي وعيد شديد دی د هغه کسانو لپاره چي قسوت القلب لري او د قرآن او مواعظو بليغه و څخه د عليه السلام يې زړه نه نرم کيږي، وقد قال الله تعالى ﴿لو انزلنا هذا القرآن على جبل لرئيته خاشعاً متصدعاً من خشية الله، وتلك الامثال نضربها للناس لعلهم يتفكرون﴾

أَفَتَطْمَعُونَ أَنْ يُؤْمِنُوا لَكُمْ وَقَدْ كَانَ فَرِيقٌ مِنْهُمْ يَسْمَعُونَ كَلَامَ اللَّهِ ثُمَّ يُحَرِّفُونَهُ مِنْ بَعْدِ مَا عَقَلُوهُ وَهُمْ يَعْلَمُونَ ﴿٧٥﴾

ايا تاسي طمع لري؟ خطاب دی و عليه السلام ته او مسلمانانو ته چي ايمان به راوړي يعني يهوديان په سبب ستاسي د دعوت او تبليغ او حال دادی چي وه يوه ډله ددوئ چي وايي ورېدی کلام د خدای ﷻ يعني تورات او بيا به دوئ تغير ورکاوه وهغه کلام الله ته وروسته تر دې چي دوئ به په پوه سوه چي کلام الله تورات خو داسي وايي لکه نعوت د عليه السلام چي احبار يعني ملايانو ددوئ يا تغير ورکړی او يا يې پټ کړه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جداً للرياسته وماكانوا ياخذونه من الاموال من سفلتهم، او داغه رنګه ايت الرجم يې هم پټ کړی لاجل الرشوة او دوئ به علم درلودی يعنې پر دې چې موږ درواغ وايو پر تورات، وهذا قول مجاهد وقتاده وعكرمه والسيدي وجماعة من المفسرين رح، او ابن عباس ﷺ وايي چې دا آيت په اسلافو کې د بني اسرائيلو دی يعني هغه اويا (۷۰) کسان چې حضرت موسىٰ کوه طور ته ببولي وه لپاره د شهادت پر خبرو د موسى ﷺ د خداى ﷻ نو كلام الله مع موسى ﷺ دوئ تولو واورېدې او په وهم پوهېدل نو صادقو مومنانو هغه بيان وقوم ته وکړی چې اورېدلي يې وه و بعض منافق صفتو ددغو اويا کسانو وه قوم ته داسي وويل چې موږ امر او نهي دخداي ﷻ له خوا وليدلې لكن په اخر کې خداى ﷻ داسي هم وويل چې ستاسو خوښه ده که په دُغه امر او نهي عمل کوي او که يې نه کوي.

فائده:- همزه د استفهام په "افتطمعون" کې لپاره د انکار دی يعني دا طمع ويهودو ته مه کوي لکه چې عليه السلام او مومنانو به يهودو ته درلوده.

فائده:- کلمه د فاء لپاره د عطف ده پر مقدر باندې اي "اتسمعون اخبارهم وتعلمون احوالهم كمامرت في الايات السابقة فتطمعون آه.

فائده:- د "ان يومنوا" څخه يا توله يهود مراد دي او يا ملايان ددوئ

فائده:- فريق اسم جمع ده چې مفرد د خپل لفظه نه لري، لكه قوم او رهط.

فائده:- ددې فريق څخه بعض مفسرين ﷺ وايي مراد ملايان د دور حاضره نبوي ﷺ دي وهو الظاهر من قوله تعالى "افتطمعون، او بعض

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مفسرین وایي چي مراد اسلاف د دوئ دي نو پر دي تفسیر معنی د آیت داسي ده چي تاسي ومومنانو ته د عصر حاضر طمع د ایمان لري او سره ددي چي یوه ډله د اسلافو ددوئ کلام الله مع موسی ﷺ واوریدی او بیا یې وه هغه ته تغیر ورکړ، حاصل داچي ددې قوم عادت دی تغیر د کلام الله نو ددې قوم طمع د ایمان نه ده پکار .

وَإِذَا لَقُوا الَّذِينَ آمَنُوا قَالُوا آمَنَّا ۖ وَإِذَا خَلَا بَعْضُهُمْ إِلَىٰ بَعْضٍ قَالُوا أَتُحَدِّثُونَهُمْ بِمَا فَتَحَ اللَّهُ عَلَيْكُمْ

او چي ملاقي یعني یو ځای سي یهود یعني منافقین د دوئ د هغه کسانو سره چي ایمان یې راوړی دی یعني اصحاب النبي ﷺ نو دوئ وایي چي مونږ هم ایمان راوړی دی یعني لکه ایمان ستاسو او دا هم ورته وایي ان محمداهو البشر به فی التورات، او چي خالي سي یعني رجوع وکړي بعض د یهودیانو یعني چي منافقان نه وي بلکه مجاهرین بالیهودیت وي الی بعض یعني د هغو کسانو سره چي منافقان وي د خلوت معنا وي د خلوت معنا داده چي بل هیڅوک نه وي ببله دوي .

پوهه شه:- چي د "خلا" چونکه "الی" صله نسي کیدای علی قانون العربیة، ولي چي صله د خلوت باء د حروف جاره و ده کما یقال خلوتُ بفلان .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نو څکه مفسران وایي اي منضمین الی بعض چي دې ته په اصطلاح د نحو تضمین وایي یعني چي د یو فعل سره لکه چي "خلا" دی د بل فعل لفظ ورسره مقدر په قرینه د صلې د هغه یعني حرف جر چي د لته لفظ د "الی" دی نو وایي هغه کسان ددوي یعني منافقینو ته ددوي د سرزنش پر ډول چي ایا تاسي خبر ورکوي مسلمانانو ته، استفهام انکاري دي یعني داسي باید ونه کړي په هغه شي سر او راز چي خدای ﷻ وتاسي ته ښولی دی یعني تورات کي چي نعوت د علیه السلام دی.

فروښتې وایي:- چي استفهام پر تقدیر مذکوره یعنې په "اتحدثونهم" کي لپاره د تفریع دی د مجاهرینو له خوا څخه منافقینو ته، یعنې منافقینو ته سرزنش ورکوي چي تاسي ولي و مسلمانانو ته دا بیان کوي، اوقاضي بیضاوي یو په زړه پوري تفسیر داسي کړی دی چي فاعل د "قالوا" ثاني منافقین دي یعني دوي وخپل قوم ته تهنا وایي چي فکر کوئ، چي تاسي اظهار او بیان د ما في التوراة من نعوت محمد ﷺ و مسلمانانو ته ونه کړی په دې کي د منافقینو غرض دادی چي مونږ خو په یهودیت کي قائم او سر سخت یو چي ستاسي تر خوله څه خبري په باره کي د نبي اخر زمان څوك وا نه وري، نو په دي تقدیر استفهام لپاره د نهي او منع دي،حاصل دا چي منافقین د مومنانو او د خپل قوم دواړو سره منافقت کوي،

لِيُحَآجُّوكُم بِهِۦ عِندَ رَبِّكُمْ ۚ أَفَلَا تَعْقِلُونَ ۝

پوه شه:- چي لام متعلق دی په حدیث سره او دا لام د غرض نه دی بلکه لام عاقبت دی نحو "لدوا للموت وابنو اللخراب" نو معنی داده چي عاقبت ستاسي ددې تحدیث به داوي چي مومنان به ستاسي په دغه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تحدیث سره ستاسي سره دلیل وایي په نیز د خدای ﷻ ستاسي، او تاسي به په دې حجت سره مغلوبه او ساکت وګرځوي آیا تاسي په دغه مغلوبیت په نیز د خدای ﷻ او رسوایي نه پوهیږي، نو مفعول د "تعقلون" محذوف دی او یا معنی داده "افلا عقل لکم تعلمون به خطائکم الفاحش في ذالک التحدیث نو تعقلون منزل منزلة لازم دی.

فائده:- بعض مفسرین رحمهم الله د "عند ربکم" معنا داسي کوي چي "عند کتاب ربکم" چي تورات دی، کما یقال في حکم هو عندالله کذا اي في کتابه و شرعه، او بعض مفسرین وایي چي معنی د عند ربکم داده چي په ورځ د قیامت به په حضور کي د خدای ﷻ مسلمانان به پر تاسي شاهدان او ګواهان وي چي په خدای ﷻ دغه منافقین په حقیقت سره په تورات پو هېدله او په حقیقت د دین محمدي ﷺ پوهېدله او سره د هغه په باطن خندي منکروه، نو تاسي به خدای ﷻ ته څه جواب وه وایاست، لکن بیضاوي رحمه الله پر دې تفسیر دا سوال کړی دی چي دوئ خو اهل کتاب وه په دې پوهېدله چي اخفاء د حکم الهي په اخرت کي فائده نه کوي، واجاب عنه المظهري بجواب لاافهمه والله اعلم.

او پر جواب د مظهري رحمه الله حواشیو د بیضاوي مفصل رد کړي دی، او بعض مفسران وایي چي معنی د آیت داده "عند رسول ربکم" پر دې تفسیر محاججت او مغلوبیت په نیز د علیه السلام خدای ﷻ عین مغلوبیت په نیز خپل یې وباله لپاره د تعظیم د علیه السلام او یا مضاف محذوف دی، فافهم.

تفسیر ایوبي حنفي د نصیراحمد احمدي لخوا سکین او pdf سو. د دعا په هیله احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

أَوَلَا يَعْلَمُونَ أَنَّ اللَّهَ يَعْلَمُ مَا يُسِرُّونَ وَمَا يُعْلِنُونَ ﴿٧٧﴾

پوه شه: چې همزه د استفهام داخل پر محذوف دی او کلمه د "واو" عطف پر هغه محذوف ده، والتقدیر یقولون ما قالوا ولا یعلمون، او دوئ نه پوهیږي چې په تحقیق خدای ﷻ خبر دی په هغه شیانو چې دوئ یې پټوي او په هغه شیانو چې دوئ ښکاره کوي چې د هغو شیانو څخه پټول د کفر دی او اظهار د بل شي، و تحریف الکلم عن معانیه في کتابهم التوراة

درویش وایي:- چې اول تفسیر د حال سره د منافقینو وبر مناسب دی، دون الثاني لان المنافقین اظهروا عند المؤمنین ما في التوراة بان النبي ﷺ هو المبشر به في التوراة قال عز وجل

وَمِنْهُمْ أُمِّيُّونَ لَا يَعْلَمُونَ الْكِتَابَ إِلَّا أَمَانِيَّ وَإِنْ هُمْ إِلَّا يَظُنُّونَ ﴿٧٨﴾

او بعض له یهودو څخه امیان دی

پوه شه:- چې امي یا منسوب دی امة العرب ته چې خالي د علم او کتابت څخه وه، او یا منسوب دی وام ته یعني څرنګه چې مور زېږولی وو هغه سي بېعلمه پاته دی، والمآل وا حد چې امیان نه پوهیږي په کتاب سره یعني په تورات یعني تاچې دوئ مطالعه کړي حققیت حال د نبي اخرالزمان ﷺ او د هغه احوال او صفتونه به دوئ ته معلوم سوي وای، نو به یې ایمان راوړی وای مګر دغه امیانو زده کړی اماني.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوهه شه:- چې امانې جمع د امنیت ده چې تمنی څخه ماخوذ دي او استثناء د امانې د کتاب څخه استثناء منقطع ده، ولې چې امانې یعنې اکاذیب باطله خو د جنس څخه د تورات نه دي، معنی داده چې ودوئ ته شهوات باطله ثابت دي یعنې هغه تغیرات چې ملایانو ددوئ په احوال کې د علیه السلام کړي دي، او دوئ ته یې بیان کړي دي اویا دا چې دوئ ته عذاب النار نسته مګر یو څو ورځې "کما قال الله تعالي ایاما معدودة" چې دا هم د خرا فاتو څخه ددوئ د ملایانو دی، او یا دا چې زمونږ اجداد، نیکه ګان انبیاء دي هغه په ورځ د قیامت د هرې نوعې د ګناه شفاعت زمونږ کوي او داتوله بې حجته او بې دلیله خبرې دي، او نه دي دغه امیان مګر نه په دغو خبرو کې دوئ ګمان کوي یعنې یقین نه پرلري کما هو حال المقلد للباطل .

فائده :- په "الایظنون" کې اصل مستثنی محذوفه ده او صفت یې په ځای کې د رېدلی دی، والتقدیر ان هم الاقوم یظنون، یعنې لاعلم لهم بذالك .

سوال:- دغه امیان د یهودو خو به یا مقلد وه د خپلو ملایانو او پا به جاهلان په جهل مرکب سره، و کل منها جازم والظن اعتقاد غیر جازم بل غالب کما ثبت في کتب المنطق فیکیف اطلق علی اعتقادهم الظن ؟

واجاب عنه القاضي البیضاوي بقوله وقد یطلق الظن باذاء العلم علی کل راي واعتقاد من غیر دلیل قاطع وان جزم به صاحبه کاعتقاد المقلد الجازم والزائع ان الحق لشبهة وحاصل .

الجواب:- چې مراد د ظن څخه هغه معنی منطقي مذکوره نه ده بلکه مراد څنډي مقابل الحق دی که څه هم صاحب الظن یې جازم وي فتامل فانه دقیق .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فَوَيْلٌ لِّلَّذِينَ يَكْتُبُونَ الْكِتٰبَ بِأَيْدِيهِمْ ثُمَّ يَقُولُونَ هٰذَا مِنْ عِنْدِ اللّٰهِ

پښتو ژباړه:- چې "وَيل" يوه کلمه ده هر سړی چې په هلاکت کې واقع سي وايي يې حتی نو يې معنی ښرا ده وخپل ځان ته په عذاب سره او دلته يې معنی داده "عقوبت عظيم" نو "ويل" مبتداء ده او مابعد يې خبر دی، او د نکره مبتدا والی په سبب د توصيف با العظمة ده نحو "شر اهر ذاناب، وقال رسول الله ﷺ "الويل واد في جهنم يهوي فيه الكافر اربعين خريفاً قبل ان يصل، نو ابتداء يې پر دې تقدير په سبب د علميت ده .

ترجمه:- نو عذاب دی او هلاکت دی هغو کسانو لره چې نوشته کوي الکتاب يعني تورات چې دوئ تحريف او رد و بدل پکښې کړی دی په خپلو لاسو .

پښتو ژباړه:- چې کتابت خو په لاسونو وي نو فائده د "بايديهم" دفع د توهم د مجاز ده، ولي چې ګاهي سړی وايي چې کتبت الي فلان او سره ددې چې ده په خپل لاس نه وي نوشته کړی بلکه په بل سړي يې نوشته کړی وي او بيا دوئ وايي و عوامو ته خپل دغه کتابت يعني المحرف د طرفه څخه د خدای ﷻ دی يعني اصلي تورات دی .

پښتو ژباړه:- چې څه وخت چې رسول الله ﷺ و مدينې منورې ته راغلی او دايې اعلان وکړی چې زما نعت او احوال په تورات کې موجود دي، نو ملايان د يهودو وبرېدله که موږ اظهار د تورات واقعي عوامو ته خپل وکړو نو هغه به پر محمد ﷺ ايمان راوړي نو زموږ رياست به پر عوامو پر

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

شطره د زوال سي او هغه صدقات چې مورِ د عوامو څخه تر لاسه کوو د منځه څخه ولاړسي نو يې صلاح دا وکړه چې نعوت د نبي اخر الزمان ﷺ چې په تورات کي وه بدل يې کړی مثلا په تورات کي داسي وه چې نبي اخر الزمان به حسن الوجه وي جعد اشعر به وي يعني ويښتان به يې وږده وي او توري ستر گي به يې وي او ميانه قده به وي، نو ملايانو د يهودو داسي نوشته کړه چې نبي اخر الزمان سور سړی وي اوشني سترگي به يې وي وربښتيان به يې هيڅ کت نه لري، نو عوامو چې به په باره کي د علیه السلام د خپلو ملايانو څخه پو ښتنه وکړه دوئ به هغه خپل لیکلي اکاذیب ورته ویله یعني د نبي اخر الزمان په تورات کي دغه صفتونه او حلیه ده چونکه عوامو به هغه حالات او نعوت په علیه السلام کي نه لیدله نو بې له علیه السلام انکار کوی او ایمان به يې نه راوړی.

ترویښ وایي:- چې ملایانو دیهودو دنیا ته تر ثواب الآخرة ترجیح ورکړه "فضلو واضلو بعض علماء السوء فینا، او د یهودو د ملایانو دغه غرض شوم خدای ﷻ په داسي کلماتو کي بیان کړی دی.

لِيَشْتَرُوا بِهِ ثَمَنًا قَلِيلًا

تا چې دوئ رانسي او حاصل کړي په دغه تحریف سره یو ثمن لږ.

پوهه شه:- چې اطلاق د شراء دلته مجازي دی ولي چې تحریف خو مال نه دی او شراء خو مبادلة المال بالمال ده.

پوښتنه:- ملایانو د یهودو خو ډیر شی تر لاسه کوی من الزکوة وهو ربع المال في دینهم الصدقات النفلیه والرسوم العادیة، نو دا ثمن قلیل دی؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ثواب:- توصیف په قلت سره یا له دې سببه دی چې دا ثمن قلیل خو فاني دی. او بل په دې سبب چې دوئ په دغه تحریف سره جنتونه او نعیم د اخرت له لاس ور کړه د هغو په مقابل کې دا ددوئ ماخوذ ثمن هغه قدر او اعتبار نه لري.

فائده: مشابه ددې کارو د ملایانو د یهودو زمونږ په بعض امامانو کې د مساجدو هم محسوس کیږي مثلاً د مسجد لوئ زکواة ورکونکی یا د مسجد مشر رشوت خور وه نو امام په هغه کې تفصیل نه کوي، او یا مشر مقتدي سود خوره و، که څه هم اوس یې سود پرې ایښی وي، امام د مسجد د سود خوری په باره کې هغه مفصل آیاتونه او حدیثونه نه بیانوي، او یا یوغټ مقتدی د مسجد شراب خوره وي، د شراب خوری د حرمت او عذابو له تفصیل څخه امام مسجد ډډه کوي، او یا د مسجد یو غټ مقتدی د کافرانو په حکومت کې پر مسلمانانو راضي و او طرف داره یې وو، امام مسجد په دې باره کې خان ګنګی اچولی وي، او دی عذر دا وایي چې په دې باره کې خو بیان کول سیاست دی، او زه په اوله ورځ غټ مقتدي چې ماته یې امامت راکاوه د سیاست څخه منع کړی یم، افسوس چې د خدای ﷻ تر امر یې د مقتدي نهي ته اعتبار ورکړی، "و ما ذالك الا اخذه الثمن القليل من المقتدي و امثال ذالك كثير،

چوکڑ ازکعبه برخیزد کجا ماند مسلمان،

في روح البيان، ان الدين ليس بالتمني فالذين ركنوا الى التقليد المحض واغتروا بظنون فاسدة وتخيلات مبهمة فهم الذين لا نصيب لهم من كتبهم الا قرائتهم دون معرفة معانيها وادراك اسرار ها وهذا زماننا من مدعي الاسلام فا المدعي المحض والممتني الخالص عاقبتها خسران وحسرة وضلال وندامته ووهال انتهي وفي المثنوي،

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

تشبه گرد ورق اید از سراب — چون رسد دروي گريزد جويد آب
مفلسان گرخوش شوند اززر قلب — نيک آن رسوا شود در دار ضرب،

ولهذ ورد في الحديث الصحيح النبوي ﷺ للجاهل ويل وللعالم سبعين ويلاً،

قيل

چون به خلوت ميروند آن کار ديگر ميکنند ☆ واعظان کين جلوه درمحراب و منبر ميکنند

حميد الله غزنوي

چو بينم دين الحمد در غريبي — دلم سوزان زچشم خون جاري

ژوبښ وايي: چي جنيد بغدادي يو ورځ دخپل وعظ په دوران کي ويله لو لم اسمع قوله ﷺ ان الله قد يؤيد هذا الدين بالرجل الفاجر لما اجترئت، على الوعظ فانا ذالک الفاجر، يعني که ما دغه حديث نبوي ﷺ نه واى اوربدلى چي عليه السلام وايي چي خداى ﷻ ګاهي تائيد د خپل دين کوي په فاجر يعني ګناه کاره فاسق سړى سره او مابه دلاوري نه وي کړې پر وعظ باندي، يعني په دې معنى چي وعظ خو تائيد د دين دى هغه خو بايد صالح سړى وکړي، جنيده ستا و د وعظ يې سره څه نو چي مذکور حديث مي واوربدى نو پر وعظ دلاور سوم چي ته يې هغه رجل فاجر نو تائيد د دين مه پربږده .

ژوبښ وايي: چي ورته خبره زما څخه په جلد اول کي سوې ده، الحمدلله چي اوس چي جنيد بغدادي ﷺ همنوا مي پيدا کړى نو بيا مکرر وايم کوم فاسق يم کوم فاجر يم — پرتفسير باندي مين يم
په قيامت د هر عالم سره د نېکو عملو به يو دفتر وي،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ژوپښ وایي: من نیز حاضر میشوم تفسیر قرآن در بغل، اللهُم وفقني لاختتام هذا التفسير علي وجه الصواب بالصحة والسلامة

فَوَيْلٌ لَّهُمْ مِّمَّا كَتَبَتْ أَيْدِيهِمْ وَوَيْلٌ لَّهُمْ مِّمَّا يَكْسِبُونَ ۝

نو ویل دی دوئ لره یعني ملایانو محرفینو لره د تورات په تغیر د وصف نبوي ﷺ او "ویل" دي وي دوئ لره چي دوئ د تورات په بدلولو تجارت د دنیا کوي.

تفسیر سلیس: نو هلاکت او عقوبت دوي ملایانو لره د یهودو په سبب د هغه چي ددوئ لاسو لیکل یعني بدل کړل سوي آیتونه د تورات، اوعذاب دوي لره په سبب دکسب تجارت په تورات سره

وَقَالُوا لَن تَمَسَّنَا النَّارُ إِلَّا أَيَّامًا مَّعْدُودَةً

او وایي یهود چي موږ نه مسه کوي اور یعني دوزخ مکر یو څو ورځي په حساب سره.

پوهه شئ:- چي د یهودو دا عقیده ده چي د دنیا عمر اوه زره کاله دی، او پر زر کاله خدای ﷻ موږ ته یوه ورځ د دوزخ عذاب را کوي یعني که موږ هر څای یو او هرڅو معاصي کوو، وقاله ابن عباس او قتاد او عطاء ﷺ چي یهود وایي چي موږته څلویښت ورځي عذاب راکوي یعني په حساب د هغه ورځو چي زموږ نیکه ګانو عبادت العجل کړی دی که هر څو موږ بد کارونه وکړو او یا بنه کارونه وکړو، او ابو منصور ماتریدي ﷺ وایي چي مراد د "ایام معدودة" څخه هغه ورځي د عصیان دي هر څو چي وي ،او یا به د دوئ همیشه والی په دوزخ کي نه وایي که څه هم سړی کافر وي یعني که یو سړی شل (۲۰) کاله مثلاً په کفر کي

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

تهر کړي وه نو هغه شل کاله په دوزخ کي تيره وي بيا به جنت ته ځي لکه د جهميه وو چې هم دا عقيده وه، وهذا العقيدة كفر بواح وان كانت الجهمية يعدون انفسهم فرقة من فرق المسلمين، او يا يهود دا عقيده لري چې مونږ دوستان د خداى ﷻ يو او يا لکه زامن د خداى ﷻ يو، نو زمونږ عذاب داسي دى لکه مهربانه پلار چې يې وزوئ ته ورکوي، او يا مهربانه دوست چې دوست ته يې ورکوي، نو هغه عذاب يو څو ورځې وي او بيا پلار راضي سي او عذاب قطع کړي، وهذا العقيدة منهم كفر باطل لان عذاب من مات علي الكفر ابدي لا ينقطع اصلاً في جميع الكتب الالهية .

قُلْ أَتَّخَذْتُمْ عِندَ اللَّهِ عَهْدًا فَلَن يُخْلِفَ اللَّهُ عَهْدَهُ أَمْ تَقُولُونَ عَلَى اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴿٨٠﴾

او ته ووايه اي محمد ﷺ و دغو يهودو ته چې آيا تاسي اخستې ده عهده د خداى ﷻ څخه چې تاسي به تر ايام معدوده بالا په دوزخ کي نه پربږدي .

او بعض مفسران وايي چې عهده په دې آيت کي په معنا د خبر ده يعني تاسي ته خداى ﷻ خبر درکړى دى چې تاسي ته بالاتر ايام معدوده عذاب نه درکوي، نو که چيرې خداى ﷻ ستاسي سره وعده کړې وي او يا يې خبر در کړى وي نو خداى ﷻ د خپل وعدې څخه خلاف نه کوي ولي چې خلاف د وعدې څخه محال دى پر خداي ﷻ باندي .

لغوي بحث:- چې يو "وعد" دى او يو "وعيد" دى، وعد وه دې ته وايي چې د جنت او نعمتونو وعده د چاسره وکړي د هغې وعدې څخه خلاف کوي دا خو اتفاقاً پر خداى ﷻ باندي محال دى لانه من الخصال الرزيله،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او وعید دي نه وایي چي د یو عذاب وعده پر یوه عمل د چاسره وکړي د هغه په خلف اختلاف دی، بعض وایي پر خدای ﷻ دا هم محال دی، او اکثره علماء پر دي عقیده دي چي ددې څخه خلف ممکن غیر واقع دی، والتفصیل في کتب العقائد، او محب الله البهاري په مسلم الثبوت کي دا مسئله په ښه توګه بیان کړې ده، او که خدای ﷻ وتاسي نه دا اخبار کړی وي چي تاسي نه زائد تر ایام معدوده عذاب نه درکوم نو خلاف د خبر خو کذب دی او کذب پر خدای ﷻ محال دی او که تاسي وایاست پر خدای ﷻ هغه څه چي تاسي علم نه پري لري.

فائده: همزه د "اتخذتم" لپاره د استفهام انکاري دی یعني تاسي دا وعده د خدای ﷻ نه ده اخستې.

فائده: همزه دلته مفتوح دی ولي دا همزه د استفهام دی همزه د وصل نه دی، ولي چي اصل یې "ااتخذتم" همزه د وصل په درج کي ولاړی او فلن یخلف الله آه جواب د شرط مقدر دی، **اي ان کنتم اخذتم عندالله عهد آفلن یخلف الله آه .**

فائده:- کلمه د "ام" یا منقطعیه ده په معنی د "بل اتقولون آه" نو دا تصریح او سرزنش دی ودوئ ته **ویمکن انیکون معادلة لهمزة الاستفهام** یعني ام متصله دوئ په معنی ددې که "کم یود" دي له امر څخه واقع وي نو مطلب د استفهام باعث کول دي دده پر اقرار، ولي چي د دغو دوو امرو څخه خو یو واقع دی بلاشك نو تاسي ووایاست چي کوم یو واقع دی

بَلَىٰ مَنْ كَسَبَ سَيِّئَةً وَأَحَاطَتْ

بِهِۦ خَطِيٓـَٔتُهُۥ فَأُو۟لَٰٓئِكَ أَصْحَٰبُ ٱلنَّارِ ۖ هُمْ فِيهَا خَٰلِدُونَ ﴿٨١﴾

پوه شئه:- چي کلمه د بلی لپاره د اثبات د مانفوه عن انفسهم من عذاب النار زماناً طویلاً و معنی الآیة، هو تاسي ته عذاب مدت طویل سته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده:- من مبتداء ده او متضمن معنی لره دشرط ده څکه يې په خبر کي فا راغلې ده يعني هر څوك چې کسب او عمل وکړي د ګناه.

پوهه شه:- چې کسب هغه معاملې ته وايي چې په هغه کي نفع وي، او په کولو کي د "سيئة" خو نفع او فائده نسته نو مفسرين وايي چې استعمال دکسب په سيئت کي تهکماً دی نحو قوله تعالی "فبشرهم بعذاب اليم .

فائده:- "واحاطت به" آه او را و ګرځي ګناه پرده يعني دی داسي سي لکه يو شي چې پر بل شي راوپېچل سي يعني ګناه دده ټولوحواسو او اطرافو ته دده شامل وګرځي يعني قلب او ژبه يې له ګناه خلاصه نه وي بلکه په ژبه اقرار د وحدانيت د خدای ﷻ نه لري او په زړه کي تصديق د وحدانيت هم نه لري، قال البيضاوي رحمه الله وهذا لايصدق ولايصح الافي شان الکافر، ولي چې غير د کافر څخه که څه هم يو اقرار د خولې او تصديق د زړه لري پرهغه احاطه ګناه نه دکړې ولي چې په ژبه او زړه کي ګناه نسته، نو له هم دې سببه ابن عباس رضي الله عنه اوضحاك او ربيع او نورو مفسرينو د قرآن کريم ترجمه "احاطت به خطيئة" په کفر سره يعني هر نوع کفر چې وي لکن دايم الي وقت الموت هم سي کړې ده .

پوهه شه:- چې معتزله او خوارج وايي چې مرتکب د ګناه کبيرې که څه هم يوه ګناه کبيره وي چې بلا توبه مړسي ابداً يې خای دوزخ ښولي، په دغه آيت سره دليل وايي، لکن استدلال د دوئ ښخي غلط دی ولي چې په مرتکب کي کبيره ګناه بلکه د ډيرو کبائرو ګنهو چې تصديق قلبي او اقرار باللسان يې باقي وي احاطت به خطيئته نه دی، نصيحتاً مسلمان لره ښايي بلکه لازمه ده چې يو ګناه خندي صادره سي سمدستي دي توبه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او پښېماني وکړي ولي که پښېمانه او تائب نه سي نو بيا معاودة وهغې ګناه ته کوي او په هغه کې رفته ډوبېږي او اخر الامر تر هغې ګناه يې غټې ته ميل کېږي، مثلا يو سړی د بېګانه ښځي څخه يا هلك څخه مچه واخلي يا اجزاء مستوره و ته هغه ښځه يا هلك لاس ور وړي او توبه نه پروکاږي نو شيطان يې بل وار بيا پر عين هغې ګناه باعثه کوي حتی رفته رفته د ښځي سره په زنا اخته سي او د هغه هلك سره په لواطت مبتلا سي چې نسبت ومخني ګنهونو ته دا دوې ګناه کبيره دي بالاتفاق اوله دې څخه کرار کرار په نورو غټو ګنهو مبتلا سي لکه شراب خوري ترك الصلواة وغيره وروسته شيطان دا ګنهونه وده ته دونه ښائسته کړي بالطبع مائل و هغو ته وګرځي، او په زړه کې يې دغه معاصي مستحسن معلوميږي او دده له عقيدې مخالف که څوك وعظ کوي دده و هغه واعظ ته درد راځي او د واعظ قال الله وقال الرسول ورته درواغ ښکاري، نو دې درجې ته چې ورسېږي نو کافر سو، قال الله عز وجل في موضع آخر، ثم كان عاقبة الذين اساؤا السوء ان كذبوا بايات الله صدق الله العظيم، اللهم نجنا من هذه المهلكة العظيمة .

او ولي به مسلمانان له خطره د زوال د ايمان نه بېرېږي او سره ددې چې يوسف نبي الله ابن نبي الله ابن نبي الله ابن خليل الله على نبينا عليه الصلواة والسلام داسي دعا کوي كما في سورت يوسف ﴿ فاطر السموات والارض انت ولي في الدنيا والاخرة توفني مسلما والحقني بالصالحين﴾

مرويش وايي:- الهي يا الهي يا الهي ندارم جز اميدت تکيه گاهي

زکن موجود کردي جمله عالم مرا از ذنب خود کن عذر خواهي؛

ندارم توشه مقبول درگاه بجزا شک نداست آه آهي

ندارم توشه راه قيامت بجز شرمندگي ورو سياتي

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

بحق حرمت فرقان اعظم کرم کن بر من گم کرده راهي
شفیع اورده ام روي محمد ﷺ عبید را مغفرت فرما آلهي

وَالَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ أُولَٰئِكَ أَصْحَابُ الْجَنَّةِ هُمْ فِيهَا خَالِدُونَ ﴿٨٢﴾

پښه:- چي عادت آلهي په قرآن کريم په دې جاري دی چي تر ذکر د عذاب د کفارو چي وعيد يې بولي ذکر د ثواب د مومنانو کوي، تا چي مسلمانان ورحمت ته د خدای جل شانه اميدواره ووسي لکه د عذاب څخه د خدای ﷻ بيربري.

فائده:- د عطف څخه د "عملو الصالحات" دا وفهمېده چي اعمال د ايمان څخه خارج دی خلافا لاهل ظواهر الحديث والمعتزله، والخوارج.

سوال:- په ذکر کي د عذاب د کفارو خدای ﷻ کلمه د فا ذکر کړه يعني "فاولئك اصحاب النار آه" او په ذکر کي د ثواب د مومنانو يې کلمه د فا ذکر نه کړه حکمت يي څه دي؟

ځواب:- په دې عدم ذکر کي د کلمه د فا اشاره ده وهغه حديث قدسي ته "سبقت رحمتي على غضبي وتفصيل الجواب" نحاة وايي چي که يو سړي داسي وويل "من دخل داري فاكرمه" معنى يې داده هر څوك چي داخل الدار سي د هغه اكرام كېږي لكن سره ددې چي اكرام دې ونسي او كي داسي وويل چي "من دخل الدار اكرمه" معنى يې داده اكرمه البته او فاضل عصام الدين رحمه الله وايي چي چونكه دخول د كفارو دوزخ ته سبب يې كفر دی نو ځكه يې هوري فا سببيه راوړه اشارة الي ذالك بخلاف دخوال الجنة ولي چي اعمال صالحه يې سبب نه دی ولي چي اعمال

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

صالحه د دنیا د نعمتونو جواب نسي ویلای "فاصحاب الاعمال الصالحة کاجیر اخذ اجرته قبل العمل ودخول الجنة بمحض فضله تعالی وکرمه.

فائده:- شیخ مرشد کامل لره په کار ده چي خپل مریدان دي په لطف او قهر دواړو تربیت کوي، کما هو شانه عز وجل مع عباده کما مر، د یو شیخ کامل په واقعه کي داسي راغلي دي چي دده یو مرید و ډیر یې په لار کي د سلوك خواری کښې، نو شیخ ودې مرید ته وویل چي ستا تر دغو زحمتونو چي تې دلته برداشته وې یو وار زیارت او ملاقات د شیخ بایزید البسطاني رحمه‌الله بهتر دی! مرید ورته وویل چي څرنګه به دده ملاقات مالره خیر وي زما ترشغل دلته. او سره له دې چي ماته په ذکر او شغل کي د ورځي اویا (۷۰) واره تجلی الهي کېږي او بایزید خو یو مخلوق دی، خو آخر په یار یار ویلو سره د شیخ مرید په ملاقات د بایزید رحمه‌الله راضي سو، نو دواړه سره رهي سوه د بایزید رحمه‌الله د کور پرځوا کور ته چي ورغله پوښتنه یې د بایزید رحمه‌الله په کور کي وکړه د بایزید رحمه‌الله ښځي ورته وویل چي بایزید څنګله ته تللی دی بوتي راوړي، نو شیخ او دده مرید ورغله د څنګله پر غاړه کښېنستل چي بایزید رحمه‌الله به اوس د څنګله بوتي په شا را ووزي، که څه ګوري بایزید رحمه‌الله پر یوه غټ زمري بدندي بوتي راباندي کړي دي او یو غټ مار یې په لاس کي دی او دا زمری ګاهي ګاهي په مار وهي، مرید چي دا عجیب او غریب بایزید رحمه‌الله ولیدی د بېري یې زاره وچاوده او مړ سو، بایزید رحمه‌الله چي راغلی نو یې و شیخ ته وویل چي تاغلط کار کړی دی تا دا مرید همېشه په لطف سره تربیه کړی و او د قهر د تربیې لار دي نه وه ور ښولې نو ځکه ستا دغه مرید چي زه د قهر او غلبې په حالت کي ولیدم طاقت یې نه راوړی او مړ سو، او بایزید رحمه‌الله هغه شیخ ته وویل چي آینده داسي مه کوه مرید په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لطف او قهر دواړو سره تربیه کوه، انتهی الفقه قال الله جل سلطانه وعظمت قدره

وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَ بَنِيٓ إِسْرَآءِيلَ لَا تَعْبُدُونَ إِلَّا اللَّهَ

او په یاد کړئ هغه وخت چې موږ واخسته یعني په تورات کې ټینګه وعده د بني اسرائیلو څخه چې تاسي عبادت مه کوئ بېله یوه خدایه ﷻ

پوهه شه:- چې "لاتعبدون، آه خو اخبار دی بقرینه عدم سقوط نون الاعراب لکن په معنی د نهي دی علی الانشاء. او ابي بن کعب ؓ صریح نهي وایي یعني "لاتعبدون.

پوهه شه:- په نحو او معاني کې وایي چې اخبار په معنی د نهي ابلغ دی تر صریح نهي، ولي چې ګویا متکلم په خیال کې د سامع دا ورکوي چې مخاطب سرعت امتثال د نهي وکړی او اوس اخبار دده د نهي څخه کېږي، او امام بغوي رحمه الله وایي چې اصل داسي و "ان لا تعبدوا نو چې ان حذف سو فعل مرفوع سو په اعاده د نون د ویدل علیه قراءته من قرء ان لاتعبدوا .

پوهه شه:- چې نافع، ابن عامر، ابوعمر، عاصم او یعقوب رحمهم الله تعلی "لاتعبدون" په صیغه د خطاب وایي حکایتًا عما قیل لبني اسرائیل في التوراة او باقي قاریان یې لایعبدون په صیغه د غیبت وایي نظر الی لفظ الیهود اعني بني اسرائیل چې لفظ اسم ظاهر غائب دی .

وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا وَذِي الْقُرْبَىٰ وَالْيَتَامَىٰ وَالْمَسَاكِينِ

پوهه شه:- چې حرف جر متعلق دی په محذوف پورې، نو که مراعات د لفظ د "لاتعبدون" وسي چې اخبار دی، نو متعلق یې "تحسنون" اخبار په معنی د امر دی او که دا معنا د "لاتعبدون" وسي چې اخبار په معنی د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

انشاء دی نو متعلق به یې "احسنو" په صیغه د امر وي نو معنی د ایت داده چې تاسي به احسان کوئ د مور او پلار سره یعني فرمان برداري د امر ددوئ به کوي چې مخالف د امر د خدای ﷻ نه وي او تاسي به احسان کوي د قریبانو که هغه قریب وي او که بعیدوي بالتعاون والاتفاق علیهم وغیر ذالك .

ﭘﻮﻩ ﺷﻮﻩ:- چې "قربی" مصدر دی لکه "حسنی" او تاسي به احسان کوي د یتمانو یعني بې پلارو سره بالشفقة علیهم وعدم ایذائهم والانفاق علیهم وغیر ذالک .

ﭘﻮﻩ ﺷﻮﻩ:- چې یتیم عام دی که د سړي قریب وي او که بیګانه وي او تاسي احسان کوي د مسکنانو سره بقضا حوائجهم الی غیر ذالک ولو بحسن الجوار وعدم الایذاءلهم و عدم التکبر علیهم .

ﻓﻮﺷﻮﻩ:- خدای ﷻ د احسان د مور او پلار لوي تعظیم کړی دی ولي چې په ډیرو آیاتو کې خدای ﷻ حق د مور او پلار د خپل حق سره یو ځای روا‌ړی دی .

ﭘﻮ ﺷﻮﻩ:- علماء وایي چې درې آیتونه د درو آیتو سره جفت راغلي دي چې نه قبلېږي هر یو بېله قرینه خپل، یو قوله تعالی ﴿ اطیعو الله واطیعو الرسول ﴾ او بل ﴿ان اشکرولي والدیك﴾ او بل ﴿اقیمو الصلوة واتو الزکوة﴾ کذا في روح المعاني.

ﻓﻮﺷﻮﻩ :- احسان د مور او پلار دادی چې د شریعت سره برابر ژوند به ورسره کوي، او ودوئ ته به متواضع عاجزه وي او فرمان برداري ددوئ به کوي مالم یامرا بمعصیة والا فلا طاعت للمخلوق في معصیت الخالق، او دعا د مغفرت به مور او پلار ته کوي خصوصا بعد موتهما .

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

قال سعدي الشيرازي

سا لها بر تو بگزرد که گزر نکنی سوی تربت پدرت
تو بجای پدر چه کردي خير تاهم چشم داری ازپسرت

فائده:- د يتيم په باره کي په صحيح حديث کي را غلي دي «ماقعديتيم مع قوم علی قصعتهم فلا يضرب قصعتهم الشيطان» په يو حديث طويل کي را غلي دي «من ضم يتيماً من بين المسلمين الی طعامه وشرابه حتی يغنيه الله غفرت له ذنوبه الا ان يعمل عملا لا يغفر، يعني الكفر الی اخير الحديث، وفي الحديث الآخر انا وكافل اليتيم كهاتين في الجنة واشار بالسبابة والوسطی .

فائده:- په دې آيت کي بل احسان د مسکنانو بيان سو احسان يې هغه و چې ذکر سو آنفاً وفي الحديث النبوي الساعي علی الارملة والمساكين كالمجاهد في سبيل الله سعدي شيرازي

اگر نخواهی که باشی پراگنده دل پرا گنده گانر از خاطر مهل
پريشان کن امروز کنجينه چست که فردا کليد نه دارد دست تست

وقيل

آسايش دو گيتي تفسير اين دو حرف است
با دوستان تلطف با دشمنان مدارا.

وَقُولُوا لِلنَّاسِ حُسْنًا

فائده:- چې "قولوا" عطف دی پر "واحسنو" المقدر عطف الانشا علی الانشاء او يا په تقدير د قول عطف دی پر "واخذنا" يعني وقلنا لهم قولوا آه .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ژباړه:- چې لفظ د "حسناً" مصدر دی نو حمل یې پر قولاً مبالغةً دی نحو زیدٌ عدل.

څرګندونه:- مفسران ټوله وایي چې قول حسن هر هغه کلام محمود ته شامل دی چې د قول حسن د قسم څخه رشتیا ویل دي په شان کې د علیه السلام او بیان دده "نعوته في التورات من غیر کتمان ولاتبدیل" او ابن عباس ﷺ او سعد ابن جبیر وایي چې مراد له قول حسن څخه امر بالمعروف او نهي عن المنکر دی، او نوري ﷺ وایي چې د قول حسن لمن فراخه ده حتی چې قول لین په معاشرت اهل بیت او اغیارو ته هم شامل دی وکذا الشهادة بالحق.

وَأَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ وَاٰتُوا الزَّكَوٰةَ ثُمَّ تَوَلَّيْتُمْ إِلَّا قَلِيلًا مِّنكُمْ وَأَنتُم مُّعْرِضُونَ ﴿٨٣﴾

ژباړه:- چې په دې آیت کې التفات دی یعني نقل دکلام د غیبت څخه وخطاب ته او مخاطب هغه یهودیان دي چې په زمانه کې د نبي ﷺ وه، او دغه رنګه هغه یهود چې تر زماني د نبي علیه السلام د مخه وه، لکن پر طریقه د تغلیب د حاضرینو پر غائبینو باندي ولي چې غائب خو بالذات مخاطب نه سي کیدای نو ترجمه د آیت داسي ده چې تاسي قایم او ثابت ساتئ لمونځ کوئي او ورکوئ ذکاتونه د اموالو خپل نو بیا وروسته تاسي اعراض وکړي د وفا بالمیثاق څخه یعني عمل مو په هغه میثاق سره ونه کړی مګر لږ کسانو ستاسي یعني چې په د مخه زمانو کې وه یعني هغه ډله د هغه کسانو وه چې پر عمل د تورات محکم په زمانه کې د موسی ﷺ او یا په زمانه کې د محمد ﷺ په ایمان مشرف سول لکه عبد الله بن سلام او نور امثال دده، او تاسي اې یهودیانو داسي یو قوم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یاست چې اعراض د میثاق څخه ستاسي عادت دی قدیما في زمن موسی ﷺ و في زمن محمد ﷺ

فائده:- د صلوة او زکوة څخه په اسلافو کې د یهودو هغه صلوة او زکوة دی چې په تورات کې دوئ په امر سوي وه، او په حاضرینو کې د عصر نبوي ﷺ هغه صلوة او زکوة دي چې په دین محمدي کې پر مسلمانانو فرض وه چې دا دوه صلوة او زکات کماً اوکیفاً سره جلاجلا وه

نوټ:- چې روح البیان والا وایي چې جمله د "انتم معرضون" جمله تذیلیه ده، او جمله حالیه نه ده، ولي چې تولي او اعراض سره یوشی دي ولا بد في الجملة الحالية من التغاير بين معنى الحال وعامله

سوال- ښایي چې دا جمله به حال مؤکد وي، او په حال مؤکده کې خو تغاير نه غواړي ؟

ځواب:- حال مؤکده خو په واو سره نه راځي په نیز د جماهیرو نحاتو ومع هذا، راغب وایي چې د تولي او اعراض په منځ کې فرق ستنه، ولي چې تولي ګاهي په سبب د ضرورت وي مع ثبوت عقدة القلب کاجراء كلمة الكفر على اللسان مع ثبوت عقد القلب والاعراض هو الانصراف عن شئ بالقلب، وهذا تحقيق بديع خفاجي مع درويش غفرله

وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَكُمْ لَا
تَسْفِكُونَ دِمَاءَكُمْ وَلَا تُخْرِجُونَ أَنفُسَكُم
مِّن دِيَارِكُمْ ثُمَّ أَقْرَرْتُمْ وَأَنتُمْ تَشْهَدُونَ ﴿٨٤﴾

او در پیاد کې ایها الیهود هغه وخت چې مونږ واخسته محکمه وعده له تاسي څخه یعني په تورات کې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوهه شه:- چې د پاره د ربط د "لاتسفکون" په ماقبل پورې دا تورې غواړي "وقلنا لاتسفکون آه، چې تاسې به نه بیوې وینې خپل

پوهه شه:- چې د بیولو څخه د خپلو وینو خود کشي نه ده مراد بلکه مراد د یو او بل وینې تویول دي، مګر چونکه په منځ کې د یهودو اتصال نسباً او دیناً و نو د بل د وینې تویول یې دده د خپل ځان تویل وبیل. اوتاسې به نه باسي خپل ځانونه د خپلو وطنو څخه .

پوهه شه:- چې معنی ددې اخراج النفس پر طریقه د ماسبق داده چې تاسې به پر خپلو وړنو ظلم نه کوي حتی دوئ مجبور سي ترک الوطن ته .

ځ ځ:- د وینو د توپدو سره یې اخراج الدیار متصل راوړی ددې لپاره چې د وینو تویلو سره وطن پرېښول بالظلم والجبر ماتصل دی، او بیا تاسې اقرار وکړی په هغه عهد سره او تاسې پر ځانو شا هدان یاست چې مونږ دغسې میثاق د خدای ﷻ سره کړی دی .

ثُمَّ أَنتُمْ هَٰؤُلَاءِ تَقْتُلُونَ أَنفُسَكُمْ وَتُخْرِجُونَ فَرِيقًا مِّنكُم مِّن دِيَارِهِمْ

وروسته تر میثاق تاسې اې حاضرینو د زمانه د علیه السلام هغه کسان یاست چې تاسې وژنئ خپل ځانونه یعنې هم نسباً او هم دیناً کمامر عنقریب، او تاسې باسئ یوه ډله د خپلو وطنو څخه بالظلم علیهم .

پوهه شه:- چې کلمه د ثم لپاره د استبعاد د فعل راځي .

اعراب "انتم" مبتدا ده او "هولاء" یې خبر دی یعنې تاسې تر میثاق وروسته دغه ناقضین یاست کقولک لآخر انت ذالک الرجل الذي فعل کذا" یعنې تغایر دده صفت پر منزله د تغیر د ذات نازل کړی نو گویا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

"انتم او هولاء" الناقصون دوه شیه سوه، نو "انت" چې مبتدا وه خبر یه غوښتی پیدا سو، او جمله "تقتلون" یا حال ده او عامل یې معنی د اشاره ده کما قال النحات في قول امرئت هذا بعلي الشيخاً، یا دا جمله بیان ده د جملې "انتم هولاء" او احتمال لري چې "انتم" دي مبتداء وي او "هولاء" دې تاکید وي او خبر دې جمله د "تقتلون" وي، ویمکن چې "هولاء" دې په معنی د "الذین" وي او جمله د "تقتلون" الخ دي صله وي او ټوله دي خبر د "انتم" وي.

لغات:- جاء في قرائة تقتلون من باب التفعيل وهو للتكثير كما في الشافيه

تَظٰهَرُوْنَ عَلَيْهِمْ بِالْاِثْمِ وَالْعُدْوَانِ

او تاسي کو مک سره کوئ پر دغې ډلې چې تاسي باسي د وطنو څخه په ګناه او ظلم سره.

پیژندنه:- چې "تظاهر" تعاون ته وایي او جمله د "تظاهرون" حال ده د فاعل "تخرجون" څخه او یا د مفعول څخه او یا د دواړو څخه، ولې چې په جمله کې د "تظاهروا" ضمیر د فاعل او مفعول دواړو ستنه "وکل جملة كانت كذالك تحتمل للاحتمالات الثلثة المذكورة كما هو المقرر في النحو.

پیژندنه:- چې عاصم او حمزه او کسائي "تظاهرون" په تخفیف د "ظا" وایي، نو اصل یې "تتظاهرون" وو نو یې تا د باب د تفاعل حذف کړه، او نور قراء "تظاهرون" په تشدید د "ظا" وایي، نو اصل یې "تتظاهرون" وو یوه "تاء" یې په "ظا" کې مدغم کړه وفي قرائة شاذة تتظاهرون باظهار التائين

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِنْ يَأْتُوكُمْ أُسَارَىٰ تُفَادُوهُمْ وَهُوَ مُحَرَّمٌ عَلَيْكُمْ إِخْرَاجُهُمْ

او که راسي تاسي ته بندیان یعني ستاسي د قوم څخه تاسي په اتفاق د هغو فدیه مالي ورکوئ، او شان دادی چي حرام کړه سوی وو یعني د خدای ﷻ د خوا څخه اخراج ددوئ د خپلو وطنو څخه یعني فدیه د بندي په بندي سره او یا په نقود سره.

فائده:- په قرائة کي د حمزه "اسری" راغلی دی وکلاهما جمع د اسیر ده، الاعراب کلمه هو للشان مبتداء ده، او کلمه د "اخراجهم" مبتداء ثاني ده، او "محرم علیکم" یې خبر مقدم دی، او ټوله جمله خبر د ضمیر شان ده، روح البیان.

شان نزول:- احادیث نبویه ﷺ او تواریخ اسلامیه وایي چي خدای ﷻ جل سلطانه په تورات کي دا فرض کړې ده چي تاسي به یو بل نه وژني او نه یو بل فرار کوي د خپل وطن څخه په جبر او ظلم سره، او که تاسي یو مریي او یا یوه مینځه د اسرائیلو د چا سره پیدا کړه هغه په اجتماعي توګه رانسې او ازاد وئ به یې. او که چیري یو بندي د بني اسرائیلو د چا سره و هغه بندي ته فدیه ورکړي، او په مدینه منوره کي دوه قومه د عربو وه چي اوس او خزرج یې ورته ویل چي هغه مشرکان بت پرستان وه چي دوئ نه قیامت منې او نه جنت منې او نه دوزخ منې او نه حلال او حرام منې.

او په مدینه کي دوه قومه د یهودیانو وه چي بني قریضه او بني نضیر یې بلل، او د هغو دوو قومو د عربو له قدیمه څخه دښمني وه، تل

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

به خپل په منځ کې سره جنګېده، او په سوو او زرو مړي يې له دواړو طرفو څخه سره وکړه، نو بني قريضه د اوس د قبيلې کومکيان او حليفان سوه، او بني النضير د خزرج د قبيلې معاونان سوه، نو هر وخت چې به د اوس او د خزرج سره جنګ سو نو هره ډله د يهدو په د خپل حليف سره په صف کې د قتال ودربدل نو يوې ډلې د يهوديانو به د خپلو يهوديانو سره جنګ کاوه اووژل به يې په ننګ د خپل حليف، او چې هرې ډلې د يهوديانو به د خپل حليف په معاونت کې پر هغه بله ډله د يهوديانو غلبه وکړه کورونه به يې ورخرابول او د خپلو کورو څخه يې فراره کول، او هم به يې بنديان د خپل حليف په لاس ورکول، اوسره ددې چې د دواړو ډلو سره د يهوديانو تورات هم موجود و چې په هغه کې ورته کارونه حرام ګڼل سوي وه، نو چې جنګ به کرار سو او يو بندي د قريضه يا د نضير به ددوئ د حليف اوس يا خزرج په لاس کې وو، نو به يې داوړو ډلو د يهودو په اتفاق د هغه بندي فديه مالي ورکوله. او دا بندي به يې خلاصاوه، نو عربو ويهودو ته ويله د بنديانو د خلاصون لپاره ولې چنده جمع کوئ ؟ دوئ به ورته ويل چې موږ په تورات کې په فديه د اسراوو امر سوي يو او پر موږ باندې په تورات کې يو د بله سره جنګ هم حرام ليکل سوی دی، نو عربو به ورته وويل چې جنګ هم په تورات کې حرام دی نو بيا ولې ورسره جنګېږي؟ دوئ به ورته وويل چې جنګ موږ له دې سببه ورسره کوو چې موږ شرمېږو چې زموږ حلفاء ذليل سي نو خداى ﷻ ددوئ ذم په دې آيت کې ووايه .

أَفَتُؤْمِنُونَ بِبَعْضِ الْكِتٰبِ وَتَكْفُرُونَ بِبَعْضٍ

آيا تاسي ايمان پر بعض احکامو د تورات لرئ چې فديه ده او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تاسي کفر کوئ په بعض احکامو د هغه کتاب تورات چې حرمت د قتال او جنګ دی او حرمت د اخراج دی، او سره ددې چې د کتب الهید وو ټولو دا حکم دی چې کفر بالبعض یې کفر بالکل دی، او دا ټوله احکام په یوه میثاق کې له تاسي څخه په تورات کې اخستل سوي وه،

العجب:- دوئ د خپلو خبرو په دوران کې وویل چې مونږ شرمېږو چې زمونږ حلفاء ذلیل سي آیا د خدای ﷻ څخه نو شرم په کار نه دی د مخلوقه څخه شرم پکار دی ؟ افسوس ددوئ پر عقولو فاسده و باندې **والتقدیر تفعلون ذالک فتؤمنون وانمالم یعطف علی ماقبل ذالک من** الجمل لان بذالک یفوت صدارت همزة الاستفهام، خدای ﷻ ددې فعل د یهودیانو جزاء داسي بیان کړې ده .

فَمَا جَزَآءُ مَنْ يَّفْعَلُ ذٰلِكَ مِنْكُمْ اِلَّا خِزْيٌ فِي الْحَيٰوةِ الدُّنْيَا وَيَوْمَ الْقِيٰمَةِ يُرَدُّوْنَ اِلٰٓى اَشَدِّ الْعَذَابِ ؕ

نو نه ده جزاء د هغه چا چې دغسي فعل وکړي د تاسي څخه یعنې کفر بالبعض سره د ایمان بالبعض سره مګر د ذلت او رسوایي او سپکاوی په دې دنیا کې .

پوهه شه:- چې دا استثناء مفرغه ده یعنې مستثنی منه یې محذوف دی والتقدیر لیس جزاء من یفعل ذالك شیئ من الاشیاء الا خزي" او دا جمله استثنائیه واقع په ځای کې د خبر د کلمې د "ما" ده .

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

فائده:- دا جزاء خدای ﷻ د یهودو دواړو ډلو ته ورکړه د مسلمانانو پر لاس چې بنې قریضه ټوله یې چې بالغ وه نر یې په قتل سره ورسول سوه، بنځې او کوچنیان یې په اسر او بنده کې منځیانې او مریان سول او بنې النضیر یې ازرعات او اریحاء ته فرار کړه سوه چې تفصیل به یې پخپل ځای کې راسي ان شاء الله تعالی، او په ورځ د قیامت به دوئ ورد کړه سي وسخت عذاب ته یعنې د جهنم چې د دنیا تر عذاب سخت تر دی، ولې چې یو اور دی او بل دائم دی ابد الاباد.

پوه شئ:- چې رب العزت جلت قدرته وعظمته وحکمته لپاره د زجر عظیم او تهدید شدید د اهل کفر او اهل العصیان بترک الاوامر وارتکاب المنهیات او دغه لپاره د بشارت اهل ایمان او اهل الطاعت وایي

وَمَا اللّٰهُ بِغَافِلٍ عَمَّا تَعْمَلُوْنَ ۝

او نه دی خدای ﷻ غافله او ناخبره د هغو عملو څخه چې تاسي یهود یې کوئ خصوصاً ماسبق من المنکرات والقبائح.

فائده:- آیت مبارك که څه هم په شان کې د یهودیانو د بدو عملو په باره کې نازل دی لکن حکم یې عام دی ولذا قلنا فیها تهدید عظیم وبشارة جلیلة.

ترویښ وایي:- چې بنده کان د خدای ﷻ پر څو قسمه دي.

(۱) کافران علی تعدد انواعهم، کالدهریة، والیهود، والنصاری، والمشرکین.

(۲) اهل بدعة دي، کالمعتزلة، والروافض، والکرامیة، والجهمیة وغیرهم من الفرق الزائغة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(۳) اهل السنة والجماعة کثرهم الله تعالی .

(۴) چه په اهل سنتو کي عاصیان دي، یا اوامر الهیه نه پر ځای کوي او یا په منهیاتو منهمك وي .

(۵) ابرار دي چي اوامر الهیه پر ځای کوي او د منهیاتو څخه پرهیز هم کوي لکن عشق الهي نه لري چي سبب د سلوك د دوئ دوه ګرځي .

(۶) اهل عشق الهي دي چي په سلوك کي کوشان وي .

(۷) مجذوب سالك دی چي جذبه یې تر سلوك د مخه وي، لکن دا دله د خطره سره ګاهي مخامخ سي او ادنا الحق ندا څندي وسي .

(۸) سالك دی چي سلوك یې رفته رفته و مقام ته د جذبې وړ سوي و هذا الطریق اسلم الطریق .

(۹) العارفین الکاملین العشاق الواصلین چي د هغو په باره کي خواجه عبدالله انصاري الهروي رحمه الله وایي چي .

حبذا قومي که داده اند ترك دنیا گفته اند وا زهمه ازاده اند
روزها باروزها درگوشها بنشته اند با ز شبها در قیام بنده گي استاد اند
نفس خود در قهر کرده روح کرده برفتوح زاد تقوای بر گرفته بهر مرگ آمده اند
طرفة العینی غافل نه بوداز حضرت ولي سیلها بااین همه ازدیدها بکشاده اند
یکزمان از توچه همچون نوح فرغ نیستند هم چو یحیی گوا از بهر زار مي زاده اند
زاب تاب تب الی الله غسل کردند آن کسان روي خود برخاك پای اسجدوا بنهاده اند
ربنا گویند ازان لبیك عبدي بشنوند جمله سرمست الست ازجرعة این باده اند
راحتي دیدند وذوق یافتند از انس جان روز شب در کنج خلوت برسر سجاده اند
پا بدنیا امدند از کلبه کتم عدم سوي حضرت جزنیاز ونا له نفر ستاده اند
پیر انصاري تو میداني که ایشان کیستند فرقه بي کرد از مره دلي ساده اند

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د ژوبڼې ځانګړي وايي: چې دا مضامين عاليه د متفرقو کتابو څخه د صوفيه و رح خلاصه ده، لکه مثنوي د مولانا جلال الدين الرومي رحمه الله او مکتوبات د امام رباني مجدد الف ثاني شيخ احمد سرهندي رحمه الله او مناجات او مقالات د حضرت خواجه عبد الله انصاري رحمه الله، په اخر کې وايم

احب الصالحين ولست منهم لعل الله يرزقني صلاحاً
نه پيرى يم نه فقير يم د ګناهو په بار کې ګير يم

لهم ارزقني حبک وحب حبيبک وحب من يحبک وحب عمل يقربني الي حبک.

أُولَٰئِكَ الَّذِينَ اشْتَرَوُا الْحَيَاةَ الدُّنْيَا بِالْآخِرَةِ فَلَا يُخَفَّفُ عَنْهُمُ الْعَذَابُ وَلَا هُمْ يُنْصَرُونَ ﴿٨٦﴾

او دغه کسان د يهودو چې تاسي يې حالات واوريده، او اوصاف قبيح د دوئ ملاحظه شده سوله هغه کسان دي چې بدل يې کړى يعني وايې خستى، وقد عرفت ان الاشتراء في مثل هذا المقام مجاز عن الاستبدال، ژوند د دنيا يعني شهوات د دنيا په اخرت سره يعني نعيم د اخرت يې د لاس ورکړه لکه مشتري چې ثمن ورکوي، وذالک لان هؤلاء اليهود من بني النضر وبني قريضه انما کفروا ببعض الکتاب من النهي عن القتل والاجلاء انما کان المراعات حلفائهم من الاوس والخزرج لمايعود اليهم من جانب الحلفا من المنافع الدنيويه الفانيه وترکوا مراعات حکم کتابهم تورات، نو نه سپکول کبرې د دوئ څخه عذاب اي لا في الدنيا ولا في الآخرة اونه د دوئ کومک کول کبرې په شفاعت سره لانه لا شفاعة لکافر او نه په زور سره.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ژوند پښې وايي:- چې دنيا او اخرت داسې دي لکه دوې ښې نو رضا د دوو ماينو په کامله رضا هيڅ امکان نه لري کما ورد مضمون ما قلنا في الحديث الصحيح النبوي، نو عاقل سړي لره پکار دي چې سالخورده سپين سرې ماينه دي طلاقه کړي، او خوانه ماينه و ځان ته پرېږدي تاچې ژوند د ده پر کراره سي او د هري ورځي له جنجال او غمه به خلاص سي

فائده:- د اسلام معزز دين د افراط او تفريط په مابين کې دی افراط يې دادی چې حلالات شيان وځان ته لکه حرام داسې کې لکه په حديث شريف کښې راغلې چې آنحضرت ﷺ يوه ورځ موعظت بلغية ايراد کړی چې وجلت منها القلوب و ذرفت عنها الاعين، نو بعض صحابه کرامو ﷺ وويل چې زه به آينده زاړه کالي د کراستي اغوندم، او لکه ليونی په صحرا کې به ګرځم او خونو ته نه ورځم او د هيڅ شي غوښې به نه خورم او د ماينې سره به مباشرت او صحبت نه کوم، فقال له عليه السلام اني اصلي و انام واصوم وافطر، و اغشى النساء وآوي الى البيوت و آكل اللحم فمن رغب عن سنتي فليس مني، فرجع الصحابة ﷺ عما عزم .

او تفريط يې دا دی چې فرائض او واجبات او سنن د دين نه پرځای کوي او د حرامو او د مکروه افعالو څخه پرهېز نه کوي لکن اصل مدار ذالک التوسط بين الافتراط والتفريط على العشق في الطريق الحق .

وفي المثنوي

اصل صد يوسف جمال ذو الجلال — اې کم از زني مېشود فداې آن جمال

د زن څخه مراد زليخا ده .

اصل بيند ديده چون اکمل بود — فرع بيند چونکه مراد احوال بود

مراد د اصل څخه جمال الهي دی، مراد له فرعي څخه جمال المخلوق دی لکه زليخا چې پر جمال د يوسف ﷺ مينه شيدا وه. قا الله تعالى -

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَقَدْ اٰتَيْنَا مُوْسَى الْكِتٰبَ وَقَفَّيْنَا مِنْۢ بَعْدِهٖ بِالرُّسُلِ

پوهه شئ:- چي "لام" موطئه د قسم دی اي با الله چي مونږ ورکړی وو موسی علیه السلام ته کتاب چي تورات دی یعني جملةً واحدةً في زمان واحد، او مونږ په وروسته کي د موسی راستولي وه نور رسولان، یعني چي د موسی علیه السلام د کتاب او دین متابعت یې کاوه چي نامورې یې دغه رسولان وه.

(۱)یوشع (۲) شمویل (۳) داوٗد(۴) سلیمان (۵) شمعون (٦) شعیا (۷) ارمیا (۸) عزیر (۹) حزقیل (۱۱) الیاس (۱۲) الیسع (۱۳) یونس (۱۴) زکریا (۱۵)یحیی وغیر هم علیهم الصلواة والسلام کذا في روح البیان

پوهه شئ:- چي د قضاء په معنی کي وروسته والی ماخوذ وو نو څکه مفسران رح وایي چي "من بعد" تاکید د "قضاء" دی خفاجي رحمه الله په حاشیه کي د بیضاوي وایي چي بعض علماء وایي چي څلور زره (۴۰۰۰) کسه رسولان وه او بعض مفسران وایي اویا زره (۷۰۰۰۰) رسولان وه کانو کلهم علی دین موسی، نو په عیسی علیه السلام سره دده کتاب تورات او شریعت منسوخ سو.

نږدیښي وایي:- چي په دې آیت کي یو اشکال خو دادی چي خدای ﷻ په دې آیت کي "رسل" ذکر کړی او رسول هغه نبي بولي چي صاحب د کتاب وي او یا صاحب د شریعت متجدد وي، او روح البیان چي د کومو انبیاؤ نومان اخستي دي دغه ټولو لره خو نه کتاب وو او نه شریعت متجد و بلکه روح البیان د وینا سره سم کتاب د دغو انبیاء کرامو تورات و او شریعت یې د موسی و نو څرنګه په دوئ ټوله رسولان وبلل سي. او بل دا اشکال دی چي روح البیان په دې ډله کي چي کتاب یې تورات و

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

داود هم را ورې و، اوسره ددې په بل ځای کې د قرآن کریم راغلي دي ﴿واتینا داود زبورا﴾ نو دی ﷺ خو صاحب کتاب و.

والجواب عن الاول:- چې مراد د رسول الله ﷺ څخه مذکوره معنی نه ده بلکه په معنی د نبي مطلق دی.

والجواب عن الثاني:- چې مراد د صاحب د روح البیان چې ناموړي انبیاء صاحب کتاب نه وه کتاب ناسخ د تورات دی او زبور داود خو ناسخ د تورات نه وو بلکه مشتمل پر نصائحو او مواعظو او امثالو و

وروښ وایي:- چې تحقیق ددې مقام دا دی چې په نبي او رسول کې اختلاف دی بعض علماء وایي چې رسول تر نبي عام دی ولې جبرئیل ﷺ رسول دی له طرفه د خدای ﷻ او نبي نه دی، و فیه، چې زمونږ خبره په رسول کې په معنی اصطلاحي وه جبرئیل ﷺ خو رسول په معنی لغوي دی فا فهم الفرق. او بعض علماء وایي چې رسول او نبي په یوه معنی دی وفیه، چې دا یو والی د معنی د نبي او رسول منافي د راتلونکي حدیث سره دی، او بعض علماء وایي چې نبي عام دی او رسول هغه نبي ته ویل کېږي چې کتاب متجدد لري. د دې مذهب تائید هغه حدیث نبوي کوي چې د علیه السلام څخه چا پوښتنه وکړه چې "کم الانبیاء" انبیاء څو دي؟ نبي ﷺ ورته وویل یو لک څلورویشت زره (۱۲۴۰۰۰) دي هغه سړي بیا پوښتنه خندي وکړه چې "کم الرسل" رسولان څو دي؟ نو علیه السلام ورته وویل چې درې سوه او دیارلس (۳۱۳) جماً غفیراً. لکن پر مذهب مذکور چې په رسول کې کتاب متجدد شرط بولي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال وارد ہږي چي کتابونه خو يو سل او څلور دي او رسولان درې سوه دیارس (۳۱۳) دي نو څرنګه پر رسېږي ؟

ځواب:- مولوي خیالي رحمه الله وایي چي ممکنه ده چي بعض دغه کتابونه به مکرر نازل سوي وي کما صح تکرار نزول فا تحة الکتاب مرة بمکة ومرة بالمدینة.

ډوبښې وایي:- چي ددې خبرې صحت د احادیث مبارکه و څخه نه معلومېږي "اعني تکرار نزول الکتب الهیه" او بعض علماء وایي چي کتاب متجدد شرط نه دی بلکه شریعت متجدد شرط دی و لو بالوحي الغیر المتلو.

ډوبښې وایي:- چي دا جواب معقول دی په هر صورت نسخ د کتاب سابق په رسول شرط نه دی لهذا محدثین ټوله وایي چي تورات په انجیل د عیسی علیه السلام نسخ سو علی هذا اتفق المفسرون رح ایضاً.

پوښتنه:- تجدید د شریعت د دمخه نبي څه معنی لري آیا دا نسخه نه ده ؟

ځواب:- معنی د تجدید الشریعة متقدمة داده چي یا هغه کتاب مجمل و او یا پر بعض اذهانو مشکل و. توضیح او تفصیل د مجدد له خوا وکړه سي، او دا هرګز نسخه نه ده ولي چي امام احمد السرهندي قدس سره السامي په لقب د مجدد الف ثاني د دین محمدي ﷺ هر څوک بولي او سره ددې مجدد رحمه الله خو هیڅ څوک ناسخ د دین محمدي نه بولي

ډوبښې وایي:- چي دا تحقیق المقام دي باید طالبان د تفسیر القرآن یعني داسي طالبان چي د قرآن پر ترجمه لفظي فقط اکتفاء نه کوي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په نظر کي او ذهن کي وساتي لعلهم لا يجدونه في التفاسير المطوله و من الله توفيق .

وَاٰتَيْنَا عِيْسَى ابْنَ مَرْيَمَ الْبَيِّنٰتِ وَاَيَّدْنٰهُ بِرُوْحِ الْقُدُسِ ؕ

او مورِ ورکړ عیسیٰ ﷺ ته چې زوي د مریمې وُ معجزات واضحات او مورِ دی قوي کړی وُ په پاک روح سره

ژباړه:- عیسی ﷺ په سرياني ژبه په معني د يسوع دي او د يسوع معنا مبارکه ده .

سوال:- په نحو کي وايي چې لفظ د ابن چې په ما بين کي د علمينو راسي الف يې په رسم خط کي نه ليکل کيږي مثلا زيد بن عمر، او په دې ځای کي لفظ د ابن په منځ د عيسی او مريم چې دواړه علم دي اوالف په رسم خط قراني کي د ابن سره نوشته دی .

ځواب:- اضافت و مور ته چونکه نادر وو نو يه ځکه لفظ د ابن په الف نوشته کړې .

ژباړه:- واضح معجزې د عيسی ﷺ مړي په دعا د ده ژوندي کيدل وه مور زاده پوندد ده په دعا بينا کي دی او پس په دعا د ده جوړېدی او خلکو ته بې د دوئ د کور يعني غائب شيان وربنول اوپه خپله انجيل هم معجزه د ده وه، الی غير ذالك .

پوهه شه:- چې عادت الهي په دې سره جاري دی چې هر کار او صنعت چې په يوه ز مانه کي وبر اونهايت ترقي ته رسېدلی وي نو نبي تر

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

هغې ز مانې خداي ﷻ د هغه صنعت قسم معجزه ورکوي، او خلک يې په هغه مترقي صنعت کې د نبي له خوا مغلوبه کړځوي. مثلاً په زمانه د موسی علیه السلام د سحر او جادو لويه چرچه وه يعني چې ساحر به په سحر سره يو شی د خپل حقيقت پېګانه په سترګو کې ددوئ ورته معلومه وله. نو د موسی علیه السلام معجزه په صورت د سحر د کار خداي ﷻ ورکړه يعني لکړه د ده به مارګر ځپدله حتی چې د لکړې په معجزه سره اويا زره ساحران د فرعون مغلوبه سوه او ټولو ايمان راوړی کماسيناتي تفصيله في موضوعه انشاء الله تعالى.

او د عيسی علیه السلام په زمانه کې طبابت نهايت مترقي وو نو خداي ﷻ د ته معجزه د طبابت د قسم ورکړه يعني (ابراء والاکمه والابرص واحياء الموتى) او ټوله حکما ورته مغلوبه سوله. لهذا جالينوس ته چې د هغې زمانې غټ حکيم اوطبيب وو چاويله چې د عيسي علیه السلام په دعا سره مړي ژوندي کېږي، اکمه او ابرص جوړېږي نو جالينوس ورته وويل که دا کارنه کولای سي نو رشتيا نبي دی ولې چې دا کارونه د دائره څخه د طبابت خارج دي. او د عليه الصلواة والسلام په زمانه کې فخر د عربوبو پربل باندې په فصاحت اوبلاغت سره د هر رواج وو. کمايشهد به حال المعلقات السبع في وقت الجاهلية. نو عليه الصلواة السلام ته علاوه تر نورو معجزو کتاب کريم قرآن مبارک معجزه ورکړه چې کر الازمان والدهور باقي ده. او خداي ﷻ وه بليغانو ته قحطان او عدنان بلکه ټولو عربو ته دا اعلان ﴿ان کنتم في ريب مما نزلنا على عبدنا فاتو بسورة من مثله﴾ اودا اعلان يې په قرآن مبارک په تکرار سره په مختلفو عباراتو سره کړی دی. فلم يجدبه قديراً حتى اضطروا الى المقارعة بالسيوف التي هي اعسر من المقا بلة بالالسنة ان استطاعوا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده:- اضافت په روح القدس اضافت موصوف وه صفت ته د اې روح المقدسة يعني پاك روح او مراد د روح مقدسة روح دی د عیسی علیه السلام، ويحتمل ان القدس بمعنى طهارة ثم جعل بمعنى الطاهر وهو ذاته تعالى، نو اضافت د روح چې خداي ﷻ ځان ته کړی دی تکریم د روح د عیسی نحو بيت الله و ناقة الله وقد قال الله تعالى في موضع ونفخنا فيه من روحنا، او یا مراد د روح القدس څخه جبرئیل علیه السلام دی و د ته روح په دې سبب وایي چې دی راتګ په وحي سره کوي و انبياء عليهم السلاموته چې په وحي سره حيوة القلوب دی او قدس یې په دې سبب بولي چې ګناه هغه هیڅ وخت نه ده کړې.

فائده:- معنی د تائید د عیسی علیه السلام په جبرئیل له دې سببه ده چې جبرئیل ملګری و دوخت څخه د ولادت تر لوي والي او تر وخته پورې د نبوت د عیسی علیه السلام، نو شیطان و دته نه سوای نژدې کېدای، او بیا ترهغه وخت ورسره و تر څو چې یهودو د عیسی علیه السلام د قتل اراده و کړه او جبرئیل دی علیه السلام و اسمانو ته پورته کړی، او بعض مفسران وایي چې مراد د روح القدس څخه اسم اعظم دی په هغه مړي ژوندي کول او خرق العادت کا رونه بې په کوله او تفسیر د اضافت د روح وه خداي ﷻ ته او وصف بالطهارة ظاهر دی.

فائده:- د مریم معنی خادم ده چونکه ددې مور دا نذر کړې وه لپاره د بيت المقدس د خدمت نو په دې مناسبت یې مریم نوم پر کښېښود.

فائده:- ابن کثیر په ټوله قرآن کي لفظ د قدس په اسکان ده دال وایي ولايتغير به المعنى، وفي الحديث المتفق عليه عن ابي هريره رضي الله عنه قال قال

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رسول الله ﷺ مامن بني آدم مولود الايمسه الشيطان حين يولد فيستهل صارفاً من مس الشيطان غير مريم وابنها.

فائده:- په منځ کي د موسی علیه السلام او د عیسی علیه السلام بعض مفسران رح اواهل تاریخ وایي چي څلور زره نبیان وه او بعض وایي اویازره انبیاء وه والله اعلم

أَفَكُلَّمَا جَاءَكُمْ رَسُولٌ بِمَا لَا تَهْوَىٰ أَنفُسُكُمُ اسْتَكْبَرْتُمْ فَفَرِيقًا كَذَّبْتُمْ وَفَرِيقًا تَقْتُلُونَ ﴿٨٧﴾

پوه شئه:- چي مخاطب په دې آیت یهود معاصر د نبي ﷺ دي لکن قتل د انبیاؤ لکه زکریا، یحیی علیه السلام د دوئ د اسلافو څخه صادر و، که څه هم استکبار وصف مشترك ددوئ او د اسلافو و(لان اليهود المعصرين رضوا بفعل اسلافهم وبرونهم في هذا القتل على الحق) ترجمه: آیا هر وخت چي راتګ وکړي رسول په داسي امور سره چي خوښ یې نه بولي ستاسي نفسونه یعني ستاسي له خواهشاتو زائغه و سره برابر نه وي نو تاسي کبرکوي د هغو احکامو د قبولولو او ایمان راوړلو څخه نو د یوې ډلې تکذیب کوئ لکه عیسی ومحمد علیهما السلام او یوه ډله د نبیانو وژنې لکه زکریا او یحیی علیهما السلام.

فائده:- دا قتل که څه هم په ماضي کي ددوئ د اسلافو څخه صادر سوی و لکن تعبیر یې په مضارع یعني "تقتلون" سره وکړی لپاره د احضار ددغه حالت عجیبه و مخاطبینو ته او دا طرز تعبیر په قرآن مبارك کي د هر څایونه را غلی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده:- همزه د استفهام لپاره د انکار دی یعني داسي باید تاسي نه وای کړي ویحتمل ان یکون لتعجیب الحاضرین من فعلهم القبیح یعني الاستکبار والقتل.

فائده:- چي اسلاف د یهودو سره د تکذیبه د عیسی علیه السلام په صدد او قصد کي د وژلو دده هم وه لکن په قتل کي بریالي نه سوه چي جبرائیل په امر د خداي ﷻ و اسمانو ته خندي پورته کړی وقصة مذکور في البخاري وغیره وسیئاتي في موضعها انشاء الله تعالی، او دغه یهود معاصرین د نبي علیه السلام سره د تکذیب د نبوت دده قصد د قتل دده یې هم درلودی، حتی چي په خیبر کي د پسه په غوښه کي زهر وراچولي وه او دغه رنګه په مدینه منوره کي یې په علیه الصلواة والسلام باندي سحر کړی و، او دواړي واقعي په بخاري وغیره کي مذکوره دي، او اهل علم په تفصیل خبر دي وسیئاتي تفصیلها في موضع مناسب انشاء الله تعالی.

وَقَالُوا قُلُوبُنَا غُلْفٌ ۚ بَل لَّعَنَهُمُ اللَّهُ بِكُفْرِهِمْ فَقَلِيلًا مَّا يُؤْمِنُونَ ﴿٨٨﴾

او یهود معاصیرین وایي چي زمونږ زړونه په خلقي پوښو کي دي، نو زمونږ زړونه ستا په خبرو ای محمد ﷺ نه پوهیږي. وهذا التفسیر موافق ماجاء في موضع اخر ﴿قلوبنا في اکنة﴾ قاله مجاهد وقتادة رضي الله عنهما نو پر دې تقدیر غلف جمع د اغلف ده چي اصطلاحاً ناسنته کړي سړي ته وایي، نو خدای ﷻ ددوئ وه زړو ته استعارةً غلف وویل او ابن عباس رضي الله عنه لفظ بضم الغین واللام وایي، او جمع د غلاف یې بولي یعني زمونږ زړونه دِ ک د

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

علومو څخه دي، نو ستا وښوونو ته موږضرورت نه لرو نو زموږ په تبليغ کي ته سعي بې فائده مه کوه كذا قال ابن عباس وعطار رح، او کلبي يې داسي ترجمه کوي چې يهود وايې چې زموږ زړونه له علم صحيح ډك دي او هر علم چې صحيح وي، زموږ زړونه يې قبلوي اي محمد ﷺ خبري خاى نه پکښي لري نو دا معلومه سول چې ستا خبري صحيح نه دي والا لم تابى قلوبنا عن قلوبها نو پر دواړو تفسيرو خداى ﷻ پر دوئ رد و کړى چې نه زړونه ددوئ په خلقي پردوکى دى.

لقوله عليه الصلواة والسلام ما من مولود الايولد على الفطرة اي قبول الدين الحق، فابواه يهودانه وينصرانه ويمجسانه اي يعلمون المولودين المستعدين لقبول دين الاسلام اليهودية فيصير يهودياً .

او يا تعليم د نصرانيت، ورته کوي نو نصارا راسي او يا تعليم د مجوسيت ورته وکړي نو مجوسي سي، او هغه خدا داده اصلي فطرت يې دوئ ور بدل کړي، اودغه رنګه زړونه ددوئ ظروف د علم صحيح نه دي كما زعموا بلكه ظروف د باطل او كفر دي و لهذا قال الله تعالى رداً لدعواهم على التفسير المذكور بل لعنهم الله، بلكه خداى ﷻ دوئ لېرې کړه له هر خيره څخه په سبب د كفر ددوئ يعني چې دوى استحباب د كفر وکړى او پر كفر يې دوام مختاره کړى نو خداى ﷻ هم دوئ د خپل رحمت عا مه څخه وشړل نوځكه لږو ددوئ څخه ايمان پر عليه السلام راوړى يعنې ايمان نه راوړونكي مشركين ددوئ ډېر دي، او ددوئ نسبت و هغو ته اقل قليل دى پر دې تفسير لفظ د قليلاً منصوب دى على الحاجة او كلمه د "ما" زائد لپاره د مبالغې، والمعنى "فيومنون" حال كو نهم قليلاً من مومنى المشركين، او بعض مفسران وايي چې قليلا منصوب دي او مفعول مطلق دي په حذف د موصوف اي ايمانا قليلا يومنون.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوهه شه:- چي واقدي رحمه الله يې تفسير داسي کړی اي لايو منون قليلاً ولاکثيراً فالقلة مجازاً عن العدم آه. لکن دا تفسير له واقعي حال څخه مخالف دی، ولي چي عبدالله بن سلام رضي الله عنه په اول قدوم د عليه السلام مديني منورې ته ايمان راوړی. کما فی الحديث البخاری مفصلاً. او نورو دېرو يهوديانو هم پر عليه السلام ايمان راوړی دی کما سيئاتي.

ژوبڼې وايي:- چي دا تفسير مناسب نه دی ولي چي عبدالله بن سلام رضي الله عنه او اضراب دده من اليهود اسلموا بمحمد عليه الصلوة والسلام و کذا نصاری د نجران ان کما الصحيح المتفق عليه، قال عز من قائل

وَلَمَّا جَآءَهُمْ كِتٰبٌ مِّنْ عِنْدِ
اللّٰهِ مُصَدِّقٌ لِّمَا مَعَهُمْ وَكَانُوْا مِنْ قَبْلُ
يَسْتَفْتِحُوْنَ عَلَى الَّذِيْنَ كَفَرُوْا ۚ فَلَمَّا
جَآءَهُمْ مَّا عَرَفُوْا كَفَرُوْا بِهٖ ۚ فَلَعْنَةُ اللّٰهِ عَلَى الْكٰفِرِيْنَ ﴿٨٩﴾

او هر وخت چي راغلی و دوئ ته کتاب يعني قرآن الکريم چي هغه تصديق کوونکی د هغه کتاب دی چي ددوئ سره و يعني تورات، يعني يا په اصولو کي د دين قرآن کريم د تورات سره برابر و، او يا په دې معنی چي قرآن کريم پر داسي چا يعني محمد صلى الله عليه وسلم نازل سوی چي د هغه نعوت او حليه د تواراتو سره برابر وه.

پوهه شه:- چي جواب د "لما" محذوف دی چي جواب د "لما" ثاني دلالت پر کوي يعني "الذين کفروا" او حال د يهودو چي معاصرين وه دا و

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې دوئ به د مبعث د رسول الله ﷺ د مخه طلب د فتح او نصرت کاوه پر هغو کسانو چې کافران وه یعنې د عربو مشرکان، او دوئ به داسې خواست کاوه په جنګ کې د مشرکانو "اللهم انصرنا علیهم بالنبي المبعوث في آخر الزمان الذي نجد صفته في التورات" او خدای ﷻ به هم دوئ ته پر مشرکانو مدد ورکاوه، او دوئ به خپلو د بنمنانو مشرکانو ته ویل چې نژدې ده زمانه د نبي آخر زمان چې هغه صاحب السیف دی، او مورِ د هغه نبي په فوج کې ستاسي جنګ کوو او لکه عادیان او ثمودیان داسې به مو وژنو، او بعض مفسران وایي چې کلمه د سین لپاره د طلب نه ده بلکه لپاره د مبالغې ده، او مراد دادی چې یهودو به وه عربو ته ویل چې یو نبي ستاسي له قومه څخه عنقریب راتلونکی دی چې د هغه صفت په تورات کې داسې او داسې دی، نو خدای ﷻ وایي چې څه وخت چې راغلی ودوئ ته هغه نبي مبعوث في التورات یعني محمد ﷺ او دوئ هم وه پېژندی چې دا هغه نبي موعود او مبعوث في التورات دی، نو دوئ کفر اختیار کړی په هغه نبي سره خوفاً علی الریاسة والمال الماخوذ من سلفهم یعني د غریبانو څخه.

ښوونه:- چې اول دا کفر او انکار ملایانو د یهودیانو مختاره کړی نو لعنت د خدای ﷻ دي وي پر کافرانو.

سوال:- څه حکمت دي چې خدای ﷻ و نه ویل فلعنة الله علیهم.

ځواب:- چې په راوړو کې د لفظ ،الکافرون، اشاره وه سبب ته د لعنت پر دوئ ده، یعني سبب د لعنت کفر د دوئ دی، او بل جواب دادی چې مراد له کافرینو څخه فقط دوئ نه دي یعني لام لپاره د عهد نه دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې د "علیهم" ویل صحیح سي بلکه الف او لام لپاره د جنس دی. یعنې لعنت الله علی جنس الکافرین" او دوئ هم په کښې داخل سوه.

پوښتنه:- چې د قبل لفظ مبني برضمه دی، عوضاً عن المضاف الیه المحذوف والتقدیر قبل مجيء محمد ﷺ وهکذا في مواضع آخر من القرآن الکریم.

پوښتنه:- چې لعنت پر کافر ویل عبارت دی د لهرې والي څخه د کافر د رحمت عامه څخه د خدای ﷻ او کرامت او د جنت څخه علی الاطلاق، او په حق کی مومن ګناه کار لهرې والی د رحمت خاصه څخه د خدای ﷻ چې پر هغه چایې کاوه چې دا ګناه نه وای پکښې.

پوښتنه:- پر یوه معین مسلمان که څه هم ګناه کار وي لعنت نه دی راوا، او پر غیر معین ګناه کار که څه هم مسلمان وي لعنت راوا دی، کما ورد في الحدیث النبوی ﷺ "من احتکر فهو ملعون" یعنې که چا ذخیره کړی هغه شی چې د رانیولی و یعنې له غذائي شیانو څخه لپاره د هغه وخت چې د ګرانی په وخت کي ئې خرڅ کړي نو هغه سړی مطرود دی له درجې څخه د ابرارو الامن رحمة الغفار، په روح البیان کي وایي چې اسباب د لعنت دري (۳) دي.

(۱) الکفر (۲) والبدعة (۳) والفسق، او په هر یوه کي دري مرتبې دي،

(۱) الاولی اللعن باالوصف الاعم کقولک لعنة الله علی الکافرین وهو جائز او یا لعنة الله علی المبتدعة او یا لعنة الله علی الفسقة وهو جائز.

(۲) الثاني الوصف باالفظ الاخص من الاول کقوله ﴿ لعنة الله علی الیهود والنصاری او لعنة الله علی القدریة والخوارج والروافض والجبریة، او لعنة الله علی الزناة والظلمة واکلة الربوا الی غیر ذالک وذالک کله جائز اتفاقاً.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(۳) والثالث: اللعن على الشخص المعين فان كان يثبت كفره و موته على الكفر شرعاً ان لم يكن فيه اذى على المسلم كقولك لعنة على فرعون وابى جهل مثلاً لانه ثبت نصاً ان هؤلاء ماتوا على الكفر و ما كان فيه اذى المسلم كقول القائل عند حضور عكرمه ﷺ ابن ابى جهل لعنة الله على ابو جهل لانه يتاذى به عكرمه فلايجوز.

او که يې کفر او موت پر کفر شرعاً نه و معلوم، كقول القائل لعنت الله على زيد مثلاً وان كان عاصياً بالكبائر ففيه خطر عظيم لان الخاتمة مستورة وربمايسلم الكافر او يتوب العاصي فيموت مقربا الى الله فكيف يحكم بكونه ملعوناً. ولي په حديث کي راغلي دي چي وحشي چي اکا د نبي ﷺ چي حمزه ﷺ يې نوم و په غزوه احد کي په شهادت ورساوه او هغه وحشي په فتح کي د مکې مکرمې اسلام راوړی په حضور کي د عليه الصلواة والسلام يې اسلام قبول کړی، او د خدای ﷻ له خوا زېرى د جنت باندې وسو، او هغه وحشي په مقابل کي د قتل د حمزه ﷺ يو لوي د خداى د بنمن مسلمة كذاب چي دعوه د نبوت يې درلوده په قتل ورساوه، او هغه کسان چي پر يزيد قاتل د حسين ﷺ لعنت روا نه بولي دغه دليل وايي قتل د حسين که څه هم د هر غټ جنايت او ګناه وه لکن دا امکان لري چي يزيد دي د دې ګناه څخه توبه کښلې وي، والله التواب الرحيم فكيف يجوز لعنة، او بعض علماء لعنت پر يزيد روا بولي دوی وايي چي يزيد په وخت د امر په قتل د حسن ﷺ کافر سوی و، ومات على ذالك، او د يزيد يو شعر هم پر کفر دده دلالت کوي.

فان حرمت يوما على دين احمد ● ● ● ● ● فخذها على دين المسيح ابن مريم

پښتو ترجمه:- چي ضمير د "حرمت" راجع و خمر ته دی يعني يزيد دا بيت په وخت کي د شرابو د څښلو ووايه، وقال علامة التفتازاني في شرح

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

العقائد، الحق ان رضی یزید بقتل حسن ﷺ، او خوشحالي دده په قتل د حسین ﷺ او سپکاوي دده په اهل بیت د رسول الله ﷺ متوا تر المعنی دی که څه هم تفاصیل اخبار احاد دی، نو تفتازاني ﷺ په اخر کي وایي فنحن لا نتوقف في شانه بل في ایمانه فلعنة الله علیه وعلی انصاره و اعوانه انتهی، او قاضي ثناؤ الله ﷺ په تفسیر مظهري سپاره "ماابرئ" سورت ابراهیم کي داسي وایي چي ابن عباس ﷺ یو ورځ د امیر المؤمنین عمر ﷺ څخه ددي ایت په باره کي پوښتنه وکړه ﴿الذین بدلوا نعمت الله کفراً﴾ یعني چي آیت د چا په باره کي نازل سوی دی قال عمر ﷺ ﴿هم الافجران من قریش بنو المغیرة وبنو امیة﴾ ده ﷺ وویل چي د بنو مغیره وو سرکښه کافران په بدرکي ختم سوه، واما بنو امیه فتمتعوا الی حین، یعنی بني امیه به تر وخته پوري تمتع په دنیا کي ژوند وکړي، وهذه روایت ابن مردویة عن ابن عباس ﷺ و کذا ذکر البغوي قول عمر وذکر ابن جریر وابن المنذر وابن ابن حاتم والطبراني في الاوسط والحاکم وصححه ان علي بن ابي طالب ﷺ ذکر مثل قول عمر ﷺ، والحاصل چي بنو امیه تر ډیر وخته پر کفر پاته وه او د علیه السلام په عداوت او جنګ اخته وه، حتی چي ابو سفیان ایمان راوړی او دده زوئ معاویه هم ایمان راوړی او عمر بن العاص وغیره هم د قوم څخه د بنو امیه وه په ایمان مشرف سول، قال المظهري فهم کفروا یزید بن معاویه و من معه، ولي په عداوت کي د آل رسول الله ﷺ اخته سوه او حسین ﷺ یې ظلماً شهید کړی او یزید کفر به دین نبوي سره مختاره کړی حتی په قتل کي د حسین ﷺ یزید داسي وویل "این اشیاخي ینظرون انتقامی بآل محمد ﷺ، چېرې دي زما د قوم سپین ږیري چي وګوري چي ما څرنګه کسات واخستي له آل محمد او بني هاشمو څخه، او یزید په یو بل شعرکي وایي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ولست من جندب ان لم انتقم من بني احمد ماكان فعل

او د بنو امیه خانـدان چې پر سر د حکومت و پر منبرو به یې آل محمد ﷺ ته بنکنځل کول، ونقل النووي رحمه الله في شرح المسلم ان بنو امیه لما ذکروا علي ؓ علی المنابر قالوا سود الله وجهه، وهذا هو السر في ان علماء الامت المحمدية بعد بنو امیه لما ذکروا علیاً ؓ قالوا کرم الله وجهه مکان الترضية لغيره من اصحاب رسول الله ﷺ.

فائده:- دا کمان مه کوئ چې ابو سفیان ؓ یا معاویه ؓ او غیرهم من بني امیه کانوا معایدین للنبي ﷺ اولاً له ﷺ بل هذه العداوة قدجری من زمان یزید و من بعده، قال المظهري رحمه الله فمتعوا بهذه الضلالة الف شهر ثم ختم الله هذا الضلالة من دین الاسلام.

ژوبـښ وایـي:- چې دا و حال د یزید و اتباعه په قول د علامه تفتازاني رحمه الله او په قول د مظهري رحمه الله و روح البیان والله اعلم بحقیقة الحال والیه المرجع والمال، قال الله عزوجل.

بِئْسَمَا اشْتَرَوْا بِهٖٓ اَنْفُسَهُمْ اَنْ يَّكْفُرُوْا بِمَآ اَنْزَلَ اللّٰهُ بَغْيًا اَنْ يُّنَزِّلَ اللّٰهُ مِنْ فَضْلِهٖ عَلٰى مَنْ يَّشَآءُ مِنْ عِبَادِهٖ ۚ فَبَآءُوْ بِغَضَبٍ عَلٰى غَضَبٍ ۭ وَلِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ ۝۹۰

قوله بئس ماشتروابه انفسهم:

پوښتنه:- چې "بئس" فعل ذم دی او فاعل په دې کښې ضمیر مستتر دی او کلمه د "ما" نکره ده تمیز د فاعل د "بئس" ده او "اشتروا" صفت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی د "ما" او شراء په معنی د بیع ده و المضاف مقدر دی چې حفوظ انفسهم في الآخرة من الجنة و نعمها نوددي حفوظ بیعه سوه یعنې ددوي د لاسه ووتل او کفر او ریاسة الدنیا و حظوظ الدنیا یې لکه ثمن ددوئ لاس ته ورغلی "قوله ان یکفروا بما انزل الله، دا مخصوص بالذم د "بئس" دی قوله "بغیا، مفعول له دی د "یکفروا" نه د "اشتروا" ولي چې په منع کي د فعل او مفعول له فصل په بېګانه سره نه دی روا، او بعض مفسران ر وایي چې "اشتروا" پر خپله معنا دی یعنې دوئ رانیولي خپل ځانونه یعنې خلاص کړي یې دي د ذلت ځخه ددې دنیا ولي چې خپل ریاست برقرار ساتلی دی.

فائده:- اصل معنی د "بغي" طلب دی او فساد کمایقال بغي فلان کذا اذا طلبه وبغي الجرح اذا فسد" نوځکه ظالم ته باغي وایي ولي چې مفسد دی، او حاسد ته هم باغي وایي ولي چې دی ظلم کوي پر محسود باندې اوزوال دده د نعمت غواړي والمعنی ههنا انهم یکفرون حسداً وطلباً لما لیس لهم من الاستیلاء علی الارض او فساد في الارض، قوله ان ینزل الله، مراد ځندې قرآن کریم دی او "ان ینزل الله" په بغیاً پورې تعلق لري په تقدیر د لام اي لان ینزل الله، قوله "من فضله" یعنې په محض فضل سره یعنې نبوت او نزول الکتاب کسبي شی نه دی بلکه موهبي شی دی، قوله "علی من یشا" و هو محمد ﷺ دی قوله "فبآء" اي رجعوا په یوه غضب سره په سبب د کفر په محمد ﷺ برسېره پر بل غضب په سبب د کفر په عیسی علیه السلام او په انجیل سره وعدم العمل باالتورات وقولهم عزیر ابن الله والا عتدا في تعظیم السبت وعبادة العجل وان کان بعض تلک القبائح صدرت عن اسلا فهم وقدرضوبها، قوله ﴿ وللکافرین عذاب مهین﴾ یعنې عمومي کافرانو لره چې د هغو په مصب کې یهودو لره هم عذاب

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

دی د اهانت او اذلال له قسمه بخلاف عذاب عصاة المومنین، ولي چي هغه لپاره د پاکولو ددوئ د خیري د کنهو دی، مثلاً لرګي چي سړی اور په بلوي لپاره د اهانت د لرګو دی، او پر سرو زرو چي اور څوك بلوي لپاره د پاکی د غش اوخیري څخه.

حکایت:- راوي وایي چي چونکه د مولانا جلال الدین الرومي رحمه الله څخه شیخ تبریزي رحمه الله چي مولنا رحمه الله ته په لږ ملاقات کي په روحاني توګه بعض کشفیات او اسرار وربښوولي وه د مولنا څخه ورك سو نو مولانا یې په طلب کي سرګردان بنار پر بنار ګرځېدی یوه ورځ په یو بنار کي مولنا رحمه الله د دوکان سه د سرو زرو خر څونکي صلاح الدین زرکوب تبریزی رحمه الله شیخ صلاح الدین ور ږغ کړه چي دلته راسه مولنا چي دوکان ته ورغلی شیخ صلاح الدین زرکوب ورته وویل چي څه کوې چي بې صبره حیران ګرځي مولنا رحمه الله ورته وویل چي د اسمان څخه چي لمر ورك سي یعني شمس تبریزي نو خود به اسمان سرګردانه پسي ګرزي تاچي له تاریکی څخه د فراق الشمس خلاص سي، شیخ صلاح الدین رحمه الله ورته وویل زه ستا شمس یم، چونکه مولنا شمس تبریزي رحمه الله د ملنګی په لباس کي لیدلی وو او شیخ صلاح الدین رحمه الله د جاه وجلال په لباس کي وو نو مولنا ورته وویل چي زه به څه تا وپېژنم چي ته زما شمس یې نو شیخ صلاح الدین بعض هغه مقامات چي شمس تبریزي مولنا وهغو مقاماتو ته رسولی و بیان کړه، نو مولنا وپوهېدی چي رشتیا دا شمس تبریزي دی لکن د مخه یې خپل ځان په بطانه یعني لابدي جامه کي را ښکاره کړی و او اوس یې په ظهاره کي یعني د پابندي صورت را ښکاره کړی فاشتغل مولنا رحمه الله عنده بتحصیل الکمالات فوصل مولنا الی ماوصل کذا في روح البیان.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښې وايي:- چې د بې حسد شخص سره حسد کول د محسود کمالات نور زیاتېږي او د حاسد زړه نور خوړل کېږي قال المولوي المعنوي رحمه الله ،

چون کی بربی حسد مکروحسد
زا ن حسد دل را سیاهی میرسد

خاک شو مر دا ن حق را زیر پا
خاک برسر کن حسد را همچو ما

وقدجربت ذالك تجربة عظيمة، وهكذا كان حال الانبيا والاولیا كما قال رسول الله ﷺ اللهم اهد قوم فانهم لا يعلمون

وَإِذَا قِيلَ لَهُمْ آمِنُوا بِمَا أَنْزَلَ اللَّهُ قَالُوا نُؤْمِنُ بِمَا أُنْزِلَ عَلَيْنَا وَيَكْفُرُونَ بِمَا وَرَاءَهُ وَهُوَ الْحَقُّ مُصَدِّقًا لِمَا مَعَهُمْ

او چې وه به ویل سول یعني د اصحاب کرامو ﷺ له خوا څخه ویهودو ته د مدینې او شاوخوا یهودو ته پر دول د تبلیغ او نصیحت چې تاسې ایمان راوړئ په هغه کتابو سره چې خدای ﷻ نازل کړي دي، یعنې پر کتبو الهیه وو خصوصاً الانجیل والقران دوئ به ناصح ته ویل چې زمونږ ایمان پر هغه کتاب دی چې مونږ ته نازل سوی دی یعني تورات فقط

پوهه اصل:- مضارع لپاره د استمرار ده یعني مونږ همېشه پر ایمان د خپل کتاب تورات یوفقط، اودوي همېشه کفر کوی په ماسوا د "ما انزل الیهم.

پوهه اصل:- چې "یکفرون" قول د خدای جل سلطانه دی، او حال دادی چې ماوراء التورات حق دی او مصدق د مامعهم من التورات دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوهه شه:- چې جمله "یکفرون، حال د ضمیر څخه چې په "قالوا" کې دی، او ضمیر د "هو" راجع و ما ورا ته دی او مراد څندې قرآن دی.

فائده:- "مصدقاً" حال موکده دی لپاره د رد د هغه قول ددوئ چې "نومن بماانزل علینا" ولې چې کفر په مصدق د تورات چې قرآن کریم دی کفر دی په تورات سره نو دوئ څرنګه دعوې د ایمان باالتورات کوي.

قُلْ فَلِمَ تَقْتُلُونَ أَنْبِيَآءَ اللّٰهِ مِنْ قَبْلُ إِنْ كُنْتُمْ مُؤْمِنِينَ ﴿٩١﴾

ته ووایه ویهود ته یعنې لپاره د رد ددې قول د دوئ نومن بما انزل آه نو تاسې ولې وژنئ انبیا د خدای ﷻ که تاسې ایمان پرتورات لرې ولې په تورات کې خو قتل د نبي حرام کنړل سوي دي.

فائده:- اصل د "لم لِمَا" وو یعنې لام د تعلیل دی پر ما استفهامیه داخل سوی دی لپاره د فرق په منځ کې د ماخبریه او ما استفهامیه نحو فیم، وعم، وبم.

پوهه شه:- چې "تقتلون" دلته لپاره د احضار د حالت عجیبه ماضیه دی نو په اصل کې "قتلتم" و له دې سببه چې قتل د انبیاء ﷺ په ماضي ددوئ د اسلافو څخه واقع سوی و.

سوال:- چې قتل ددوئ د اسلافو څخه صادر سوی و نو حاضرینو ته د عصر نبوي ﷺ یې ولې نسبت وکړی کما یدل علیه صیغة الخطاب؟

ځواب:- چونکه حاضرین په فعل د اسلافو خپل راضي وه، او قتل د هغو د انبیاء علیهم السلام حق باله نو ځکه نسبت د قتل یې و حاضرینو ته وکړی کما یقال بنو فلان قتلوا مع ان القاتل واحد منهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله:- ابو الليث السمرقندي رحمه الله په خپل تفسير کي وايي په دې آيت دليل دی پردي، من رضی بمعصية شخص فكانه فاعل لها .

فائده:- کلمه د "فا" په "فلم آه" کي جزاء د شرط محذوف ده اي ان صح ماقلتم من الايمان بالتورات فلم آه.

فائده:- د "ان كنتم مومنين" جواب محذوف دی بدل عليه ماقبله.

وَلَقَدْ جَآءَكُمْ مُّوسَىٰ بِالْبَيِّنَٰتِ
ثُمَّ اتَّخَذْتُمُ الْعِجْلَ مِنۢ بَعْدِهِۦ وَأَنتُمْ ظَٰلِمُونَ ﴿٩٢﴾

پوه شه: چي لام موطئه د قسم دی او مقصود الهي په دې آيت کي دادی چي کفر د يهودو تر زمانې پوري د هغو انبياؤ چي دوئ مړه کړه نه دی خو بدلی بلکه په زمانه کي د موسي عليه السلام تر هغه قتل اشد کفر اسلاقو د يهودو کړی دی چي هغه اتخاذ العجل الهاً و معبوداً دی .

فائده:- بعض مفسران رح وايي چي مراد د "آيات بينات" څخه هغه دلائل واضحه دي چي پر استحقاق د خدای ﷻ په معبوديت سره دلالت کوي، وهي اعم من المعجزات وغيرها من الدالائل العقليه الموجودة في الانفس والآفات " لكن قاضي ناصر الدين البيضاوي رحمه الله وايي چي مراد دآيات بيناتو څخه هغه نهه (۹) معجزې دي چي په هغه آيت کي ذكر سوي دي

﴿ ولقد آتينا موسىٰ تسع آيات بيّنات﴾ چه هغه په مجمله توګه دادي، طوفان يعني ډير باران، والقمل، والضفادع، والدم، والعصاء، واليه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

البيضاء، وفلق البحر، ونتق الجبل والجراد، چي د قرآن کريم په متفرقو آياتو کي ذکر سوي دي چي پخپلو خايو کي به راسي ان شاء الله يعني بيان به يې په تفسير کي راسي

فائده:- تولـه قراء القرآن د لفظ د انبياء، ﷺ په "يا" سره وايي يواځي نافع رحمه الله دی چي په تولـه قرآن کريم کي يې په همزه سره وايي يعني انبأالله.

ترجمه:- او قسم په خدای ﷻ چي سناسي اسلافو تـه راتـلـک کـړی و موسی ﷺ په معجزاتو و اضحاتو سره، بيا ورسته تاسي ګلکی د سامـري و ګرځاوه يعني معبود، وروسته تر موسی ﷺ يعني چـي دی کـوه طـور تـه ولاړی او باپس له مجني بالمعجزات څخه.

"وانـتم ظـالمون" جمله حاليـه ده يعني په عبادة العجل سره ولـي چي عبادت چی مستحق يې خدای ﷻ دی په ګلکي کـي مـو کښيښود کما هو معنی الظلم، او يا دا جمله معترضه ده يعني انتم قوم عادتكم الظام.

قاضي بيضاوي رحمه الله وايي چي سوق ددي ايت لپاره د رد د هغي دعوې د دوئ دی يعني نؤمن بما انزل علينا او لپاره د تنبيه پردې چي طريقه د موجوده يهودو د عليه السلام سره هغه طريقه د اسلافو ددوئ سره د موسی ﷺ او اقناط کلي دي د عليه السلام او اصحابو کرامو د ايمان څخه د موجوده يهودو

وَإِذْ أَخَذْنَا مِيثَاقَكُمْ وَرَفَعْنَا فَوْقَكُمُ الطُّورَ خُذُوا مَا آتَيْنَاكُمْ بِقُوَّةٍ وَاسْمَعُوا قَالُوا سَمِعْنَا وَعَصَيْنَا

او ياد کړئ هغه وخت چي مونږ واخسـتله محکمـه وعـده ستاسـي څخه يعني ستاسي د اسلافو څخه په عصر کي د موسی، قصه داده چي تـورات په يوه پلا پر موسی نازل سو نو يهودانو د هغه وخت چي اوامر متعـدده وو د تورات او منهياتو متد کاثره وو د تورات وکتل او وايه ورېدل، نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

موسي ﷺ جواب ورکړی چي دا ټوله اوامر او منهیات زمونږ له طاقته نه دي پوره، نو خدای ﷻ جبرائیل ته وویل چي یو غر له غرو څخه پر راپورته کړه او ددوئ پر سر یو قامت لوړیه ونیسه او موسی دي دوئ ته ووایي چي د تورات احکام قبلوئ او که نه غر به جبرئیل رائله کړي نو دوئ پر سجدې پرېوتل او سجده یې پر بارخوګانو کوله یعني یوه سترګه بې په غره کي وه چي رائله نسي خو هغه سجده تر اوسه هم یهود پر بارخو سجده کوي، نو ځکه خدای ﷻ "ورفعنا" یعني جبرئیل زما په امر پورته کړی سربېره پر سرو طور ستاسو یو غر د غرو څخه د هغه ځای "خذوا" واخلئ هغه احکام چي په تورات کي مونږ تاسي ته در استولي دي په قوت سره یعني په ډېر کوشش سره.

پوهه شه:- چي "خذوا" آه حال دی په تقدیر د قوله یعني قائلین لکم خذوا او ووارئ احکام د تورات یعني په سماع قبولي او عمل سره، نو دوئ وویل چي مونږ واورېدې خبري یعني ظاهراً لاقلباً وطاعة، وعصینا" او مونږ د تورات د احکامو انکار په زړه کي ساتلی لرو یعني که د غره ښېره نه وایي سمعنا به یې هم نه وای ویلې.

دروغونه بني اسرائيلو ته په څه کار ورتله چې دوئ يې درس او تدريس شروع کړی او په دغو کتابو کې سره ددې چې هغه اثر د سحر نه و څرنګه يې د ساحر حکم پر سليمان ﷺ وکړی په دې کتابو کې خو هيڅ اثر د سحر نه وُ نو ددې قصې راوړل په شان نزول کې ددې موجوده آيتو يې معنی خبره ده بلکه صحيح شان نزول دادی چې کلبي رحمه الله وايي چې شيطانانو واقعي د سحر کتابونه ليکلي وه او په آخر کې يې دا خبره هم ليکلې وه هذا ماعلم اصف بن برخيا سليمان الملک التسخير الجن والانس به وبقاء ملکه عليهم، او شيطانانو د سليمان په غياب کې د سلميان ﷺ د لمانځه تر خای لاندې بښخ کړي وه ولا يشعر بها سليمان الى وقت موته فلما مات سليمان دلت الشياطين بني اسرائيل على استخراج تلک الکتب من تحت مصلاه، او شيطانان چې په رنګ دسړو وبني اسرائيلو ته حاضر سوي وه بني اسرائيلو ته يې وويل چې سليمان ﷺ پر تاسي او جناتو باندې حکومت کاوه هغه يې په دغه سحر او جادو سره کاوه، په هم دې سبب په بني اسرائيلو کې دا خبر شائع سوه چې سليمان ساحر وُ او هم په دې سبب چې هغه کتابونه چې د سحر واقعي بني اسرائيلو يې په تعليم او تعلم لاس پوري کړی نو هم ددې کبله په ټوله ټړۍ کې بني اسرائيلو په سحر ګړي کې لوړ مهارت پيدا کړی حتى الى زمن رسول الله ﷺ حتى سحروا به ﷺ كما في البخاري مفصلا في شان نزول المعوذتين، نو په هغه زمانه کې چې دا کتابونه بنکاره سوله علماؤ او صلحاؤ د بني اسرائيلو به دا ويله معاذ الله ان تكون هذا الكتب من سليمان ﷺ ، او بهوقوفانو د بني اسرائيلو به ويل چې، هذا من سليمان ﷺ وبهذا السحر كان يملک على الجن والانس ، نو څکه تر وخته د نزول د قرآن کريم سليمان ﷺ په نامه د ساحر بد نام وُ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شروبنځ وايي:- چې دا شان نزول ډېر د قرآن کريم د تفسير سره لاتړ دی والعلم عند الله.

وَمَا كَفَرَ سُلَيْمٰنُ وَلٰكِنَّ الشَّيٰطِيْنَ كَفَرُوْا يُعَلِّمُوْنَ النَّاسَ السِّحْرَ

او کفر نه دی کړی سليمان عليه السلام، لکن شيطانانو کفر وکړی، ور وه يې ښو وی خلکو ته سحر.

پوښتنه:- خبر خو په سحر کې وٗ يعنې يهوديان خو سليمان عليه السلام ساحر بولي نو ددې په ردکې خو "وماسحر سليمان" مناسب وٗ، نو د خدای ﷻ څه حکمت دی چې "وما کفر سليمان" يې وفرمايله ؟

ځواب:- په تعبير کې په کفر سره خدای ﷻ تنبيه پر دې وکړه چې عمل د سحر خو کفر دی او انبياء عليهم السلام خو د ټولو ګنهونو څخه معصوم دي خصوصاً د کفر څخه چې اعظم د معاصيو دی.

ټانښه:- سحر علم دی په داسې الفاظو او اعمالو سره چې سړی په هغو سره شيطانانو ته نژدې کېږي او شيطانان د هغه سړي عامل ساحر مسخر سي او له هغه سره مرستې او کومکونه کوي، او دغه الفاظ او اعمال د سحر په اراده د خدای ﷻ د خلګو په نفسو کې او د خلګو په بدنو کې رقم رقم امراض پيدا کوي حتی تر مرګه او ليونتوبه پورې، او دغه ساحران د خلګو په سترګو کې يو شی له خپل حقيقته جلا معلوموي لکه سحر د فرعون چې خدای ﷻ وايي ..(القوا حبالهم وعصيتم يخيل) يعنې موسی عليه السلام وخلګو ته (انها تسعى)

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

فائده:- دا ټوله تاثیرات په خلق د خدای ﷻ ابتلاء منه للناس .

فائده:- که څوك ماخستن تر خوب له مخه یو وار الحمدلله شریفه سره د اعوذبالله شریفي او د بسم الله شریفي او یو وار آیة الکرسي سره د اعوذبالله او د بسم الله او دري واره قل هو الله هر وار سره د اعوذ بالله او بسم الله او یو وار قل اعوذ برب الفلق سورت او قل اعوذ برب الناس سورت سره د اعوذ بالله او بسم الله ووایي هر شپه نو د سحر او جادو د تاثیر څخه به ببغمه پاته سي بقدرته تعالی .

فائده:- هغه خبري چي بعضي جاهلانو کړي دي چي ساحر کولای سي له انسانه واقعي خر یا سپی جوړ کړي ډیر غلطه خبره ده، او د ساحر شریك کنړل دي د خدای جلت قدرته سره یعني لکه خدای ﷻ چي بعض یهودیان په زمانه کي د داوډ ﷺ بیزوګاني اوسرکوزان واقعي وګرځول .

امام بغوي ﷺ وایي چي د سحر وجود حق دی په نیز د اهل السنة والجماعة یعني په حدیث د بخاري ﷺ او نورو محدثانو ثابته ده چي لبید بن اعصم یهودي په علیه الصلواة والسلام سحر کړی وحتی یخیل الیه انه فعل شیا ولم یفعله، یعني په باره کي د موجباتو د غسل حتی چي دوي ملکي ﷺ یې په خوب ولیدلي چي یوه ملکه وهغې بلي ملکي ته وایي چي په دې سړي یعني علیه الصلواة والسلام څه سوي دي هغې بلي ملکي ورته وویله چي مطبوب یعني سحر په سوی دی هغې بلي ورته وویل "من طبه" چا سحر په کړی دی هغې ورته وویل چي لبید بن اعصم الیهودي الی اخر الحدیث" قال البغوي والعمل به کفر، او شیخ ابو منصور ﷺ وایي چي سحر مطلقاً کفر ګنړل خطا دی بلکه د حقیقت سحر حال معلومول په کار دی یعني که د سحر په اقوالو او الفاظو کي کلمات د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کفر قطعاً موجود وي لکه سُب يعني بنکنځل وخدای ﷻ ته يا آنحضرت ﷺ ته او يا صحابه کرامو ﷺ ته، نو سحر خو کفر دی بالاجماع، او يا په اعمالو کي عمل د کفر قطعي پيدا وي لکه القاء قرآن مبارک په قاذوراتو کي، نو هغه سحر هم کفر دی اجماعاً قال الشيخ رحمه الله و الافلا يعني که د کفر الفاظ يا اعمال نه وي پکښي نو کفر نه دی، او د مدارك څخه هم تائيد د مذهب د شيخ کبړي يعني چي هر سحر کفر نه دی.

حيث قال صاحب المدارک رحمه الله ان السحر الذي هو کفر يقتل فيه الذکور دون الاناث عند الحنيفيه رحمهم الله کما في المرتد، ومالیس فيه کفر وفيه اهلاک النفس ففيه حکم قطاع الطريق يقتل فيه الذکور والاناث ويقبل توبة الساحر و ان کان سحره کفراً اذا تاب، او څوك چي وايي چي د ساحر کافر توبه نه قبلېږي هغه غلطه خبره ده ولي ساحران د فرعون چي کافران هم وه چي توبه يې وکښل توبه يې قبوله سوه کما شهد به القرآن العزيز، لکن تفسير مظهري وايي چي په دې آيت مبارك کي خدای ﷻ تعبير د سحر په کفر سره وکړی يعني "وماکفر سليمان" او وروسته يې بيا داسي وويل "لکن الشياطين کفروا يعلمون الناس السحر" وکذا قال الله تعالى في موضع اخر ولقد علموا اي اليهود لمن اشتراه، اي السحر ماله في الاخرة من خلاق الآية» د اټوله آيتونه د لالت کوي پر دې چي الفاظ د سحر او اعمال د سحر عموماً کفر دی، او مناقض د شرطو سره د ايمان دی، او د مظهري رحمه الله دخبري تاکيد دا هُم کوي چي شيطان نه راضي کېږي مګر په کفر سره نو تقرب د شيطان او دده مسخر کېدل د انسان سره هر کومك ممکن نه دی بېله کفره د ساحر، اعاذنا الله منه، قال المظهري، و ماقال ابو منصور وصاحب المدارک وروي عن الشافعي رحمهم الله ايضاً فمبني على الاحتمال العقلي، يعني چي عقلاً دا ممکنه

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

ده چې په الفاظو او اعمالو کې د ساحر دي داسې الفاظ او اعمال نه وي چې موجب د کفر دي وي انتهى قول المظهري .

ژوبلې وايي:- چې مراد د شافعي او امام ابو منصور و صاحب المدارك رح خو دا وۀ چې ساحر مطلقاً او باليقين کافر نه دی نو که د مظهري رحمه الله مراد دا وي چې ساحر کافر مطلق او باليقين دی خو هغه دد خبره فمبني على الاحتمال آه مناقض ده د حکم يقني، لانهم قالوا اذا جاء الاحتمال بطل الاستدلال، او که مراد د مظهري رحمه الله حکم ظني وي په کفر سره د ساحر له هغه څخه خو ائمه مذکورين رح هم نه دي مخالف لما عرفت من مراد الائمه المذکورين رح واما الآيات التي استدل بها المظهري رحمه الله ففيها احتمال التاويل يعني تغليظا على حرمة السحر و الله اعلم .

پوښتنه:- چې که څوك يو سړی مړ کړي او قتل يې ورته روا نه وي او يا نعمت بدني يا مالي څندي سلب کړي که څه هم په دعاء سيفي سره وي چې هغه مشهوره دعاء، او که څه هم په تلاوت سره د اسماء جلاليه د خداى جل جلاله که څه هم دا خو کفر نه دی لکن کونکی ددې کار فاسق دی حکم يې حکم د قطاع الطريق دی هذا ما اورده المظهري رحمه الله .

ژوبلې وايي:- چې دا مسئله على الاطلاق نه ده ولي چې هغه سړی چې څوك يې سلب د نعمت بدني يا مالي غواړي په دعاء سيفي او يا په تلاوت سره د اسماء جلاليه د خداى جل جلاله که په خپله د قطاع الطريق څخه وي او يا معلن بالفسق والفجور وي او اسلام او مسلمانانو ته ضرر رسونکی سړی وي نو هغه ته ولي ښېرا د سلب النعمة البدنيه يا ماليه نه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ده روا، لان رفع الشر الكثير بالشر القليل جائز اتفاقاً، او هغه آیت مبارك چې مظهري رحمه الله ددې مطلب لپاره دلیل ګرځولی دی یعني قوله تعالى ﴿الذين يؤذون المؤمنين والمؤمنات بغير مااكتسبوا فقد احتملوا بهتاناً و اثماً مبيناً﴾ هغه په باره کې د مشرکینو او د منافقینو دی چې دوئ به عداوة للمسلمين داسې کول نه په باره کې د دفع د مشرکینو د مفسداتو چې مؤمنانو ته به یې رسول بلکه د داسې شر کثیر دفع خو مباح څه کوې بلکه لازمه ده باې ذريعة كان والله اعلم .

مسئله:- معتزله وایي چې سحر صرف تخییل دی او حقیقت واقعي نه لري، دوئ وایي چې که انسان ته که کومك د شیطان له خوا په ظهور د خوارق العادة او اخبار غیب ممکن سي او واقعیت ولري نو د معجزې د نبي ﷺ او د کرامة د ولي الله او د سحر تر منځ به اشتباه راسي، قاضي بیضاوي رحمه الله وایي چې فرق یې دادی چې ساحر به حتماً خبیث النفس بدکاره وي ولي چې په تعاون کې د شیطان د یو چا سره مناسبت له شیطان سره په خبث النفس کې ضروري دی، بخلاف النبي و الولي فانه ليس لهما مشابهةً ما د شیطان سره نسته وبهذا تميز الساحر عن النبي والولي .

ځوابش وایي:- چې د معتزله وو عجیب مسلك او مذهب دی آیا دوئ احادیث مني او که څرنګه ؟ که یې مني خو په بخاري او مسلم او په نورو کتابو کې د احادیثو صحیحه وو سحر د لبید بن اعصم الیهودي پر ذات پاك د آنحضرت ﷺ او د هغه سحر موقت تاثیر پر ذات د آنحضرت ﷺ و درجې ته د شهرت رسېدلی دی کما مر عنقریب .

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

وَمَآ اُنْزِلَ عَلَى الْمَلَكَيْنِ

پوښتنه:- چې اکثر مفسران رح پر دې خبره متفق دي چې "وما انزل آه" عطف دی پر لفظ د "السحر" او دوئ وایي مراد د "سحر" او "ما انزل آه" څخه یو شی دی او فرق په منځ کې د معطوف او معطوف علیه صرف په اعتبار د مفهوم دی او ذات او مصداق د دواړو یو دی. او بعض مفسران وایي چې مراد د ما "انزل" څخه د سحر یو سخت قسم او نوع مراد دی، او هغه خبره چې بعضي مفسرانو رح ویلې ده چې کلمه د "ما" نافیه ده، او "ماانزل" عطف دی پر "ما کفر سلیمان" باندې او تکذیب دی د یهودو په را تلونکې قصه کې، نو ددې مفسر پر مذهب هغه وروسته "هاروت و ماروت" بدل دي دشیاطین څخه بدل البعض عن الکل دی، او په مابین کې جمله معترضه ده، نو تقدیر د کلام داسې دی "ولکن الشیاطین کفروا" هاروت وماروت دوه شیطانان دي جني یا انسي.

سوال:- پر دې تقدیر چې هاروت وماروت شیطانان سي نو هغه نصحیت د دوئ وخلګو ته چې په وروسته آیت کې به راسي "ومایعلمان من احد الآیة" څرنګه به صحیح سي ولې شیطانان خو خلګو ته د کفر او ضلال بلنه ورکوي، نو هاروت او ماروت څرنګه خلګوته وایي "فلا تکفر.

ځواب:- دا بلنه د دوئ پر وجه د نصیحت نه ده بلکه د سړي رغبت او شدة وکفر ته معلومه وي، او ددې آیت مثل د هغه قول د خدای ﷻ دی چې حکایت د شیطان څخه کوي "کمثل الشیطان اذ قال للانسان اکفر فلما کفر قال اني بریئ منک الآیة، هذا ما في البیضاوي وحواشیهه.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

څرګندونه وایي:- چې په دې آیت کې یعنې په باب کې د تفسیر د بیضاوي رحمه الله د مفسرینو حضراتو رحمهم الله عظیم اختلاف دی، او قاضي بیضاوي رحمه الله وایي چې هاروت وماروت اصلي اسماني ملکي وې چې خدای ﷻ محکمې ته را استولي وې لپاره د تعلیم د سحر ابتلاء للناس، او لپاره د فرق په مابین کې د سحر او معجزې د نبي ﷺ او بیضاوي رحمه الله وایي چې تعلیم او زده کړه د سحر مطلقاً ممنوع نه ده بلکه عمل په هغه ممنوع دی او کفر دی دلیل یې دادی چې دا تعلیم د سحر خو د ملکو د خوا واقع سو اوسره ددې چې ملائکه خو معصوم دي د ګناه څخه وفیه نظر، ولي چې دغه دوې ملکې چې د خدای ﷻ دخوا ماموري وې ابتلاء من الله ﷻ للناس، نو بیا خو دا تعلیم د دوئ ګناه نه بلل کېږي چې ددوئ د عصمت سره دي منافي وي، او علامه مظهري رحمه الله وایي چې علوم ضارة و ایمان ته تعلیم او تعلم یې حرام دی لکه السحر او الهیات د فلاسفه وو الااذاکان بنیة صالحة آه، مثلاً سحر څوک په دې نیت زده کوي چې زه مقابله د ساحر مدعي النبوة په وکړم او یا الهیات د فلاسفه وو، ددې لپاره زده کوي چې رد پر وکړم او جواب د دودئ و دلائلو ته ورکړم.

څرګندونه وایي:- چې چونکه عموماً الفاظ د سحر او اعمال د سحر مبني پر تقرب وشیطانانو ته دي، او تقرب د شیطان بېله کفره ممکن نه دی کمامر نو په سحر کې به نیت صالحه څرنګه ګنجایش ولري، او دغه رنګه په اوسنۍ زمانه کې الهیات د فلاسفه وو طالبان او ملایان په ډېره مزه او خوند وایي لکه دوئ چې معتقد د دغو مسائلو زائغه د الهیاتو د فلاسفه وو وي، نو په اوسنۍ زمانه کې په زده کړې کې د علومو فاسده و ګمان د نیت صالحه نه معلومېږي الاعلی وجه الندرة وغایة الشذوذ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده:- په اوسنی زمانه کي د ملایانو او طالبانو په اصطلاح یوه ورځه دوره بولي چي په هغه کي جلالین، مشکواة، بیضاوي او څلور هدایه کاني او نور هم بعض کتابونه ویل کیږي، او یوه لویه دوره بولي چي په هغه کي صحاح سته وغیره ویل کیږي بعض ملایان دا دواړي دورې په یوه کال کي کوي، او که دغه ملا مکلف سي چي ته به الهیات د فلاسفه وو له هر کتاب څخه دوې دورې درسوي شاید په دوه کاله کي بې هم درس نه کړي.

پوه شئ:- چي بغوي رحمه الله د ابن عباس او د کلبي او قتاده رحمهم الله او نور هم په باره کي د هاروت او ماروت داسي قصه رانقل کړې ده چي ملائکه وو د اسمانو ولیدل چي د مخکي څخه قسم قسم کنهونه حتی الشرک والزنی وقتل النفس بغیر حق وشرب الخمر وغیرها من المعاصي الکبائر اسمانو ته راپورته کیږي ده بني آدم له خوا، نو یې پر خلق د آدم علیه السلام وذریته وخلافتهم في الارض د تنقید خوله خلاص کړه، نو خدای ﷻ ودوئ ته وویل چي که زه تاسي واستوم مخکي ته او په تاسي کي پیدا کړم هغه قوت چي په بني آدم کي سته کالقوة الغضبیة والشهوانیة وغیرها تاسي به هم دغسي کنهونه کوئ لکه بني آدم چي یې کوي، نو ملکو ورته وویل سبحان الله مالنا ان نعصیك، نو خدای ﷻ ورته ووېل چي تاسي انتخاب کړئ دوې ملکي برجسته ملکي، هغه وو چي دوئ هاروت او ماروت، او په بعض روایاتو کي راغلي دي چي دریمه ملکه یې هم انتخاب کړه چي نوم یې عزائیل و، نو خدای ﷻ په دوئ کي قوی شهوانیه وغیرها خلق کړې او مخکي ته یې د قضا بین الناس را واستولې او ورته وه یې ویل چي تاسي به قضاء بین الناس په حق او عدل سره کوئ او شرك به نه کوئ او قتل بغیر الحق به هم نه کوئ او زنی به

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هم نه کوی او شراب به هم نه چښي، نو عزائیل چي مخکي ته راغلی او شهوت د زناء ور پیدا سو، نو د خدای ﷻ څخه يې عذر خواهي وکړه چې زه دا قضاوت د مخکي نه سم کولای ما بیرته اسمانونه پرېږده او شهوت را څخه قطع کړه، خدای ﷻ يې عذر او استعفی ومنله هغه اسمانونه ولاړه، او څلوېښت (۴۰) کاله پر سجده پرېوتـه او د حیاء څخه يې لوړ نه سوای کتلای، او هاروت او ماروت د قضاء لپاره په مخکه کي پاته سوه، نو چي مانښام به سو د قضاء څخه به فارغ سوه، نو اسم اعظم شریف به يې ووایه او اسمانو ته به ولاړه نو يوه میاشت لا نه وه تېره سوې چي هاروت او ماروت په فتنه اخته سوه، هغه فتنه داوه چي يوه ورځ د قضاوت لپاره يوه بنځه چي نوم يې زهره وه او ډېره ښائسته وه او ملکه د اهل فارس د قبیلې څخه وه، او د هغې او د مېړه تر منځ په يوه موضوع کي نزاع وه د قضاوت لپاره هاروت او ماروت ته راغله، نو هاروت او ماروت چي زهره ولیدله په زړه کي شوق د زناء پیدا سو او زهر يې خپل خلوت ګاه ته بوتله نو د زناء تقاضی يې وکړه هغې يعني زهره خپله زناء مشروطه وکړځوله په څو شرطو سره .

(۱) اول شرط دا چي دا بت پرسته وه چي بت ته به دوئ هم سجده کوي (۲) دوهم ددې مېړه به وژني، (۳) دریم به شراب چښي (۴) څلورم هغه شی چي دوئ اسمانو ته پورته کوي هغه به وربښي، نو دوئ دا شرطونه ټوله ومنله او هغې هم زناء ورسره وکړه، نو زهره چي د اسم اعظم په ویلا سره اسمان ته ولاړه هورې خدای ﷻ مسخ کړه او خلېدونکی ستوری يې وکړه چي جوړ کړی، دا اوس هم د زهره په نامه ستوری په اسمان کي ښکاره، او هاروت او ماروت چي مانښام اسم اعظم ووایه وزرو يې طاقت د الوتو نه درلو دی په سبب د وسخ د زناء وغیره، نو په هغه زمانه کي چي نبي د

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

یعني ادریس ﷺ دا موضوع چې هرکله ورته معلومه سوه نو د خدای ﷻ څخه یې سوال وکړی چې د هاروت او ماروت تاته شفاعت کوم خدای ﷻ ورته وویل چې عذاب خو حتماً ورکوم لکن دوئ ته اختیار ورکړه چې عذاب د دنیا قبلوي او که د آخرت عذاب غواړي، نو ملکو د دنیا عذاب مختاره کړی، ولي چې دنیا فاني ده او عذاب د دنیا هم قطع کیږي، نو ددې قصې ناقلان وایي چې دوئ په څاه کې د بابل په عذاب دي او په وښتیانو ځړیږي او داځا هم د اوره ډک دی. او ددې ناقلان د ابن راهویة او ابن مردویه رح څخه روایت کړی چې علي ﷺ وویل چې علیه الصلوة والسلام وویل چې "لعن الله الزهره فانها هي التي فتنت الملکین" قاضي ثناء الله رحمه الله په تفسیر مظهري کې وروسته تر نقل ددې قصې داسې وایي وهذه القصة من اخبار الآحاد بل من الروایات الضعیفة الشاذة ولا دلالة علیها في القران بشي" او په بعض کلماتو کې ددې قصې هغه شی ستة چې عقل او نقل دواړه ابا څندي کوي، او هغه خبره وه چې دا اوس تېره سوه چې زهره چې اسم اعظم زده کړی هغه و اسمانو ته پورته سوله او هاروت او ماروت چې د زهره استاذان وه هغه نسواي پورته کیدلای، اوس سره ددې چې په مذکوره کنهو کې خو زهره، هاروت او ماروت سره شریکان وه او په کفر کې هم هاروت تر زهره کم و. ولي چې ملکې خو په حال کې د سُکر د شرابو وې قال المظهري رحمه الله قال محمد بن یوسف الصالحي رحمه الله في سبیل الرشاد قال الشیخ کمال الدین رحمه الله ان آیة النقل لم یصححوا هذه القصة وما اثبتوا روایتها عن علي ولا عن عباس رضي الله عنهما، او مظهري وایي چې دغه خبرونه نه صحیح او نه ضعیف د نبي علیه السلام څخه راغلي دي، او شیخ کمال الدین رحمه الله وایي وهذ الاخبار عن کعب الیهودي وافترائهم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ژوپښ وايي:- ددې قصې له صحته ټوله محدثين مخالف دي او لويه ډله د مفسرينو رح هم ځندي مخالف دي، او متکلمين اتفاقاً دا قصه درواغ بولي بلکه محال يې بولي چې څرنګه امکان لري زهره زانيه ښځه دي مسخ سي، او دونه غټ ستوری دي ځندي جوړ سي چې تر ټوله کړې د محکي دي غټ وي، او بله خبره داده چې مسخه خو د رزيل او بېکاره صورت ته تر صورت اول وايي، نوکه زهره کافره رنډۍ ښځه زهره اسماني ستوری ځندي جوړ سي دا خو اعلی صورت ته رد سوه، دا ولي نسخه بولي؟ او حافظ ابن حجر رحمه الله ددې قصې د ضعف څخه منکر دی چې دا قصه امام احمد رحمه الله په خپل مسند کې راوړې ده، او ابن حبان رحمه الله په خپل صحيح کې هم راوړې ده، ده زياته کړې ده چې دې حديث لره ددې قصې طرق او اسانيد کثيره سته چې يکاد الواقف عليها يقطع بصحتها لکثرتها، لکن په شروحو کې د بيضاوي وايي چې د ابن حجر رحمه الله د کلام حاصل خو دادی چې ددې قصې راويان ډېر او فلاني او فلاني د حديثو کتابو راوړي دي دا ټوله منو، لکن منتهی ددې قصې د راوايانو خو پر حکايت د يهودو تمامېږي فتلک القصة من اکاذيبهم وان کان رواة تلک القصة الی اليهود کثيرون .

ژوپښ وايي:- چې صاحب د روح البيان په شدت او بلاغت سره ددې قصې د صحت او واقعيت دعوه کړې ده، او دوئ وايي يقول الفقير جامع هذا المجالس الشريفة قد تصفحت کتب ارباب الخبر والبيان واصحاب الشهود والعيان فوجدت عامتها مشحونة بذکر ماجری من قصتها اي هاروت وماروت وکيف يجوزالاتفاق من الجم الغفيرعلی ما مداره رواية اليهود انتهی

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

دروېش وايي:- چې ما عربي عبارت دروح البيان والا رانقل کړی دی، که څه هم تفسير د دروېش خو په پښتو ژبه موعود وٗ تاچې حاسدان ونه وايي چې تا پر روح البيان والا درواغ ويلي دي، نو دروېش وايي چې ژه دروح البيان دا خبر منم چې جم غفير دا قصه راوړې ده لکن د روح البيان والا دونه ويل چې دغه غفير جماعت يې حکم په صحت سره کړی دی او که څرنګه .

سوال:- چا چې دا قصه په کتاب او يا تفسير کې ذکر کړه خو دغه حکم په صحت ددغې قصې دی ؟

ځواب:- نفس ذکر د شي حکم په صحت د هغه نه دی ولې چې بيضاوي رحمه الله ددې قصې رد ته اجمالاً اشاره کړې ده، او شارحينو د بيضاوي دا قصه بالتفصيل ذکر کړې ده، او وروسته يې د امتناع ددې قصې دعوه کړې ده، او دغه رنګه مظهري رحمه الله بعينها دا قصه راوړې ده او وروسته يې په ډېر شدت او سختو الفاظو سره رد کړې ده، او هغه روايات چې روح البيان والا د قصې د صحت لپاره ذکر کړې دي د هغو ټولو رواياتو تفسير مظهري په شدت سره رد کړی دی، دروېش د علماوٗ څخه دا خواهش کوي چې دوئ دي بيضاوي او تفسير مظهري او روح البيان او روح المعاني او نور تفاسير په غور مطالعه کړي هر ډول چې يې خوښه وه فيصله دي وکړي .

دروېش وايي:- چې د عاصي ميلان بايد زما د بيان څخه علماء وفهموي والله اعلم با الصواب .

دروېش وايي:- چې قاضي بيضاوي وروسته تر انکار د قصې مذکورې داسې وايي، ولعله من رموز الاوائل وحلّه لا يخفى على ذوي البصائر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یعنې معنی حقیقي ددې قصې خو مراد نه ده کما مر بلکه دا قصه به شاید د اشاراتو څخه د متقدمینو یعنې د صوفیه کرامو رح وي او ددې اشاراتو حل یعنې بیان به پوشیده او پټ نه وي پر در لودونکو د بصیرتو، فاضل لاهوري رحمه الله په حاشیه کې د بیضاوي وایي والا صح ذالک لما ثبت من عصمة الملائکة بل من باب التمثیل آه، ددې تمثیل حال بعض محققین رحمهم الله داسي کوي چې د هاروت او ماروت څخه تمثیلاً مراد نفس او بدن دي، او د زهره څخه مراد روح دی، اول خو نفس او بدن روح باعث پر ګناهو کړې وه وروسته روح په خان پوه سوه او د طاعت او عبادت او توبې لارې غوره کړه او عروج تر اسمانه یې نصیب سو یعنې قرب الهي آه هذا مافي الحاشیه البیضاوي، او د تفسیر مظهري یې بیا بل دول دقیق تصوفي حل کړی دی چې ددې تفسیر د ویونکو تر عقلو لوړ دی.

بِبَابِلَ هَارُوتَ وَمَارُوتَ

لغوي تحقیق:- چې بابل ظرف دی نو "با" په معنی د "في" ده، او یا حال دی د ملکینو څخه یعنې "کائنین ببابل" د ابن مسعود رضي الله عنه څخه روایت دی چې بابل مځکي ته د کوفې وایي، او بعض وایي چې بابل د عراق په مځکه کې دی، او عدم انصراف یې په سبب د علمیت او عجمیت دی، امام قرطبي په خپل تفسیر کې وایي چې نوح علیه السلام چې پر جودي غره یې کښتی قرار ونیوی نو ده هوري یوه قریه جوړه کړه چې نوم یې ثمانین پر کښښنو، نو یوه ورځ چې خلک را ویښ سوه تبلبلت السنتهم ثمانین لغة احدها العربیه، یعنې د خلکو ژبې پر اتیا (۸۰) لغته وې چې یوه یې عربي وه، او یو د بل په ژبه نه پوهېدله، او هاروت او ماروت نوم دی د دود ملکو او غیر منصرف دی په سبب د علمیت او عجمیت، او د اعراب د

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

لاړي عطف بيان دی ملکين، وقال البيضاوي رحمه الله چې مشهوره داده چې بابل د يو ښار نوم دی په اطرافو کې دکوفې

وَمَا يُعَلِّمٰنِ مِنْ اَحَدٍ حَتّٰى يَقُوْلَآ اِنَّمَا نَحْنُ فِتْنَةٌ فَلَا تَكْفُرْ

او ښوونه نه کوي هاروت او ماروت يعني د سحر هيڅ چاته، کلمه من زائدة لاستغراق النفي، حتى چې دوئ وطالب ته زدکړي د سحر وايي يعني از روي نصيحت چې هاروت او ماروت ملکي وې، مور فتنه يو يعني امتحان يو د خدای ﷻ لخوا ځخه نو ته مه کافر کيږي يعني په زدکړه سره د سحر.

بعض اهل تفاسير وايي چې دوئ اوه (۷) واره دا نصيحت ورته وکړی، سدي رحمه الله او عطاء رحمه الله وايي که چېرې طالب د تعلم د سحر د ملکو نصيحت نه واورېدی او اصرار يې په وکړی چې زه حتماً سحر زده کوم، نو ددې سړي ځخه يو نور ووزي او و اسمان ته پورته سي او دا هم ايمان او معرفت الهي وئ چې دده ولاړی، او نازل سي يو تور شی لکه دود او د هغه په غوږ او پزه او خوله ننوزي او دا هم دی غضب د خدای ﷻ او کفر چې په دې سړي کې داخل سو.

فَيَتَعَلَّمُوْنَ مِنْهُمَا مَا يُفَرِّقُوْنَ بِهٖ بَيْنَ الْمَرْءِ وَزَوْجِهٖ

نو طالبان د زدکړي د سحر زده کوي د هاروت او ماروت ځخه هغه شی سحر او جادو چې دوي په سبب د هغه سحر جلاوالی راولي په مابين کې د سړي او د مايني، يعني د مېړه او مايني دومره بغض او عداوت پيداسي چې اخر مفضي و طلاق ته وکړځي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوهه شه:- چې جمله د "فیتعلمون" عطف ده پر مقدر باندې تقدیر "فیأبون فیتعلمون" او ضمیر د جمع په "یتعلمون" کې راجع دی و مدلول ته "من احد" چې استغراق وۍ کمامر.

فائده:- خدای ﷻ ضرر د یو قسم د سحر ذکر کړی چې هغه تفریق دی بین المرء والزوجة ولې دا قسم سحر په خلکو کې غالب دی ورنه ساحران پر ډیر کارو په قدرت د خدای ﷻ قادر دي.

فائده:- عادت الهي په دې سره جاري دی چې مسببات وروسته تر اسبابو ظاهره وو پیدا کوي کالشبع عند اکل الطعام والري عقیب شرب الماء وامثان ذالک، نو دلته هم سحر سبب دی موثر نه دی بلکه خالق حقیقي د ضرر وغیره رب جل وعلا دی، او بعض مفسران رحمهم الله په تفسیر کې د "مایفرقون بین المرء والزوجة داسي وایي چې ساحر په میږه د بښې داسي یو سحر وکړي چې د ماینې پر جماع هغه قدرت نه لري نو اخر الامر ماینه له میږه طلاق وغواړي.

ډوډیشې وایي:- چې ماته په تجربه ثابته سوې ده چې بعض مړونه د ماینو څخه بند وي او ماته راغلي دي ما بعض شیان چې خدای ﷻ وماته بسولي دي ورکړي دي هغه سړی پر جماع د ماینې قادر سي او نزاع د میږه او ماینې چې د جماع له سببه وه دفع سي ولله الحمد وقد تکرر تلك التجربه مراراً کثیرة، په نصاب الاحتساب کې وایې که یو سړی له اصله عنین نه وي یعني د ماینې پر جماعو خو قدرت نه لري په سبب د سحر او په بل ځای کې قدرت پر جماعو لري مثلاً استمنا بالید، نو هغه سړی دې یو څه لرګي او نلان سره یو ځای کې او په مابین کې دې تېشه یاتبر ورکښېږدي او هغه لرګو ته دي اور ور واچوي حتی چې هغه تېشه یا تبر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لکه اور سور سي په يو انبر دي را وکاږي او د هغه پر تېره طرف يعني د تښې يا تبر دي بولي وکړي په قدرت د خدای ﷻ به د ماښې سره پر جماع قادر سي وهذا فائدة سنية .

وَمَا هُمْ بِضَآرِّيْنَ بِهٖ مِنْ اَحَدٍ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ

او نه دي دا ساحران او شيطانان ضرر رسونکي وهغه چاته مګر په اجازه د خدای ﷻ يعني په قضا او قدرت د خداي ﷻ ولي د اهل السنة والجماعة په نيز ټوله اسباب ظاهره دي عاديه دي يعني عادت د خدای ﷻ په دې سره جاري دی چې مسببات په اسبابو د هغو پيدا کوي ورنه قادر متعال پر دې قادر دی چې بېله اسبابو دي مسببات پيدا کړي كما معجزات الانبياء عليهم السلام كشق القمر ونطق الحجر والشجر والحيوانات العجم وغيرها لنبينا ﷺ .

فائده اعرابيه:- كلمه د من زائدة لاستغراق النفي، او "الا با الله" استثناء مفرغ يعني مستثنى منه يه محذوف دي او كلمه د "با" متعلقه ده په محذوف سره چې هه محذوف حال دی د ضمير څخه، ضارين والتقدير ما يضرون احدا الا مقرونا بعلم الله وارادته وقضائه لا بالامر لانه تعالى لايامر بالكفر و الاضرار، نو ساحر يسحرو الله تعالى يخلقه نو ګاهي خدای ﷻ د ساحر پر سحر مطلوب د ساحر مرتب کړي ابتلاءً اوګاهي نه کړي مرتب بلكه ګاهي ضد د مطلوب د ساحر پر مرتب کړي، كما جاء في مسيلمة الكذاب الساحر المدعي للنبوة في عصر النبي ﷺ چې ده ته يو سړی راوسته سو چې يوه ستركه يې ږنده وه چې دعا ورته وکړه چې دا ږنده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ستر گه يې جوړه سي، مسيلمه ملعون چې دعا ورته وکړه يعنې خپل سحري شيطان يې استعمال کړه د هغه سړي هغه جوړه ستر گه هم ړنده سوه

فائده:- په دې کې هيڅ شک نسته چې سحر تاثير کوي په زړه کې د خلګو په محبت ناجائز سره، او په پيدا کولو د بغض او عداوت په مابين کې د خلګو حتى بين الاب والابن وبين الاخ والاخ وهكذا حتى چې دا بغض او عداوت ګاهې مفضي سي وقتل و قتال ته، اوپه سحر سره غټ دردونه پرخلګو راوستول کېږي، او لوئ ناجوړې پر خلګو مسلطېږي وكل ذالك محسوس ومجرب، وفي روح البيان وان اردت التفصيل وحقيقة الحال فاستمع لما اتلو عليك من المقال وهو ان السحر اظهار امر خارق للعادة من نفس شريرة خبيثة بمباشرة اعمال مخصوصة يجرى فيه التعليم والتعلم وبهذين الاعتبارين يفارق السحر المعجزه والكرامة لانهما يكونان من نفس طيبة ولا يجري فيها التعليم والتعلم .

فائده:- غالباً هغه تاثير کونکی سحر بښځې هم کولای سي خصوصاً په حال کې د حيض، او هر څوچې کفر د ساحر د پاره يې هغونه د پاره او ژر تاثير کوي، او هم دا سبب دی چې د پاره ساحران کلام الله يعنې د قرآن کريم آيتونه په نجاساتو او وينو سره د بعض حيواناتو ليکي او لمونځونه هم نه کوي او روژې هم نه نسي، او د قرآن مبارك آيتونه په قاذوراتو کې اچوي، نو چې ساحران د غسې کفرې اقوال او اعمال وکړي نو شيطان ددوئ سره کومك کوي، او هره بښځه يا امرد چې د ساحر د زناء يا لواطت لپاره خوښ سي شيطان يې ورته راجلبوي .

فائده:- بعض ساحران د پير او د صوفي مرشد په صورت کې خان وخلګو ته معرفي کوي، او بعض خلګ وده ته حسن ظن هم لري، نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شیطان ګاهي د هغه ساحر د پیر او صوفي په رنګ پر عرفات باندي ځان په خلګو وویني خصوصاً هغه خلګ چې هغه ساحر پیر ته یې حسن ظن درلو دی، نو خلګ د هغه ساحر پیر سحر کرامت بولي، دوئ وایي چې پیر صاحب خو نه په وطن کې د حج عریضه کړې وه او نه یې پاسپورټ جوړ کړی وۀ او نه یې چاته ویلي وه چې زه حج ته ځم او دا دی په کرامت د اولیاء پر عرفات حاضر سو لا یې عقیده ورته راسخه سي، او هغه کسان چې له حجه راسي نو پیر ساحر ته ووایي چې ماخو ته پر عرفات ولیدلې پیر ساحر ځان پلن واچوي او و وایي چې داسي کارونه پېښېږي، وهذا من تلبیس الشیطان ددې معنی دا نه ده چې و اولیاء الله ته ورته ددغه کراماتو خدای ﷻ نه ورکوي. مثنوي

اولیاء راهست قدرت از اله • • • • تیر پرجسته بګرد اند زراه

بلکه معنی ددې دا ده چې ساحر ابلیس شیطان دی لیضل الناس.

پوښتنه:- چې اهل ضلال لره چې دوئ عبادت پر غیر د وجهي شرعي کوي کشف د بعض شیانو ورته کېږي چې دوئ هغه ځایو ته ورځي چې په هغو ځایو کې د لمانځه ځخه منع راغلې وي لکه مزبله یعنې د مردارېو اچولو ځای، اویا د اوښانو د چوکېدو ځای، او یا ورته وهغه نجسو ځایو ته، نو شیطان د دوئ سره خبري کوي، او ګاهي په شیطانان په بتانو د قریشو ننوتل او د عبادت کونکو سره د بتانو به یې خبري کولې کما ثبت في الاحادیث الشریفه، د حسن بصري ﷺ ځخه چا پوښتنه وکړه که یو سړي بل سړی ولیدی چې په هوا را الوتی وۀ دا نو ولي الله دی ؟ حسن بصري ﷺ ورته وویل چې دا خو حتماً د ولایت دلیل نه دی ولي چې مرغان ټوله په هوا الوزي دا اولیاء الله دي ؟ بیا هغه سړي پوښتنه ځندي وکړه چې یو سړی چې پر اوبو ځي او اوبه یې نه غرقوي او

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

نه يې وژني دا نو ولي الله دی ؟ نو حسن رحمه الله ورته وويل چې دا هم دليل د ولايت نه دی ولي چې ماهيان او چنګوبنې هم اوبه نه وژني، نو هغه سړي ورته وويل چې ستا په نيزد دليل د ولايت الهي څه شی دی ؟ حسن رحمه الله ورته وويل چې دليل د ولايت متابعت د شريعت نبوي ﷺ دی في الاوامر والمنهيات كلها .

دروېښ وايي:- چې دا توله حاصل وه د مكتوبات للامام الرباني مجدد الف ثاني قدس سره، او د آكام المرجان او روح البيان او د نورو كتابو. سعدي شيرازي رحمه الله

محال است سعدي كه راه صفا ■■■■■■ بيابی بجز در پی مصطفی

خواجه عبد الله انصاري رحمه الله څه ښه ويلي دي

اي طالب راه حق شده	از خطره د ر نپاه حق شده
اي گر بخواهي سوی حقيقت راه	بی شريعت مشو حقيقت خواه
تا شريعت نميكنی حاصل	د ر حقيقت نمی شوی كامل
با شريعت ره حقيقت جوی	ره تا ريک بي چراغ مپنوی،
تا ندا ني حلال وحرام	نشمرد كس ترا از اهل كمال،
ره اسلام شرع مصطوفيست	راه ايمان رشوم مرتضو يست

په روح البيان كي وايي چې علماء وايي چې كه په سحر كي رد وَ د يوه شرط د شرائطو څخه د ايمان كه قولي وي او كه فعلي وي كما مر بعضها، نو هغه سحر كفر دی او كه شرط د ايمان نه فوتېدی هغه كفر نه دی، دروېش وايي چې ګناه كبيره خو ده .

تنبيه:- هغه نومونه او منترونه چې په بعض كتابو كي په نامه د تعويزاتو راځي چې معنی د هغو الفاظو په عربي كي نه معلوميږي په

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

اتفاق د علماؤ هغه ممنوع او حرام دي ولي چي احتمال ددې سته چي د شرك الفاظ دي پكښې وي، او يا تعظيم د شيطانانو په كښې وي.

فائده:- په حديث مبارك كي راغلي دي ﴿من استطاع ان ينفع اخاه فليفعل﴾ نوځكه موږ وايو كه يو څوك دضرع په مرض يا د سر درد په مرضو مبتلا وي هل عالم وغيره ته روا ده چي يو شی د كتاب الله څخه او يا نورو ادعيه ماثوره وو څخه ور نوشته كړي او بيا يې په اوبو كي پرېمنځي او په مريض يې وڅښي، او يا يې ور په غاړه كي، او آيات قرآنيه او اسماء الهيه څېل تاثيرات عجيبه لري چي د اهل الله په ژبه وويل سي او يا نوشته سي په مريض وڅښل سي او يا ورپه غاړه سي، نو خداى ﷻ هغه مريض ته شفاء كامله او عاجله وركړي كما هو المجرب عند الاولياء والصلحاء، او اولياء الله ته خداى ﷻ بيا شيطان او جن مسخر كوي كما سخرهم لسليمان ﷺ او په تجربه صحيحه ثابته ده چي بعض كسان چي مصروع يعني پيرى پر مسلط وي د اهل الله په دم يا څانښت او تعويذ سره به خداى ﷻ هغه پيرى دفع كوي او طرد كوي او مصروع څندي خلاص سي، روح البيان مع زياده.

فائده:- حكم د ساحر قتل دى كه نر وي او كه ښځه وي كه يې فساد في الارض يا اهلاك د خلكو كوى، او كه يې سعي د كفر كوله نو كه نر وؤ قتل دې كړي او كه ښځه وه بندي دې كړل سي، ولي دغه ساحره ښځه خو په كفر عارضي سره كافره ده او حكم شرعي دادى چي ښځه چي په كفر اصلي سره كافره وي قتل يې نه دى روا لانها ليست من اهل الحرب نو چي په كفر عارضي سره كافره وي نو په طريق اولى قتل څندي مرفوع دى، او ساحر كه د مخه تر نيولو توبه وكښله توبه يې قبوله ده يعني نه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وژل کیږي. او که یې وروسته ترګرفتاری توبه وکښل توبه یې نه قبلیږي کما في الاشباه والنظائر.

مسئله:- هر کافر چې توبه وکاږي توبه یې قبلیږي **الا الکافر بسب** النبي ﷺ او بسب الشیخین ابی بکر ؓ و عمر ؓ او احدهما او یا کافر بالسحر ولو امراتاً

فروښې وایي:- چې دا حکم د عارضي کافر دی ددغو شیانو په کولو سره ولي کفارو اصلي وُ د مکې مکرمې ښکنځل وقرآن ته او وه من انزله ته چې خدای ﷻ دی او وه من جاء به ته چې علیه السلام دی کوله لکن چې توبه یې له هغه څخه وکښل یعنې ایمان یې راوړی توبه یې قبوله سوه، او زندیق که ونیول سو بیا هم توبه یې نه قبلیږي.

سوال:- زندیق چاته وایي ؟

ځواب:- زندیق هغه څوک دی چې اسناد د کارو و دهر ته کوي او نبوت او شرع منې کذا في آکام المرجان چې روح البیان والا یې په شان کې داسې وایي وهو الذي یکتب علی الاحداق لا علی الاوراق.

وَيَتَعَلَّمُونَ مَا يَضُرُّهُمْ وَلَا يَنْفَعُهُمْ

او خلک زده کوي د هاروت او ماروت څخه هغه شی یعنې سحر چې ودوئ ته تاوان دی ولي چې دوئ یې د عمل لپاره زده کوي او عمل یې کفر دی، او دوئ ته ددې په علم کې فائده نسته ولي چې علم به یې وعمل ته منجر سي، او صرف علم د سحر خو نه په دنیا کې فائده لري او نه په اخرت کې فائده لري قال، البیضاوي ؒ و فیه اشارة الی ان التحرز عن السحر اولی وفي التفسیر الرحماني لولم یکن في السحر کفر، ولا في

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

العمل به اعتقاد تاثير الكواكب او الشياطين لكان حق العاقل ان يتعوذ منه فكيف لا يتعوذ منه وفيه الاحتمالات المذكورة آه مع زيادة .

پښتو:- عاقل بايد په قول د هغه چا خطا نه وزي چې عرفت الشر لا للشر بل لتوقيه وهذا قولهم بافواههم يجرون به الناس الى تعلم السحر اولا ثم الى العمل به اخراً فهذا من خداع الشيطان الرجيم نعوذ بالله منه

وَلَقَدْ عَلِمُوا لَمَنِ اشْتَرٰىهُ مَا لَهٗ فِي الْاٰخِرَةِ مِنْ خَلَاقٍ ۭ

او په تحقيق سره خبر دي دغه يهود يعني په تورات کې چې څوک مخاره کړي سحر او بدل کړي يعني غوره کړي "ماتتلو الشياطين" پر کتاب الله باندې، نسته هغه لره په اخر کې هغه برخه يعني د نعمتو د اخرت .

پښتو:- چې لام د "لقد" جواب د قسم محذوف دی يعني و الله او لام "لمن اشتراه" لام ابتداء دی چې "علموا" يې له عمل څخه بند کړی او جمله د "لمن اشتراه آه" جواب د قسم محذوف دی، او "من" په من خلاق کې زائد دی لپاره د استغراق د نفي دی .

وَلَبِئْسَ مَا شَرَوْا بِهٖٓ اَنْفُسَهُمْ ۭ لَوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ۝

اي والله وبر بد دی هغه شی چې دوئ يعني يهود و خرڅ کړی دی لان الشراء من الاضداد په هغه سره خپل ايمانونه، او يا حظوظ انفسهم في الجنة، چې هغه شی سحر او کفر دی که دوئ يې په بدی پوهيدای يعني نو به يې بيعه نه کولای، او جواب د "لو" محذوف دی يعني "مافعلوه" چې دروښ هم دا اوس ترجمه وکړه .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه:- خدای ﷻ په تاکید قسمي سره ودوئ ته علم په قبح د عمل مذکور حاصل وبولی حیث قال لقد علمو آه، او په دې آیت کې یې څندې نفي کړی لدلالة لو الا متناعية عليه قيل في الجواب انهم لما لم يعملوا بعلمهم فكانهم لم يعلموا ذالک القبح، وقيل في المثبت لهم اولا العلم الاجمالي، والمنفي عنهم العلم التفصيلي وقال البيضاوي ﷺ لو يعلمون قبح فعلهم يقيناً وما يترتب عليه من عذاب النار يوم القيامة ابد الابدين مافعلوه، او حسن بصري ﷺ په جواب کې د سوال مذکور دا سې وایې چې علم پر دوه قسمه دی، یو هغه علم دی چې د زړه په اعماقو کې وي او د هغه سره عمل هم لازم دی وهوالمنفی عن اليهود ويقال له العلم النافع، او بل علم دی پر یوازې ژبه باندې فذالک حجة الله على ابن آدم رواه الدارمي وهو العلم المثبة لليهود، اول قسم د علم په دې آیت کې مراد دی ﴿انما يخشى الله من عباده العلماء﴾ او دې اول قسم ته اشاره په دې حدیث کې هم ده ﴿ العلماء ورثة الانبياء يحبهم اهل السماء ويستغفرلهم الحيتان في البحر اذا ماتوا الى يوم القيامة رواه البخاري عن انس والى العلمين اشار النبي خير البشر ﷺ خير الخيار خيار العلماء وشر الشرار شرار العلماء رواه الدارمي﴾

پوهه شه:- چې علامه د هغه علم چې اعماقو ته د زړه رسېدلې وي داده، چې مسارعت و اعمال صالحه وته کوي او عمل په قرآن مبارک او په سنت نبوي ﷺ سره کوي، او هغه علم چې اصولو ته د زړه نه وي رسېدلی علامه یې داده چې قول او عمل یې سره مخالف وي، قال المحقق ﷺ شعر

واعظان کین جلوه در محراب ومنبر میکند ❁ چون به خلوت میروند آن کار دیگر میکنند

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

پوه شئ:- چې یهودیان دوه قسمه دي یو قسم هغه وه چې څه یې هم علم تر اعماقو د زړو رسېدلی ؤ لکن چونکه حسد او عناد ورسره ملګری ؤ، نو څکه یې نتیجه د ایمان ورنه کړه الا ماشئ وندر کعبد الله بن سلام ؓ و اضرابه ؓ قال الله تعالی ﴿ یعرفونه کما یعرفون ابنائهم﴾ او بل قسم یې هغه وه چې علم التورات صرف او صرف ددوي پر ژبو ؤ کما قال الله ﴿ مثلهم کمثل الحمار یحمل اسفاراً﴾ بعض علماء وایې چې زیات والی د علم په عالم سوء کې داسې مثال دی لکه سړی چې مړغوني ته او به ډېر ورکوي، نو هر څو چې اوبه ډېرې ورکوي تریخ والی ډېر زیاتېږي، او مثال د هغه علم چې لپاره د کسب د دنیا وي او لپاره د تحصیل د جاه او جلال وي د هغه مثال داسې دی لکه یو سړی چې د سرو زرو په کاچغه غول خوري، نو وسیله خو ډېره شریفه وه لکن متوسل الیه ډېر خسیس ؤ قد ورد في الحدیث "من سره ان یعرف منزلته عند الله فلینظر کیف منزلة الله ﷻ في قلبه فان الله ینزل العبد عنده حیث انزله العبد من نفسه .

قال الشاعر

بروي ریا خرقه سهل است دوخت • • • وګر برخدای درفروشی نکوست

اللهم اوصلنا الی ماتحب وترضی و اجعل العقبی احب الینا من الدنیا، واخرج عن قلوبنا السمعآ والریاء وارزقنا من العمل مایوافق الشریعآ الغراء بجاه نبیک المجتبی ﷺ وصحبه اجمعین .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَوْ اَنَّهُمْ اٰمَنُوْا وَاتَّقَوْا لَمَثُوْبَةٌ مِّنْ عِنْدِ اللّٰهِ خَيْرٌ لَّوْ كَانُوْا يَعْلَمُوْنَ ۝

او که چېرې دوئ يعني اليهود المعاصرين ايمان يې راوړی واى پر محمد ﷺ او پر قرآن هر آينه ثواب له جانبه څخه د خداى ﷻ خير وٴ دوئ لره يعني تر هر جاه وجلال او مال وغيره که دوئ علم درلو دى يعني چې ثواب د خداى ﷻ خير دى .

لغت:- چې تنوين د مثوبةٌ لپاره د تقليل دى يعني لږ ثواب .

تفسير:- ثوب او مثوبة چې مصدر ميمي دى معنى يې رجوع ده جزاء الهي ته چې وايې ولې چې محسن رجوع او اميدوهغه ته کوي .

ترکيب:- "لمثوبة الخ" جواب د لو دى والاصل لاثيبوا من عند الله جزاء خيرا مما شرو به انفسهم اومن كل ماسواه، فحذف الفعل وجعل الباقي جملة اسمية ليدل على ثبات المثوبة والجزم بخيرتها لو آمنوا .

ترکيب:- مفضل عليه د خير محذوف دى للدلالة على العموم .

ترکيب:- جواب د "لو" محذوف دى يعني لآمنوا، وباقي الكلام فيه كالكلام فيما سبق من قوله تعالى ولقد علموا الى قوله لو كانوا يعلمون .

تفسير:- مراد د "امنوا" خو كما مر ايمان بالرسول، والقران دى او د "وتقوا" څخه مراد ترك د ټولو معاصيو دى التي من جملتها نبذ كتاب الله التورات واتباع كتب السحر .

تفسير:- بعض مفسران رح وايې چې كلمه د "لو" لپاره د تمنى ده او "لمثوبة" كلام مستانف دى، او دا تفسير ضعيف دى يو په دې سبب چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اصل په کلمه کې د "لو" شرط دی، او بل په دې سبب چې حقیقت تمنې خو پر خدای ﷻ محال ده فلابد من التاویل الی ان التمنی من جهة العباد فیه تکلف علی تکلف فانهم .

ترویښې وایي:- چې شان نزول د درسب ایت دادی چې ابن المنذر یې روایت کړی دی چې مسلمانانو او اصحابو کرامو ﷺ به ګاهې به علیه السلام ته وویل راعنا یعنې زموږ د پوهنې مراعات وکړه په خپلو خبرو کې یعنې دېرې چابکې خبرې مه راته کوه بلکه په تدریج سره خبرې راته کوه تاچې موږ په وپوهېږو، او بعض مفسران د "راعنا" ترجمه داسې کوي چې ته زموږ مراعت وکړه زموږ د پوښتنو په اورېدو کې چې دا پوښتنې موږ د بعضو مشکلو څایونو په باره کې کوو، په هر صورت دا لفظ په لغت کې او په ژبه کې د یهودو سخت بد ښکنځل وه چې معنی یې داوه "یا احمق" مشتق د "رعونة" څخه دی په معنی د حمق، نو دا کلمه چې یهود واورېده نو یې یو د بله سره وویل چې په خوا به موږ علیه السلام ته په پټه ښکنځل کول اوس بې مخامخ ورته کوو، نو چې علیه السلام په ګاهې خبرې کولې نو به دوئ ور ږغ کړه راعنا، او پټ پټ بې سره خندله نو سعد بن معاذ ﷺ د دوئ د خندا څخه په دې پوهېدی چې دا لفظ ددوئ په لغت کې بده خبره ده، نو یې یهودیانو ته وویل که چا ستاسې څخه وعلیه السلام ته راعنا وویل زه بې سره په ټوره خوځ کړم یهودیانو ورته ویل چې خو تاسې وایاست، فنزلت هذا الآیة .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا لَا تَقُوْلُوْا رَاعِنَا
وَقُوْلُوا انْظُرْنَا وَاسْمَعُوْا ؕ وَلِلْكٰفِرِيْنَ عَذَابٌ اَلِيْمٌ ﴿۱۰۴﴾

ای هغه کسانو چي ایمان یې راوړی دی، تاسي مه وایاست کلمه د "راعنا" او داسي وایاست یعني عند ضرورة عدم فهم کلام رسول الله ﷺ انظرنا یعني انتظر و تان بنا حتی نفهم کلامک، او یا معنی دا چي موږ ته وګوره او زموږ پوښتنه واوره، او تاسي خبري د علیه السلام اوریۍ په غور سره او په جمعیت د فکر حتی چي و "انظرنا" ته هم حاجت پاته نسي، او کافرانو لره یعني دغه یهودو چي دوئ به علیه السلام ته ښکنځل کوله او عمومي کافرانو لره چي دغه یهود هم پکښي داخل دي عذاب دی درد ناکه، او معنی د و "اسمعوا" داده چي تاسي نهي الهي د راعنا په ټینګه سره واورئ چي بیامو راعنا ترخوله ونه وزي.

فائده:- ددې آیت څخه دا وفهمیده چي سړی داسي الفاظ ونه وایي چي په هغو کي احتمال د تعریض پر بل چا وي، مثلا په یو مجلس کي یو په سر پلك سړی ناستوي، او یا داسي سړی ناست وي چي ماینه یې لږ مخ په بازارو کي ګرځي، یو بل د اهل مجلس څخه ووایي چي شکر دی چي خدای ﷻ په سر نه یم پلك کړی او پر سر یې بنه وښتیان راکړي دي، او یا ووایي ویو بل چا ته چي زه په ستر کي دومره ټینګ یم چي ماینه تر سرای د باندي نه پریږدم چي دا به په بازارو کي لږ مخ ګرځي وامثال ذالك، چي په پښتو یې خار بولي، وجه د حرمت یې داده چي په دغه ډول الفاظو ازار د مسلمان دی په ژبه سره، وقد قال رسول الله ﴿المسلم من سلم المسلمون من لسانه ویده﴾

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال:- علماء وایي چي لاباس بالمعاریض، وهو ان یتکلم الرجل بکلمة یظهر من نفسه شیئا ومراده شیئا آخر، یعني چي چاته یو خبره وکړي ومغه سړي یوڅه وربښکاره کړي او مراد دده بل شی وي ؟

ځواب:- دادی چي دا قسم تعریض هلته روا دی چي انسان ودرواغو نه مجبور سي نو په تعریض ځان له درواغو خلاصوي، او که چېرې ضرورت نه وي نو تعریض او تصریح دواړه ناروا دی، امثال التعریض الجائز ماجاء في الحدیث ان علیه السلام ومعه ابو بکر ﷺ وکان رجل آخر یطلب رسول الله ﷺ لیقتله وکان الرجل الآخر یعرف ابابکر ﷺ ولا یعرف رسول الله ﷺ فقال الرجل الآخر لابي بکر ﷺ من معک فقال ابوبکر ﷺ رجل یهدني السبیل، فاظهر ابو بکر ﷺ بهذا الکلام للرجل انه یهدني الطریق الظاهر من طرق الارض واراد ابو بکر ﷺ السبیل الی الله والصراط المستقیم فمثل هذا التعریض جائز للضرورة وامثال هذه التعاریض کثیرة في کل لسان ولغة وفیها مندوحة عن الکذب الصریح .

مَا يَوَدُّ الَّذِينَ كَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْكِتَابِ
وَلَا الْمُشْرِكِينَ أَنْ يُنَزَّلَ عَلَيْكُمْ مِنْ خَيْرٍ
مِنْ رَبِّكُمْ وَاللَّهُ يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهِ مَنْ يَشَاءُ وَ
اللَّهُ ذُو الْفَضْلِ الْعَظِيمِ ﴿١٠٥﴾

او خوښ نه لري او محبت نه لري هغه کسان چي کافران دي د اهل کتابو څخه یعني یهود او نصاری او نه هم مشرکین خوښ کوي چي نازل دي سي پر تاسي یعني محمد ﷺ چي هغه په اعتبار د اتباعو په ضمیر د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جمعي سره را ورډ سو، د يو خير څخه چي مراد څندي دلته وحي دي او خداى ﷻ خاصوي په رحمت سره خپل چي نبوت دى هغه څوك چي د خداى ﷻ اراده وي او خداى ﷻ مالك د فضل او احسان دى، يعنې بې علته او بې غرض والمقصود ان النبوت امر موهبي ليس معلول بعلة، حاصل د آيت دادى چې اهل كتاب په سبب د حسد علمى او په سبب ددې چي نبوت د اهل كتابو حق دى نوپر تاسي يې نبوت نه دى پېرزو، او مشركان په سبب ددې سادات او مشران د مكې خو مونږ يو نو بايد وحي الهى د مونږ څخه پر يوه نازلي سوي وايي، نو پر يتيم د ابي طالب ولي وحي نازل سوى ؟

نو خداى ﷻ د دواړو فريقو رد په دې سره چي وحي او نبوت په اهل كتاب والي سره او د قوم په سيادت پورې اړه نه لري بلكه دا يو رحمت فضل موهبي الهى دى.

پوهه شه:- چي لفظ المشركين پر لفظ د اهل الكتاب عطف دى او كمله د لازائده ده د پاره د تاكيد د نفي د وداد د مشركينو څخه او كلمه اولى د من لپاره د استغراق دنفي ده، او كلمه د من دوهم لپاره د ابتداء ده اى خيرا مبتدءً من جانب ربكم، او په دې آيت كي رد د قول د منافقانو ديهودانو هم وسو چي دوئ په خوله ويله چي مونږ خير او وحي او نبوت پر تاسي پېرزو دى، قال الله تعالى في حق المشركين ﴿لو لانزل هذا القرآن على رجل من القريتين عظيم﴾

ددوئ مراد د قريتينو څخه مكه مكرمه وه چي متمول سړى او د ډېرو تابعانو څښتن الوليدبن مغيرة وٶ، او بل طائف وٶ چي د هغه وطن شتمن سړى نعيم بن مسعود الثقفي وٶ.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده:- معتزله وایي چي هر شی چي اصلح او فائده منل وي د بنده هغه کار پر خدای ﷻ واجب دی، او په دې آیت کي پر دوئ باندي رد دی ولي چي خدای ﷻ خپل ځان ذو الفضل وباله ذو الفضل والاحسان هغه سړی بلل کېږي چي شی وچاته ورکوي چي پرده باندي لازم او واجب نه وي مثلا که یو څوك په خیرات کي چاته یو شی ورکړي هغه ته مفضل ویل کېږي او که د چا پور پرباندي وي او هغه پور ورکړي هغه متفضل نه کنړل کېږي کما هو الظاهر، وایضاً لازمیږي پر مذهب د معتزله وو چي خدای ﷻ پر علیه السلام باندي تر ابو جهل بالا فضل او احسان نه دی کړی ولي هر یوه ته یې هغه شی ورکړی دی چي پر خدای ﷻ واجب و،

فائده:- په دې آیت کي اشاره ودې ته هم راغله چي نبوت فضل الهي دی، او بعض خلګ چي له دې نعمت څخه محروم دي ددې سببه نه دی چي د خدای ﷻ په فضل کي تنګي سته په دې سبب دی چي په دې نه ورکړه کي د نبوت وبعض کسانو ته د حکمت الهي او مشیت کار فرمادی.

نقصان زقابل است وگرنه علی الدوام فیض سعادتش بهمه کس برابراست

شارح العقائد وایي:- که اصلح د عبد واجب وای پرخدای ﷻ نو بې پیدا کولای کافر فقیر چي هم معذب په دنیا کي وې په قسم قسم مرضو او په فقر او مسکنت او هم معذب په آخرت کي وې بالخلود في نار الجهنم وشرب الحمیم، ولي چي د اصلح لپاره یا عدم الخلق او یا په کوچني والي وژل دي او یا سلب العقل دی، او شارح العقائد زیاته کړې ده چي احسان د خدای ﷻ پر نبي ﷺ باید بالاوای تر احسان د خدای ﷻ د ابو جهل ملعون سره ولي چي معتزله پر دغه اصل دوجوب الاصلح پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای ﷻ باندې خدای ﷻ غایة خپل مقدور د علیه السلام سره او د ابو جهل لعین سره وکړی یعني الاصلح ومفسدة هذا ظاهر لکل ذي عقل که څوک تفصیل ددې مسئلې غواړي د شرح العقائد صفحه۷۵\۷۶ دي په غور سره مطالعه کړي او د شرح العقائد په صفحه نمبر (۶)کې داسې راغلي دي چې شیخ ابو الحسن الاشعري چې دده نوم علي دی او نسب نامه یې داده علي، بن اسماعیل، بن اسحاق، بن سلام، بن اسماعیل، بن عبدالله، بن ابي موسی الاشعري ﷺ صاحب رسول الله ﷺ او ابو موسی ﷺ اصلاً د یمن دی، وخپل استاد ابو علی الجبائي المعتزلي ته وویل چې ته څه وایه په هغو درې ورځو کې یو مطیع او مومن مړسو، او بل عاصي او کافر مړسو، او بل کوچنی مړ سو ؟

جبائي په جواب کې ورته وویل چې اول ته ثواب في الجنة ورکول کیږي، او دوهم ته عذاب النار في جهنم ورکول کیږي، والثالث یعني هغه کچني ته نه ثواب سته او نه عذاب یعني په جنت کې خو به وي لکن خادم د جنتیانو یعني د مور او پلار یا نورو قریبانو چې اهل الجنة وي، او ابو الحسن اشعري رحمه الله ورته وویل که دریم ورور یعني چې په کوچني والي مړ سوی خدای ﷻ ته وویل چې زه دي ولي تر لوی والي پرې نښودم چې لوي سوی وای ایمان به مي راوړی وای او استقلالاً لکه لویان جنتیان په جنت کې به ګرځېدای، اشعري رحمه الله ورته وویل چې خدای ﷻ په جواب کې څه ورته وویل، جبائي ورته وویل خداي ﷻ به ورته ووایي چې زه په تا خبر وم که مي ته لوي کړی وای ته کافر کېدې او په دوزخ که به وای نو تالره اصلح داوه چې په کچني والي مي مړ کړې .

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

شیخ اشعري رحمه الله ورته وویل که هغه دوهم ورور چې پر کفر مړ ووکه یې خدای ﷻ ته وویل چې په ما خو هم خبر وې چې کافر کېږې، نو زه به دې هم په کوچنیوالي وژلی وای، اوس به له عذابه د دوزخ خلاص وای، مالره خو اصلح د کوچنیوالي مرګ وو ؟ خدای ﷻ به څه ورته وایي.

فبهت الجبائي، یعني جبائي حیران سو چې اشعري ته اوس څه ووایم ترک الاشعري مذهبه الی آخر ماقال العلامة التفتازاني رحمه الله.

ژوپښې وایي:- چونکه مشرکانو به دا ویل چې محمد ﷺ یو وار اصحاب رضي الله عنهم خپل په یو کار سره امر کړي او بیا څو ورځې وروسته د هغه کار څخه یې منع کړي، نو معلومه سوه چې دی د ځانه دا خبرې کوي د خدای ﷻ له خوا نه دي نو دا آیت نازل سو.

مَا نَنسَخْ مِنْ آيَةٍ أَوْ نُنسِهَا نَأْتِ بِخَيْرٍ مِّنْهَا أَوْ مِثْلِهَا ۗ أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ ﴿١٠٦﴾

او هغه چې مونږ یې نسخ کړو د آیت څخه.

نو "من" بیان د "ما" دی، او کلمه د "ما" شرطیه ده، او یا مونږ هېر کړو د زړو څخه ستا او د حافظانو د هغه، نو مونږ راتګ کوو په خیر تر هغه آیت

پښتو ژباړه:- چې نَسأتِ جزاء د ما شرطیه ده، د خیر څخه مراد نفع د بندګانو ده او یا اساني پر دوئ ده، او یا ډېروالی د ثواب دی، او دا مراد نه دی چې یو آیت قرآني خیر دی تر بل آیت ولي ټوله آیتونه د قرآن کلام الله دی او ټوله خیر دی، او یا په مثل د هغه آیت راتګ کوو في الامور المذکورة، او ته نه یې خبر چې په تحقیق خدای ﷻ پر هر شي قادر دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه:- چې دا استفهام تقریري دی یعنې ته په دغه قدرت عظیمه د خدای ﷻ ښه خبر یې.

ځواب:- په دې آیت سره دفع سو هغه سوال متوهم د بعضو دښمنانو د قرآن کریم، چې قرآن کریم که خبر الهی او کلام د خدای ﷻ وای نو ولې بعض آیتونه د قرآن منسوخ کېدل، ولې چې د نسخ څخه خو دا معلومېږي چې ناسخ خیر دی تر منسوخ؟

وحاصل الجواب: چې هر یو د ناسخ او منسوخ خیر دی وفي النسخ حکمة الهیة کما سیأتی.

ځواب:- د نسخ دوې معناوي دي، یوه معنا نقل د شي دی کما فی نسخت الکتاب ای نقلته، او بله معنا یې زائلول او رفعه ده کما نسخت الشمس الظل ای ازالته ورفعته، والمعنی الثانی هو المراد ه.

پوښتنه:- چې نسخه په حقیقت کې بیان دی د خدای ﷻ له خوا چې د منسوخ آیت تعبد په قرآت سره پورته سو، که یې څه هم حکم باقي دی لکه آیت رجم ﴿الشیخ والشیخة اذا زنیا فارجموهما نکالا من الله﴾

حکم چې رجم دی باقي دی، او قرآت یې منسوخ دی، والمراد بالشیخ والشیخة المحصن والمحصنة، یعنې ماینه والا، او مېړه والا، او یایې تعبد بالتلاوة باقي وې مګر حکم یې پورته سو، لکه عدت دوفات د ښځې دمېړه چې په منسوخ آیت کې یو کال تاکل سوی وو، حکم د هغه آیت خو پورته سو په عدت د ښځې چې مېړه یې مړسي څلور میاشتې اولس شپې، مګر تلاوت د منسوخ آیت په قرآن کریم کې سته.

او یا حکم او تلاوت یې دواړه منسوخ سي کما ورد في الحدیث الصحیح چې د بعض صحابه کرامو ❊ یو سورت په یاد وو چې همېشه به

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

يې د تهجد په لمانځه کې وايه. يوه شپه چې راويښ سوه او اراده د قراءت د هغه سورت يې وکړه، هيڅ شی يې په ياد کې نه ورتلی، سهار چې يې د علیه الصلوة والسلام ته شکایت وکړی نو علیه السلام ورته وويل چې هغه سورت د ټولو د زړو څخه خدای ﷻ پورته کړی. يعنې سره د هغو احکامو چې په هغه سورت کې وه، او يا په بل حديث کې راغلي دي، چې سورت احزاب دونه وو لکه سورت بقره، نو اکثره حصه يې د احکامو سره پورته او منسوخ سوه.

پوښتنه:- چې نسخ ګاهې واسهل ته تر منسوخ وي، لکه عدت د وفات د مېرې د ښځې چې په ابتداء کې د اسلام يو کال و، او بيا منسوخ سو وځلور مياشتې او لس شپې ته، او په ابتداء کې د اسلام پر مسلمانانو فرض وه چې يو مسلمان به په جنګ کې د کفارو صبر کوی ولسو کافرانو ته، او هغه منسوخ سوه په صبر د يوه مسلمان و دوو کافرانو ته په جنګ کې، او ګاهې نسخ و اصعب او سخته تر منسوخ وي لکن ثواب يې ډېر وي، لکه فرضي روژه په ابتداء کې د اسلام يوه روژه د عاشورې وه، او بيا هغه منسوخ سوه درو روژو ته د ايام بيض په هره مياشت کې يعنې ۱۳، ۱۴، ۱۵، او بيا هغه منسوخه سوه وفرضيت ته د مياشتې د روژې متصل، لکن په داسې دول چې که څوک طاقت د روژې نيولو هم لري لکن فديه ورکوي هم روا ده، او بيا هغه منسوخه سوه په دې آيت ﴿فمن شهد منكم الشهر فليصمه﴾ يعنې قطين ته د روژې فديه ورکول نه دي روا، او يا داچې په ابتداء کې د اسلام مسلمانان مامور وه په ترک د قتال د کفارو، او هغه منسوخ سوه په فرضيت د قتال د کافرانو په آيت السيف سره يعنې ﴿قاتلوا في سبيل الله الآية، واقتلوا المشركين حيث وجدتموهم الآية﴾ او ګاهې نسخ ومثل ته د منسوخ وي لا اشق ولا اخف، لکه نسخ د توجه په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لمانځه کي وه بیت المقدس ته چې منسوخ سوه په توجه سره وبیت الله کعبې شریفې ته بقوله تعالی ﴿قد نری تقلب وجهک فی السماء الی ان قال فولوا وجوهکم قبل المسجد الحرام الآیة﴾

فائده:- بعض علماء وایي چې ددې آیت ځخه دا معلومېږي یعنې ﴿ناٰت بخیر منها او مثلها﴾ چې نسخه بېله بدله نه ده روا، او اثقل ته هم نه ده روا، او نسخ د کتاب الله په حدیث هم نه ده روا، ولې چې حدیث خو نه مثل د کتاب الله دی او نه خیر.

والجواب چې ګاهې عدم د حکم اصلح او اسهل وي، او ګاهې اثقل انفع وي من حیث الثواب کمامر فی الامثلة المذکورة، او حدیث مبارک خو هم مما اتاه الله تعالی دی، کما یدل علیه قوله تعالی ﴿وما ینطق عن الهوی ان هو الا وحی یوحی﴾

فروښتې وایي:- چې مزید تحقیق د نسخي او د مثال ددې په کتابو کې د اصولو د فقهې دي مطالعه سي وفیما ذکرناه کفایة ان شاء الله تعالی

فائده: پوه سه چې ابن کثیر رحمه الله او ابو عمر رحمه الله کلمه د "ننسها" په زور د نون اول او سین مکسوره وبعدها همزه وایي یعنې "نَنسِئها" چې معنا یې نوٌخرها مشتق د نساء په معنا د تاخیر ده، نو یې معنا داسې کوي ﴿نوٌخر حکمها ونرفع تلاوتها کما فی آیة الرجم وقد مر﴾ نو پر دې تقدیر نسخ اولاپه معنا د رفع د تلاوت والحکم ده، وقد مرمثالها، او بعض علماء ددغه قرائت ترجمه داسې کوي ﴿نوٌخرها فی اللوح المحفوظ یعنې لم ننزلها علیک﴾ نو پر دې تفسیر معنی النسخ الرفع بعد الانزال ده ومعنی النساء عدم الانزال ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

او باقي قاريان د قراءتو سبعه يې "نُنسِها" وايي يعني په ضمه دنون اول، او په کسره د سين بېله همزه يې وايي من الانساء يعني من باب الافعال مشتق د نسيان څخه دی چې ضد د حفظ دی کمامر مثاله من قصة سورة الاحزاب، وقصة ارادة بعض الصحابه ﷺ من قرائة بعض السور في الصلوة الليل آه .

ژوبڼې وايي:- دا وو تحقيق ددې آيت چې په تفاسير معتبره وو کې او په کتابو د اصول الفقه کې موجود وو ومن الله التوفيق، قال المعنوي جلال الدين الرومي في مثنويه رحمه الله .

رمز ننسخ او ننسها	نات خيرا د عقب ميدان مها
هرشريعت راکه حق منسوخ کرد	او گياه برد وعوض آورده ورد
اندرين شهر حوادث مير اوست	درممالک مالک تدبير اوست
آنکه داند دوخت او داند درید	هرچه را بفروخت نيکو ترخريد

ژوبڼې وايي:- چې په مطبوعه قرآن مجيدو په تولو کې قرآءت د باقي قراوو مرجوع دی، قال الله تعالى .

أَلَمْ تَعْلَمْ أَنَّ اللَّهَ لَهُ مُلْكُ السَّمٰوٰتِ وَالْأَرْضِ ۖ وَمَا لَكُمْ مِّنْ دُونِ اللَّهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيرٍ ﴿١٠٧﴾

آيا ته نه يې خبر او علم نه لرې ای محمد ﷺ چې په تحقيق خدای ﷻ لره ده بادشاهي او مالکيت د تولو اسمانو او مځکو، او نسته تاسي لره ای دلي د کفارو په وخت د نزول دعذاب الهي پرته له خدای ﷻ څخه نه قريب او نه مدد کونکي، چې له عذابه د خدای ﷻ تاسي خلاص کړي .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوهه:- چې د ولي او نصير تر منځ عموم وخصوص من وجه دی. چې ماده د اجتماع هغه قریب نسبي دی چې کومك يې دوسه پوره وي، او ګاهي د سړي قریب خو وي لکن کومك يې له وسه نه وي پوره، او ګاهي بېګانه سړی د سړي مدد او کومك وکړي.

پوهه:- چې دا آیت لکه دلیل پر هغه آیت دی ﴿ان الله علی کل شیئ قدیر﴾

فائده:- بعض مفسران وایي چې استفهام د الم تعلم آه استفهام تقریري دی، یعني د مدخول د لم نافیه تقریر او اثبات په مخاطب کې کوي، یعني ته علم لري پر دغه مضمون باندي، او بعض مفسران يې استفهام انکاري بولي یعني انکارد نفي څخه، نو نفي د نفي خو اثبات دی نو مقصود بیرته اثبات د علم دی فالمآل واحد، دروېش.

فائده:- اګرچه مخاطب بالذات خو علیه الصلوة والسلام دی کما یدل علیه کلمة المفرد یعني تعلم لکن مراد علیه الصلوة والسلام او ټوله مومنان دی، وانما اخص الخطاب به صلي الله علیه وسلم لانه اعلمهم ومبدا علمهم وعلی هذا، سوال د جمعیت د ضمیر د لکم نه وارد ېږي کما لایخفی.

پوهه:- چې په راتلونکي آیت کې د مفسرانو په شان نزول کې اختلاف دی، امام بغوي رحمه الله وایي چې دا آیت په شان کې د یهودو نازل سوی دی، چې دوئ وعلیه الصلوة والسلام ته وویل ته مور ته کتاب د اسمان څخه جملة واحدة راواړه لکه موسی علیه السلام چې تورات جملة واحدة راوړی، نو مور به پر تا ایمان راوړو، او د حضرت عباس رضي الله عنه څخه روایت دی، چې رافع بن حرمله او وهب بن زید و رسول الله صلی الله علیه وسلم ته راغله او ورته وه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يې ويل ﴿يا محمد ﷺ اتنا بكتاب تنزله علينا من السماء نقرئه او فجرلنا الارض عيونا نتبعك ونصرتك﴾ او بعض مفسرين رحمهم الله وايي چي دا آيت په باره كي د مشركينو نازل سوى دى، حين قالوا للنبي ﷺ ﴿لن نؤمن لرقيك حتى تنزل علينا كتابا نقرئه﴾

او مجاهد رحمه الله وايي چي قريش د مكې وعليه الصلوة والسلام ته وويل كه ته نبي برحق يې نو موږ ته د صفا غر سره زر كړه، نو موږ به ايمان راوړو، عليه السلام ورته وويل نعم لكن دا معجزه به لكه مائده د بني اسرائيلووي كه تاسي وروسته بيا هم پر كفر تېنګ واست، يعني عذاب استيصال به درباندي نازلېږي، نو دوئ وويل يا داسي نه غواړو فرجعوا .

او اسدي رحمه الله وايي چي عربو د مكې د عليه الصلوة والسلام څخه سوال وكړى ان ياتيهم الله فيروه جهرة فنزلت الآيه .

او بعض وايي چي قريشو د مكې وعليه الصلوة والسلام ته وويل لن نؤمن لك حتى تاتى بالله والملائكة قليلا .

أَمْ تُرِيدُونَ أَن تَسْـَٔلُوا۟ رَسُولَكُمْ كَمَا سُئِلَ مُوسَىٰ مِن قَبْلُ ۗ وَمَن يَتَبَدَّلِ ٱلْكُفْرَ بِٱلْإِيمَٰنِ فَقَدْ ضَلَّ سَوَآءَ ٱلسَّبِيلِ ﴿١٠٨﴾

پوهه شه:- چي كلمه دام متصله ده مقابل يې هغه همزه دى چي په دمخه آيت كي تېر سو يعني په الم تعلم آه، نو معنا يې داده چي ،

آيا تاسي نه ياست خبر چي خداى ﷻ مالك الامور دى، او امر او نهي كوي څرنګه چي يې اراده سي، ام تعلمون "لكن تاسي ناحق او بې خايه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوالونه کوئ، لکه یهودو چې د موسی ﷺ څخه یې څایه سوالونه کول مثلاً ﴿ارنا الله جهرة﴾ الی غیر ذالک، ان تسئلوا" چې تاسي سوال وکړئ د رسول څخه ستاسي چې محمد ﷺ دی.

پښتو ترجمه:- چې که سوال کونکي یهود وي کمامر فی شان نزول الآیة، او یا مشرکان وي، کمامر ایضا في شان نزول الآیة، نو اضافت د رسول چې علیه الصلوة والسلام دی، ودوئ ته ددې سببه دی چې د علیه الصلوة والسلام رسالت عام دی الی الاسود والاحمر والی الیهود والنصاری والمشرکین، او که چېرې سوال کونکي مسلمانان وي لکه چې په روح البیان کې وایي چې بعض مسلمانانو تفصیل د حکمت الهي په نسخ کې د بعض الآیات د علیه السلام څخه غوښتنې، نو اضافت د رسولکم وتوجیه ته ضرورت نه لري، نو ځکه روح البیان ددې آیت داسي ترجمه کړې ده، نو تاسي اراده لرئ ای مسلمانانو چې تاسي بېځایه سوالونه وکړه د رسول ﷺ څخه ستاسي، وانتم مؤمنون به کما سئل موسی الآیة، او روح البیان وایي والمقصود توصیة المسلمین بالثقة به ﷺ وترک الاقتراح علیه ﷺ ای السوال منه ع م بلا روية کما سئل آه.

ژباړه وایي:- چې دغه شان نزول چې روح البیان را وړی دی نورو مفسرانو نه دی تائید کړی. والله اعلم بالصواب.

پښتو ترجمه:- چې کلمه د ما په کما سئل مصدریه ده، او دا مصدر تشبیهي دی، او صفت د مصدر محذوف دی، ای سوالا مشبها بسوال موسی کذا فی روح البیان.

او بیضاوي رحمه الله احتمال د أم منقطعه چې په معنا د بَل آه دی هم راوړی دی، او سکاکي رحمه الله خو ویلي دي چې ام متصله په دې آیت کې نه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سي کپه‌ای، او ده ویلي دي چي علامه د ام متصله داده چي وروسته تر ام به مفرد وي او علامه د ام منقطعه داده چي وروسته تر ام به جمله وي او دلته خو وروسته تر ام جمله ده .

دروېښو وايي:- چي نور نحاة ددغي علامې چي سکاکي رحمه‌الله په فرق کي د ام متصله او منقطعه راوړې ده انکار کوي، او دوئ وايي چي سره د وقوع د جملې وروسته تر ام هم ام متصله کېدای سي والعلم عند الله.

صاحب روح البیان وایي چي اکثر مفسرین رحمهم الله پر دي دي چي چي سبب د نزول د آیت یهودیان دي قال الله تعالی ﴿یسئالک اهل الکتاب ان تنزل علیهم کتابا من السماء الآیة﴾ وقال واضافة الرسول الیهم لانهم من امة الدعوة وان لم یکونوا من امة الاجابة وقال ومعنی تبدل الکفر بالایمان ترک صرف قدرتهم الی الایمان مع تمکنهم من ذالک وایثارهم للکفر علیه، وقال الامام الرازی رحمه‌الله فی التفسیر الکبیر وهذا اصح لان الآیة مدنیة، بلکه، دا سورت د اول ددې قول د خدای ﷻ ﴿یابني اسرائیل اذکروا نعمتي آه﴾ حکایت دی له یهودو څخه او دلائل دي ددوئ سره .

دروېښو وايي:- چي صاحب د روح البیان د خپلي سابقه رایي څخه رجوع وکړه، یعني چي شان نزول ددې آیت مسلمانان دي کما مر عنقریب.

نو دروېښو وايي:- چي خدای ﷻ لره دي حمد وي چي دروېښ د مخه لا وویل چي نور مفسران رحمهم الله د روح البیان هغه مخني رایې په شان نزول کي ددې آیت نه دی تائید کړي، او هغه د مخني فکرو په شان نزول کي ددې آیت چي سائلان قریش د مکې وه په حیز کي ده خفا پاته سوه، والعلم عندالله .

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

ژوبنه وایي:- که چېري شان نزول د آیت مزید استکشاف د مسلمانانو وایي د علیه السلام څخه په باره کي د حکمت د نسخ لا الانکار عن النسخ کما قاله صاحب روح البیان من قبل لم یکن لقوله تعالی ﴿ومن یتبدل الکفر بالایمان الآیه﴾ معنی لان مجرد استفسار المسلمین عن مزید کشف حکم النسخ لیس کفرا بل الکفر هو الانکار عن النسخ ولم یقصد المسلون الانکار عنه بل طلبوا العلم بتفصیل حکم النسخ، وهذا مثل سوال المتعلم عن المعلم مزید کشف المسئلة المغلقة، وکان عادة الصحابة ﷺ فیمالم یفهموه السوال عن رسول الله ﷺ فافهم واستقم، وعندی لعل هذا کان سبب رجوع صاحب روح البیان عن رائیه سابق فی بیان شان النزول والعلم عندالله.

فصل:- دروښ وایي چي ټوله بدبختي او انکار له نبوت څخه د آنحضرت ﷺ چي معاصرانو یهودو ته د عصر نبوي ﷺ پېښي سوي دي د لاسه څخه د علماؤ ددوئ پېښي سوي دي، ولي علماء ددوئ جاه طلبه، ریاست طلبه، دنیا طلبه وه، حسد درلودونکي وه، نو څکه نبوت خجسته مبارکه او ښائسته حلیه چي د آنحضرت ﷺ ددوئ په کتاب تورات کي وه دوئ یا پټه کړه او یا یې بدله کړه، ولي دوئ بېرېدل که چېري مور حقیقت حال د نبي آخر الزمان ﷺ چي په تورات کي موجود دی بیان کړو نو یهود به ټوله په دین محمدي ﷺ کي داخل سي، او زمور ریاست، جاه او جلال او نقود چي مور به د عوامو څخه اخسته یا د زکوات یا د خیرات په توګه نو هغه به زمور له لاسه ووځي، نو دغه دي علماء سوء د ملت یهودیه، او باید سړی پوه سي د ورته علماء سوء څخه هیڅ اهل ملت او دین خالي نه دی حتی ملت الاسلام، په دې باره کي ۳۳ مکتوب د دفتر اول د مکتوبات

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

قدسي ایات د امام رباني مجدد الف ثاني قدس سره ص ۹۳۱۹۲ ملا حظه کړئ.

علماء سوء که بمحبت دنیا گرفتار اند وعلم را وسیله حصول دنیا ساخته اند آن علماء را رغبت دنیا ومحبت آن کلف چهره جمال شا نست (یعني داغهای سیاه) خلائق را اگر از ایشان حصول فوائداست اما علم شان درحق ذاتهای ایشان نافع نیامد هرچند تائید شریعت وتقویت ملت برایشان مرتب است. اما گاه است که این تائید وتقویت از اهل فجور واربابِ فتور هم مي آید، چنانچه سیدانبیاء ﷺ درتائیدآن مرد فاجر خبر داده اند ﴿ان الله یؤید هذا الدین بالرجل الفاجر﴾ (یعني گاهي) در رنگ سنگ پارس اند که مس وآهن هرچه باو رسد زر گردد واو في حد ذاته بر حجریت خود است، وهچنین آتشي که در سنگ وني مودع است عالم از آن آتش حصول منافع است، اما آن سنگ وني از آتش درونې اند، بلکه گویم که این علم درحق ذوات شان مضر آید، که حجت را برایشان تمام ساخت ﴿ان اشد الناس عذابا یوم القیامة عالم لم ینفعه الله ﷻ بعلمه﴾

ژوبنه وایي: - چي دا حدیث نبوي ﷺ چي ابن عساکر له ابو هریره رضي الله عنه روایت کړی دی، او مراد د لم ینفع الله آه څخه دادی چي په علم یې عمل نه وي کړي، او په حدیث شریف کي راغلي دي ﴿للجاهل ویل وللعالم سبعین ویلا﴾ یعني جاهل او امي چي ګناه وکړي ده لره په هغه ګناه کي یو ویل دی، او هغه ګناه چي عالم وکړي هغه لره اویا (۷۰) ویله دي.

چگونه مضر نباشد علمیکه نزد خدا عزوجل عزیزاست واشرف موجودات آن را وسیله دنیای دنیه از مال وجاه ورياست ساخته اند، وحال انکه دنیا نزد حق تعالی ذلیل وخوار است وبد ترین مخلوقات.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ژوبښې وایي:- چې په حدیث کې چې روایت یې احمد، ترمذي او ابن ماجه رحمهم الله کړی دی داسې راغلي دي ﴿قال رسول الله ﷺ لوکانت الدنیا تعدل عند الله جناح بعوضة ماسقی کافرا منهاشربة﴾

ژباړه:- که دنیا برابره وای په دربار کې دخدای ﷻ د وزر سره د غوماشي، وکافر ته به خدای ﷻ نه وای ورکړې یوه غړپ.

پس عزیز خدا را عزوجل خوار ساختن (یعني علم) وذلیل او یعني دنیا عزت دادن غایت مستقبح است وفي الحقیقة معارضه است بحق سبحانه وتعالی، ودر تدریس وافتاء وقتي نافع آید که خالصا لوجه الله سبحانه باشد وانر شائبه حب جاه ورياست وحصول مال ورفعت خالي باشد، علامة این خلو زهد در دنیا است وبي رغبت بودن است انر دنیا ومافیها علما نیکه بدین بلا مبتلا اند، وبه محبت این دنیا گرفتار اند علماء دنیا اند ایشانند علماء سوء وشرار مردم ولصوص دین، وحال آنکه ایشان خود را مقتدای دین میدانند وبهترین خلائق مي انگارند، **ویحسبون انهم علی شیئ الا انهم هم الکافرون استحوذ علیهم الشیطان فانساهم ذکرالله اولئک حزب الشیطان الا ان حزب الشیطان هم الخاسرون﴾**

ژوبښې وایي:- چې دا ایت په علماء سوء کې د یهودیانو که څه هم نازل دی لکن العبرة لعموم اللفظ لالخصوص المورد.

عزیزي (یعني یك از اکابردین) شیطان لعین را دید (یعني بخواب) که فارغ نشسته است از تضلیل واغواء خاطر جمع ساخته آن عزیز سر آنرا پرسید (یعني چې ته ولي داسې خاطر جمع یې) لعین گفت که علماء سوء این وقت درین کار بایشان مدد عظیم کرده اند ومرا ازین مهم فارغ ساختند والحق درین زمان هر سستي ومداهنتي که در امور شرعیه واقع شده است وهر فتوري که در ترویج ملت ودین ظاهر گشته است همه از

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شومي علماء سوء است وفساد نيات ايشان اند علماء كه از دنيا بي رغبت اند واز حب جاه وريا ست ومال ورفعت ازاد از علماء اخرت اند، وورثه انبياء اند عليهم الصلواة والتسليمات، وبهترين خلائق ايشانند، كه فرداي قيامت سياهي ايشان (يعني هغه سياهي چي دوئ په هغه سره شرعي كتابونه نوشته كړي وه) بخون شهداء فى سبيل الله وزن خواهد كرد وپله سياهي خواهد چربيد (يعني د سياهي پله پر وينو د شهداو به غالبه راسي)

ونوم علماء عبادة در شان ايشان متحقق است، ايشانند كه جمال اخرت در نظر شان مستحسن آمده، وقباحت دنيا وشناعت آن مشاهد گشته آنرا بنظر بقاء ديدند واين را بداغ فنا متسم يافتند لاجرم خودرا بباقي سپردند واز فاني باز داشتند شهود عظمت آخرت ثمره شهود عظمت جلال لايزال است، وذليل داشتن دنيا ومافيها از لوازم عظمت آخرت است، لان الدنيا والآخرة ضرتان ان رضيت احدهما سخطت الاخرى، اگر دنيا عزيز است آخرت خوار است، واگر دنيا خوار است آخرت عزيز است، جمع اين دو امر از قبيل جمع اضداد است، مااحسن المدين والدنيا لو اجتمعا (يعني شاعر جمع دين ودنيا بكلمة لو امتناعي آورده)

دا وو مكتوب د امام رباني رحمه الله چي ملا محمد لاهوري صادر كړى و

تشريحات

دروېش وايي:- وايي چونكه حضرت مجدد عليه الرحمه په بيان د علماء سو يعني علماء الدنيا او علماء زهاد يعني علماء الآخرة فرق كړي دي، نو دروېش په دې باب كي يو څو پوښتني مطرح كوي، تاچه د علماء دنيا او د علماء الآخرة پوره تميز وسي۔

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال:- یو عالم دی عیالداره د عیال د نفقې لپاره بلا اسراف یو دکان را ایستلی وی، چې د هغه په وسیله د عیال نفقه برابروي او د سوالد او فقر څخه پر اغنیاء خپل آبرو یې ساتلې وي، او که یې په دکان کې زکوات لازم سي هغه ورکوي، آیا دا عالم الدنیا او په بل عبارت د علماء سوء څخه دی او که څرنګه ؟

ځواب:- دا د زهادو علماء الآخرة څخه دی، ولي چې نفقه د عیال فرض ده، نو دا دکانداري دده عین عبادت دی، الکاسب حبیب الله حدیث نبوي ﷺ دي.

سوال:- یو عالم چې د عیال لپاره یو سر پناه سرای رانسي، او د هغه لپاره کوشش کوي بېله سواله او بېله اسرافه، دا عالم الدنیا دی اوکه عالم الآخرة ؟

ځواب:- دا عالم الآخرة دی ولي چې په فقه شریفه کې وایي چې څوك چې بالانقدي روپۍ تر مسکن او اثاث البیت لري، نو په هغو کې زکوات سته او که بالابود نقود یې نه درلوده نو پر هغه باندې زکوات نه سته .

سوال:- یو عالم دی عیال داره، نو دی امامت په تنخواه کوي، او یا تعلیم القرآن، یا په یو مدرسه کې درس په تنخواه ورکوي بېله دې چې دی طالب الریاست والجاه والجلال او یا مرائي وي، ټنو دا عالم د کومې ډلې څخه دی ؟

ځواب:- د متقدمینو فقهاء رحمهم الله په نزد اخذ الاجرة پر دغو کارو ناجائز دی، او متاخرینو فتوی د جواز ورکړې ده .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

صاحب د شرح الوقایه یې علت دا بولي لظهور التواني في امور الدین، یعني پخوانیو عوامو او اغنیاوو د امام مسجد یا مدرسانو د مدرسې ضروریات پېله اشتراطه ورپوره کول نو اشتراط یې حرام و.

لکن په اوسنۍ زمانه کې چې اغنیا او عوام پست همته سوه چې د عالم او مدرس و ضروریاتو ته نه ګوري چې شرط یې نه کړي، نو د مجدد رحمه الله په نیز دا عالم الدنیا دی او عالم الآخرة نه دی کما یظهر من قوله وتدریس و افتاء وقتی نافع آید آه، او په نیز د متاخرینو د فقهاء دا مزدوري او تنخوا اخستل منافي ده زهد نه دی لان الضرورت تبیح المحظورات.

سوال:- یو عالم چې تجارت کوي، او په تجارت حریص هم وي نه لپاره د قصور عالیه فوق الحاجة د جوړولو په نیت، یا د ډېر قیمت د سپور والي د لنډ کوزر، پیجارو وغیره د رانیولو په نیت، بلکه په دې نیت حریص وي چې د اقرباؤ سره به صله رحمي، او یا د طالبانو د مدارسو دینیه سره به مرسته په وکړم، او یا په بناء د مسجد کې به یې صرف کړم، او یا د یتیمانو، کونډیانو سره به کومك وکړم او داغسې هم کوي، نو دا عالم زاهد او د علماء څخه د آخرت دی او که څرنګه؟

ځواب:- که ریاء او سمعه نه وي په ګډه، دا خو تولي لازي د خیر دي او په قرآن مبارك او په حدیثو مبارکه وو کې ماموربها یا وجوبا یا استحبابا هم دي، نو داسې عالم د شرائطو مذکوره وو په مراعات پېله شکه او شبهې د علماء څخه د آخرت دی، او زاهد عالم دی.

سوال:- بعض اهل الله دهر متمول او د شتمنۍ خاوندان وي، لکه خواجه عبیدالله احرار رحمه الله، آیا دغه شتمني او اموال کثیره دده زهدته تاوان رسوي او که څرنګه؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ژباړه:- حب الدنیا چې په شان کې یې دا حدیث مبارک راغلی دی ﴿حب الدنیا راس کل خطیئة﴾ هغه محبت قلبي صفت دی، علامه یې داده چې حلال او حرام فرق نه پر لري، او په لازو کې د خیر یې نه صرفوي، او په حرامه لاز کې یې په محبت صرفوي، مثلاً که یو سائل او یا د محل سړی یې د پر مسکین وي، او دی په خپر هم وي، او هغه دده څخه خیرات یا زکوات وغواړي دی صرف خدای ﷻ دې درکړي ورته ووایي، او چې د زوي واده یې سي نو په لوي هال کې د پر پسونه حلال کړي، او شوقیان غزل چیان را وغواړي، او تر سهاره پوري ساز او صحبت جاري وي، او فساق وفجار ټوله پر راجمعه وي وغیر ذالك من الامور الشیطانیة.

او چې دا علامې نه وي پکښې، بلکه صرف دا اموال په سبل او لازو کې د خیر صرفوي طلبا لرضاء الله تعالی هغه اموال کثیره دده وزهد ته تاوان نه رسوي، بلکه صرف فی سبل الخیریه لازهد ټینګوي، نو کوم اولیاء الله چې شتمن وي هغه د علماؤ څخه د آخرت دي، او زاهد علماء دي، لکه نومورې خواجه رحمه الله چې همدغسې قلبي زهد او عدم المحبة یې درلودی، چنانچه عارف جامي رحمه الله په شان کې د نومورې عارف او ولي الله په باره کې داسې ویلي دي.

چون فقرا اندر قبای شاهي آمد ✻ ✻ ✻ به تدبیري عبیدالله آمد

پوهه شه:- چې وروسته تر غزاء د احد چې مسلمانانو ته لوي هزیمت ورپه برخه سو، او اویا (۷۰) نامورې صحابه کرام ﷺ په غزاء کې جام د شهادت فی سبیل الله نوش کړی، نو بعض یهودیانو وحذیفه بن الیمان ﷺ او عمار بن یاسر ﷺ ته وویل که تاسې پر حق دین وای نو دومره لوي شکست به مو ولي په برخه کېدی، نو اوس لاوخت دی زمونږ په دین

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یهودیت کي داخل سی. او په دي باید پوه سی چي صورِ پر حق دین یو، فنزلت هذه الآیة

وَدَّ كَثِيرٌ مِّنْ أَهْلِ الْكِتٰبِ لَوْ يَرُدُّونَكُمْ مِّنْۢ بَعْدِ إِيمَانِكُمْ كُفَّارًا

او خوښه لري دِبر د اهل الکتاب یعني یهود چي تاسي رد کړي ددین اسلام څخه وروسته تر ایمان ستاسي کافران

فائده:- یهودو چي عمار بن یاسر او حذیفه بن الیمان ﷺ ته دعوت د یهودیت ورکړی، نو عمار ﷺ وهغو ته وویل ""کیف نقض العهد فیکم"" څرنګه دي د وعدې ماتول په تاسي یهودو کي ؟

هغو ورته وویل چي لویه ګناه ده، نو عمار ﷺ ورته وویل چي ما عهد کړی چي زه به کفر په علیه الصلوة والسلام سره څو زه ژوندی یم نه کوم

نو یهودو وویل چي عمار خو زمونږ له دینه ووتی په داسي ډول چي بیا د رجوع زمونږ ودین ته امید هم ورته نسته ""فکیف انت یا حذیفه الا تبایعنا"" نو ته څرنګه ای حذیفه زمونږ سره بیعت د یهودیت نه کوې ؟

حذیفه ورته وویل ""رضیت بالله ربا، وبمحمد نبیا، وبالاسلام دینا، وبالقرآن اماما، وبالکعبة قبلة، وبالمؤمنین اخوانا"" نو یهودیانو ودوی ته وویل ""واله موسی لقد اشرب في قلوبکم حب محمد"" قسم په خدای ﷻ د موسی دی چي ستاسي په زړو کي محبت د محمد ﷺ څښل سوی دی نو بیا عمار او حذیفه ﷺ دا واقعه او قصه و علیه الصلوة والسلام ته وکړه نو علیه الصلوة والسلام ورته وویل ""اصبتما خیرا وافلحتما""

لغوي تحقیق:- چي کلمه د لنو وروسته تر فعل چي راسي د حروف مصدریه څخه ده، او معنی د تمنی څندي فهمېږي، او د کفارا معنا دلته

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

داده "مرتدين عن دين الاسلام" او حال دی له ضمير څخه د مفعول په يردونکم کي، او يا مفعول ثاني دی که يردونکم متضمن کړئ معنی لره د يصيرونکم.

فائده:- کلمه د لو" که څه هم مصدريه ده لکن صرف په معنی کي د فعل تاثير کوي يعني فعل په معنا د مصدر کړخوي، او په لفظ کي تاثير نه کوي يعني عمل د لفظ آن مصدريه نه کوي، ځکه نون يې په يردونکم که نه دی حذف سوی، كذا في البيضاوي، وروح البيان، والمظهري وغيرها من كتب التفاسير.

حَسَدًا

مفعول له لقوله ود، يعني دغه وداد د دوئ له جهته د حسد دی ستاسي مسلمانانو سره يعني نه له سببيته د ديندارۍ "والميل الى الحق ولو على زعمهم" لکه مورږ مسلمان چي دا خوښه لرو چي کافران ټوله مسلمانان سي لکن نه له جهته د حسد ددوئ سره بلکه له جهته د ميل الى الحق وهو دين الاسلام او له جهته څخه دزړه سوي پر دوئ باندي نو زمورږ دا دعوت و د ين اسلام ته عين محبت او دوستي ده د دوئ سره او دا حق دين مو پر دوئ پېرزو دی.

مِّنْ عِندِ أَنفُسِهِم مِّن بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُمُ الْحَقُّ

پس له دې څخه چي حق ودوئ ته بنکاره سو يعني حقوالی ددين د اسلام په معجزاتو باهراتو سره د عليه الصلوة والسلام او په نعتو سره دده ﷺ في التورات ""من عند انفسهم"" متعلق دی د يود سره يعني، وداذا ناشئا من انفسهم لا لاجل مراعات دينهم، او يا متعلق دی د حسدا سره يعني ددوئ حسد ناشي دی د اعماقو څخه د زړو لا باللسان فقط.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

فَاعْفُوا وَاصْفَحُوا

پوه شه:- چې د عفو معنا داده چې دوئ ته عذاب مه ورکوئ، او تاسي صفح يعني روي ګردانې خندي وکړئ يعني په ژبه سرزنش مه ورکوئ، او دېره ملامتيا مه پروا ياست، نو ترك د عذاب چې د عفو معنا ده ترك لره د صفح نه دی مستلزم، ولي ګاهي چې زوئ د سړي مثلاً يو بد کار وکړي چې د هغه کار کولو په سبب زوئ مستحق د ضرب او کوب وي لکن پلار يې تر هغه ورتېر سي مګر په خوله ملامتيا پر وايي، فلا يرد ان العفو والصفح واحد او يستلزم احدهما آخر فافهم.

حَتّٰى يَأْتِيَ اللّٰهُ بِاَمْرِهٖ

تر هغو چې خدای ﷻ راتګ کوي پخپل امر سره يعني په باره کې د يهودو.

پوه شه:- چې مراد د امر څخه د خدای ﷻ حکم دی، د خدای په جنګ سره د يهودو او پر دوئ جزيه اچول، او يا قتل عام د بني قريضه وو دی او جلا وطن کول د بنو نضير دی.

پوه شه:-چې صحابه ﷺ وو د عليه الصلوة والسلام څخه اجازه وغوښتل چې دغه يهود چې عمار او حذيفه ته يې دعوت د کفر او يهوديت ورکړی وو مړه کړي، نو دا آيت "" فاعفوا آه"" نازل سو.

اِنَّ اللّٰهَ عَلٰى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيْرٌ ﴿١٠٩﴾

روښنۍ وايي:- چې اول عصيان چې چا د خدای ﷻ څخه کړی دی هغه حسد او کبر دی چې د ابليس څخه صادر سو "" حين امره الله جل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ذکره بالسجود الی آدم ﷺ ، نو ابلیس د آدم ﷺ سره یې پر دې رتبه عالیه چې و آدم ﷺ ته یې ورکړه حسد پیدا سو او بل یې ځان تکبرا تر آدم ﷺ لوړ وبالله "" ابا واستکبر. د حسد په باب کې بعض الهي پوهان وایي چې حاسد د خدای ﷻ سره په مبارزه کې دی د پنځو وجهو څخه.

(۱) اول دا چې دی مبغوض بولي هر نعمت د خدای ﷻ چې دده محسود ته یې ورکړی دی .

(۲) دوهم دا چې دی ددې تقسیمه څخه ناراض دی، یعنې ولې یې ومحسود ته پلانی نعمت ورکړی دی .

(۳) دریم دا چې نعمت الهي فضل الله یؤتیه من یشاء او حسد د خدای ﷻ په فضل سره بخل کوي .

(۴) څلورم دا چې حاسد د ابلیس خصوصي معاون دی په حسد کې .

(۵) پنځم دا چې د هغه ولي الله سره چې خدای ﷻ وهغه ته کرامت د نعمت کړی دی حاسد یې مبغوض بولي، یو محقق وایي

هم یحسدونني وشر الناس کلهم من عاش في الناس یوما غیر محسود .

حکایت:- یو خوږ ژبی سړی به د باچا دربار ته همېشه ورتلی، او د لږ خوږو خبرو څخه علاوه به یې هره ورځ شاه ته دا ویل "" احسن الی المحسن باحسانه فان المسئ سیکفیه اسائته"" یعنې ته د مخلص سړي سره په سبب دده د اخلاص ښه کوه، ولې بدکاره سړی به خدای ﷻ رد کړي پخپلې بدکارۍ سره، نو شاه دا سړی په سبب دده د خوږو خبرو ډېر نازوی، او د شاه د چوکۍ سره اوله چوکۍ دده اینښوول کېده چې دا چوکۍ باید د لوئ وزېر وای، نو د شاه یو لوئ وزیر ددغه سړي سره حسد پیدا سو، نو یې دا حیله ورته وسنجول، چې یوه ورځ یې هغه سړي ته وویل چې ته سهار وختي زما مهمان خصوصي یې هغه سړي قبوله کړه. او سهار وختي د هغه وزیر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کره ورغلی هغه وزیر هر شی چې پښ کړی و فوق العاده وړه یې ور اچولې وه، او د پیازو څخه یې سلاته جوړه کړې وه. هغه سړي هم په مزه مزه هغه ټوله خواړه وخوړل. چونکه د دربار شاهي وخت لا نه وو، نو هغه سړي وزیر ته وویل چې زه به اوس کور ته ولاړ سم، او د دربار شاهي پر وخت به دربار ته درسم. وزیر ورته وویل چې یوه خبره پیاد لره چې پر هغه خپل چوکی چې شاه ته نژدې ته! چې کښېښنې، نه باید چې ستا د خولې بد بویي پر شاه ولاړه نه سي چې ډېر به دې سخت بې عزته کړي، او احتمال سته چې اینده به دې له دربارہ منع هم کړي، سړي ورته وویل چې ښه دی، نو هغه سړی کور ته ولاړی او وزیر حاسد قبل الوقت شاه ته ورغلی چې ته دا سړی دومره نازوې او هغه هرڅای وایي چې د شاه د خولې بوی ځي. او دی ما خان ته نژدې کښېنوي او ډېر ورسره په عذاب یم. شاه ته ډېر درد ورغلی نو یې وزیر ته وویل چې ستا د خبرې تصدیق به زه په څه سره کوم؟ وزیر ورته وویل چې نن دده چوکی ډېره تر پخوا خان ته نژدې کښېږده بیا وګوره چې دی څه کوي، نو څه وخت چې دربار جوړ سو او شاه پر خپل تخت او چوکی کښېنستی او هغه سړی راغی هغه بې چاره ډېر لېرې د شاه څخه پر بله چوکی کښېنستی، شاه ورته وویل دلته نژدې راسه، دی چې نژدې ورغلی د خپلې خولې د بد بووي له سببه یې پر خوله او پزه یو دسمال ونیوی، نو د شاه یقین سو چې د وزیر خبره رشیتا وه، رفته رفته چې شاهي مجلس پر ختمېدو سو شاه کاغذ را واخستی خط یې پر نوشته کړی او شاهي ټاپه یې پر ولګول، او هغه سړي ته یې وویل چې ته کښېنه. نور وزیران چې ووتل هغه خت یې وده ته ورکړی چې دا فلاني والی ته ورسوه، شاه په کاغذه کې نوښته کړي وه وخپل والي ته چې حامل رقعي هذه چې درغلی سړی یې پرې کړه پوست یې وکاږه د پروړو یې ډک کړه ماه ته یې را واستوه، د چا نوم یې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نـه وو نوشـته کړی، د شـاه قـانون لـه پخـوا څخـه دا وو چـي ده بـه پخپـل مکتوب نوشـته او تاپه بـه يـې پرووهـل، هغـه د انعـام لپـاره بـه وه، د حاسـد وزېر دا خيال سو چي شاه وهغه سړي محسود ته يو انعـام نوشـته کړی، نو دباندي ورته ولاړ وو، هغه سړی چي راووتی حاسد وزېر ورته وويل چي خط د څه شي لپاره شاه درکړی؟ هغه سړي ورته وويـل چـي نور خبر نـه يـم خط يې په لفافه کې اچولی دی مهر يې پر لګولی دی، ماتـه يې وويـل چـي دا خط فلانکي والي ته وروړه، او جواب راوړه، د حاسد وزير د شاه د پخـواني قانون په اساس خيال ددې سو چي د انعام مکتوب دی، نو هغه سړي ته يې وويل چي ته هغه والي پېژنې؟ سړي ورته وويل يا! زما دا قصد وو چي ستا څخه به پوښتنه وکړم، وزير حاسد ورته وويل چي مکتوب ماتـه راکړه زه به يې نن ورسوم صبا ته لږ ناوخته دربار شاهي تـه راسـه، هغـه سړي مکتوب حاسد وزېر تـه ورکړی، حاسد په تلوار سره هغـه مکتـوب شاهي والي ته ورسـوی، والـي چـي خط خلاص کړی او ملاحظـه يـې کـړی والـي جلاد را وغوښتی چي ددغه سړي سر پرې کړه، وزير حاسد بغاري کړې چـي دا خط شاه د بل سړي پـه لاس ورکړی و، هغـه سړي سـتا خای نـه وو لېدلی نو ما څندي راواخسـتی، والـي ورتـه وويـل چـي د هغـه سړي نـوم پـه مکتـوب کـي نسـته فقط وفقط حامل رقعه هذا نوشته دی، او حامل ته يې، حاسـد ورتـه وويل چي ته فورا ما مه وژنه صبا شاته يو مکتوب ورواسـتوه چـي سـتا دغـه فلاني وزير مقصود له وژلو وو؟

والي ورته وويل چي ماته شاه نوشته کړي دي چي حامـل رقعـه فـوراً مړ کړه او پوست يې ماته راواستوه، خير وزير حاسد يې مړ کړی آه،

صبا چي شاهي مجلس جوړ سو هغه محسود سړی دربار ته ورغلی شاه حيران سو چي دا ولي ژوندی راغلی، نو يې هغه سړي ته وويل چي خط دي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

څه کړی؟ سړي ورته وویل چې فلاني وزیر ماته وویل چې مکتوب به زه ورسوم، نو باچا دده څخه پوښتنه وکړه چې تا رشتیا خلګو ته ویل چې د شاه د خولې بوي ځي؟ هغه سړي ورته وویل چې سبحان الله زه به ولې داسې کاذبه خبره کوم، نو شاه ورته وویل چې پرون چې ماته نژدې راوغوښتې تا ولې دسمال پر خوله او پزه ونیسوی، نو هغه سړي د وزیر د مهمانۍ قصه ورته وکړل، نو شاه ورته وویل چې ورسه پر خپله پخوانۍ چوکۍ کښېنه، **فقد صدق مقالتک السابقة احسن الی المحسن باحسانه فان المسئ سیکفیه اسائته .**

ژوپښې وایي:- چې دا حکایت روح البیان په دې ډېره اجمالي توګه راوړی او ما معقول تفصیل وکړی.

وَأَقِيمُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتُوا الزَّكٰوةَ

عطف دی پر فاعفوا ګویا خدای ﷻ دوی امر کړه په صبر سره پر ازا د یهودو او امر یې کړه په التجاء سره د خدای ﷻ په عباداتو سره، که فرائض وي که واجبات وي، که مستحبات وي په قرینه ددې قول د خدای ﷻ .

وَمَا تُقَدِّمُوا لِأَنْفُسِكُمْ مِّنْ خَيْرٍ تَجِدُوهُ عِنْدَ اللّٰهِ ۗ إِنَّ اللّٰهَ بِمَا تَعْمَلُونَ بَصِيرٌ ﴿١١٠﴾

یعني هغه عبادت او د خیر کار چې تاسي یې له مخه یعني په ژوند واستوي و آخرت ته تاسي به پیدا کړي هغه عبادت یعني ثواب د هغه کار خیر، مونږ ثواب د هغه ووایه ولې چې کار د خیر خو عرض دی باقي نه پاتېږي، که پاته هم سي نو د چا څه رغبت ورته کېږي په اخرت کې نو په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دې آیت کې خیر عام دی ټولو اعمالو صالحه وو ته شامل دی من العبادات المذکورة که لږ وي او که ډېر لقوله تعالی "ومن یعمل مثقال ذرة خیرا یره.

پوښتنه:- خدای ﷻ صلوت او زکوت ذکر کړه او سره ددې کارونه د خیر خو ډېر دي، روژه هم ده، حج هم دی، او د منهیاتو څخه یې هیڅ شی نه دی ذکر کړی حکمت یې څه دی؟

ځواب:- لمونځ اعظم له عباداتو بدنیه وو دی چې ټول اعضاء د بدن په عبادت سره مشغوله دی په لمانځه کې، او چونکه په لمانځه کې اکل او شرب هم نسته نو ګویا روژې ته هم شامل دی، او چونکه لمونځ چې پر حقیقت برابر وي د ټولو منهیاتو مخنوی کوي، قال الله تعالی "" ان الصلوة تنهی عن الفحشاء والمنکر"" نو چونکه لمونځ داسې جامع عبادت دی، قال علیه الصلوة والسلام ""الصلوة عماد الدین فمن اقامها فقد اقام الدین الخ"" او زکوات جامع ټولو عباداتو مالیه وو لره دی کصدقة الفطر، والاضحیة، والصلة مع الاقرباء الاقرب فالاقرب وایتاء الیتمی والمساکین وغیر ذلک ولاجل ذلک قال علیه الصلوة والسلام الزکوت قنطرة الاسلام، او په حج کې هم عبادات بدنیه سته او هم مالیه کما لایخفی.

پوښتنه:- چې سړی چې مړ سي، خلک وایي څه شی یې پاته سو، او ملکي وایي څه شی یې د مخه استولی دی کما جاء فی الحدیث النبوي ﷺ

ځواب:- دا آیت "" والله خبیربما تعملون"" هم ترغیب دی د خیر د کارو او هم ببرول دی د بد و کارو څخه ولې چې مطلق عمل عام دی خیر او شر دواړو ته شامل دی او لږ او ډېر د خیر او شر هم شامل دی، کما جاء فی آخر سورت اذا زلزت الارض الی آخر السورة.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د حضرت عمر ﷺ څخه روایت دی چې دی یوه ورځ د بقیع هدیرې ته ورغلی، نو یې وویل السلام علیکم اهل القبور اخبار ماعندنا، ان نسائکم قد تزوجن، و دورکم قد سکنت واموالکم قد قسمت، یعنې زمونږ له خوا ستاسې په باره کې خو حال دادی چې ستاسې ماینو مړونه وکړه، او ستاسې سرایونه د نورو د سکونت ځای سوه، او مالونه ستاسې وویشل سوله، نو عمر ﷺ ته هاتفي آواز وسو اخبارما عندنا ان ماقدمناه وجدناه، وما انفقنا ربحناه، وماخلفناه. فقد خسرناه، یعنې زمونږ له خوا خبر دادی چې هغه عبادات چې مونږ له مخه استولي وه هغه مو پیدا کړه، یعنې ثواب د هغو، او هغه مالونه چې مونږ په لارو کې د خیر نفقه کړي وه په هغو کې مو ګټې وکړې، او هغه مالونه چې مونږ تر شا پرې ایښي وه په هغو کې مو تاوان وکړې، سعدي شیرازي رحمه الله وایي

تو غافل در اندیشه سود ومال
که سرمایه عمر شد پایمال

غبار هوا چشم عقلت بدوخت
سموم هوا کشت عمرت بسوخت

بکن سرمه غفلت از چشم پاک
که فردا شوي سرمه در چشم خاک

فائده:- سړی چې مړ سي ټوله عملونه یې قطع کیږي، مګر یو د عیال مالي ثواب نه قطع کیږي، لکه بناء د مسجد، او یا عمومي پل، او یا وقفي مخکه یا سرای وغیره، قال السعدي الشیرازي رحمه الله في البستان

از آن کس که خیري بماند مروان
دعاده مرسد مرحمتش بر مروان

نمرد انکه ماند پس از وي بجاي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پل ومسجد وخان مهمان سرای

هر آن کو نماند اثر پش پادگار

درخت وجودش نیاورد بار

وگر رفت وآثار خیرش نماند

نشاید پس از مرگ الحمد خواند

قال علیه الصلوة اذا مات الانسان انقطع عمله الا من ثلاث

(۱) من صدقة جارية، والمذكورات الصدقات الجارية

(۲) او بل د عیال عقلي عمل دی چي همیشه ثواب مړي ته رسیږي، لکه هغه علم چي پاته سي چي خلګ نفع ځندي اخلي والیه اشار النبي ﷺ او علم ينتفع به.

پوهه شه:- چي علم ينتفع به عام دی، که دده شاګردان پاته سي، او یا تصنیفونه په علومو شرعیه وو کي لکه تفسیر القرآن او یا شرح د یو کتاب، د احادیثو مبارکه وو، او یا په فقه کي تصنیف، او یا په عقائدو کي تصنیف او یا په هغو علومو کي تصنیف چي پر هغو علومو شرعیه علوم موقوف وي **كالتصنيف في الصرف، والتصنيف في النحو، والتصنيف في المعاني والبيان والبديع، او تصنيف في علم يتميز به القرآن عن الشعر كالتصنيف في علم العروض والقوافي، او علم يستنبط به غرائب القرآن والحديث كعلم الادب العربي وغير ذالك كالتصنيف في الرد على اصول الفلاسفة، قال الامام السخاوي** رحمه الله **يشمل الوعيد المذكور في الحديث النبوي** ﷺ، يعني قوله عليه الصلوة والسلام من كتم علما يعلمه الجم بلجام من النار، هغه چا ته چي د علومو شرعیه کتابونه ورسره موجودوي او د نفعي لپاره یې طالب العلم ته نه ورکوي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ژوبڑه وایي:- چي په اوسنۍ زمانه کي داسي طالب علم به ډېر نادر پیدا کېږي چي امانت او عاریت کتاب دي بېرته مالك ته د کتاب رد کړي، نو له دي سببه که يې څوك منع کړی ګناه به نه وي ان شاء الله تعالی

(۳) او بل د عیال نسبي عمل دی من البنین والبنات والیه اشار النبي ﷺ بقوله، او ولد صالح یدعوله، قید بالصالح لان الطالح لم ینفع نفسه فکیف ینفع غیره .

ژباړه:- پلار د زوئ په ګناه خدای ﷻ نه سي چي پر هغه ګناه پلار نه وي باعثه کړی کالسرقة وغیرها .

ژباړه:- قید علیه الصلوة والسلام بقوله یدعوله لپاره د باعثه کولو د زوئ پر دعاء د پلار او مور ورنه پلار او مور د زوئ په عمل صالح ورسره شریك دي دعاله او لم یدعوله .

پوهه شئ:- چي په حدیث شریف کي راغلي دي چي وفد یعني یو هیئت د یني نجرانو چي نصاری وه مدینة الرسول ﷺ ته راغلي وه لپاره د مناظري د رسول الله ﷺ سره، نو یهود د مدیني منوري هم هغه مجلس ورغله، یو وار ددغه اهل کتابو تر منځ بحث شروع سو، او یو د بل د نبي د کتاب تکذیب يې سره شروع کړی، نو یهودیانو وویل "" لن یدخل الجنة الا من کان هودا، او نصاری وو وویل لن یدخل الجنة الا من کان نصاری، فنزل هذه الآیة

وَقَالُوا

ای الیهود والنصاری

پوهه شئ:- چي یهود جمع د هائد ده په معنی د تائب دی، او دا نوم دوئ ته هغه وخت وضع سو چي ددوئ اسلافو د عبادة العجل څخه توبه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وکښل. او دا نوم په اول کي اسم مدح وو تر څو چي علیه الصلوة والسلام نبي سو او قرآن نازل سو او دوئ ځندي منکر سوه او دین ددوئ منسوخ سو وروسته تر هغه دا نوم اسم ذم وګرځېدی الی الابد. او نصاری جمع د نصران ده لکه سکاری چي جمع د سکران ده، دا نوم هم په اول کي اسم مدح وو او بیا وروسته اسم ذم وګرځېدی.

لَنْ يَّدْخُلَ الْجَنَّةَ اِلَّا مَنْ كَانَ هُوْدًا اَوْ نَصٰرٰى

هرګز نه سي داخلېدای وه جنت ته مګر نه چي یهودوي او یا نصاری.

پوښتنه:- یهود او نصاری خو هم یو بل ته کافران وایي نو ځرنګه دوئ پر دې خبره سره متفق سوه چي یهود او نصاری به جنت ته داخلېږي فقط ؟

ځواب:- هو ! دوئ یو بل ته کافران وایي او اتفاق نه سره لري کما مر في شان نزول الآیة، لکن په دې آیت کي خدای ﷻ د دوئ د دواړو ډلو قول ګډ سره راوړی دی، ولي سامع پوهېږي چي دا دوې ډلي اتفاق نه سره لري نو اصل داسي وو، وقالت الیهود لن یدخل الجنة الا من کان هودا، وقالت النصاری لن یدخل الجنة الا من کان نصاری ثم لف بین قولیهما اختصارا في العبارة واعتمادا علی فهم السامع.

فائده:- هغه ضمیر چي په کان کي دی راجع ومن ته دی مفرد یي راوړی او خبر د کان چي یهود او نصاری دي جمع یي راوړه نظرا الی لفظ من چي مفرد دی او معنی ته د من چي جمع ده، وامثال ذالک کثیرة في لسان العرب بل في القرآن العزیز.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

تِلْكَ أَمَانِيُّهُمْ

پښتو ژباړه:- چې تلك اشاره ده وقول سابق ته د دوئ يعني لن يدخل آه، په تاويل د امنيت، او د تلك د مخه مضاف محذوف دی، ای امثال تلک بقرينة جمع خبر تلک وهو امانيهم دي، فالمعنى وامثال تلک الامنية المذكورة مثلا هغه امنية د دوئ، المفهومة من قوله تعالى مايود الذين كفروا ان ينزل عليكم خيرا الآية، او يا هغه امنيه د دوئ المذكورة في قوله تعالى ود كثير من اهل الكتاب لو يردونكم الآية كما مر عنقريب.

پښتو ژباړه:- چې اماني جمع د "امنيةٌ" ده وزن يې افعولة دي من التمنى كالاضحوكة من الضحک والاعجوبة من التعجب او امنية شهوة باطلة ته وايي هيڅ دليل نه لري، ای شهواتهم الباطلة.

پښتو ژباړه:- چې تلک امانيهم، جمله معترضه ده.

قُلْ هَاتُوا بُرْهَانَكُمْ إِنْ كُنْتُمْ صَادِقِينَ ﴿١١١﴾

او ته ووايه ودوئ ته چې تاسي راوړئ دليل پر دعوه د اختصاص ستاسي په د خول د جنت سره که چېرې تاسي رښتيا وياست.

پښتو ژباړه:- چې اصل د هاتوا آتوا وو. همزه يې په ها بدل کړی كما هو القانون الصرفي.

فائده:- خدای ﷻ عليه الصلوة والسلام امر کړی په طلب د دليل د دوئ څخه پر اختصاص د دخول د جنت په دوئ پوري وکړه، له دې سببه چې د خول د جنت خو امر مستقبل او غيب دی، نو دعوه د امر مستقبل غيب پېله دليله باطل ده او درواغ ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پښتو ترجمه:- چې جواب د ان کنتم صادقين" محذوف دی چې هاتوا برهانکم" دلالت باندې کوي.

بَلٰى مَنْ اَسْلَمَ وَجْهَهٗ لِلّٰهِ وَهُوَ مُحْسِنٌ فَلَهٗۤ اَجْرُهٗ عِنْدَ رَبِّهٖ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُوْنَ ﴿۱۱۲﴾

پښتو ترجمه:- چې دا قول د يهوديانو لن يدخل الخ مشتمل وو پر اثبات او نفي باندې، اثبات يې دخول د يهودو او نصارى ودې جنت ته، او نفي يې عدم دخول د غير د دوئ دی وجنت ته، گويا دوئ داسې وويل لا يدخل الجنة غيرنا" نو خدای ﷻ بلی په جواب کې ددوئ د نفي راوړی، نو معنی يې داده چې دا نفي نه ده صحيح بلکه بلځوك غير له تاسې څخه هم جنت له ورځي، نو بلی کلام تام دی او من احسن کلام مستقل دی.

ترجمه:- نه ده خبره چې لکه تاسې چې وایاست، او هرڅوك چې خالص وگرځوي خپل مخ ذکر جزء دی مراد ځندې کل دی ای نفسه، خدای ﷻ لره يعني يوازې يې معبود الله ﷻ وي، يعني شريك خدای ﷻ لره نه وایي لکه مشرکين يا يهود چې عزير ابن الله بولي، يا نصارى چې عيسى ابن الله بولي، او يا عين خدای ﷻ بولي، او حال داوي چې دغه سړی مخلص په عمل کې هم وي، كما ورد في الحديث الذي رواه البخاري ومسلم بطوله الاحسان يعني الاخلاص ان تعبدالله كانك تراه الخ، نو دې سړي لره دی اجر او ثواب د عمل چې خدای ﷻ يې دده سره وعده کړې ده يعني الجنة ونعمها.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوهه شه:- چې جمله د "فله اجره آه" جواب د من ده که چېرې من شرطیه وي. او خبر د من ده که من موصوله وي، او کلمه د فاء یې په جزاء کې د من ددې سببه راوړه چې موصول متضمن معنی لره د شرط دی.

فائده:- باید قاري پر بلی باندې وقف خفیف وکړی ولې موږ وویل چې کلام مستقل دی په رد کې د دعوې د یهودو او نصاری وو، او من احسن کلام مستانف دی، او بیان د قانون کلي دی وکانه في المعنی تعلیل لقوله بلی"" لان غیرهم من المؤمنین داخلون هذه القانون الکلي بل هذا القانون الکلي محصور فیهم في الزمان الحاضر الی یوم القیامة کما لایخفی، او هیڅ بهره به نه وي پر دوئ باندې، او نه به غمجن وي دوئ یعنې په ورځ د قیامت.

تنبیه:- فرق د خوف او حزن د مخه تېر سوی دی په یاد یې کړئ.

فائده:- افراد د ضمیر د اسلم المستتر فیه، ا وضمیر د وجهه او ضمیرین د فله اجره او ضمیر د ربه ټوله په اعتبار د لفظ د من دي، او جمعیت د ضمیر د علیهم او ضمیر د لاهم یحزنون، په اعتبار د معنا د من دی کما مر عن قریب، او د دروښ هغه خبره هم تائید سوه چې "بل في القرآن العزیز" فتذکر.

فائده:- دروښ نفي د حزن او خوف په ورځ پورې د آخرت خاص او مقید کړې د من احسن آه لپاره یعنې عند دخول الجنة کما حکي الله تعالی في القرآن العزیز عن حال اهل الجنة بقوله ""الحمدلله الذي اذهب عنا الحزن" ددې سببه چې محسنین په دنیا کې بېرېږي چې خاتمه د عمر به یې پر څه حال سي، او داغه رنګه دوئ غم کوي ددې چې بعض ورځې د عمر عزیز مو څرنګه په غفلت کې تېرې کړې، او درب جل سلطانه عبادت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مو نه وکړی. بلکه مسلمانان په دنیا کي لکه د رحمت څخه د خدای ﷻ چي نا امید نه دي دغه رنګه له عذابه د خدای ﷻ خان په امن کي هم نه لري قالوا لا يجتمع خوفان ولا امنان فمن خاف من الله عزوجل في الدنيا فآمن وعمل صالحا آمن في الآخرة من عذاب الله حين يخاف الكفار والمقصرين في العبادات ويضع العمر في الشهوات ومن آمن في الدنيا يعني فلم يؤمن او آمن لكن اتبع الشهوات النفسية وضاع العمر في المعاصي الكبيرة خاف الآخرة من العذاب الدائم او العذاب الموقت، قال الرومي في المثنوي

هر که ترسد هر اورا ایمن کند هر دل ترسنده را ساکن کند

آنکه خونش نیست چون گویی مترس درس چه دهي نیست او محتاج درس

اللهم وفقنا لماتحب وترضى في الدنياء حتى نامن في الآخرة من نار لظى

ژباړه:- چي په راتلونکو آیتو کي خدای ﷻ بیان کوي د تضلیل د هري ډلي د یهودو او د نصاری. د هغې بلي ډلي لپاره یعني هر فریق ددوئ هغه بله ډله ګمراه او کافر بولي. نو فرمایي.

وَقَالَتِ الْيَهُودُ لَيْسَتِ النَّصٰرٰى عَلٰى شَيْءٍ وَّقَالَتِ النَّصٰرٰى لَيْسَتِ الْيَهُودُ عَلٰى شَيْءٍ وَّهُمْ يَتْلُوْنَ الْكِتٰبَ

او وایي یهود نه دي نصاری پر هیڅ شي ای علی دین صحیح، او وایي نصاری چي نه دي یهود پر هیڅ دین صحیح، او حال دادی چي هره ډله د دوئ کتاب یعني تورات او انجیل وایي، یعني هرڅوک چي بو

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

کتاب د کتب الهي څخه وايي بايد حکم د کفر پر باقي کتب الهيه والا وو باندي ونه کړي او دنبي څخه انکاري وکړي کنې "لان الکتب الآلهية يصدق بعضها بعضا .

پوښتنه:- مونږ مسلمانان خو کتاب الله القرآن وايو او سره ددې يهود او نصاری کافران بولو ؟

ځواب:- مونږ له ابتداء څخه يهود او نصاری کافران نه بولو، او دوئ له ابتداء څخه هره ډله هغه ډله کافران بولي، نعم چونکه په قرآن مبارك سره تورات او انجيل منسوخ سوله نو مونږ تابعان د تورات او انجيل وروسته تر نسخ کافران بولو وهذا صحيح لانه حکم عزوجل بکفرهم بعد النسخ، وهذا سانح عزيز فاحفظه وکن علی بصيرة .

كَذَٰلِكَ قَالَ ٱلَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ مِثْلَ قَوْلِهِمْ ۚ فَٱللَّهُ يَحْكُمُ بَيْنَهُمْ يَوْمَ ٱلْقِيَٰمَةِ فِيمَا كَانُوا۟ فِيهِ يَخْتَلِفُونَ ﴿١١٣﴾

داغسي قول لکه يهود او نصاری چې وکړی .

پوښتنه:- چې کاف په کذالك کې په معنا د مثل دی ای مثل ذالك القول او منصوب محلا دی مفعول به د قال دی، ويل دی هغه کسانو لره چې علم يې نه درلودی يعني مشرکان عبدة الاصنام ونحوهم من الجهلة، يعني هغه وايي چې هيڅ اهل دين که مسلمانان دي او که يهود دي او که نصاری پر هيڅ صحيح دين نه دي سوي، زمونږ مشرکانو مثل د قول د يهودو او نصاری وو

پوښتنه:- چې مثل قولهم بدل دی د محل څخه د کاف د کذالك کې.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائدہ:- په دې آیت کې خدای ﷻ دېره شرم آوره خبره یهودو او نصاری وو ته وکړه، یعنې دوئ چې اهل علم او کتاب دي داسې خبرې کوي لکه جهلة المشرکین، نو خدای ﷻ به حکم او فیصله وکړي په منځ کې د یهودو او نصاری و په ورځ د قیامت په هغه مسئله کې چې دوئ په دنیا کې اختلاف پکښې کوی، یعنې چې هرې ډلې هغه بله ډله کافران بلل یعنې هرې ډلې ته به مناسب د دوئ له حاله سره عذاب ورکړي في جهنم دار البوار.

پوهه شه:- چې علامه حقي بروسوي رحمه الله وایي چې هره ډله د فرق ضالة وو څخه په خپل مذهب خوشحاله دي او نور ګمراهان بولي، او دا دعوه یوازې او یوازې په فرق ضالة وو پورې نه ده خاصه یجری ذالک بین صوفي وصوفي وشیخ وشیخ وعالم وعالم، یعنې هر صوفي وایي زما صوفي ګرت صحیح دی د نورو دا غلط دی، وکل ذالك نتیجة الحسد الذي بینهم لکن دا ټولې د عوې بېله دلیله غلطي دې، او دلیل یې متابعت دی د سید البشر ﷺ في جمیع اعماله واقواله واحواله ویدل علی ذلک قوله تعالی قل ان کنتم تحبون الله فاتبعوني یحببکم الله الآیة.

د شیخ صدر الدین تبرېزي رحمه الله څخه روایت دی چې په تبرېز کې یو سړی او شیخ و چې مشهور په عارف بالله سره وو یو وخت دېل بعض عارفینو د تبرېز ملاقات ته ورغلی، نو هغه پوښتنه وکړه چې نوم دي څه دی؟ ده ورته وویل چې نوم خو مي محمود دی لکن مشهور په عارف بالله سره یم، نو هغه بل عارف ورته وویل، هل عرفت نفسك حتی یقال لك عارف بالله، شخص موسوم بعارف بالله ورته وویل چې ما ډېر کتابونه د اهل تصوف ویلي دي، او ما ډېري مقالې د صوفیه کرامو جمع کړي دي، هغه بل عارف ورته وویل تلک الکتب والمقالات کلامهم فمالک،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نو مجرد نسخه د کتاب خو په ښه نه ده تر څو چې عمل بما في النسخة ونه کړل سي، قال الشاعر

به پر خویش باید کرد پرواز
ببال دیگران نتوان پریدن

قال المولوي المعنوي جلال الدين الرومي قدس سره

مرغ بر بالا پران وسا یه اش — میرود برخاک پروان مرغ وش
ابلهي صیاد آن سا یه شود — میرود چندانکه بي مایه شود
بي خبر کان عکس آن مرغ هوا است — بي خبر که اصل آن سایه کجا است
تیر اند از د بسوي سا یه او — ترکشش خالي شود از جست وجو
ترکش عمرش تهي و عمر رفت — از دویدن درشکار سایه تفت
سایه یزدان چوباشد دایه اش — وارهاند از خیال وسایه اش

وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنْ مَّنَعَ
مَسٰجِدَ اللّٰهِ أَنْ يُّذْكَرَ فِيهَا اسْمُهٗ وَسَعٰى
فِي خَرَابِهَا ۚ أُولٰٓئِكَ مَا كَانَ لَهُمْ أَنْ
يَّدْخُلُوهَآ إِلَّا خَآئِفِينَ ۚ لَهُمْ فِي الدُّنْيَا
خِزْيٌ وَّلَهُمْ فِي الْآخِرَةِ عَذَابٌ عَظِيمٌ ﴿١١٤﴾

پوهه شه:- چې کلمه د من استفهام انکاري دی او اظلم یې خبر دی، ای لا احد اظلم ممن آه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده:- د مفسرینو رحمهم الله پر دې اتفاق دی چې دا آیت که څه هم په مسجد خاص کې نازل سوی دی کما سیئاتي لکن حکم یې عام دی لان الاعتبار بعموم اللفظ لالخصوص المورد ، له دې سببه مساجد الله یې په صیغه د جمع راوړی دی .

فائده:- ان یذکر آه منصوب محلا دی مفعول ثاني د منع دی کما في قوله تعالی "وما منعنا ان نرسل بالآیات، او بعض مفسرین وایي چې ان یذکر آه منصوب په نزع د حرف جر دی ای من ان یذکر آه، او بعض وایي چې منصوب دی علی انه مفعول له دی بحذف المضاف ای کراهة ان یذکر آه. اختلاف المفسرین في شان نزول الآیة، بعض وایي چې دا آیت نازل سوی دی په مسجد کې د بیت المقدس، او بعض وایي چې طیطوس بن اسبیانوس الرومي چې په مذهب نصاری دی بعض د یهودو پر دې باندې باعثه کړی چې د بخت نصر بابلي چې مجوسي و، کومك وکړی په جنګ کې د یهودو د بیت المقدس حتی چې په اتفاق سره نصاری وو یعني فوج د طیطوس رومي او فوج د مجوسیانو یعني د بخت النصر المجوسي پر بیت المقدس حمله وکړه، نو د یهودیانو جنګي فوجیان یې تولې قتل کړه او ښځې او کوچنیان یې په مینځې توب او مریي توب بوتله، او تورات یې وسوځوی او بیت المقدس یې خراب کړی او سرکوزان یې پکښې حلال کړه، او نوري مرداری یې پکښې واچولې، او سره ددې چې بیت المقدس ځای د حج د نصاری وه، لکن طیطوس رومي چې نصراني هم و بغض د یهودو پر دغه تخریب باعثه کړی، نو پر دې تقدیر دا پېغور دی ونصاری و ته چې موجود په عصرنبوي ﷺ کې وه په فعل د اسلافو د دوئ چې بیت المقدس یې خبراب کړی سره ددې چې د دوئ د حج ځای و لکه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یهودو معاصرینو ته د عصر نبوي ﷺ چي پېغورونه خدای ﷻ ورکړي دي له کارو د اسلافو د دوئ کمامر وسیناتي.

فائده:- بیت المقدس تر خلافته پوري د عمر بن الخطاب ﷺ دغسي خراب و حتی چي امیر المؤمنین عمر بن الخطاب ﷺ چي پر حکومت د پارسیانو یعني پر کسری باندي قابض سو، او خزاني د پارسیانو یې راوړې په هغو اموالو یې بیت المقدس آباد کړی، په مرور د زمانو دخلفاء راشدینو ﷺ او نورو خلفاو نصاری و یعني پرنګیانو پر بیت المقدس یرغل وروړی او بیت المقدس یې دمسلمانانو له لاسه وه ایستی او انګرېزانو خپل حکومت پکښې قائم کړی او تر سل کاله بالا یې حکمراني پر وکړه، وروسته الملك الناصر سلطان صلاح الدین من آل ایوب په سنه پنځه سوه پنځه اتیا (۵۸۵) بعد الهجرة النبویة ﷺ پر انګرېزیانو حمله وکړه او فتح خدای ﷻ ورکړه او د بیت المقدس ځخه یې پرنګیان وشړل او حکومت اسلامي یې پکښې قائم کړی.

په سوو کلونه وروسته یهودیانو په کومك د نصاری و د امریکا پر بیت المقدس حمله وکړه چي تقریبا د مسلمانانو له لاسه لکه وتلی دی، لکن هنوز هم جنګ جاري دی.

فائده:- مراد د خراب سوو مساجدو خراب ظاهري نه دی باجماع المفسرین رحمهم الله بلکه هر مسجد یا مدرسه چي د خدای ﷻ له ذکره او د لمانځه او له درسه ځخه معطل کړي هغه په خراب المسجد کي داخل دی او بعض مفسران رحمهم الله وایي چي دا آیت په شان کي د مشرکینو دمکې مکرمې نازل دی، چې هغو علیه الصلوة والسلام او مسلمانان نه پرېښول چي په حرم شریف کي عبادت د خدای ﷻ وکړي، حتی علیه الصلوة والسلام اومسلمانان یې مجبور کړه وهجرت ته نو دا دی خراب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

معنوي د حرم محترم، او بعض علماء کرام وايي چې دا آيت په باره کې د حرم مکي نازل سوی دی ولي چې علیه الصلوة والسلام په ملګرتیا د یو زر او پنځه سوه (۱۵۰۰) مسلمانانو تخمینا په نیت د عمرې را روان او قریشو د مکې خبر ورکړی چې مونږ تاسي د عمرې لپاره حرم مکې ته نه پریږدو، نو علیه الصلوة والسلام په حدیبیه کې چې په لار د مکې د یو نژدې ځای نوم دی او دا موضوع په سنه شپږ (۶) کې د هجرت منځ ته راغله، حتی چې بیا یې صلح سره وکړه د اینده کال پر راتلو باندي، او ژر دی چې تفصیل د صلح دحدیبیې به پخپل ځای کې راسي ان شاء الله تعالی، نو دا هم خراب معنوي دی د حرم مکې .

پوښتنه:- دا منع نو ولي تخریب بولي ؟

ځواب:- بناء د مساجدو خو لپاره د عبادت د خدای ﷻ او لپاره د ذکر الله ﷻ ده، نو پر مسجد چې دا فائده مترتب نه سي نو ګویا خراب سو

فائده:- په قنیه کې وایي چې اعظم د مساجدو حرمة المسجد الحرام ثم المسجد النبوي في المدينة ثم مسجد البيت المقدس، او په آیتو کې اشاره وشرافت ته د بیت المقدس د مسجد او مسجد الحرام ده .

درویش وایي:- چې په شرافت کې د مسجد د بیت المقدس په حدیث نبوي ﷺ کې راغلي دي ""من زار بيت المقدس محتسبا" يعني صرف د ثواب په غرض نه د تجارت وغیرها په سبب "اعطاه الله ثواب الف شهيد وحرم الله جسده على النار ومن زار عالما فكانما زار بيت المقدس.

تنبیه:- ددې حدیث مبارک څخه حرمت او شرافت د مسجد الحرام او مسجد النبوي ﷺ هم په ښه وجه معلوم سو ولي چې په زیارت کې د بیت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

المقدس چې حرمت يې دريمه درجه دی کما مر انفا نو د مسجد الحرام او مسجد النبوي ﷺ په څومره ثوابونه وي.

تنبیه:- مراد له عالم څخه په حديث نبوي ﷺ کې دي علماء آخرت دي لا العلماء السوء" الذين هم لطلب الدنياء كانه اعبد للمقتديين خصوصاً لرئيس المسجد فافهم بمعزل عن هذه الرتبة وقد رائيت بعض علماء المساجد يعظمون باني المسجد تعظيما بليغا فوق تعظيم الاساتذه والمشائخ بل يؤذونهم.

پوښتنه:- الله ﷻ وويل "اولئك ماكان لهم الخ" او سره ددې چې مشرکان د مکې مکرمې او پر بيت المقدس چې حمله وسول هغه يې خراب او لوټې لوټې کړی کمامر عنقريب، نو کم و خوف د مشرکانو د مکې مکرمې او خوف د لښکر د نصاری وو او د بخت نصر المجوسي پر بيت المقدس؟

ځواب:- بعض مفسرين رحمهم الله ترجمه د ماكان لهم آه" داسې کوي اى في علم الله وقضائه نو پر دې تفسير دا وعده د خداى ﷻ له خوا څخه پر خلاصولو او آبادولو ددغو مساجدو، او خداى ﷻ هم دا وعده پوره کړه حتى چې پر مکه مکرمه باندې ونبي ﷺ ته فتحه ورکړه، او نبي ﷺ دا اعلان وکړی الالاخجن بعد العام مشرك، او روم چې د طيطوس رومي سلطنت پر وو امير المؤمنين حضرت عمر ﷺ فتح کړی، او بيت المقدس چې خراب سوی وو امير المؤمنين عمر ﷺ آباد کړی کمامر سابقا، او بعض مفسران وايي لکه بيضاوي وغيره چې لام په لهم کې لپاره د لياقت دی. اى ماكان ينبغي لهم ان يدخلوها الا بخشية او خضوع فضل من تخريبها، او بعض علماء وايي چې دا آيت ظاهراً خو اخبار دی لکن په معنا د انشاء دی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ای لا تمکنوهم ایها المسلمون من الدخول في المساجد المذکورة الا بخوف آه "" لکن پر دې خواب په حاشیه کې د بیضاوي یې دا سوال کړی دی، چې منع د تمکین څخه په وخت کې د غلبې د کفارو پر مساجدو مذکره وو کما في وقت نزول هذه الآیة المذکورة څه معنا لري.

مسئله:- امام اعظم رحمه الله وایي چې دخول د کفارو مطلق مساجدو ته رواه دی په اجازه د حکومت اسلامي، او استدلال هم په آیت مذکوره سره کوي، ولې چې ددې آیت څخه دا معلومه سوه چې دخول د کفارو په مساجدو کې د مسلمانانو روا دی چې په خشیت او بېره سره وي، نو اوس دا اجازه غوښتل ده کفارو د مسلمانانو څخه په دخول کې د مساجدو ددوئ داغه د کفارو خشیت او خضوع ده، او بل دلیل د امام اعظم رحمه الله دا دی چې وفد یعني هیئت د ثقیف دقبیلي چې کافران وه او مدینې منورې ته چې راغله علیه الصلوة والسلام په مسجد نبوي ﷺ کې خای ورکړی، او بل دلیل دادی چې علیه الصلوة والسلام په کال د فتح د مکې مشرکانو ته د مکې دا اعلان وکړی من دخل دار ابو سفیان فهو امن ومن دخل الکعبة فهو امن" او بل دلیل دادی چې په احادیثو صحیحه وو کې دا ثابته ده چې څه وخت چې به کافران د علیه الصلوة والسلام ملاقات د مناظرې او پوښتنو لپاره راتله دا ملاقات د نبي ﷺ سره به دوئ په مسجد نبوي ﷺ کې کوی، او امام مالک رحمه الله د مطلق کافر ومطلق مسجد ته ممنوع او حرام بولي یعني مسلمانان دي هیڅ کافر ته اجازه د دخول په هیڅ مسجد کې نه ورکوي، او دی دلیل په آیت سره وایي "" انما المشرکون نجس" او تطهیر د مساجدو خو د نجاساتو څخه واجب دی، مور وایو چې تطهیر د مساجدو خو د نجاستات ظاهره وو څخه واجب دی او نجاست د کافر خو په عقیده کې د زړه دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال:- جنب ولي ممنوع د دخول څخه د مسجد دی او سره ددې هغه خو د نجاست ظاهره څخه پاك دی ؟

څواب:- د جنب نجاست حکمي په څای کې د نجاست ظاهري ولاړ دی او د حائض او نفساء سره خو نجاست ظاهري ملګری دی ولذا منعنا من دخول المساجد، او امام شافعي رحمه الله فرق کوي يعني دخول د مسجد حرام ورته ناروا دی او دخول د نورو مسجدو ورته روا دی وزيادة التفصيل في كتب الفقهاء رحمهم الله تعالى.

ترجمة الآية:- بعد تحقيق شان نزولها وتفصيل اعراب مفرداتها وبيان احكام المتعلقة بها واختلاف الائمة فيها څوك زيادت تر ظالم دی، يعني نسته تر هغه چا چې منع کوي مسجدونه د خدای ﷻ له دې څخه چې په هغو کې دي ذکر د خدای ﷻ يعني لمونځونو يا نور ذکرونه د خدای ﷻ او کوشش کوي په خرابېدو کې د مساجدو، يعني که ظاهري خرابي وي او که معنوي خرابي وي کمامر تفصيله، او دغه ظالمانو ته نه ښائېده دوئ لره چې داخلېدای ودغو مسجدو ته مګر نه په بېره سره، يا د خدای ﷻ او يا د مسلمانانو او دې ظالمانو لره په دنيا کې رسوايي ده يعني په عذاب الهی او يا د مسلمانانو لخوا، بل قتل والسبئ ونهب الاموال او ضرب الجزية عليهم، او دوئ لره په ورځ کې د آخرت لوي عذاب دی چې عذاب د جهنم دی ابد، الابدين لا يحيون فيها ولا يموتون نجانا الله منها بعظيم رحمته وعموم مغفرته بالمؤمنين ورزقنا الله تعالى شفاعة نبيه محمد المصطفى ﷺ آمين.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلِلّٰهِ الْمَشْرِقُ وَالْمَغْرِبُ فَأَيْنَمَا تُوَلُّوا فَثَمَّ وَجْهُ اللّٰهِ إِنَّ اللّٰهَ وَاسِعٌ عَلِيمٌ ﴿١١٥﴾

ژباړه:- چې قاضي بيضاوي او روح البيان دا آيت په د مخه آيت پوري مربوط بولي يعني قوله تعالى" ومن اظلم آه" ولي چې دواړه داسي وايي فان منعتم ان تصلوا في المسجد الحرام او الاقصى فقد جعلت لكم الارض مسجدا" او وروسته بيضاوي رحمه الله د ابن عمر رضي الله عنه څخه داسي يو روايت کړی دی چې دا آيت د ماقبل سره تعلق نه لري يعني د يو مستقل حکم بيان دی حيث قال البيضاوي رحمه الله وعن ابن عمر رضي الله عنه انها نزلت في صلوة المسافر على الراحلة.

ژباړه:- چې مراد په دې حديث کې د صلوة څخه نفل لمونځ دی. يعني نفل پر دابه هر طرفته چې د دابې مخ وي دا مراد دی، او مراد د مسافر څخه مسافر اصطلاحي شرعي نه دی بلکه هغه سړی چې د آبادیو د بنار يا د قريې د باندي وي، او بعض مفسران وايي چې دا آيت په هغه قوم کې نازل سوی دی چې د شپې په تاريکه کې قبله څندي ورکه سي، نو هر يو وېو جهت ته وروسته تر تحری لمونځ وکړی، او وروسته ورته معلومه سي عدم اصابة جهة القبلة. لكن دا هم هلته دی چې دغه خلګ په بنار يا قريو کې نه وي ولي چې هورې خو مسجدونه او محرابونه سته چې جهت د قبلې په معلومېږي، او په صحراء کې هم دا حكم هلته دی چې هورې داسي سړی نه وي چې دوئ سوال قبله څندي وکړي، وهذه المسئلة مفصلة في كتب الفقه.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

ژوبښې وايي:- چې پر دې تقدیر وجه د ربط د دې ایت بقوله تعالی ومن اظلم ممن منع الآیة" دادی چې په ده مخ آیت کې چې ذکر د مساجد د خدای ﷻ راغلی او جهت د قبلې هم د مساجدو سره ډېره لویه علاقه لري لبناء محاریب المساجد الی جهة القبلة ولهذا عطفت هذه الآیة علی تلک فافهم .

قال البیضاوي رحمه الله قیل هذه الآیة توطیة لنسخ القبلة کما سیناتي في قوله تعالی "قد نری تقلب وجهک في السماء الآیة .

ژوبښې وايي:- چې پر دې تقدیر آیت پر خپل عموم باندې دی یعني په حال د سفر او په حال د تحري یا په نوافلو لمونځو پر دابه باندې خاص نه دی کمالا یخفی .

في روح البیان روي چې علیه الصلوة والسلام سره د اصحابو ﷺ په مکه مکرمه کې لمونځ وکعبې شریفې ته کوی، او چې ده مبارک ﷺ ومدینې منورې ته هجرت وکړی نو د خدای ﷻ له خوا مامور سو چې لمونځ د بیت المقدس وجهت ته کوه تاچې د یهودیانو دا باور وسي چې نبي آخر الزمان هم دغه مبارک شخصیت دی، ولي په تورات کې د نبي اخرا الزمان په بیان کې یوه دا خبره هم وه چې نبي آخر الزمان به دوو قبلو ته لمونځ کوي، تخمینا شپاړس (۱۶) میاشتې علیه الصلوة والسلام او اصحابو ﷺ بیت المقدس ته لمونځونه کول، لکن د علیه الصلوة والسلام په زړه کې دا توقع وه د خدای ﷻ څخه چې ما به متوجه کړي وکعبې شریفې ته ولي چې کعبه شریفه اقدم القبلتین وه، او قبله دده د جد امجد ابراهیم ﷺ هم وه، او بل باعث پر ایمان د عربو هم وه لکن ادباً یې سوال د تحول الی الکعبة نه کوی لکن بار بار به یې اسمان ته کتل چې اوس به جبرئیل ﷺ امر الهي د تحول الی الکعبة راوړی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

کما حکا الله تعالی عن ذالک قد نری تقلب وجهک فلنولینک قبلة ترضها" هغه و چي علیه الصلوة والسلام په مسجد کي د بني سلمة د ماسپښین لمونځ کوی او دوه رکعته یې کړي وه چي دا امر الهی نازل سو ""فول وجهک شطر المسجد الحرام"" فتحول ﷺ الی الکعبة وتحولت الصفوف ایضا فسمی ذالک المسجد الی الآن بمسجد ذو القبلتین، نو قبله چي بدله سوه نو انکار وکړی بعض مسلمانانو، او بعض مفسران رحمهم الله وایي چي پر مذکوره تفسیر نسخ دوه واره لازمیږي، یعني نسخ د کعبې د قبلې د بیت المقدس وه قبلې ته، او بیا نسخه د بیت المقدس د قبلې بیرته وکعبې مکرمې ته، او دوئ وایي چي نسخ چونکه خای د فتنې دی کما سمعت انفاً نو تعدد د نسخ بې ضرورته باید څوك قول په ونه کړي، نو دوئ وایي چي رسول الله ﷺ په مکه مکرمه کي د بیت المقدس وقبلې ته لمونځ کوی یعني علیه الصلوة والسلام په مکه شریفه کي داسي یو دېواله ته د کعبې شریفي درېدی په لمانځه کي چي هم کعبه په مخ کي وه او هم بیت المقدس د مخ وخوا ته وو نو چي هجرت یې وکړی نو هم یې شپاړس (۱۶) میاشتي لمونځونه د بیت المقدس وقبلې ته کوله، بیا هغه قبله منسوخه سوه او د علیه الصلوة والسلام لپاره کعبه مکرمه خدای ﷻ قبله وتاکل، نو دوئ وایي چي نسخ به یو وارسي، والله اعلم بالصواب

وعند الفقیر التفسیر الاول لغایة شهرته کمالا یخفی اولی.

دروېش وایي:- چي بنا پر دغه تفسیر څه وخت چي تحویل د قبلې په مدینه منوره کي بیت المقدس ته وسو، نو مشرکانو د مکي دا سوال مطرح کړی چي محمد ﷺ وایي چي تابع د دین ابراهیمي یم کما ورد في القرآن ایضا "بل نتبع ملة ابراهیم حنیفا" د ابراهیم ﷺ قبله خوکعبه ده، نو دوئ ولي وبیت المقدس ته لمونځ کوي؟ او یهودیانو بیا دا اعتراض کاوه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چې محمد ﷺ زمونږ د دین متابعت نه کوي او لمونځ زمونږ وقبلې ته کوي، او څه وخت چې قبله بیرته کعبې مبارکې ته واوابښتل، نو مشرکانو دا اعتراض او آوازه کړه چې وقبلې ته خو یې توجه شروع کړه وسیرجع الی دیننا، او یهودیانو بیا دا آوازه واچول چې دی ﷺ که نبي بر حق وای نو بیت المقدس خو قبله د انبیاء علیهم السلام وه، نو یې ولې هغه ته توجه پریښول، او دوئ به ویل چې دده شوق و دین ته د آباء وسو، **فلعنة الله علی المشرکین والیهود ما ترکوا ایذاء النبي ﷺ بحال من الاحوال.**

تفسیر مفردات الآیة

فاینما تولوا" پوه سه چې "اینما" چونکه لازم الظرفیة دی، نو مفعول به د "تولوا" نه دی، بلکه مفعول به د تولوا یا محذوف دی ای وجوهکم، نو څکه یې بیضاوي او روح البیان داسي تفسیر کوي ففي ای مکان فعلتم تولیة وجوهکم القبلة شرقا او غربا او جنوبا او شمالا، او یا تولهم نازل منزلة اللازم دی وبهذا فسره بعضهم ای فعلتم التولیة فقط.

او مظهري وایي که څه هم اینما ظرف دی خو دلته یې معنا د شرط دی او تولوا مجزوم ده په دغه شرط سره ثم وجه الله یې جواب دی، قوله فثم وجه الله.

ثم هناك:- چې ثم د مکان په معنا دی یعني په هغه مکان کې وجه الله ستنه.

ثم هناك:- چې د وجه ترجمه بعض مفسران په جهت سره کوي، یعني الجهة المامور باستقبالها ای قبلة الله، دا تفسیر حسن، مجاهد، قتاده، او مقاتل ؒ کړی دی، او د ټولو تفاسیرو دغه اول تفسیر دی، وقیل رضاء الله تعالی، او بعض معتبر مفسران لکه بیضاوي روح البیان وغیرهما د وجه تفسیر په ذات سره کوي، من قبیل ذکر الجز وارادة الکل ای فثمه

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

ذاته تعالی یعني په حضور علمي او قدرت سره لاته تعالی لیس له مکان،
روی عن امام الحرمین عبدالملك رحمه الله چي دی یو وخت د یو غټ دنیا دارد
میلمه و، او نور علماء هم موجود وه، د اهل مجلس څخه یو سړي دا
خواست او سوال له علماء حاضرینو څخه وکړی چي څه دلیل دی پر دې چي
خدای ﷻ لره مکان نسته، او سره ددې چي خدای ﷻ په قرآن مجید کي
وایي ""الرحمن علی العرش استوی"" یعني ددې آیت څخه ظاهره داسي
فهمیږي چي عرش د خدای ﷻ مکان دی؟ نو امام الحرمین رحمه الله بلا توقف
دا ورته وویل چي دلیل هغه آیت دی چي یونس علیه السلام د ماهي په نس کي
داسي وویل چي ""لا اله الا انت سبحانك انی کنت من الظالمین"" فتعجب
العلماء الحاضرون من دلالة الآیة المذکورة علی عدم المکان له تعالی نو
صاحب الضیافة له امام الحرمین څخه تفصیل ددې دلالت وغوښتی.

نو امام الحرمین رحمه الله ورته وویل چي دباندي تر سرای یو فقیر دی چي
پر هغه باندي زر (۱۰۰۰) روپی پور باندي دی، نو ددغه فقیر پور که
څوك ور اداء کړي زه به تفصیل د آیت مذکوره وکړم، نو صاحب الضیافة
هغه پور پر غاړه واخستی، نو امام الحرمین رحمه الله داسي تفصیل ورته
وکړی چي رسول کریم ﷺ چي د معراج په شپه الی ماشاء الله تعالی پورې
ولاړی هورې یې داسي وویل ""لا احصی ثناء علیك انت کما اثنیت انت علی
نفسك"" او یونس علیه السلام هم په قر البحر کي انت او سبحانك وویل، او دا
دواړه یعني خطاب د رسول الله ﷺ فوق السموات السبع او خطاب د یونس
علیه السلام خطاب الحضور دی، نو معلومه سوه چي خدای ﷻ لره مکان نسته،
ولي چي که مکان وای نو دواړه خطاب الحضور به څرنګه صحیح سوی
وای، قال السعدي شیرازي رحمه الله في بیان معراجه ﷺ

چنان گرم در تیه قربت براند که در سدره جبریل ازو باز ماند

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بدو گفت سالاري بيت الحرام که ای حامل وحي برتر خرام
بگفتا ر تر مجالم نماند بما ندم که نيروي بالم نما ند
اگر يک سر موي برتر پرم فروغ تجلی بسو زد پر م

ثم قطع عليه الصلوة والسلام سبعون الف (۷۰۰۰۰) حجاب من نور كما ورد في الحديث النبوي ﷺ، او بعض مفسران وايي دغه آيت "فثم وجه الله" له متشابهاتو څخه دی التي لا يعلم تاويله الا الله كقوله تعالى "كل شئ هالک الا وجهه" وقوله تعالى يدالله فوق ايديهم" ای وقت البيعة مع رسول الله ﷺ.

دروېش وايي:- چي چونکه معقول تفسيرونه ددې آيت لکه چي د مخه تېر سوه موجود دي، نو د متشابهاتو څخه يې بللو ته ضرورت نسته، ولي مجال د طاعينو د قرآن کريم په دې سره زياتېږي، نعم هغه څای چي معقول تفسير موجود نه وي لکه په مقطعات القرآن کي يعني الٓمٓ الرَا وسائر المقطعات القرآنية په هغو کي د متشابه والي دعوه کول صحيح ده كما هو مذهب ابي حنيفة رحمه الله، قوله ان الله واسع، باحاطة رحمة وعلمه بالاشياء كلها قوله ""عليم"" بمصالحهم واعملهم في الاماكن كلها يعني د خدای ﷻ رحمت او علم فراخه دی ټولو شيانو ته او خدای ﷻ خبر دی مصالح او اعمالو د بندګانو په ټولو خايو کي.

دروېش وايي:- چي امام ابو حامد محمد الغزالي ذالك البحر الجاري رحمه الله الباري په شرحه کي د اسماء الحسنی د اسم واسع په باره کي داسي په زړه پوري بيان کړی دی، چي عبارت يې د هر ښائسته او زړبا دی او زموږ د پښتو تنګه ژبه احاطه د هغو عربي الفاظو پر مرام احاطه نسي کولای، نو ځکه دروېش دده رحمه الله هغه عبارت عربي رانقل کړی،

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

علماء او طلباء خو ان شاء الله تعالی په پوهېږي له عوامو څخه چې زما پېښتو تفسیر مطالعه کوي معذرت غواړم، او دا امام رحمه الله وایي .

واسع مشتق من السعة والسعة تضاف مرة الى العلم اذا اتسع واحاط بالمعلومات الكثيرة وتضاف الى الاحسان وبسط النعم، وعلى اى شيئ نزل فالواسع المطلق هو الله تعالى، لانه ان نظر الى علمه تعالى فلا ساحل لبحر معلوماته تعالى بل تنفد البحار لو كانت مدادا لكلماته كما ورد في القرآن الكريم "قل لوكان البحر مدادا لكلماته لنفد البحر الآية" وان نظر الى احسانه ونعمه فلانهاية لمقدوراته ، وكل سعة وان عظمت فتنتهى الى طرف فهو تعالى احق باسم السعة والله تعالى هو الواسع المطلق باى معنى اخذ، لان كل واسع بالنسبة الى ماهو اوسع منه ضيق وكل سعة تنتهى الى طرف فالزيادة عليها متصورة، وما لانهاية له ولا طرف فلا يتصور عليه الزيادة لانها تقتضي التناهي، وسعة العبد في معارفه واخلاقه وان كثرت علومه فهو واسع بقدر سعة علمه وان اتسع كرمه واحسانه حتى لم يضيقها خوف الفقر، وغيظ الحسود وغلبة الحرص وسائر الصفات المذمومة فهو واسع وكل ذالك فهو الى نهاية وانما الواسع المطلق هو الله جل ذكره .

پوښتنه:- وړاندي آنفاً دا ثابته سوه چې خدای ﷻ لره مکان او جهت نسته، نو ولې خلګ لاسونه پورته کوي د دعاء په وخت کې وطرفته د آسمان او وطرفته د آسمان هم ګوري .

ځواب:- تولو انبياء کرامو عليهم الصلوة والسلام په وخت کې د دعاء لاسونه د آسمان وخواته پورته کول نه په معنا ددې چې خدای ﷻ په اسمان کې دی، بلکه په معنا ددې چې خزانې د خدای ﷻ په آسمان کې دي، قال الله تعالى "وفي السماء رزقكم وما توعدون" نو پورته کول د لاسو وجهت ته د آسمان ګويا دا معنا ده چې دعاء کونکی و خزانو ته د خدای ﷻ اشاره

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

کوي چي ددغو خزانو څخه د رحمت ستا ماته فلانی او فلانی شی راکړې لکه یو سائل د یو چا ورپو ته اشاره وکړي او مسئول عنه ته ووایي چي ماته ددغو روپو څخه یو څه راکړه.

پوهیږه:- چي د علیم په راوړو سره هم زهری دی پر مومنانو صالحانو باندي په دې معنا چي خدای ﷻ دوئ ته وایي چي خدای ﷻ ستاسي په ایمان او اعمال صالحه وو پښه خبر دی، او د ورځي د قیامت د جنت دار النعیم وثواب ته منتظر اوسئ، او هم په علیم کي ښیرول د کافرانو او د ګناه کاره مسلمانانو سته په دې معنا چي ای کافرانو ستاسي په کفر زه پښه خبر یم نو په ورځ د قیامت وجزاء ابدي د دوزخ دار الاشرار ته منتظر اوسئ، او یا ای مسلمانانو ستاسي په ګنهو زه خبر یم د یوم الجزاء وحساب ته منتظر اوسئ.

ترجمة الآية المذكورة: او خدای لره دي مشرق او مغرب، یعني ټوله جهاته د مځکي، تخصیص ددې دوو جهتو په اعتبار د شهرت دی، کما في قوله تعالی رب المشارق والمغارب، یعني ملکاً او خلقاً، نو هر جهت ته چي تاسي مخ وګرځوئ یعني په لمانځه کي هوړې جهت د قبلې ماموریها دی په تحقیق فراخه دی د خدای ﷻ قدرت ټولو کائناتو ته، او خدای ﷻ پښه خبر دی په احوالو د ټولو مخلوقاتو.

وَقَالُوا اتَّخَذَ اللَّهُ وَلَدًا سُبْحَانَهُ

او وایي یهودیان د مدینې چي عزیر علیه السلام یې ابن الله باله، او نصاری د نجران چي عیسی علیه السلام یې د خدای ﷻ زوئ ګانه، او مشرکین د عربو چي ملائکه یې بنات الله معرفي کولې، یعني دا ټولي دلي وایي چي خدای ﷻ خان لره عیال پیدا کړی دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوهه شه:- چې ولد نر او ښځې دواړو ته وايي فشمل الفرق الثلثة. او پاکي او تنزيه ده خدای ﷻ لره د اتخاذ څخه د ولد.

پوهه شه:- چې اصل د سبحانه "أُسَبِّحَهُ سُبحَانًا" دی نو چونکه أُسَبِّحُهُ له بابه د تفعيل دی نو سُبحانًا اسم مصدر دی يعني مصدر د مجرد باب دی لکن په دې ځای کې د مصدر د باب تفعيل راغلی دی چې هغه تسبيحاً دی بيا يې فعل تخفيفاً حذف کړی او سبحان يې مضاف کړی ومفعول ته د فعل، بيا نو اظهار د فعل روانه دی، على مافي الكافية وغيرها من كتب النحو او قاضي محمد مبارك په شرح کې د سُلم په باره کې د سبحان په زړه پورې تحقيق کړی دی.

پوهه شه:- چې ابن عامر رحمه الله دا آيت بېله واوه وايي يعني چې دا آيت بيان د بلې قصې د کفارو دی، چې دې ته په اصطلاح کې د نحاتو استيناف وايي، او جمهور د قراؤ يې په واو وايي، نو يا عطف دی پر قالت اليهود آه او يا پر منع دی.

والدليل على نفي الولد: ان التوليد يقتضي التشبه بين الوالد والمولود كما لايخفى وليس له تعالى شبه ونظير، د ابن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چې عليه الصلوة والسلام ويل چې خدای ﷻ وايي ""كذبني ابن آدم ولم يكن له ذالك" يعني زما تكذيب کوي ابن آدم او ده لره دا نبايده وشتمني او ماته نبکنځل کوي ابن آدم وله يكن له ذالك، اما تكذيبه اياي فزعم اني لا اقدر ان اعيده كما كان"" تکذيب زما يې دادی چې ابن آدم ګمان لري چې زه يې بيرته از سر نو نه سم ژوندی کولای، واما شتمه اياي فقوله لي ولد فسبحان ان اتخذ صاحبة ولا ولدا رواه البخاري رحمه الله، او نبکنځل د بني آدم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ماته دادي چي دی وايي مالره ولد سته، او پاکي ده مالره چي زه به ځان لره ماينه پيدا کوم او يا ولد .

پوښتنه:- يهود او نصاری او مشرکان چهري ذکر سوي دي حتی چي ضمير د قالوا ودرو سرو ته راجع کړل سي ؟

ځواب:- يهود او نصاری خو په نامه ذکر سوي دي في قوله تعالی وقالت اليهود ليست النصاری الآية، او مشرکانو که څه هم صراحةً نه دی ذکر سوي لکن ددې قول څخه د خدای ﷻ فهمېږي "قال الذين لا يعلمون الآية ولي چي مراد دغه مشرکان دي کمالايخفی .

بَلْ لَّهُ مَا فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ كُلٌّ لَّهُ قٰنِتُوْنَ ﴿۱۱۶﴾

بلکه خدای ﷻ لره دي هغه شيان چي په اسمانو کي دي او په ځمکه کي دي يعني خلقاً او ملکاً وعبيداً نو ځرنګه به تولد دده ﷻ څخه امکان پذير وي، ولي توالد خو مجانست او مشابهت په منځ د والد او مولود ولامناسبة والمجانسة بين المخلوق الممکن المحتاج وبين الخالق الواجب الغني القيوم جل سلطانه وعظم شانه وظهر جلاله .

او تولـه مـافي السـموات والارض خدای ﷻ تـه منقـاد دي يعنـي دده د ارادې څخه هيڅ شی سر نه سي غړولای .

پوښتنه:- چي کلمه د بل په دې ځای کي لپاره د اضراب د قوله څخه د مبطلين مذکورينو يعني خبره دغه سي نه ده لکه دوئ چي وايي، ولي چي په توله مافي السموات والارض کي عزير او عيسی او ملائکه عليهم السلام هم داخل دي، نو ځرنګه د خدای ﷻ اولاد دي .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قانتون:- احمد رحمه الله د ابي سعيد خدري رضي الله عنه څخه روايت کړی دی چې رسول الله ﷺ وفرمايله چې هر حرف د قرآن چې په هغه کې قنوت ذکر سې هغه په معنا د طاعت دی يعني انقياد، او بعض مفسرانو رحمهم الله د قانتين معنا داسې کوي، ای قائمون بالشهادة علی توحيده وربوبيته.

ډوبش وايي:- چې علماء د ظاهر دا شهادت پر شهادت د لسان الحال حمل کوي يعني حال د ممکن چې امکان دی، او معنا داده چې د ممکن وجود او عدم سره برابر دي فلابد لترجيح وجوده على العدم من مرجح وخالق واجب الوجود ولا يشاركه في الوجوب غيره والا لفسد الممكنات كلها كما قال عز من قائل، لو كان فيهما آلهة الا الله لفسدتا. وتفصيل هذا الاستدلال في شرح العقائد وشرح القاصد للعلامة التفتازاني رحمهما الله وعلى الشهادة بلسان الحال يحمل قول السعدي الشيرازي رحمه الله

برگ درختان سبز در نظر هوشيار
هر ورقي دفتريست معرفت كردگار

لکن علماء د باطن يعني اولياء کرام رحمهم الله دا شهادت پر شهادت قولي حمل کوي، او دا اختلاف په منځ کې د علماؤ د ظاهر او باطن دی په آيت کې هم سته "وان من شيئ الا يسبح بحمده ولكن لا تفقهون تسبيحهم" او د تفصيل لپاره به هغه ځای مناسب وي چې داغه آيت راسي ان شاء الله تعالى.

بَدِيعُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ؕ

او خدای ﷻ پيدا کونکی د اسمانو او د مځکې.

پوښتنه:- لفظ د بديع خو لازمي دی، نو څرنګه ومفعول ته چې سموات والارض دی مضاف سوی دی؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

واجاب عنه البيضاوي والمظهري اخذا من البيضاوي وصاحب روح البيان وغيرهم من المفسرين رحمهم الله چي بديع په دې ځای کي په معنا د مفعل دی يعنې په معنا د اسم فاعل د باب افعال ده، او باب د افعال متعدي دی فصح الاضافة الی المفعول او دليل ويلی دی بيضاوي رحمه الله پر دې چي فعيل لازمي په معنا د مفعل متعدي راتلای سي بقول الشاعر

امن ريحانة الداعي السميع، چي دغه سميع په معنا د سُمع دی په اتفاق د اهل اللغة وتمام البيت، يورقني واسحاب هجوع. او کنې شمېر د مفسرانو رحمهم الله وايي چي السموات والارض په اصل کي فاعل د بديع و يعنې اصل يې داسې و بديع سمواته وارضه لکن وروسته تر اضافته د بديع وسموات والارض ته، سموات والارض شبيه بالمفعول سوه او منصوب په بديع سوه، او دا بل دليل پر نفي د ولديت د خدای ﷻ څخه. حاصل يې دادی چي خدای ﷻ فاعل د ټولو اشياؤ علی الاطلاق دی، او انفعال په خدای ﷻ کي نسته، او والد چونکه اصل د ولد دی او ماده د ولد د والد څخه جلا کېږي فلا بد من الانفعال في الوالد فكيف يكون الله ﷻ والدا و منفعلا.

شروېښ وايي:- چي چونکه فرق په منځ کي د ابداع، اختراع او احداث ډېر دقيق و چي عوام لاځه کوې د بعضو طالبانو تر فهم لاهم لوړ و، نو ځکه ددې فرق بيان ملتوي کړی، او که يې څوك د تفصيل خواهشمند وي نو تفسير کبير د امام رازي رحمه الله او يا بيضاوي رحمه الله سره د شروحو او يا دي تفسير قرطبي په غور سره مطالع کړي.

وَإِذَا قَضَىٰ أَمْرًا فَإِنَّمَا يَقُولُ لَهُ كُن فَيَكُونُ ﴿١١٧﴾

او چي اراده وکړي خدای ﷻ و پيدا کولو ته د شي، نو هغه شي ته ووايي چي موجود سه نو هغه شی سمدلاسه موجود سي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروښ وايي:- چې چونکه دا آيت په قرآن مبارک کې يو غامض آيت او فهم يې کما حقها ډېر مشکل دی لهذا دروښ به ددې آيت په مراد کې، او په دفع د اشکالاتو وارده په نقل د کتبو څخه د تفاسيرو معتمدوو به ډېر څه ووايي، او ډېر څه به پرېږدي لان مالايدرك كله لايترك كله، نو محترم خوانندګان دي دروښ معذور وبولي، په اطناب د تفسير ددې آيت کريمه وبالله التوفيق نو واورئ .

البحث الاول:- اصل معنی د قضی اتمام د شي دی قولانحو قضی ربك آه ای قال او یا فعلا فقفاهن سبع سموات ای خلقهن او ورسته بیا تعلق ته اراده آلهی وایي په وجود پورې د شی، ولي چې په دغه تعلق سره شی موجود ګرځي .

البحث الثاني:- چې شی خو معدوم دی نو څرنګه خطاب د کن د هغه سره روا دی .

والجواب عنه، چې شی معدوم چونکه په علم کې د خدای ﷻ حاضر دی فصح الخطاب او ابن الانباري رحمه الله وایي "لام" د له لپاره د اجل دی یعني لاجل تکوينه، نو معنا د خطاب ومعدوم ته بېخي سته نه، او په روح البيان کې وايي چې د اهل السنت مذهب دادی چې وجود د اشياؤ په دغه امر د کن پورې تعلق نه لري بلکه وجود د اشياؤ په خلق او ايجاد پورې د خدای ﷻ مربوط دی، او کن فيكون كنايه ده د سرعت امتثال څخه د وجود د شي په ايجاد او تكوين آلهي سره، او په مثل د بيان مذكور بيضاوي رحمه الله هم دا خبره کړې ده وليس المراد به حقيقة الامر وامتثاله بل هذا الكلام تمثيل لحصول ماتعلقت به الارادة الالهية بلا مهلة بطاعة المامور المطيع بلا توقف، او هغه خبره چې بعض مفسرانو رحمهم الله کړې ده چې لفظ د کن حقيتاً امر دی، او عادت الهي په دې سره جاري دی چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اشياء په لفظ د کن پيدا کوي، او مامور هو الحاضر في العلم دی والماموربه هو الدخول في الوجود خلاف له مذهبه د اهل سنتو دی او خلاف د تحقيق څخه د اکثرو مفسرانو دی.

البحث الثالث:- جمهور د قاريانو رحمهم الله يکون په رفع سره وايي، نو يا جمله مستانفه ده او يا عطف پر يقولوا دی، او يوازي ابن عامر رحمه الله يې په نصب سره وايي، او دا قرائت پر نحاتو ډېر ګران دي ولي علت د نصب د مضارع په جواب کي د امر هلته نحات کوي چي پسله فاء څخه ان ناصبه مقدر کړی، او ان ناصبه خو هلته يې تقدير روا دی چي امر پرځپل حال باندي باقي وي، او آنفاً تېره سوه چي امر د کن پر خپل حقيقت باندي نه دی، بلکه مراد څندي مجرد تمثيل څندي د سراعت امتثال دی، ددې سوال په جواب کي بعض حواشي د بيضاوي وايي چي نصب دیکون بناء پر ظاهر صورت د کن دی، چي صورت يې د امر دی او که ومعنا ته د کن وګورې نصب د يکون نه دی روا وهذا في المظهري ايضاء، او بل پر تقدير د ان په جواب کي د امر دا شرط دی چي په منځ کي دامر او د جواب به معنا د سببيت وي، يعني امر او جواب به په معنا د شرط او جزاء وي نحو **ائتني فاکرمک، اذ التقدير ان تاتيني فاکرمک، وههنا لا يتصور تقدير الشرط والجزاء اذ يصير معناه ان يکن يکن فيتحد الشرط والجزاء معنا وفاعلا مع انه لا بد من تغايرهما**.

والجواب عنه، چي اتحاد د شرط او جزاء ههنا ممنوع، ولي چي معنا د يکن يکن دي دا وي ان يکن بعلم الله وارادته يکن في الخارج على طريقة قوله عليه الصلوة والسلام على مافي البخاري وغيره " فمن کان هجرته الى الله ورسوله فهجرته الى الله ورسوله، نو په دې حديث کي خو هم شرط او جزاء ظاهرا او لفظا سره يو شی دي، مع ان هذا وارد في کلام افصح

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

العرب والعجم اعني رسول الله ﷺ نو څکه شراح داحادیث نبویه ﷺ وو یې داسي ترجمه کوي، فمن کان هجرته عملا ونیتا فهجرته ثوابا وقبولا فیتغایر الشرط والجزاء فکذا في ما نحن فیه فافهم فانه دقیق، او بعض مفسرین وایي چي په جواب کي د امر غیر حقیقي عدم جواز النصب ممنوع پر خلاف د ټولو نحاتو والله اعلم بالصواب.

البحث الرابع:- ان في کن فیکون پنځم دلیل دی پر ابطال د قول د یهودو او نصاری وو او مشرکانو چي خدای ﷻ لره ولد ستنه، اتخاذ الولد خو مهلت او اطوار غواړي عادةً یعني نطفة وعلقة ومضغة او مدة الحمل وفعله تعالی یستغني عن المهلة والاطوار لکونه کن فیکون في السرعت الامتثال.

البحث الخامس:- بعض مفسرین رحمهم الله وایي چي کان دلته تامة دی ولي چي خبر یې نه دی ذکر سوی نو ترجمه یې داسي کړې ده احدث فیحدث چونکه پر دې مفسر دا سوال وارد دی چي لکه وجود د شي في نفسه چي په اراده د خدای ﷻ دی دغه رنګه وجود د شي لغیره خو هم په اراده د خدای ﷻ دی نو هغه خو باید داسي وویل سي مثلا کن یا زید قائما فیکون قائما چي دا معنا د کان ناقصه ده، نو هغه مفسر په جواب کي داسي ویلي دي، واما کون الشیئ موصوفاً بصفة فلیس مدلولالهذه الآیة

البحث السادس:- په سه چي سبب ددغه ضلالت یعني اتخذ الله ولدا، ویهودیانو او نصاری و ته دادی علی مافي البیضاوي رحمه الله چي علماء د شرائعو متقدمه وو کانوا یطلقون الاب علی الله تعالی یعني دوئ وویل خدای ﷻ لفظ الاب باعتبار انه السبب الاول دی حتی دوئ به ویله ان الاب یعني پلار هو الرب الاصغر والله سبحانه تعالی هو الرب، یعني پلار د سړي کوچنی تربیت ورکونکی د عیال دی او الله ﷻ لوي تربیه ورکونکي د انسان

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دی، وهذا المعنی صحیح، وروسته د جاهلانو دا خیال سو چې خدای ﷻ ته چې رب اکبر وایي معنا یې ولادت دی، نو جاهلانو دا عقیده د تقلید د لارې وکړه، نو اوس اطلاق د اب پر خدای ﷻ کفر دی، او ددې اطلاق څخه په هره معنا چې وي منعه راغلې تاچې د فساد ماده قطعه سي، هذا حاصل ما في البیضاوي، او روح البیان خو داغه قدر ویلي دي، لکن دا یې زیاته کړې چې اطلاق د حبیب او خلیل پر خدای ﷻ روا دی نه اطلاق د اب تاچې جهله ولادت طبعي څندي مراد نه کړي، او دا یې هم ویلي دي چې عیسی ﷺ ته خدای ﷻ داسې وحي وکړې "وَلَّدتك" په تشدید د لام والضمیر المؤنث راجع دي الی ام عیسی ﷺ یعني ته و زېږولې مور ستا، ثم قال ﷻ وانت نبي یعني د مور د ولادت په وخت کې زما په علم او تقدیر کې ته نبي وې.

نو نصاری وو د لام تشدید په تخفیف بدل کړی، او ضمیر د تانیث یې په ضمیر د متکلم واحد بدل کړی چې معنا یې داسې کېږي چې ما وزېږولې ته، او په لفظ کې د نبي کلمه د باء یې تر نون دمخه کړه، نو داسې لفظ څندي چورې سو ولدتك وانت بني، چې معنا یې داسې کېږي چې ته ما وزېږولې او ته زما زوی یې تعالی الله عما یقول الظالمون علوا کبیرا، او یهودو ته یعني علماوو ته ددوی خدای ﷻ داسې خطاب یا احباري ویا ابناء رسلي، نو یهودیانو په اخرکې دا لفظ په دې بدل کړی یا احبائي ویا ابنائي نو خدای ﷻ ددوي تکذیب وکړی په دې آیت کې "وقالت الیهود والنصاری نحن ابناء الله واحبائه قل فلم یعذبکم بذنوبکم"

البحث السابع:- پوه سه هیڅ څوك شك نه لري چې درواغ ویل پر خدای ﷻ باندې اعظم جرم دی، من الکذب علی رسول الله ﷺ، او په حدیث شریف کې راغلي دي ان کذبا علي لیس ککذب علی الله، وورد في الحدیث الآخرالذي رواه البخاري وغیره، من کذب علي متعمدا فلیتبوء مقعده من

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

النار" یعني که چا درواغ وویل پر ما باندي، نو دي جوړ کي ځای خپل په دوزخ کي.

پوه شئ:- چي لفظ د حدیث مذکور که څه امر دی او انشاء ده لکن معنا یې اخبار دی یعني ځای یې ځان لره په دوزخ کي جوړ کړی.

دوویشم وایي:- چي ای مخاطبه ته فکر وکړه چي درواغ پر علیه الصلوة السلام باندي دومره لویه ګناه ده، نو درواغ ویل پر خدای ﷻ باندي به څونده اندازه ګناه وي.

المبحث الثامن:- مومن لره پکار ده چي په ورته اقوالو او اعمال باندي ځان نه کي اخته بلکه اکثر اوقات خپل په عبادت او ذکر الهي کي صرف کړي، په صحیح حدیث کي راغلي دي علیه الصلوة السلام وایي ""للمؤمن حصون ثلاثة، ذکرالله، وقرآئة القرآن والمسجد"" مسلمان لره دري قلعي دي یعني له شیطانه څخه بچ کېږي، یو ذکر د خدای ﷻ دی که الحمدلله وي او که الله اکبر وي الی غیر ذالك من الاذکار، بل قرآئت د قرآن مجید، او بل ځای د لمانځه لکن په درو سرو کي اخلاص اهم شرط دی.

وَقَالَ الَّذِينَ لَا يَعْلَمُونَ

پوه شئ:- چي ابن عباس ﷺ وایي چي مراد د من موصول څخه یهودیان دي چي رافع بن حرمله و علیه الصلوة السلام ته راغلی، او دوئ وویل که ته رسول د خدای ﷻ یې لکه ته چي وایي، نو زموږ سره دي خدای ﷻ پخپله خبري وکړي چي موږ یې هم واورو یعني ستا د نبوت په باره کي.

او مجاهد ﷺ وایي د "الذین آه" څخه مراد نصاری دي چي هغو هم ورته خبره دیهودو کړې وه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

سوال:- دا دواړې ډلې خو اهل کتاب دي، نو خدای ﷻ نفي د علم ددوئ څخه وکړه ؟

ځواب:- مقتضی د علم خو داوه چې دوئ دي داسې خبرې نه کولای، نو چونکه عالم چې د جاهل خبره وکړي هغه هم جاهل دی بل اشد منه، وقال قتادة ؒ المراد به الاميون من مشركي العرب .

لَوْلَا يُكَلِّمُنَا اللّٰهُ اَوْ تَاْتِيْنَآ اٰيَةٌ

پوه شه:- چې لولا په معنا د هلا دی یعنې ولې خبرې له موږ سره خدای ﷻ یعنې لکه د ملکو سره خبرې کوي، او یا د موسی ﷺ سره؛ یعنې موږ ته دې ووایي چې محمد ﷺ زما رسول دی .

فائده:- لولا که په معنا د هلا وي او یا صریح لفظ د هلا وئ که پر ماضي داخل سي حرف تندیم یې بولي یعنې پر هغه ماضي کار مخاطب پښېمانه کوي چې ولې دي نه کاوه، باید کړی دی وایي، کقولك هلا اکرمت زیدا، دا داسې وخت ویل کېږي چې مخاطب اکرام د زید نه وي کړی، او متکلم وده ته د پښېمانۍ پېغور ورکوي، او که پر مضارع داخل سو حرف تحضیض یې بولي یعنې متکلم مخاطب باعثه کوي چې دا کار وکړه، مثلا تقول هلا تضرب زیدا یعنې زید مستحق د ضرب دی نو وه یې وهه کذا في کتب النحو .

پوه شه:- چې دا خبره ددوئ نهایت تکبر او غایت بېباکي د دوئ ده چې خانونه یې د ملکو او یا د موسی ﷺ مقام ته ورسول، او یا ولې خدای ﷻ موږ ته نه استوي یو دلیل او معجزه ستا پر صدق باندې، او دا خبره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ددوئ نهایت سپکاوی دی د معجزاتو د رسول ﷺ یعنی دا تا راوړي معجزې خو چندان شی نه دي.

كَذٰلِكَ قَالَ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِهِمْ مِّثْلَ قَوْلِهِمْ

او داغسي خبري کړي دي هغه کسانو چې تر دوئ د مخه وه یعنې اسلاف الیهود والنصاری یعني قول الیهود لموسی ﷺ ارنا الله جهرة وقول النصاری لعیسی ﷺ هل یستطیع ربک ان ینزل علینا مائدة من السماء.

تَشَابَهَتْ قُلُوْبُهُمْ قَدْ بَيَّنَّا الْاٰيٰتِ لِقَوْمٍ يُّوْقِنُوْنَ ﴿۱۱۸﴾

مشابهت لري زړونه ستا د معاصرینو یهود او نصاری وو د زړو سره د اسلافو د دوئ في الکفر والعناد وعدم الاعتداد بما یؤتي الرسولین المذکورین من المعجزات الباهرات الدالة علی صدقها، په تحقیق سره موږ بیان کړي دي هغه قوم لره چې طلب د یقین لري بما هو الحق عند الله

پوهه شه:- چې کاف د کذالك په معنا د مثل منصوب دی محلا مفعول به د قال ، وقوله مثل قولهم مفعول مطلق دی د قال. والحاصل قال کفار الامم الماضیة مثل ذالک القول الذي قالوه قولا مثل قولهم نو په دې آیت کې دوئ تشبیه دي یوه تشبیه د مقول په مقول سره في المودي والمحصول او بله تشبیه د قول په قول سره ده چې دواړه قولونه یې په بې فکري سره سوي دي صرف په متابعت د خواهشاتو نفسیه وو علی سبیل التعنت والعناد لا علی سبیل طلب الرشاد والهدایة، وعلی هذا التقریر نو دا سوال نه وارد ږي چې په دې آیت کې دوې تشبیه ګاني دي. نو دواړو ته څه ضرورت و فتامل هداك الله تعالی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ثابت:- پوه سه چې يقين اعلى او اكد د اقسامو د علم دی، وقد فسروه بانه اعتقاد ای ربط القلب خرج به الشک والوهم من اقسام التصور جازم، يعني ليس فيه احتمال النقيض، خرج به الظن لان الاعتقاد فيه ليس بجازم لاحتمال النقيض ولو مرجوحا، ثابت يعني لايزول بتشكيك المشكك خرج به التقليد لانه قد يزول بالتشكيك، كما ان بعض الحنفية صاروا وهابية بالتشكيك بدلائلهم الزائعة .

مطابق للواقع:- خرج به الجهل المركب يعني لا يعرف جهله ولا يعلم ماهوا الواقع كما قيل في الفارسية .

آن كس كه نداند، وبداند كه بداند، در جهل مركب ابد الدهر بماند، ومقابله الجهل البسيط، يعني يعرف جهله وان كان لا يعرف ما هو الواقع، وقد قيل فيه، آن كس كه نداند، وبداند كه نداند، او اسپ خود از گنبد فيروزه جهاند .

إِنَّآ أَرۡسَلۡنَٰكَ بِٱلۡحَقِّ بَشِيرٗا وَنَذِيرٗا وَلَا تُسۡـَٔلُ عَنۡ أَصۡحَٰبِ ٱلۡجَحِيمِ ١١٩

په تحقيق مونږ ته استولى يې متلبسا په حق سره، يعني په معجزاتو سره، او ابن عباس ﷺ وايي چې مراد د حق څخه قرآن دی كما في قوله تعالى "بل كذبوا بالحق لما جائهم" چې زبرى كونكى يې اهل طاعت لره په جنت سره او اهل عصيان لره په دوږخ سره، او له تا څخه پوښتنه نه كېږي د خاوندانو د دوږخ، يعني دا پوښتنه نه در څخه كېږي چې دوئ ولي ايمان نه راوړي، ولي چې پر تا باندې بلاغ مبين دی، او پر مونږ حساب د يوم الدين دی .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوهه شه:- چې نافع او یعقوب رحمهما الله یې پر صیغه د نهي وایي، او مبني للفاعل یې بولي، یعني ته سوال مه کوه د دوزخیانو په باره کې، ولي چې ددوئ عذاب دومره فضیع او خوفناکه دی چې سامع او اورېدنکی یې پر اورېدو باندې صبر نه سي کولای، لکه یو سړی چې د غمزده پوښتنه وکړي چې فلانی څرنګه دی هغه بل ورته ووایي چې پوښتنه یې مه کوه، یعني د هغه فلاني دومره غم دی چې ته یې صبر پر اورېدو نه سې کولای، او نور جمهور او معظم قاریان رحمهم الله یې په صیغه د مجهولي مخاطبي وایي کما في جمیع النسخ المطبوعة کمامر لا تسئل و مر معنی تلک القرائة

پوهه شه:- چې پر صیغه د نهي دا سوال وارد ېږي چې پر دې تقدیر خو لازمېږي عطف د انشاء چې لاتسئل دی لکه پر قرائت د نافع او یعقوب چې دوئ پر جمله خبریه باندې یعني انا ارسلناك بالحق آه .

والجواب عنه، چې دا جمله انشائیه هم په معنا د خبر ده یعني د جمله خبریه ای لست مکلفا بجبرهم علی الاسلام، او یا دا جمله انشائیه عطف پر مقدر د ای فبشروا نذر. وقال البیضاوي انه نهی للرسول ﷺ عن حال ابویه آه، خفاجي رحمه الله وایي چې بیضاوي رحمه الله په دې قول متابعت د صاحب کشاف کړی دی حیث قال صاحب الکشاف ان النبي ﷺ قال لیت شعري مافعل ابوی، قال الطیبي رحمه الله تفسیر هذه الجملة ای مافعل بهما، عراقي رحمه الله وابي اقف علیه في حدیث، یعني زما علم نه دی راغلی چې دا آیت دي په شان د نهي د نبي ﷺ راغلي وي د خان څخه د ابویه ﷺ په هیڅ حدیث کې، قال العراقي رحمه الله والذین نقطع به ان هذه الآیة ای علی تقدیري الاخبار لا لنهي نازلة في کفار اهل الکتاب کالآیات السابقةلها والا حقةلها انتهی قول العراقي رحمه الله وانتهی نقل الشارح الخفاجي رحمه الله له .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ژوپښ وايي:- چې دا قول د عراقي ﷺ ډېر موزون او په زړه پورې قول دی، مګر بيا هم روح البيان و الادا نهي يعني ولاتسئل وه حال ته د ابوينو د عليه الصلوة والسلام کش کړی، او ډېر طويل بحث يې پکښې کړی، او اقوال د امامانو ﷺ د تفسير او حديث راوړی دی چې په سبب د تطويل بلکه د خطره دروېش نه کړه رانقل، او تفسير ومظهري والا هم ډېر بحث پکښې کړی دی او مسئله يې څېړلې ده، د دروېش په عقيده قول د امام عراقي ﷺ د تطويل اود خطر څخه خلاص دی، والله اعلم بالصواب واليه المرجع والمآب که څوک تفصيل ددې مسئلې غواړي نو تفسير د امام قرطبي ﷺ او تفسير روح البيان، او تفسير مظهري او د شيخ جلال السيوطي ﷺ رسالې دي په غور سره مطالعه کړي.

وَلَنْ تَرْضٰى عَنْكَ الْيَهُوْدُ وَلَا النَّصٰرٰى حَتّٰى تَتَّبِعَ مِلَّتَهُمْ

او هر ګز نه راضي کېږي ستا څخه يهود او نصاری تر هغو پورې چې ته متابعت ونه کړې د ملت ددوئ.

پوهه شئ:- چې په دې آيت کې نا اميد کول دي د نبي ﷺ د ايمان څخه د يهود او نصاری وو چې ګاهې ناوخته به په زړه کې د عليه الصلوة والسلام وکړځېدل چې دوئ به ګوندې په ډليزه توګه ايمان راوړي.

دليل د اقناط کلي يې دادی چې ددوئ رضی خدای ﷻ معلق کړه په متابعت د رسول الله ﷺ د دوئ د دين او دا اظهر من الشمس ده چې آنحضرت ﷺ خو ددوئ د دين منسوخ متابعت نه سي کولای بلکه دا متابعت خو ممکن هم نه دی، او معلق په غير ممکن سره غير ممکن دی نو متابعت د يهود او نصاری وو په ډليزه توګه هم ممکن نه دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه سه:- چې یهودو د مدیني منورې او نصاری د نجران هغه وخت چې علیه الصلوة والسلام ددوی وقبلې بیت المقدس ته لمونځ کاوه دوی امید ددې درلودی چې علیه الصلوة والسلام زمونږ دین ته راواوړي، یعنې د هرې ډلې جلا جلا امید وو، څه وخت چې قبله کعبې شریفې ته را واوښتل نو ددوی امید وختی، نو دا آیت نازل سو.

فائده:- ملت او دین په یوه معنا دي او فرق اعتبارې سره لري، ولې چې دین ماخوذ دی د دان یدین دینا چې معنا یې اطاع ده اطاعت شعار د متقیانو دی کما هو الظاهر.

او ملت مشتق دی د املاء څخه چې د املال سره هم معنا لري، او املا کتابت ته وایي چې دا د علماؤ کار وي.

فائده:- علم شریعت بېله متابعت او عمله په درد نه خوري چې په ګناه کې د عالم او جاهل بل داسې حدیث وارد دی "للجاهل ویل وللعالم سبعون ویلا" او تقوی بېله علمه څخه نه کامیابه کېږي.

که بې علم نتوان خدا را شناست ، سعدي رح

قُلْ اِنَّ هُدَى اللّٰهِ هُوَ الْهُدٰى ؕ

ته ودوی ته ووایي چې تحقیق هدایت د خدای ﷻ اسلام دی هدایت هغه دی، نه چې تاسي یې امید لري له ما څخه یعني یهودیت او نصارنیت لانهما دینان منسوخان . ومر ان المنسوخ لا یعمل به ولیس من الرسول امکانه ایضا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَلَئِنِ اتَّبَعْتَ أَهْوَآءَهُمْ
بَعْدَ الَّذِي جَآءَكَ مِنَ الْعِلْمِ ۙ مَا لَكَ
مِنَ اللّٰهِ مِنْ وَّلِيٍّ وَّلَا نَصِيْرٍ ﴿۱۲۰﴾

او که ته متابعت وکړي د خواهشاتو باطله وو ددوئ وروسته تر دې چې تاته علم یعني الوحي والقرآن راغلی یعني فرضاً او تقدیراً کما هو معنی د "ان" ده، نو نه به وي تاله د خدای ﷻ یعني د عذابه څخه د خدای ﷻ نه دوست چې شفاعت دي وکړي او کومک کونکی چې تادي په زور د خدای ﷻ څخه خلاص کړي.

پوهه شه:- چې اهواء جمع د هواء ده، هغه رایي ته وایي چې تبع د شهوت وي او بلونکې وضلال ته وي، اهوائهم چې یې جمع راوړه او داسې یې نه وویل هوائهم لان للیهود والنصاری اهواء زائغة مختلفة کلها الی ضلال داعیة نجانا الله منها.

اَلَّذِيْنَ اٰتَيْنٰهُمُ الْكِتٰبَ يَتْلُوْنَهٗ حَقَّ تِلَاوَتِهٖ ۭ اُولٰۗىِٕكَ
يُؤْمِنُوْنَ بِهٖ ۭ وَمَنْ يَّكْفُرْ بِهٖ فَاُولٰۗىِٕكَ هُمُ الْخٰسِرُوْنَ ﴿۱۲۱﴾

هغه کسان چې موږ ورکړی دی کتاب دوئ ته، دوئ تلاوت کوي د هغه کتاب په حق تلاوت سره، او دوئ ایمان راوړی دی پر هغه کتاب باندې او څوک چې کفر وکړي په هغه کتاب سره نو هغه خلک په خسران او تاوان کې دي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده:- مفسرین ﷺ ددې آیت په شان نزول کې اختلاف لري، قتاده او عکرمه رض وایي چې مراد له کتابه قرآن مبارك دی، او مراد د الذین آمنوا څخه اصحاب ﷺ د علیه الصلوة والسلام دي، او بعض وایي چې ټوله مؤمنان د دین محمدي ﷺ مراد دي، او ضحاك ﷺ وایي چې مراد هغه کسان دي له یهودو څخه چې ایمان یې پر علیه الصلوة والسلام په مدینه منوره کې راوړی لکه عبدالله ابن سلام ﷺ، وسیعه بن عمر ﷺ وتمام بن یهودا ﷺ اوسید او اسد ﷺ چې زامن وو د کعب ابن یامن و عبدالله ابن صوریا، نو پر دې تقدیر موصول لپاره د عهد دی، او عبدالله ابن عباس ﷺ وایي چې دا آیت په هغه کښتی والا وو کې نازل سوی دی چې د جعفر ابن ابي طالب ﷺ سره په کښتی کې مدینې منورې ته راغله چې ټوله څلوېښت کسان وه، دو دېرش (۳۲) له حبشې څخه وه، او اته (۸) کسان د صوفیانو څخه د شام وه، چې یو له هغو څخه بحیرار اهب و، چې په وخت کې د فتحې د خیبر دوی مدینې شریفې ته ورسېدل علیه الصلوة والسلام دا خبره وکړه چې حیران یم چې په فتحه د خیبر خوشحال سم او که په قدوم د جعفر ﷺ نو پر دې تقدیر هم موصول لپاره دعهد دی.

لغوي:- چې بیضاوي او روح البیان والا وتفسیر د ضحاك ته ترجیح ورکړې ده، او دکتاب څخه یې توارت مراد کړ خولی دی، او لفظ د حق تلاوت منصوب دی علی المصدریة یعني مفعول مطلق د یتلونهٗ لاضافته الی التلاوة التی هي مصدر لیتلونه او مراد له حق تلاوت څخه دادی چې الفاظ د تورات د تحریف یعني تغیر څخه وساتي او اوصاف د علیه الصلوة والسلام نه پوټوي، او نه یې غلط تاویل کوي او په معاني وو کې د تورات فکر او غور کوي او عمل په مقتضا د ښوونې د تورات کوي چې نمونه د هغه عمل ایمان دی پر علیه الصلوة والسلام.

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

پوښتنه:- جمله د يَتلُونَ آه، خو حال ده له ضمیره د هُم" په آتیناهم، کي او په حال کي دا شرط دی چي زما نه د حال او عامل د ذو الحال به یوه وي، كما تقرر في كتب النحو، او سره ددي چي ایتاء الكتاب خو په زمانه کي د موسی ﷺ وه، او چي د موصول څخه مراد مومنین د اهل کتابو سي نو زمانه د یتلونه حق تلاوته" خو زمانه د نبي کریم ﷺ ده وبين الزمانين سنون كثيرة،

ځواب:- چي دا حال مقدرة دی ای مقدرة ومفروضة تلاوتهم حق التلاوة وقت ایتاء الكتاب ای التوراة

پوښتنه:- چي دا حال مخصصه ده ولي نوله من اوتي التوراة خو موصوف په صفت د یتلونه حق تلاوته نه دی، نو الذين آتيناه سره د حال د یتلونه آه ، مبتداء ده او جمله د اولئك يؤمنون يې خبر دی.

فائده:- که چېري الذين آتيناهم الكتاب مبتداء سي او یتلونه آه يې خبر سي، او جمله د اولئك آه جمله مستانفه سي يا خبر بعد الخبر سي نو د الذين يؤمنون آه، څخه مومنون د عصر نبوي ﷺ اخستل استعمال دی عام په خاص کي په قرینه عقلیه سره كذا قال خف .

يٰبَنِيٓ إِسۡرَٰٓءِيلَ ٱذۡكُرُواْ نِعۡمَتِيَ ٱلَّتِيٓ أَنۡعَمۡتُ عَلَيۡكُمۡ وَأَنِّي فَضَّلۡتُكُمۡ عَلَى ٱلۡعَٰلَمِينَ ﴿١٢٢﴾ وَٱتَّقُواْ يَوۡمٗا لَّا تَجۡزِي نَفۡسٌ عَن نَّفۡسٖ شَيۡـٔٗا وَلَا يُقۡبَلُ مِنۡهَا عَدۡلٞ وَلَا تَنفَعُهَا شَفَٰعَةٞ وَلَا هُمۡ يُنصَرُونَ ﴿١٢٣﴾

ای اولاده د یعقوب ﷺ تاسي په یادا کړئ نعمت زما چي تاسي ته مي درکړی و

Maktaba Tul Ishaat.com Scanned by CamScanner

پوهه:- چي نعمت اسم جنس دی ولي چي بني اسرائيلو ته خو خدای ﷻ دپر نعمتونه ورکړي وه سلفاً وخلفاً کمامر ذکرها في تمام قصتهم چي د جملې څخه د هغو تورات و، او د ذکر څخه د نفس يې يادول نه دی بلکه شکر د نعمت کول دي يعني بالايمان بجميع ماجاء به التوارة والعمل فيما فيه، او د جملې څخه د مافيه التواة ايمان دی پر نبي ﷺ المنعوت في التوراة .

پوهه:- چي "اني فضلتكم آه" عطف دی پر نعمتي يعني په ياد کړئ دا خبره چي "اني آه، او مراد د "العلمين" څخه علمين ددوئ د زمانې دي لانهم ليسوا بافضل من افضل الامم يعني امت محمد ﷺ .

او تاسي څان وساتي له هغې ورځې څخه يعني له عذابه د هغې ورځې چي قيامت ده، او څان ساتنه په ايمان او عمل صالح سره کېږي .

پوهه:- چي جمله د لاتجزي صفت د يوما دی، والعائد محذوف ای فيه، چي نسي اداء کولای يو نفس د نفوسه د بل نفس څخه هيڅ شی د حقوق لازمه څخه په ذمه کي د نفس ثاني، او نه قبلېږي له نفس اولی څخه فديه چي دی دي له دوزخه په خلاص سي چي کافر مثلا وي، او فائده نه کوي ونفس ثاني ته چي کافر وي شفاعت دچا .

پوهه:- چي سالبه قضيه په عدم سره دموضوع هم ثابتېږي، کما تقرر في كتب المنطق ای لا شفاعة للنفس الكافرة، او نه هم ددوئ سره کومك کول کېږي د چا له خوا چي د عذاب الهی څخه دې په زور خلاص کړي .

پوهه:- چي چونکه نفس نکره وو او په سياق کي د نفي راغلی و، نو ارجاع د ضمير د جمع چي "هم" دی ورته صحيح ده قال العارف الشيرازي رحمه الله

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قیامت که نیکان باعلاء رسند
زقعری ثری تا ثیر مارسند

تراخود بماند سر از ننگ پیش
که گرددت در آید عمل های خویش

برادر زکار بدان شرمدار
که در روي نیکان شوي شرمسار

در آن روز که زفعل پرسند و قول
الو العزم را تن بلرزد ز هول

بجانکه دهشت خوړد انبیاء
تو عذر گناه را چه داري پیا

پوښتنه:- په سر کي د قصې د بني اسرائلو هم دغه دوه آیته راغلي وو، نو څه حکمت آلهي و چي په پای کي د قصې ددوئ یې بیرته هغه دوه آیته راوګرځول ؟

ځواب:- دغه رد د خاتمه ته وفاتحه ته بولي چي د محسناتو څخه د بلاغة الکلام ګڼل کیږي، او بل حکمت دادی چي خدای ﷻ اشاره ودې ته کوي چي مقصود د ټولي قصې څخه د بني اسرائیلو مضمون د دغو دوو آیتو دی چي په اول آیت کي ور پیادول د نعمت دی لپاره د ترغیب في الشکر، او په دویم آیت کي بیرول دي له عذابو څخه د ورځي د قیامت، او بل حکمت دادی چي ناصح دي د تکرار څخه د نصیحت مرةً بعد اخری ډډه نه کوي ولي یو وخت به غشی د نصیحت پر نښان ولګیږي .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَإِذِ ابْتَلَىٰ إِبْرَٰهِـۧمَ رَبُّهُۥ بِكَلِمَٰتٍ

او په یاد کړئ هغه وخت چې ابراهیم ﷺ خدای ﷻ دده مبتلی کړی په یو څو خبرو سره.

پوهه شه:- چې د ابراهیم معنی په سریانې ژبه اب رحیم، یعنې مهربانه پلار، او سریانې لفظ و عربې لفظ ته چې اب راحیم دی ډیر نژدې دی، قالوا ان کثیرا من الالفاظ السریانیة قریبة الی العربیة.

فائده:- سبب ددې نامه دادی چې ابراهیم ﷺ پر اطفالو ډیر مهربانه وو او هم دا سبب دی چې دی ﷺ او ددې همسره ساره ؓ کفالة د هغو اطفالو د مومنانو چې قبل البلوغ مړه سي دی ﷺ او ددې همسره یې پر غاړه لویوي الی یوم القیامة کذا في روح البیان.

فائده:- د ربه ضمیر و ابراهیم ﷺ ته راجع دی لکن مفعول یې لفظا له مخه کړی که څخه هم رتبةً وروسته دی لپاره د تشویق د اذهانو د سامعینو و ذکر ته د مبتلی کما قال العارف الجامي.

چه خوش باشد که بعد از انتظاري
با مید ر سد امید واري.

پوهه شه:- چې مقصود د ذکر څخه د وخت پیادول د ماوقع في الوقت المذکور من الحوادث اذ الوقت مشتمل علیها مذکر الوقت ذکر تلك الحوادث.

فائده:- د دغو کلماتو په کتابو کې د تفاسیرو مختلف بیانات راغلي دي، منها ماروي عن ابن عباس ؓ چې لس فعله وه چې په شریعت کې د ابراهیم ﷺ فرض وه، او سنت دی په شریعت کې د اسلام کما قال علیه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

الصلوة والسلام عشر من الفطرة رواه البخاري اى السنة القديمة، پنځه د هغو په سر کي دي چې .

(۱) اول مضمضه (۲) دويم استنشاق (۳) دريم وفرق الراس (۴) څلورم وقص الشوارب (۵) پنځم سواك، او پنځه په نور بدن دي .

(۱) اول الختان يعني سنتي (۲) دويم وحلق العانة يعني زير ناف خريل (۳) دريم نتف الابط يعني د بغل وېښتيان کښل (۴) څلورم وتقليم الاظفار، يعني نوکان د لاسو او پښو پرېکول (۵) والاستنجاء بالماء، يعني دبره او ذکر پرېوللل .

مسئله :- فرق الراس دا معنا ده چې د سر وېښتيان دي دوه خايه کوي او په منځ کي دي لار باسي، په حديث مبارك کي راغلي دي چې مشرکانو به فرق الراس کاوه، او اهل کتابو به وېښتيان پر تندي را ايله کول لکه زموږ د مسلمانانو ځوانان چې يې نن صبا کوي، او د عليه الصلوة والسلام مواقفه د اهل کتابو خوښه وه چې وحي به نوې پر هغه کار راغلي، په دې سبب چې شايد د اهل کتابو په کتابو کي دا حکم موجود وي وروسته جبرئيل ﷺ راغلى او عليه الصلوة والسلام يې امر کړى په فرق الراس سره

فائده مهمه :- پوه سه:- چې آنحضرت ﷺ محدود وارونه سر خريلى دى او په اکثرو احوالو کي عليه الصلوة والسلام وېښتيان د سر مبارك پرېښوله، ګاهي به يې وېښتيان دده مبارك تر نيمايي د غوږو ورسېده او ګاهي به يې سر وخرايه، او ګاهي به تر نرميو د غوږو ورسېدل او بيا به يې بيا به يې سر وخرايه، او ګاهي به يې تر وږو وېښتيان ورسېدل بيا به يې وخريل كما ورد في الاحاديث الشريفة وكل ذالك حسن موافق للشريعة الامة المرحومة

مسئله :- د سر وېښتيان پرېښول او بيا څوني پرې کول او څټ خريل په شريعت کي هيڅ ثبوت نه لري او له فعله د نبي ﷺ مخالف دى .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه:- په حدیث کې د بخاري وغیره راغلي دي چې علیه الصلوة والسلام درې واړه دا وویل رحم الله المحلقین قالوا ای الصحابة و المقصرین؟ په اخر کې علیه الصلوة والسلام وویل والمقصرین، نو ددې حدیث څخه خو دا معلومېږي چې حلق افضل دی .

ځواب:- دا حدیث په باره کې د حج د احلال دی لاعموما کمایدل تمام الحدیث علیه ولاریب ان الحلق في الحج افضل من القصر .

ځړوبښې وایي:- چې امام همام محمد الغزالي رحمه الله په احیاء العلوم کې وایي چې وېښتیان د سر پرېښول تر وړو پورې مکروه دي ولې چې دا اشعار د علویانو دی، نو ځوک چې علوي نه وي او د سر وېښتیان دومره پرېږدي تلبیس او شتباه یې د علویانو سره راځي .

ځړوبښې وایي:- چې زمونږ په بلاد کې خو دا اشعار د علویانو نه دی بلکه دا اشعار د طالبانو د علوم اسلامیه وو دی فلاباس به .

مسئله:- په اوسنۍ زمانه کې چې ځوانان د افغانستان او پاکستان پېښکیان پر تندي پر ډول د نصاری وو پرېږدي او وفرق الشعر نه کوي هغو لره حلق افضل دی، تر ټولو عجیبه خو لاداده چې بعض بې ږدي په رنګ بناسته هلکان خپل پېښکي په دې اندازه کې پر تندي داسې جوړوي لکه د سړي ماینه چې مېړه ته ځان سنګاروي. نو دا فعل ددوئ دعوت دی وښځوته او یا دعوت دی د ځانانو ددې ومحبت ته، او د محبت دداسې هلك اخري نتیجه وهر چا ته معلومه ده، نو پر داسې هلك باندې د پلار له خوا د سر خریلو امر لازم دی دفعاً للفتنة .

او په خبر کې داسې راغلي دي چې یو سړي خپل زوي چې بعض سر یې ورخریلی و او بعض وېښتیان د سر یې ورپرې ایښي وه ومجلس ته د ابو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بکر صدیق ﷺ یې راوستی، نو ابو بکر ﷺ امر وکړی په قتل د دغه هلک فاستغفر ابوه فعفا عنه .

پوهاوی:- چې امر بالقتل حقیقةً نه دی بلکه زجراً دی کما ورد في الحدیث النبوي ﷺ لاصلوة لجار المسجد الا في المسجد" والامثال الزجریات کثیرة، ومن امثلته چې یو سړي په مجلس کې د امام ابو یوسف رحمه الله وویل چې د علیه الصلوة والسلام کډو خوښ وو یعني خوړل یې، کما ورد في الحدیث رواه البخاري وغیره، نو بل سړي د حاضرینو د مجلس وویل چې زما کډو نه دی خوښ فامر ابو یوسف رحمه الله بقتله فتاب الرجل وعفاعنه ابو یوسف رحمه الله .

مسئله:- قص الشارب امام نووي رحمه الله وایي چې سنت داده چې برېتونه په غچي دومره پرې کړي چې ښکاره سي، او اصل خو داده چې برېتونه داسي جوړ کړي لکه ورځه، لکن مع هذا په غچي چې هر څومره وېښتیان د برېتو قطع کوي روا دي، په روح البیان کې وایي چې خریل د برېتو په چاړه بدعت سیئه دی .

مسئله:- په احیاء العلوم کې وایي چې اخیر د برېتو چې ماتي یې بولي غټ پرېښول جائز دي، ولي چې په ماتي خوله هم نه پوتېږي او د دوډی خیره نه پکښې بند ېږي، وقد فعله عمر ﷺ .

مسئله:- مجاهدینو لره په دار حرب کې غټ برېتونه پرېښول مندوب دي لیکون اهیب في اعین العدو، وان کان قطعهما من الفطرة کما قال علیه الصلوة والسلام جزوا الشوارب، پرې کوي برېتونه واعفوا اللحیة، او پرېږدئ ږیره .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله:- خریل د ږیري قبیح بلکه مثلت او حرام دی لکه سرخریل د ښځي، قاله صاحب روح البیان. فقهاء وایي چي ږره د نر پخپل وخت کي جمال دي" وفي حلقها تفویت الجمال علی الکمال. وورد چي په تسبیح کي د ملکو داسي راغلي دي سبحان من زین الرجال باللحی، وزین النساء بالذوائب. وفي الکشاف په تفسیر کي ددې قول د خدای ﷻ الرجال قوامون علی النساء، هم اصحاب اللحي والعمائم، یعني قوامون پر ښځو باندې ږري والا او لنګوټې والا دي.

مسئله:- تر قبضه چي ږره بالاسي هغه زائده ده پرې کول یې پرواه نه لري، کذا فعله عمر ﷺ، او روح البیان چي نسبت و علیه الصلوة والسلام ته کړی دی هغه په صحیح ثبوت نه دی رسیدلی، او ډېره بې اندازي ږدوالی یې مکروه دی، ولي چي د نر له خلقته سره بد ایسي، او خلک بدبد نومونه باندې اږدي.

حکایت:- یو ملا وو چي ږره یې په افراط وږده وه د شپې یې کتاب مطالعه کاوه، په کتاب کي یې دا ولیدل چي په افراد وږده ږره دلیل د حماقت دی، نو د ملا ددې مسئلې څخه بد راغله او د ځان سره یې داخیال وسو چي دا وینا درواغ ده ولي زه عالم یم او ږره مي په افراط هم وږده ده، نو کومه یم چي احمق یم، وروسته یې فکر وواهه چي دا خبره که بل څوک ووینې نو پر ما به یې د احمق خیال راسي نو د ځان سره یې دافیصله وکړه چي زائد عن القبضه پرې کړي په غچي پسي وګرځېدی نه یې کړه پیدا نو یې ږره قبضه کړه زائد وښتیان یې څراغ ته ونیول هغو چي اور واخستی د ملا صاحب لاسونه وسووول چابك یې استه کړه او ږره یې پاکه وسوه، نو یې د کتاب وینا وزړه ته ولویده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

مسئله:- مکروه دی د سپینو وښتیانو کښل، او یا یې په تور رنګ تورول کما یفعله بعض الناس حتی بعض العلماء کرهها للشیب وارادة الشباب ، قال الحافظ الشیرازي رحمه الله

سواد نامه موی سیاه چون طي شد
بیاض کم نه شود گرچه صد انتخاب رود

وقال الشاعر العربي

یسود اعلاها ویبیض اصلها
ولا خیر في الاعلی اذا افسد الاصل .

ژوبښې وایي:- چې اکثره خلګ چې ږدي خریي او سرتور وي په مقتضی د ماینو یې کوي ولي چې د ښځي د سپین وښتې څخه د مېړه بد راځي .

مسئله:- ږره یا سر رنګول په نوکریزو او په اسمه روا دي وقد ورد في الحدیث واجازه الفقهاء رحمهم الله .

پوښتنه:- فرق یې څه دی ؟

ځواب:- فرق یې دادی چې نوکریزي او اسمه وښتې نه تورويي بلکه رنګه یې بور سي، علماء وایي چې سپینه وښتې قاصد د خدای ﷻ دی په قرب د اجل موت او د قاصد مخ باید سړی نه کي ورتور .

پوښتنه:- چې امر د سنتي د حضرت ابراهیم علیه السلام داسي ثابت ورسېدی چې دی د یو سل او شلو کلو و، نو خان یې پخپله سنت کړی په ښار کي د قدوم په تشدید د دال او په تخفیف سره .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه شه:- چې فقهاء رح وايي چې ختنه يعني سنتي ټينګ سنت دی او د فطرت الاسلام څخه دی، چې ترک يې ونورو ته نه دی روا مګر نه ګڼي کوچنی سنت سوی پيدا سو يعني د ذکر پر سر يې پټونکی پوست نه و.

د رسوالله ﷺ په باره کې په صحيح حديث سره رسېدلې ده، چې دی چې د مور څخه پيدا سو هم مختون و او هم يې نو پرې و، او روح البيان والا په تولو انبياء کرامو عليهم الصلوة والسلام کې هم دا دعوی کړې ده او دا يې ويلې دي کرامةً لهم، مګر ابراهيم ﷺ يې مستثنی کړی دی والله اعلم.

حضرت ابراهيم ﷺ خو اولی په دې کرامت سره و فتامل، او د علماء اختلاف دی په وخت کې د سنتي، بعض علماء وايي چې تر هغو دې نه سنتو ي چې بالغ سوی نه وی، دليل دا وايي چې سنتي خو لپاره د طهارت ده، او پر هلك باندې تر بلوغ د مخه طهارت نه دی لازم.

ډوېښې وايي:- چې دا مذهب ضعيف دی ولې سړی چې بالغ سي. نو که سنتي والا دده ذکر ته لاس ورورې د ذکر سر يې تر پوست راوخي کما لايخفی، نو سنتي يې بعد البلوغ ډېره مشکله ده، او بل کشف د عورت غليظه وروسته تر بلوغ خو ناروا دی، او بل په حديث مبارك کې راغلي دي چې تاسي خپل عيال امر کوي په لمانځه سره وهم ابناء سبع، او وهي ياستې پر لمانځه باندې وهم ابناء عشر، او شك يې نسته چې طهارت خو شرط د لمانځه دی، او بعض علماء وايي چې لس کاله ته چې ورسېږي بيا دې سنت کړي، او بعض وايي چې نهه کاله ته ورسېږي بيا دې سنت کړي، او بعض علماء وايي چې په منځ کې د (۷) اوو او (۱۰) لسو کالو دې سنت کړي، او امام حدادي وايي ﷺ چې د سنتي وخت د اولي ورځي څخه شروع کېږي بيا تر لسو کالو پوري، او حدادي ﷺ زياته کړې ده ويکره ترکه الي وقت البلوغ ووجهه الفقير آنفاً، وتوقف ابو حنيفة ﷺ في وقته.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قال الفقهاء رح اذا اسلم الكافر يعني من الكفرة الذين لا يختنون لزم عليه ان يختن نفسه وان بلغ ثمانين سنة" او د حسن بصري رح څخه روايت دی چې پر شيخ کبير چې کافر وي او مسلمان سي سنتي نه ده لازمه قال ولا يرد شهادته، ويصح صلاته وحجه ويحل ذبيحته، قال ابن عبدالبر رح وعامة اهل العلم على هذا .

پوښتنه:- د مخه تېره سوه چې ابراهيم ﷺ د يو مل او شلو (۱۲۰) کلو و چې څان يې سنت کړی پخپله فلم فعل ذالك ولم لايلزم على سائر الناس ذالك ؟

ځواب:- دادی چې ابراهيم ﷺ څان ددې لپاره سنت کړی چې دی څو مقتداء د خلګو و تاچې د نفس سنتی رواج په وروسته کې پيدا سي لالائه لازم عليه ذالك فتدبر، د پرېکولو د نکانو د ګوتو او د پښو حکمت دادی چې د سړي نکان چې لوي وي، نو امکان لري چې په منځ کې د نوك او وړی منجمد خيره جمع سي، او چې سړی جنب سي نو هغه پوست تر خيره لاندې پټ وي او اوبه نه وړ رسېږي څو هغه سړی جنب پاته دی

پوښتنه:- قال الفقهاء رح من اجنب فبقي موضع ابرة من جسده بعد الغسل غير مغسول فهو جنب على حاله روح البيان، د نو کانو د پرېکيدو ورځ يې جمعه تاکلي وه" في الحديث من قلم اظفاره يوم الجمعة اعاذ الله تعالى من بلايا في الى الجمعة الاخرى و زيادة ثلثة ايام" ترجمه که چا پرې کړه نو کان په ورځ د جمعې خداي ﷻ به يې وساتي د ټولو بلاو څخه تر بلې جمعې پورې او دري ورځې بالا. وفي الحديث آخر من اراد ان يامن من الفقر وشكاية العين، فليقلم اظفاره يوم الخميس بعد العصر، ترجمه که څوك اراده لري چې ژه دې په امن سم له فقر څخه او د شکايت څخه د مترګو نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خپل نو کان دي پرې کړي په ورځ د پنجشنبې ورسته تر ما زدیګر، دا دوه حدیثه که څه هم ضعیف ګڼل سوي دي لکن په فضائلو د اعمالو حدیث ضعیف هم کافي دی کما تقرر في اصول الفقه، فلا یرد ما في المقاصد الحسنة قص الاظفار لم یثبت في تعین یومه عن النبي ﷺ آه.

پوه شه:- چې پرې کول د نوکانو د مدې تعین نه لري یعني دونه ورځي ورسته به سرې نوکان پرې کوي بلکه هر سړی دي خپلو نوکانو ته ګوري چې د خیري توهم پکښې پیدا سو بس دي پرې کوي، وما نقل من التربب في قصها من بعض العلماء فهو غیر موثوق به، فافهم، او تفسیر مظهري په روایت د عکرمه د ابن عباس رضي الله عنه چې مراد د هغو کلماتو څخه هغه د پرش برخي دي د اسلام چې په ټولو سره یې عمل نه دی کړی په دین ابراهیمي کې، مګر ابراهیم علیه السلام وکذا قال الله تعالى "وابراهیم الذي وفى لکن تفسیر مظهري هغه ټوله آیتونه کوم چې دغه د پرش کارونه پکښې دي بې ترجمې ذکر کړي دي نو کې دروپش هم بې ترجمې ذکر کړي نو به سامعان او مطالعه کونکي ددې تفسیر به څه فائده پر واخلي حتى الطلباء وبعض العلماء او کې دروپش ترجمه کوي د پر ورقي به وغواړي، نو دروپش د هغو سورتونو صرف نومان بیانه وي او د هغو خصالو ذکر کوي چې هغه خصال پکښې ذکر سوي دي، نو وایي چې په سورت برائة کې لس (۱۰) خصالة ذکر سوي دي (۱) توبه (۲) عبادت (۳) حد (۴) سیاحت (۵) رکوع (۶) سجده (۷) امر باالمعروف (۸) نهي عن المنکر (۹) حفظ د حدود الله (۱۰) ایمان چې مستفاد دی د آیت څخه وبشر المومنین.

او لس په سورت احزاب کې ذکر دي (۱) اسلام (۲) ایمان (۳) قنوت (۴) صدق (۵) صبر (۶) خشوع (۷) تصدیق (۸) روژې (۹) حفظ الفروج (۱۰) ذکر الهي، او لس په سورت المومنین کې کې ذکر سوي دي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(۱) ایمان (۲) خشوع په لمانځه کي (۳) اعراض عن اللغو (۴) زکوٰة (۵) حفظ الفروج (۶) الاعلی الازواج (۷) او الاماء (۸) رعایة العهد (۹) امانة (۱۰) محافظة علی الصلوات .

سوال:- په دي دېرشو خصالو کي بعض مکرر راغلي دي لکه ایمان وغیره نو په جمع کولو د ټولو خو دېرش نه پوره کیږي ؟

ځواب:- فاضل لاهوري رحمه الله په حاشیه کي د بیضاوي وایي چي تعداد خو دېرش پوره سو، البته تغایر ذاتي به نه سره لري د هغو مورِد دعوه نه ده کړې، فافهم

فَأَتَمَّهُنَّ

یعني ابراهیم علیه السلام هغه کلمات یعني په هر معنی چي وي پوره کړي او په حقه سره یې د هغو مراعات وکړی، او بیضاوي وایي چي بعض قراء ضمیر د "اتمهن" یعني ضمیر مستتر راجع بولي نو معنی یې دا ده چي خدای ﷻ ورکړي یعني ابراهیم علیه السلام ته ټولي کلمې یعني خوابونه د ټولو کلماتو پوره او کامل .

قَالَ إِنِّي جَاعِلُكَ لِلنَّاسِ إِمَامًا

او ووېل خدای ﷻ یعني و ابراهیم علیه السلام ته چي زه تا کرځوم د خلکو لپاره مقتداء .

پوښتنه:- چي بعض مفسران رحمهم الله وایي چي جمله د قال جمله مستانفه ده استیناف بیاني یعني ځواب د سائل د سوال دی، ګویا سائل وویل چي ابراهیم علیه السلام ماموریها خصال پوره کړي نو خدای ﷻ ود ته څه وویل، فاجیب قال انی آه.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ډوډيش وايي:- چې پر دې تقدير به د اذبتلی سره اذکر مقدر کړې او بعض مفسران وايي چې د ظرف متقدم يعني اذبتلی ابراهيم سره ددې قال اني معطوفه پر ماقبل باندې ده، او بعض مفسران وايي چې جمله د قال اني آه بيان دی د و اذبتلی ابراهيم نو کلمات دغه دي چې په دې ځای کې ذکر کړې يعني امامة، تطهير، البيت، ورفع القواعد والاسلام.

فائده:- د اهل السنة والجماعة په نيز د امامت څخه مراد نبوت دی او يا عام تر نبوت يعني من يوتم به ويجب اطاعته.

پوهه شئ:- چې امامت د ابراهيم عليه السلام عام دی ولې خير البشر ﷺ ته خدای ﷻ داسې فرمايلي دي "اتبع ملة ابراهيم حنيفا فابراهيم عليه السلام نبي في عصره و مقتدى لكافة الناس الى يوم القيامة" او شان الهي دی تولو اهل اديان متفق دي پر تعظيم د ده حتی مشرکينو د مکې به هم دا دعوه کوله چې مونږ ملت ابراهيم يو، و ذالك فضل الله يوتيه من يشاء ولنعم ما قيل، بقدر الكد تكتب المعالي، مصرع

فائده:- د ابراهيم عليه السلام فضيلت او مقبوليت خصوصا په امت کې د عليه الصلوة والسلام ددې څخه بايد و فهمول سي چې امت د عليه الصلوة والسلام په مخصوص عبادت کې چې لمونځ دی په اخري ناسته کې داسې وايي، اللهم صل على محمد وعلى آل محمد كما صليت على ابراهيم وعلى آل ابراهيم انك حميد مجيد، او دا درود به جاري وي الى نفخة الصور.

قَالَ وَمِن ذُرِّيَّتِي ۖ قَالَ لَا يَنَالُ عَهْدِي الظَّالِمِينَ ﴿١٢٤﴾

او ابراهيم عليه السلام وويل چې بعض زما د نسل څخه اولاد ته هم نبوت ورکړه يا مقتدانيت ورکړه، خدای ﷻ په جواب کې دده وويل چې نسي پيدا کولای زما عهد يعني نبوت او يا مقتداء وايي ظالمان خلک.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه:- چې دا جواب الهي قبول د ابراهيم ﷺ د سوال دی رد نه دی او دې په منتبه کړی په دې سره چې ستا په اولادِ کې به ظالمان وي او هغو ته امامت نه رسېږي او ابراهيم ﷺ خو هم د تولې ذريې لپاره خواست د امامت نه دی کړی په قرينه د من تبعيضي.

سوال:- ابراهيم ﷺ ولې د بعض اولادو تخصيص په دعا کې وکړي؟

ځواب:- ابراهيم ﷺ په عادت الهي پوهيدی چې توله خلک پر اسلام او يا پر عدالت او تقوی نه سره جمع کيږي.

پوښتنه:- چې که مراد په امامت سره نبوت سي نو مراد د ظالم څخه مطلق فاسق دي ولو كان مؤمنا لان المعصمت من المعصية شرط في النبوة اجماعا. او که مراد د امامت عام تر نبوت وي يعني مطلق مقتدانيت او تنفيذ القول، نو مراد د ظالم څخه کافر دی ولې چې کافر مقتداء او امير کرځول وه مسلمانانو ته نه دی روا لقوله تعالى ""ولن يجعل الله الكافرين على المؤمنين سبيلا يعني باختيار المؤمنين فلا يرد، چې په هندوستان کې پر کروړونو مسلمانانو باندې هندوان او مشرکان امريت لري، وهكذا في الممالك الآخر وايضا قال الله تعالى ""ولا تطع منهم اثما او كفورا آه.

پوښتنه:- په ټوله کې د پر ظالمان او فاسقان سته چې واګې د امريت په لاس کې لري نو "لاينال عهد الظلمين" څه معنی ده چې د ظالم څخه فاسق مراد دی؟

ځواب:- مراد ددې چې د ظالم او فاسق خلک يعني مسلمانان دده په ظلم او معصية کې اطاعت نه کوي كذا في المظهري، لقوله عليه السلام اطاعة المخلوق في معصية الخالق،، رواه مالک واحمد.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه:- خدای ﷻ وایي اطیعوا الله واطیعو الرسول واولی الامر منکم، نو د اولي الامر اطاعت بیله قید او شرطه واجب ګرځولی دی، او دغه رنګه په حدیث نبوي ﷺ کي راغلي دي، اسمعو و اطیعو عبدا حبشیا آه: یعني تاسي اورئ خبره د امیر او فرمان برداري کوئ دده که څه امیر ستاسي مربی وي حبشي، قال المظهري ؒ په جواب کي داسي ویلي دي چي دا آیت او حدیث خاص دی په هغه چا پوري چي امر دده د امر څخه د شرع مخالف نه وي قوله تعالی ومن ذریتي قال المظهري تبعا للبیضاوي عطف علی الکاف اي بعض ذریتي، او ده نور تفصیل نه دی ذکر کړی چي عطف یې پر کاف څرنګه صحیح کېږي او اعراب د من ذریتي څه دی، نو تفصیل د بیضاوي دقول دا دی چي د مجموع جار او مجرور عطف کړه اشاره ودې ته وکړه چي معطوف علیه کاف دی په اعتبار د محل نه په اعتبار د لفظ ولي حرف جر چي من دی مضاف الیه د جاعل لکه کاف چي دی نسي کیدای، نو پر تقدیر د جلا کولو د کاف د جاعل څخه دی منصوب محلا مفعول به دی اوس من ذریتي په تاویل د بعض هم مفعول به دی نو هغه سوال هم دفع سو چا چي کړی دی چي عطف پر ضمیر مجرور خو بېله اعاده د جار نه دی روا کما في کتب النحو وجه دفع یې داده چي من ذریتي خو پر محل د مجرور چي کاف دي عطف دي نه پر لفظ د کاف او اعاده د جار خو په عطف لفظي کي غواړي فافهم.

د تعجب وړ شبهه:- عبیدالله که د یو کتاب نقل وکړي بیله حوالي وهغه کتاب ته نو حاسدان او بعض کتاب فروشان معلوم الحال وایي چي عبیدالله سارق دی نو دوي په شان کي د مظهري ؒ څه وایي چي ببخي په ډېرو ځایو کي عبارت د بیضاوي او قول دده راوړي او حواله هم نه کوي او ګاهي نادراً حواله وکړي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شعر

هم يحسدو ننې و شر الناس كلهم،
من عاش يوماً في الناس غير محسود

بيت

چشم بد انديش كه بر كنده باد عيب نماند هنرش در نظر

دروپش وايي:- چې دا حسد د علماو د اوس څخه نه دی بلکه قديماً وحديثاً جاري دی ته د درمختار د اولي ورقي مطالعه وکړه چې څونه يې د حاسدانو څخه شکايت کړی دی، او دغه رنګه علامه مظهري عبارت د بيضاوي رح بېله حوالې داسې را نقل کړی دی ذرية فعلية او فعولة قلبت رائها الثالثة ياء من الدرر بمعنى التفرق، او فعلوئة او فعلية قلبت همزتهاياء من الذرء بمعني الخلق انتهي. ښه حاسده دروپش به بيان نه په کتبي کوي ته کتاب فروش حاسده يوڅه بيان او حل يې وکړه او يا د حسد څخه توبه وکاږه.

وَإِذْ جَعَلْنَا الْبَيْتَ مَثَابَةً لِّلنَّاسِ وَأَمْنًا

او په ياد کړه هغه وخت، يعني واقعه د هغه وخت چې موږ وګرځول بيت يعني کعبه مبارکه،

پښتو ژباړه:- چې بيت په اصطلاح ده قران علم بالغلبة د کعبې شريفې دي.

پښتو ژباړه:- چې مثابة صيغه د ظرف خو ده نو مشتق د ثوب معنې د رجوع سې نو معنى يې داده چې کعبه شريفه خای د رجوع د خلګو ده شرقاً وغرباً جنوباً وشمالاً بلکه بعض د خلګو د پاره مرجع مرة بعد اخرى ده. او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

که مثابة مشتق سي د ثواب څخه نو يې معنی دا ده چې کعبه ځای د ثواب ده بحج او عمرة او صلاة قال رسو الله ﷺ علی ماروواه ابن ماجه صلوته اي الشخص في المسجد الحرام، بمائة الف صلوة امنًا چونکه مصدر دی نو مضاف محذوف دی يعني موضع امن، يعني د ازاره څخه د مشرکانو ولي چې مشرکانو هم تعرض پر اهل مکه نه کاوه او دابې ويل هم اهل الله.

او شا وخوا د مکي بې حملې کولې کما قال الله تعالی اولم يروا انا جعلنا حرما امنا ويتخطف الناس من حولهم، وقال رسول الله ﷺ يوم فتح مكة، ان هذا البلد حرمه الله يوم خلق السموات والارض فهو حرام بحرمة الله الی يوم القيامة وانه لن يحل القتال فيه لاحد ولم يحل لي الا ساعة من نهار، الی آخير الحديث رواه البخاري ومسلم بطوله برواية ابن عباس ﷺ

فائده: - مثابة چې د ثوب څخه مشتق سي په معنی د رجوع او دا معلومه خبره ده چې رجوع عود ثاني يا ثالث ته وايي نوللناس عموما څرنګه صحيح کبږي ولي ډېر داسي مسلمانان سته چې يواري حج ته ولاړسي دوهم واره يي تر مرګ حج نصيب نه سي.

واجاب عنه البيضاوي لقوله يثوبون اليهما اعيان افراد آه حاصل د جواب دادی چونکه مسلمانان ټوله په مسلماني کله او په قصد کي د حج او عمري شريك دي نو مثابة علی العموم صحيح، ولي حاجي که رجوع وکعبې ته ونه کړي ورور مسلمان خو يې حج ته سړ کال تللی دی نو د هغه حج د دمخنکي حج کونکي کويا رجوع ده، لکن دې تکلف ته د روښ په نيز ضرورت نسته ولي د يو بنه جامع عالم په باره کي خلګ وايي چې فلانی عالم مرجع الطلباء دی نو ددې وجه څخه دا معنی نه ده چې ټوله طالبان وته د استفادې لپاره ورځي بلکه معنا يې دا ده چې فلانی عالم مستحق ددې دی چې ټوله طالبان استفاده د علم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خلدي وکړي فکذا قوله مثابة للناس يعني کعبه شريفه مستحق ددې ده بيا بيا رجوع ورته وکړي.

فائده:- بعض مفسران وايي چې کعبه ځای د امن دی په دې معنی چې څوک چې زيارت ته د بيت الله ولاړسي په نيت د حج او حج وکړي هغه په امن کې دی د عذابه د آخرت لما ورد في الخبر ان الحج يجب ماقبله يعني من المعاصي.

فائده:- ابن الشيخ رحمه الله وايي محو کول د معاصي قبلې دو په حج سره مخصوص دی په حقوق الله سره لکه لمونځ او روژه وغيرها لکن حقوق الناس فلايمحو بالحج، لکن په کافي کې او په تفسير کې د فاتحه دعلامه قناري وايي چې په شپه کې د مزدلفه چې عليه السلام په باره کې د عفو د حقوق الناس وحاجي ته دعاء وکړه هغه دعاء يې هم قبول سوه، يعني په دې معنا چې خدای ﷻ د حاجي له خوا عوض ورکوي په جنت کې وهغه چا ته چې پر حاجي حق مال لري وهو الصحيح.

وَاتَّخِذُوا مِنْ مَّقَامِ اِبْرٰهٖمَ مُصَلًّى ؕ

او ټاسي ګرځوي له مقام ابراهيم عليه السلام ځځه ځای د لمانځه.

پوهه شه:- چې چونکه واتخذوا امر او انشاء ده عطف يې پر جعلنا البيت آه، چې اخبار دی نه دی صحيح، نو د ټولو مفسرانو رح دا اتفاق دی چې د عطف لپاره د قلنا تقدير غواړي، ای وقلنا اتخذوا، او بيضاوي رحمه الله داهم توجيه کړې ده چې که جمله د اتخذوا چې پر انشائيه پرېږدي، او عطف يې کړي پر اذکر چې عامل وو په ظرف د جعلنا البيت هم صحيح دی، چې عطف د انشاء پر انشاء به راسي، او بيضاوي رحمه الله دا احتمال هم

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بیان کړی دی چې و اتخذوا دي جمله وي او معطوف پر مقدر دي وي، ای توبوا الیه واتخذوا آه، نو پر دې تقدیر دا امر د استحباب دی، یعني خاص پر مقام ابراهیم لمونځ کول مستحب دی، او که چېرې مراد دوه رکعته د طواف سي نو نفس دوه رکعته لمونځ وروسته تر اوو شوطو د طواف واجب دی په ټینز د امام ابو حنیفه رحمه الله او امام مالك رحمه الله او دلیل یې همدغه آیت دی ولي چې امر مطلق لپاره د وجوب دی، په هر ځای کې د مسجد الحرام چې ګذاري بلکه خارج المسجد هم روا دی کذا في کتب الفقه.

تفصیل هذا الآیة، دروښ وایي چې بیان ددې آیت او دفع د اختلاف مفسرین رح په بیان کې د مراد د مقام ابراهیم علیه السلام څخه په دې ډول دی، چې بعض مفسرین رح وایي چې مراد له مقام ابراهیم علیه السلام څخه ټوله مسجد حرام دی، او بعض مفسرین رح وایي چې مراد ټوله حرم مکي دی چې شامل مسجد حرام ته هم دی.

دروښ وایي: - چې پر دې تفسیر مراد له لمانځه څخه دوه رکعته د طواف دي چې په نیز د امام اعظم رحمه الله واجب دي کما مر آنفاً نو په دې آیت توسعه ده پر طواف کونکي چې دوه رکعته د طواف په هر ځای کې چې کوي، او بعض مفسرین رحمه الله وایي چې مقام ابراهیم علیه السلام هغه ډبره ده چې ده پښه پر اېښې ده د اسماعیل علیه السلام ماینې چې دده مرور کېده دده سر او ډبره ورپرېوله، او بعض مفسرین رحمه الله وایي مقام ابراهیم هغه ډبره ده چې ابراهیم علیه السلام او اسماعیل علیه السلام بناء د بیت الله کوله او دېوال یې لوړ سو چې د ابراهیم علیه السلام لاس نه ور رسېدی، نو دغه ډبره یې راوړه او ابراهیم علیه السلام په پر ودرېدی او دا ډبره به په قدرت د خدای ﷻ پورته کېده څو به ابراهیم علیه السلام ډبري او ختې چې اسماعیل علیه السلام به ورکولې پر دېوال د کعبې شریفې به یې اېښوولې او بېرته به ډبره کښته راتله او بیا به اسماعیل علیه السلام ډبري او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خټي پلار ته ورکولې او بېرته به ډبره پورته کېدل وهکذا الی ان تم الجداران الاربعة للبيت الشريف، او په دې ډبره کي اثر د قدمينو د مبارکينو د ابراهيم ﷺ نقش وو لکن د ډېر مسه کولو څخه د خلګو اثر القدمين اوس ډېر کم معلومېږي، او ابراهيم ﷺ او اسماعيل ﷺ به په وخت کي د بناء البيت داسي داعا کوله "ربنا تقبل منا انک انت السميع العليم، او دا ډبره به په زمان قديم کي متصل بالبيت وه يعني هغه ځای چي اوس امام المسجد الحرام هغه ځای ته نژدې دربېږي ولي چي په عصر قديم کي دکعبې زائرين او طواف کونکي کم وه، نو دوه رکعته واجب د طواف به هغې ډبري ته نژدې کېدله او طواف کونکو به طواف هم کاوه يعنې اذدحام نه جوړېدی وروسته چي طواف کونکي ډېر سوه، نو هغې ډبري ته نژدې د لمونځ کونکو تر منځ ډېر اذدحام جوړېدی، نو يې مقام ابراهيم ﷺ نقل کړی هغه ځای ته چي د مطاف څخه بېنه ګوښه د هيندارو په ګنبد مانند بنېښه کي کښېښود .

دروېش والي:- چي تر دې اوس هجري سنه (۱۴۲۰) له مخه کلو کي يعني پنځه ويش کاله د مخه چي دروېش به حج ته سفر کاوه نو چي طواف به مو وکړی، نو د طواف ګاه څخه به ووتلو څو ګامه وروسته به مقام ابراهيم ته ورغلو او هلته به مو واجب دوه رکعته بېله ډېر اذدحامه اداء کړه، لکن په اوسنی زمانه کي چي زائرين د کعبې مکرمې نهايت ډېر سوه نو حکومت سعودي مطاف ډېر فراخه کړی چي مقام ابراهيم ﷺ په منځ کي د مطاف راغلی .

د حاجيانو غلطي:- د بعض بېعلمه او جاهلانو حاجيانو دا عقيده وي چي واجب د طواف خاماخوا په مقابل او نژدې ومقام ابراهيم ﷺ ته حاجي پسله طواف ګزاري، نو دوئ پنځه يا شپږ کسه سره ملګري سي او

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لاسونه سره ورکړي او یو سړی یې د مقام ابراهیم ﷺ سره پر لمانځه ودربړي هغه چې لمونځ وکړي بیا بل پر لمانځه ودربړي وهکذا. او بلې خوا ته د طواف کونکو سیلاب را روان وي. نو ددغه لمونځ کونکو سره تپلې او تنبې وي، بعض وخت لمونځ کونکی غځار کړي.

فروپښې وایي:- چې د جهل او بېعلمۍ دغه نتیجه ده ولې چې واجب د طواف خو په ټوله مسجد حرام کې روا وه بلکه په حضور د زړه بې اداء کړي وای خیر، هرکس که دیوانه باشد مېګوید که دیوانه دیګران نند

او بعض مفسران ؒ وایي چې په زمانه کې د طواف د ابراهیم ﷺ مقام ابراهیم په جبل ابي قبیس کې پټ سوی و، نو چې ابراهیم ﷺ او اسماعیل ﷺ د بناء البیت څخه فارغه سوه نو خدای ﷻ و ابراهیم ﷺ ته امر وکړی چې ته اعلان د حج البیت وکړه په خلګو کې نو ابراهیم ﷺ وویل چې زه څرنګه د حج اعلان وکړم او زه په منځ کې د غرنو یم، او هیڅوک حاضر نسته، خدای ﷻ ورته وویل چې پر تا یې نعره ده او پر مایه رسول دي، نو جبرائیل ﷺ وابراهیم ﷺ ته ښوونه وکړه چې د فلاني غره څخه دغه ډبره را وباسه او پر هغې ودربړه او اعلان د حج وکړه، نو ابراهیم ﷺ چې پر هغه ډبره ودربدی هغه ډبره پورته سوه حتی چې پر تولو غرونو د نړۍ لوړه سوه ابرهیم ﷺ داسې اعلان وکړی " یا معشر المسلین ان ربکم بنی لکم بیتا و امرکم ان تحجوه فاجابه الناس من اصلاب الآباء وارحام الامهات لبیک اللهم لبیک الی آخره، و اول من اجاب هذا النداء اهل الیمن. او هم دا سبب دی چې په هر عصر کې اهل الیمنن اکثر الناس حجاً دي ولذا قال علیه الصلوة والسلاو الایمان یمان، د یمنیانو دا شرافت کافي دی بلکه علاوه پر دې دا شرافت هم د یمنیانو په برخه دی چې خیر التابعین اویس القرني رضی الله عنه هم د یمن دی والیه اشار النبي ﷺ "اني لاجد نفس الرحمن من الیمن"

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نو چې چا اجابت د بلنې د ابراهیم ﷺ یو وار کړی وي هغه به یو وار حج ته ځي، وهکذا تر هر څو واره پورې، او چا چې اجابت الدعوت نه وي کړی هغه به حج د بیت الله شریفې موفق نه نسي.

ژوپښې وایي:- چې دا وو بیان او تفصیل د مقام ابراهیم ﷺ چې د مختلفو کتابو د تفاسیرو مبارکه و ستاسي وحضورته پېش سو، اعني بکتب التفاسیر، تفسیر الامام القرطبي رحمه الله وتفسیر الامام الرازي رحمه الله المسمی بالتفسیر الکبیر، والتفسیر البیضاوي، والتفسیر روح البیان و روح المعاني، والتفسیر المظهري وتفسیر الامام البغوي رحمه الله.

ژوپښې وایي:- چې دا تفصیل او وروسته تفصیل به په یوه تفسیر کې څوک مجموعاً نه کړي پیدا، ولله الحمد.

ژوپښې وایي:- چې که څه هم بعض بیان والي د مقام ابراهیم ﷺ د بل بعض څخه خلاف دی لکن د هر یوه جلا امکان سته.

ژوپښې وایي:- چې هم دا اوس تفصیل او بیان د مقام ابراهیم پر قول د هغه مفسر چې وایي چې مقام ابراهیم هغه ډبره ده چې پر هغې ډبرې ابراهیم ﷺ پښه کښېښول او دا سماعیل ﷺ ماینې د ده ډبره او سر ور پرې ولی، التفصیل، علی ما في الکتب المعتبرة من التفاسیر وکتب الاحادیث الشریفه او ابراهیم ﷺ ته چې خدای ﷻ د اور د نمرود علیه اللعنة نجات ورکړی نو په امر د نمرود وترك ته د عراق مجبورسو، نو هغه وو چې دی او ساره او هاجره اولاً د څو مدې لپاره په حران کې تم سوه او وروسته یې بیا هجرت و مصر ته وکړی چونکه مصر ورته نا موذون ځای ښکاره سو څه مده وروسته یې هجرت و مقرالانبیاء علیه السلام یعني شام ته وکړی او په شام کې یې خپله اقامت ګاه وټاکل.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نو بغوي د سعيد بن جبيره څخه او هغه د ابن عباس ﷺ څخه داسي روايت کړی چي ابراهيم ﷺ کله چي اسماعيل ﷺ رضيع و سره د مور هاجري ﷺ د مکي وخالي او بي اوبو شپلي ته راوستل يعني په غوبنتنه د ساری ﷺ او په حکم د خدای ﷻ او هوري يې د يوې درختي لاندي کښېنول او يو څه خرما او يو زړی اوبه يې ورته کښېښولې او څندي ستون سو، د شام پر خوا هاجري پسي ناري کړې "الی من تترکنا في هذا الوادي الذي ليس فيه انس ولا ماء" مور چاته پرېږدي په دې شپله کي نه په دې کي د الفت څوك سته او نه هم اوبه، ابراهيم ﷺ د زړه له درده او د سترګو د اوبنکو له سببه هغې ته جواب نه کړی ور بيا هاجري ﷺ ورته وويل آالله امرك بهذا، ابراهيم ﷺ د سر په اشاره جواب د "نعم" ورکړی يعني هاجري ﷺ ورته وويل آيا خدای ﷻ ته امر کړې چي ما او رضيع زوی اسماعيل دلته پرېږده، ابراهيم ﷺ د سر په اشاره ورته وويل چي هو، نو هاجري ﷺ وويل "اذ ا لايضيعنا"، نو چي خدای ﷻ امر کړی يې نو مور خدای ﷻ نه ضائع کوي، ابراهيم څندي ولاړی او تر جبل ابي قبيس چي نهام سو نو داسي يې وويل" رب اني اسکنت من ذريتي بواد غير ذرع" الآية " او دعا يې هم وکړه "رب اجعل هذا بلداً آمنا الآية "نو هاجري ﷺ خرما څه څه وخوړله او اوبه بې هم څيښلې او د حيرت او دهشت شپې او ورځې يې په دغه شپله کي تېرولې، اخر الامر خرما او اوبه دواړه ختم سوه، او د هغه په اثر ددې شيدې هم ختمې سوې او اسماعيل هم وږی او هم تږی سو او په ريګو کي به لغبتی هاجره ﷺ د زوی ددغه حالت په لېدو سره ناقراره سوه، نو نژدې غر چي د صفا په نامه يادېږي، ولاړه په دې اميد چي ګوندي يو څوك پر شا وخوا وويني او کومك څندي وغواړي شا وخوا يې وکتل څوك په نظر نه ورغله، او په عين حال کي به يې وخپل زوی ته کتل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یعني چې مړ سو او که ژوندی دی (له دې سببه حاجیان چې د صفا پر غره ودربږي تر اوسه پورې د کعبې پر خوا ګوري) وروسته هاجره ﷺ د صفا له غره څخه راکښته سوه او لاندې دهره ژوره شپله وه نو په څغاسته تر هغې شپلې تېره سوه، او بیا په عادي تګ نژدې غره ته چې مروه یې نوم و ولاړل چې شاه وخوا وګوري خو هوري یې هم څوک نه ولیدی بیرته تا امیده د صفا پر خوا روانه سوه څو شپلې ته ورسېدله بیا په څغاسته څنډې تېره سوه د صفا غره ته ورسېدله شاه وخوا یې وکتل او د زوئ پر خوا یې هم وکتله زوئ یې په هغه اضطرابي حالت کې ولیدی، حاصل دا چې اوه واره هاجره پر هیئت مذکوره د صفا او مروه تر منځ تګ او راتګ یې وکاوه چې په جاهلیت او اسلام کې دغه تګ او راتګ باقي پاته وو، او علیه الصلواة والسلام او اصحابو کرامو ﷺ هم دغه څغاستې کړې دي او خدای ﷻ په بیان کې د سعي بین الصفاء والمروة دا ایت هم نازل کړی دی "ان الصفاء والمروة من شعائر الله الآية" او دا سعي واجب ده په حج کې رکن د حج نه ده عند ابي حنيفة رحمه الله

ترویش وایي:- چې په ابتدائي حجو کې زما هغه شپله هم پر هغه پخواني حال د شکو دکه باقي وه، او حاجیان به په څغاسته تر هغې شپلې تېرېدله، لکن اوس حکومت سعودي هغه شپله ډکه کړې ده او په ښه زیبا دول یې د صفا او مروه مابین فرش کړی دی، او د صفا او د مروه څخه د تګ او راتګ لار یې هم سره جلا کړې ده، نو د شپلې هغه نام او نشان خو نسته البته د شپلې خای تر نورو خایو لږ کښته دی مګر سعودي لپاره د احتیاط پر یوه سر د شپلې او پر بل سر د شپلې ودوارې طرفه ته زرغونه میلان نصب کړي چې په هغو سره حاجیانو ته د شپلې معلومات کېږي او ددې دوو میلو په هر طرف کې په څغاسته تېرېږي، او دا طریقه به تر الی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

یـــوم القیامـــة پـوري جـاري وي، ان شـاء الله تعـالی، خـو اخـر د قصـې د هاجرې ﷺ دادی چې دې چې اوه شوطه پوره کړه او اخري شوط کې پر مروه ولاړه وه او د خپل زوئ وخوا ته يې کتله يو اواز يې واورېدی چې وې کتله يو سړی يعني جبرائيـل ﷺ په رنـګ د سړي پر هغـه خای چې ددې زوئ پروت و، او ددې ځای نوم زمزم و، خپله پونده يې کښېښودله نو د مخکې څخه اوبـه را وغورځېدلې هاجرې را ميـدان کړه چابـك يې پر هغه باندې خاورې را وګرځولې او په غبرګو يې وژې (ګودې) ته اوبـه اچولې او د چينې مابين يې غاروی، او په حديث صـحيح کې راغلې دي چې عليـه الصلواة والسلام وويل "رحم الله ام اسمعيل لوترکت زمزم لکان عيناً معيناً او کما قال" يعني خدای ﷻ دي رحم وکړي پر مور د اسماعيل ﷺ که دې پرې اينښې واى زمزم پر خپل حال يعني خاورې يې نـه واى پر راګرځولې او په غبرګو يې اوبـه نـه واى څندې اخسـتې نو زمـزم بـه داسـې چينـه واى د مخکې پر مخه به بهېدلای، بعض ناپوه جاهلان وايي نـه پوهېږي چې زمـزم د هغه ځای نـوم دی او د دوئ جاهلانو دا خيـال دی چې د زم زم معنی داده چې ودرېږي لکن دوئ هغه لفظ چې پر درېدو دلالـت کـوي خـو ضـم ضـم دی زمزم نه دی، خير هاجرې اوبه وچښلې او کوچنې يې په غيږ کې ګرځيدلـه چې يو ځای بـه يې يو شين وانښـه پيـدا کړی هغـه بـه يې خوړی او بيرتـه يې شيدې په تيو کې پيدا سوې خپل زوئ بې په مړاوه او شپې او ورځې بې تر هغه درختې لاندې چې زمزم ته نژدې وه تېرولې .

فائده: د زمزم څاه دخدای ﷻ يو نخښـه ده چې دا پـه لکـو حاجيـانو تـه اوبه ورکوي بلکه نن صبا د مکـي والـو پـه هرکـور کـې د زمـزم اوبـه ځيښـل کېږي بلکه سعوديانو د مکـي شـريفي ځخه پـه ذريعـه د پيپـو دزمزم د څاه څخه اوبه مدينې منورې ته هم نقل کړي دي چې هورې هم تولـه زائرين هغـه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اوبه څیښي، او ټولو کورو ته د مدینې منورې د څیښلو لپاره هم د زمزم اوبه استعمالیږي.

فائده:- فقهاء او مفسرین او محدثین رح وایي چې د زمزم اوبه د جنت نر اوبو هم مشرفي دي ولي چې څه وخت چې جبرائیل علیه الصلواة والسلام معراج ته بیوی، او زړه یې خندي راوکښی د زمزم په اوبو یې ور پرې وی او د جنت څخه یې د ځانه سره د جنت اوبه را نه وړي.

قصه مختصره:- تاریخ وایي چې د جاهلیت په وخت کې ډیره پخوا یو نر او یوې ښځې په داخل کې د کعبې د خونې زنا سره وکړه او خدای ﷻ دوئ دواړه ډیره کړه نو د جاهلیت خلکو نر د صفا او ښځه د مروا پر غره ودروله لپاره د عبرت رفته رفته په مرور د زمانو شیطانانو په زړو کې د هغو دا ورواچول چې تاسي دا بتان مسحه کوئ کرار کرار شیطان ودې حد ته دوئ ورسول چې دې دوو بتانو ته اهل جاهلیت سجدې کولې او خدایان یې وګرځول، او دا کار او عبادت جاري وو چې په فتح مکې کې دا بتان سره د هغو بتانو چې پر شا وخوا د کعبې شریفې ولاړ وه ټوک ټوک سوله.

پاته قصه: مظهري او روح البیان وایي چې د جرهم د قبیلې چې عرب وه او صحرانشینه وه، د دوئ یو قافله د تجارت لپاره د مکې چې پخوا یې نوم بکه وه پر لاندې لاربانديې تېرېدله چې دوئ مرغان ولیدله چې شاء وخوا د زمزم د څاه ګرځېدله، نو دوئ په خپلو کې سره وویله چې مرغان خو یې اوبو نه ګرځي نو یو یا دوه کسه یې را واستول چې تاسي وګورئ چې په دې غرو کې خو کومه چینه نه ده پیدا سوې خلګ چې راغله که ګوري هاجره زوئ یې په غېږې کې د زمزم سره ناسته ده نو خلګ ولاړه

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قافله والا یې خبر کړه هغه راغله او هاجرې ﷺ ته یې وویل که ته موږ ته
ددغې چینې اوبه راکوې نو موږ خپلې کډې راولو او دلته به خبمې یا
کېږدی ودر وو او دا چینه به هم پسې جوړه کړو یعنې چې څاه ځندې جوړ
سې، هاجرې د وهشت د دفعې لپاره ددوئ دکډو راتګ غنیمت وګانړه او
دوئ ته یې وویل چې اوبه خو درکوم اما د ملکیت دعوې به یې نه کوئ
هغو ورته وویل چې ببخې صحیح ده هغه خلګ دلته تم سوه او په کډو
پسې یې څو کسه واستول کډې بنځې او کوچنیان یې راوستل، او خبمې
یا کېږدی یې نصب کړې او هاجرې ته یې هم یوه خیمه او د اواریدو بعض
شیان ورکړه، او د زمزم پر څاه باندې یې څه کار وکړی چې اوبه یې ډېرې
سوې او قافلې وال په خپل تجارت پسې ولاړه خیر رفته رفته په مرور د
ایامو د ابراهیم ﷺ زوئ خدای ﷻ لوئ کړی او عربي ژبه یې هم د دغو
جرهمو څخه زده کړه اوپه کرار کرار د څټو کورونه جوړ سول، او اسماعیل
ﷺ چې څوان سو په هغو جرهمو کې یې واده وکړی، او مور هاجره یې
وفات سوه تر دغه وخته پورې ابراهیم ﷺ د خپل زوئ و ملاقات او د
ماینې و ملاقات ته ساری نه پرېښود، اخر الامر هغې اجازه ورکړه چې ولاړ
سه لکن دآسه به نه کښته کېږې ولې چې ساره د هاجرې په مرګ نه وه
خبره، نو ابراهیم ﷺ چې د بکې شهلې ته راغلی که ګوري کلي او کورونه
جوړ سوي دي. نو د چا څخه یې پوښتنه وکړه چې دا سماعیل کور کوم
دی خلګو ور وښودی ابراهیم ﷺ چې کورته ورغی نو اسماعیل ﷺ نه وو
نو د ښځې څخه یې پوښتنه وکړه "این زوجك" میړه دي چېرې دی؟ هغې
ورته وویل چې ښکارته تللی دی، او د اسماعیل ﷺ داکارو چې د حرم د
سرزمین څخه به وتی په حل کې به یې ښکار کاوه او مابنام ته به راغلی نو
ابراهیم ﷺ هغې ښځې ته وویل خو نو مړور یې ده او ښځې خو نه پېژنډی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

"هل عندك ضيافت" ته د ميلمستيا شی لری يعني چې ما مېلمه کړئ هغې ورته وويل يا شی نسته، نو ابراهيم ﷺ پوښتنه د معاش او اقتصادي حالت څندي وکړه هغې ورته وويل چې د معشيت ډېره تنګي ده، نو ابراهيم ﷺ هغې ښځي ته وويل چې مېړه دي راسي زما سلام پر ووايه او نوم يې نه ور وښو او نه ښځي څندي پوښتنه وکړه چې ستا نوم څه دی خير ابراهيم ﷺ ولاړی ، مازديگر چې اسماعيل ﷺ وادي ته راغلی د ټولي شپلې څخه خوشبوئي ولاړېدله او د خوشبوئي تاثير دده د کور پر خوا و، دی پوه سو چې زما پلار خليل الله به راغلی وي، نو د ماينې څخه يې پوښتنه وکړه چې زمونږ کورته نن څوك راغلی و، ښځي د سپکاوي په لهجه ورته وويل يو سپين ږری راغلی او ستا پوښتنه يې وکړه، نو اسماعيل ﷺ ورته وويل نو يې څه نه در ته وويل هغې ورته وويل هغه سړي دا وويل چې مېړه دي راسي زما سلام پر و وايه او دا ورته ووايه چې د دروازې چار چوب دي بدل کړه اسماعيل ﷺ ورته وويل هغه زما پلار و زما پلار د دروازې د چار چوب څخه مطلب ته يې په کنايه زه ستا په طلاق امر کړی يم څه ولاړه سه خپل کورته يعني پر ما طلاقه يې، او بيا اسماعيل ﷺ بله ښځه په هغه قوم کې وغوښتل او واده يې وکړی، څه موده وروسته ابراهيم ﷺ بيا د ساری ﷺ څخه اجازه وغوښتله چې زه به ولاړسم خپله ترکه به وکورم بيا هغې دا شرط پر عائد کړی چې د آسه به نه کښته کېږي.

ژوبڼې وايي:- د هغو ښځو دغسې حال دی چې شايد ابراهيم ﷺ به ساری ته د مخه وار ويلي وي چې هاجره وفات سوې وه مګر بيا هم ساره پر بد ګمانه وه چې ابراهيم ﷺ د آسه کښته سي نبايد چې د هاجرې سره يې نوره معامله نسي پيدا خير خو ابراهيم ﷺ مکې ته راغلی د اسماعيل ﷺ په کور کې بله ښځه ناسته وه نو ده د اسماعيل ﷺ پوښتنه څندي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وکړه هغې ورته وویل چې هغه ښکار ته تللی دی او ورته وه یې ویل چې انشاء الله ژر به راسي راکښته سه یرحمك الله. ابراهیم ﷺ ورته وویل چې "هل عندك ضیافة" هغې ورته وویل هو نو یې شیدي او غوښې ورته را واخستې ابراهیم ﷺ هغه وخوړلې او دعاء د برکت یې ورته وکړه (په شیدو او غوښو کې راوي وایي که ددې ښځې په کور کې دوډۍ وای غلمینه یا وربشنه یا خرما او ابراهیم ﷺ دعا د برکت ورته کړې وای نو مکه به اکثر د ښارو وای په مځکه کې "بُراً او شعیراً او تمراً) او ابراهیم ﷺ د ښځې څخه پوښتنه د عیش وکړه هغې ورته وویل الحمدلله نحن بخیر وسعة. نو بیا ښځې ورته وویل چې ته را کښته سه زه به دې سر او ږیره در پرېمینځم ابراهیم ﷺ ورت وویل د کښته کیدو اجازه نه لرم نو هغې ښځې یو غټه ډبره را ګیل کړه او د آس ویوه طرف ته یې کښېښول او ابراهیم ﷺ پر آس سپور یوه پښه یې پر هغه ډبره کښېښول ښځې د هغه طرف سر او ږیره ور پرېوله او بیا وهغه بل طرف ته ور واوښتل هغه بل طرف یې ور پرېولی او وښځې ته یې وویل چې مېړه دې راسي زما سلام پر وایه او وروسته ترسلامه ورته ووایه چې د دروازې چار چوب دې اوس سم دی بنه یې مضبوط ساته (راوي وایي چې په دغه ډبره کې د ابراهیم ﷺ ده دواړو پښو اثر پیدا سو) نو څه وخت چې اسماعیل ﷺ کورته راغلی بیا د پلار بوئ پر ولاړسو نو یې مایني ته وویل چې نن کورته یو څوك راغلی وو مایني ورته وویل چې یو سپین ږیري حسن الوجه او چې ډبره بنه خوشبو یې وه سړی راغلی و، فقال کذا کذا یعني هغه مخکښې خبري د ابراهیم وذې ته او د دې وه ابراهیم ﷺ ورته بیان کړې، او مایې سر او ږیره ور پرېوله او دا هم دده د مبارکو پښو اثر دی په دغه ډبره کې نو اسماعیل ﷺ ورته وویل چې هغه سپین ږیری زما پلار ابراهیم ﷺ و او ته زما د دروازې عتبه یې نو یې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

زه امر کړی یم ستا په خوندي کېدو سره، او څو کلونه وروسته بیا ابراهیم ﷺ د مکې پر ځوا را روان سو په امر د خداي ﷻ نو ځکه دا وارد چا څخه اجازه نه وغوښتل مکې ته راغلی اسماعیل ﷺ تر یوې درختي لاندي ناست و او غشي یې جوړول نو چې فراق زده پلار ئې ولیدی په الهام سره خدای ﷻ په وپېژندی نو ور ولاړ سو اسماعیل د خپل پلار احترام وکړی او پلار دی په خپل خګر پوري ونیوی او مفسرینو ددې ملاقات مجمل بیان داسي کړی دی" فضعا کما یضع الوالد باالولد والولد بالوالد". نو وروسته یې اسماعیل ﷺ ته وویل چې خدای ﷻ په یو کار امر کړی یم ته زما کومك کوې اسماعیل ورته وویل "نعم" یعني هو نو ابراهیم ﷺ ورته وویل چې زه خدای ﷻ امر کړی یم چې دلته یوه خونه لپاره د عبادت د خدای ﷻ جوړه کړم "وفي الحدیث الذي رواه مالک عن انس ﷺ قال قال رسول الله ﷺ الرکن، اي الحجر الاسود، والمقام، اي مقام ابراهیم یاقوتان من یواقیت الجنة وهکذا روي عن ابن عمر ﷺ.

پوښتنه:- ابراهیم ﷺ ولي هاجره او ددې رضیع زوئ په داسي ځای کې پرېښول چې نه انسان وو او نه اوبه.

ځواب:- څه وخت چې ساری زوئ راوړی چې نوم یې اسحق ﷺ ابراهیم ﷺ کنبېښو او هاجرې هم زوئ راوړی چې نوم یې اسماعیل کنبېښو نو د ساری قصد په وسو او هغې دا ورته وویل چې هاجره او زوئ ددې به د بکې په غرو او شېلو کې اېدې او پرېږدې.

پوښتنه:- په داسي ځای کې د یوې ښځې او رضیع د هغې پرېښول خو مرادف د قتل دي نو ابراهیم ﷺ ولي د ساری په خوله دا کار وکړی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب:- ابراهیم ﷺ ته د خدای ﷻ له خوا ځخه امر داسي راغلی چي د ساری خواهش ور پر ځای کړه او د خدای ﷻ حکمت دا و چي د بکې وچه شپله یو وار په انسانانو اباده کړي او بیا تعمیر د هغې بیت الله چي په طوفان نوح کي اسمانوته پورته سوی وه از سر نو کړي" **والله علیم حکیم ولیس لاحد حق الاعتراض علی مایفعله المولی عز وجل.**

فائده:- پوه سه چي ابراهیم علی نبینا علیه الصلواة والسلام چي مرتبې ته د خلیل الله رسېدی د ځونه امتحاناتو او تکلیفاتو سره مخامخ سو، مقابله د نمرود لعین، او بیا په اور کي غورځول دده او له اور ځخه ده نجات پیداکړی، وترك الوطن او هجرت ته چي یو عظیم الم جسماني دی مجبور سو او دی او دده همسره ساری ﷺ دوه په دوه یې هجرت وشام ته وکړی، او بیا په پربښولو د خپلې بلې همسري یعني هاجره ﷺ او ددې رضیع زوئ اسماعیل ﷺ په شپلې کي د بکې چي قدیم نوم یې و د مکې مکرمې د خدای ﷻ له خوا ځخه مکلف سو او هغه تکلیف هم ابراهیم ﷺ برداشت کړی ددې تولو تکلیفو او جسماني ازارو سره ابراهیم ﷺ په مقام درضا بمایضع الله جل سلطانه" به خوشحاله او مستقیم وو، زیرا که ضرب الحبیب زبیب، برا حتی نه رسید انکه زحمتي نه کشید.

او دا هم د ابراهیمي وقائع ځخه بداهةً معلومه سو چي د رب جل وعلا قرب او دوستي مسخره نه ده، "**وقد ورد في الحدیث الصحیح النبوي ﷺ اشد الناس بلاء الانبیاء ثم الاولیاء ثم الامثل فالامثل**" بیت

هم خدا خواهي وهم دنیای دون این خیال است ومحال است وجنون

وقال الاخر

بقدر الکد تکتسب المعالي ومن طلب العلی سهر اللیالي

او بل شاعر وایي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

چا وېل چې په دریاب کې درر شـه اوباز غواړي چې ځان ورسوي پای ته

دروېش وايي:- چې په دې باره کې يو مکتوب۶۴ د امام رباني مجدد الف ثاني شيخ احمد السر هندي قدس سره د پر مو زون او په زړه پوري دی او د دروېش د خبرو تائيد کوي او د ابراهيم عليه السلام د حالاتو عکاسي کوي دا مکتوب و شيخ فريد رحمه الله ته صادر کړی دی، **سلکم الله سبحانه وعافاکم في الدارين بحرمة سيد الثقلين عليه وعلى اله الصلوات والتسليمات،** لذت والم دنيا بر دو قسم است جسماني وروحاني هر چيز که جسدرا دران لذت است روح را ازان الم وهر چيز که جسم ازان مسالم است روح را ازان التذاذ است، پس روح وجسم نقيض يکديگر باشند ودرين نشئات، يعني حياة دنيوي که روح بمقام جسم تنزل نموده است و گرفتار جسم وجسماني شده روح نيز حکم جسم پيدا کرده بلذت او متلذذ گشته است وبالم او متالم، اينست مرتبه عوام کا لانعام، کريمه،" ثم ردد ناه اسفل السافلين درشان ايشان صادق است ، واي هزار واي اگر روح ازان گرفتاري خلاص نشود، وبه وطن اصلي رجوع ننمايد ،پايه آخر آدم است وآدمی گشت محروم از مقام محرمي يعني دوستي ومحبت الهي وعشق خداوندي،

گر نه گردد باز مسکين زين سفر نيست ازوی هيچ کس محروم تر

يعني از انوار صفاتي وذاتي از پيداري روح است که الم خود را لذت مي انگارد ولذت را الم مي شناسد در رنگ صفراوي، که بواسطه علت صفرا شيرني را تلخ مياېد پس بر عقلاء فکر ازاله اين مرض لازم است تا در الام و مصائب جسماني خرم وشاد ان باشد و زندگاني نمايد،، بيت

از پي اين عيش وعشرت ساختن صد هزاران جان بيايد باختن،

وچون نيک ملاحظ کرده ميشود معلوم ميگردد که اگر درد نيا درد و الم ومصيبت نمي بود بجيري نه مي او زيد ظلمت انرا وقائع وحوادث زائل ميگردا ند تلخي حوادث در رنگ تلخي داروي نافع است که ازاله مرض مينمايد، محسوس اين فقير شده است در دعوتهاي که طعام مي پزيرند وخلوص نيت نمي توانندکرد، وجمعي از طعام خواران بشکوي ميخزند ومنقصت طعام

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وصاحب طعام مینمایند وصاحب طعام را ازین معنی شکستگي دل حاصل میگردد، وهمین شکستگي صاحب طعام ظلمتي را که در طعام رفته بواسطه عدم خلوص نیت ازاله مینماید و درمعرض قبول مي ارند اگر شکوه آن جماعت نمي بود و انکسار قلب صاحب طعام نمي شد طعام سرا سراز ظلمت وکدورت بود احتمال قبول را در آنصورت چه گنجایش پس مدارکار برشکستگي وا واره گي آمد ومانا ز پرور دگان جویان عیش وتنعم را مشکل کاریست، وما خلقت الجن والانس الا ليعبدون نص قاطع است وعبادت عبارت از تذلل و انکسار است پس مقصود از خلقت انسان خواري او است علي الخصوص مسلمانان ودینداران که دنیا سجن ایشانست در زندان عیش جویان بودن از عقل دور است پس ادمی را از مشق محنت کشي چاره نبود واز ورزش بار برداري گذرنه حضرت حق سبحانه وتعالي مابي طاقتان را بر این معنی استقامت فرماید بحرمت سید البشر ﷺ.

ژوپښ وايي:- دا وو د ملغرو او د جواهراتو ډك امبل چي مجدد الف ثاني رحمه الله زمونږ په غاړه کي راوچوی، لکن ليت شعري من يعمل به وينظر اليه بنظر الوعظ والنصيحت ومن الله التوفيق للعمل بامثال هذه الموعظة من علماء الامت المرحومة واولياء حضرت الحقيقة رحمهم الله

وَعَهِدْنَآ إِلَىٰٓ إِبْرَٰهِـۧمَ وَإِسْمَٰعِيلَ أَن طَهِّرَا بَيْتِىَ لِلطَّآئِفِينَ وَٱلْعَٰكِفِينَ وَٱلرُّكَّعِ ٱلسُّجُودِ ﴿١٢٥﴾

او مونږ وصیت وکړی یعني امر مو وکړی ابراهیم علیه السلام او اسماعیل علیه السلام ته چي تاسي به پاک ساتئ نو د "ان" سره حرف جر محذوف دی او یا په تقدیر د قول یعني قلنا لهما.

پښه: چي اضافت د بیت چي خدای ﷻ وخان ته وکړی لپاره د تشریف د مضاف ده یعني بیت عبادتي، سعید ابن جبیر وایي چي مراد د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پاك والي څخه پاك ساتل دي د کعبه مبارکي د بتانو څخه او د انجاسو ظاهره و څخه. وعن کل فعل ينافي الحنيفة. لپاره د هغو کسانو چي طواف کوي پر دې بيتي، او د هغو خلګو لپاره چي اوسېږي په کعبه کي يعني نژدې و کعبې ته او يا مراد دادی هوري اعتکاف کوي او "رکع" جمع د "راکع" ده او "سجود" جمع د "ساجد" ده، يعني المصلين عندها ذکر جزء او مراد څندي کل دی.

فائده: د "طهر" دا معنی نه ده چي حول البيت بتان پراته وه په هغه کي بلکه معنې دا ده چي تاسي وساتئ کعبه ددې څخه چي پر ماحول بتان نسي نصب نو دا آيت په داسي ترجمه دی لکه چي خدای ﷻ په باره کي يه د حورو د جنت وايي "ولهم فيها ازواج مطهرة اي خلقهن الله طاهرات فافهم

پوه شه: چي د کعبي مبارکي فضائل غير متناهيه دي چي په مسجد حرام کي څوک ناست وي او کعبي شريفي ته ګوري دا هم عبادت دی په حديث مبارك کي راغلي دي چي خدای ﷻ لره په هره ورځ يو سل او شل رحمته دي چي پر بيت الله شريفه باندې نازلېږي، شپېته يې د طواف کونکو لپاره دي او څلوېښت د لمونځ کذارانو لپاره دي او شل د صرف کتونکو لپاره دي.

فائده: حکم د ټولو مساجدو په نړۍ کي حکم د کعبې دی يعني د انجاسو ظاهره او باطنه و څخه به پاك ساتل کېږي، تخصيص د کعبې په دې سبب چي په نړۍ کي په دغه وخت کي بله بيته د عبادت الله نه وه، په اثر کي د عمر ﷺ راغلي دي چي هغه د يو سړي په زوره خبري په مسجد نبوي کي واورېدې نو يې ورته وويل دا څه کوې ته پوهېږې چي زه چېرې ناست يم.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوه شه: چې هغه بیته چې خدای ﷻ یې وخان ته نسبت کړی دی هغه په حقیقت کې زړه د مومن دی او د تطهیر د بیت القلب معنی داده چې زړه د مومن باید وغیر الله ته ملتفت نه وي قال الشاعر:

دل بدست آرا که حج اکبر است — از هزاران کعبه یکدل بهتر است
کعبه بنیاد خلیل از راست — دل نظرگاه خلیل اکبر است

وَإِذْ قَالَ إِبْرٰهِمُ رَبِّ اجْعَلْ هٰذَا بَلَدًا اٰمِنًا

او په یاد کړه هغه وخت یا محمد ﷺ چې وویل ابراهیم ﷺ یعني ددعا په توګه ای خدایه وګرځوه دغه ځای چې حرم دی یو ښار چې د امن وي یعني اهل ددې ښار بیغمه وي د قحط سالی څخه او دخسف څخه په مځکه کې او د مسخ څخه یعني لکه یهود چې بیزوګان سوه او د زلزلو څخه او د جنون څخه، او د آتشک څخه او د پیس څخه او دغسې نور امراض چې په بلادو کې واقع کیږي.

پوه شه: چې "آمناً" صیغه د نسبت ده لکه "لابن او تامر" اي بلداً منسوباً الی الامن" نو پر دې تقدیر اسناد د آمناً وبلد ته اسناد حقیقي دی او بعض مفسران رح یې دا ترجمه کوي "امناً بلدا" نو اسناد و بلد ته مجاز دی ولي چې آمن خو صفت د اهل وو او اسناد یه و بلد ته وسو مثل لیل نائم او عیشة راضیة.

فائده: دا دعاء ابراهیم ﷺ هغه وخت وکړه چې اسماعیل خپل زوی او هاجره په هغه وچه شپله کې د مکې پرېښوله، او دی متوجه شام ته سو نو پر غونډی او غره د کدا ودرېدی او مخ یې د مکې د شپلې وخواته کړې داسې یې وویل "رب اني سکنت من ذریتي بواد غیر ذي زرع" الخ او وروسته یې هم دا دعا وکړه "رب اجعل هذا بلداً آمناً" نو مقصود په دې دعا سره هم بلدیت ددې شپلې او هم امنیت دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَارْزُقْ اَهْلَهٗ مِنَ الثَّمَرٰتِ

او رزق ورکړې واهل ته ددې بلد بعض د میوو څخه، دا دعاء ابـراهیم ﷺ ددې سببه وکړه چې په وخت کې د دعاء دا ځـای یـو شـپله وه بېلـه میوې دارو درختو وغیر ذالک.

دروبش وایي:- چې ابراهیم ﷺ د میـوو خواست وکړی ددې سببه هره میوه چې د نړۍ په یوه کنج کې وي په مکه مکرمه کې هر وخت پیدا کېږي، یعني په ذریعه د تجارت، او دغه رنګه په یو حدیث کې راغلي دي چې ابراهیم ﷺ دا دعـا وکړه خدای ﷻ جبرئیل امر کړی چې یوه قریـه د قراوو څخه د فلسطین چې ډېرې میوې پکښـې دي د بېخه را وکاړه نو په کعبـه شـریفه اووه واره طواف په وکړه، او بیـا یـې دریم مزلـه د مکې څخه لېرې کښېږده چې هغه ځای اوس هم په نامه د طـائف مشهور دی او اکثره میوې د مکې هم ددغه طـائف څخه راځي بلکه مکه مکرمه د دوبي او د زمي او د پسرلي او د منې د میوو څخه هر وخت ډکه وي.

دروبش وایي:- چې زه د حج په کاروان زمینې کې دې بنارته د طائف ورغلی یم ډېر ښائسته بنار وو او جاري اوبه پکښـې وې، او بنـه آب او هوا او ډېر لوی لوی زېبا اوکوچینك مساجد پکښې وه.

مَنْ اٰمَنَ مِنْهُمْ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ

هغه څوک چې ایمان یې راوړی وي پر خدای ﷻ، یعني پـر خـدای ﷻ یې تصدیق په یو والي سره او ایمان یې راوړی وي د اخرت پر ورځ چې د قیامت ورځ ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوهه شه: چې "من آمن" بدل بعض دی د "اهله" څخه.

دروښې وایي:- چې وجه د تخصیص دا ده چې کومك د کفارو سره پر کفر لازم نسي.

فائده: څه وخت چې ابراهیم علیه السلام سوال د امامت دبعض اولاد لپاره وکړی او خدای ﷻ امامت خاص کې په مومنانو سره ولې چې وې ویله" لاینال عهدي الظالمین" نو ابراهیم علیه السلام رزق هم قیاس کی پر امامت نو څکه یه خواست د رزق د پاره د مومنینو د اهل مکه وکړی ، چونکه دا قیاس مع الفارق و نو خدای ﷻ دي متنبه کي چې رزق خو رحمت دینوي دي هغه عام دی مومن او کافر لره "بخلاف الامامة والتقديم في الدين" ولې چې هغه نعمت اخروي دي قال السعدي الشیرازي رحمه الله

ای کریمي که از خزانه غیب — گبر وترسا وظیفه خور داري

دوستان را کجا کني محروم — تو که با دشمنان نظر داري

قَالَ وَمَنْ كَفَرَ فَأُمَتِّعُهُ قَلِيلًا

نو خدای ﷻ وه ابراهیم علیه السلام ته ووېل چې هغه څوک د اهل مکې چې کافران وي هغو ته هم رزق ورکوم یعني کومک ورسره کوم په لذاتو کي د دنیا د قسمه څخه د مال وغیره لپاره د اثبات د حجت پر دوئ لکن دا تمتع په لږ وخت وي.

پوښتنه: بعض کافرانو ته په سوو کلونه بلکه بعضو ته د زرو کلونه تمتع د دنیایي لذاتو او شهواتو خداي ﷻ جاري ساتلي دي نو دا څرنګه تمتع قلیل دی؟.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب: د دنیا ټوله عمر لږ دی نظر و اخرت ته، ولي چې دنیا متناهي ده او اخرت غیر متناهي دی، نو د متناهي نسبت وغیر متناهي ته به ولي قلیل نه وي او تمتع د کافر په دنیا کې قلیل من القلیل دی ولي نعمتونه د دنیا که څه هم بعض وبعض ته په قلت او کثرت موصوف کیدای سي لکن باالبداهة نظر و نعمتونو ته د اخرت الجاریه الی ابد الابد بیخي ډېر قلیل دي چې اندازه د قلت یې تر بیان د ژبي او تر تحریر د قلم لوړ دي.

پوښتنه: چې "تمتعاً" یا مفعول مطلق د امتعه دی په اعتبار د موصوف محذوف اي تمتعاً قلیلاً، او یا صفت د ظرف محذوف دی "ای امتعه زماناً قلیلاً وهو مدة حیاته وفي الحدیث الذي رواه الترمذي رحمه الله" او ترمذي دا حدیث هم صحیح بللی دی قال قال رسول الله ﷺ لو کانت الدنیا تعدل عند الله جناح بعوضة ماسقی کافراً منها شربة ماء یعني که نعیم د دنیا برابر وای د یوه وزر سره د غماشي په نېز د خدای ﷻ نو بې نه وای اوبه کړی کافر د دنیا د نعمتو سره په یو غړف اوبو سره" وفي الحدیث الذي رواه ابن ماجه عن ابي هریرة رضي الله عنه والطبراني رحمه الله بسند صحیح في الاوسط قال علیه الصلواة وعلی آله وصحبه اکملها من التسلیمات اوفرها، الدنیا ملعونة وملعون ما فیها الاذکر الله وما والاه وعالماً و متعلماً.

پوښتنه: چې علامه بیضاوي د اعراب د لاري دا احتمال هم راوړی دی چې کلمه د "من" په "من کفر" کې دي مبتدا وي او متضمن دي معنی لره د شرط وي او فا متعد دي خبر وي او پر دې توجیه چونکه دا سوال واریدېږي چې د شرط او جزا تر مابین باید سببیت وي یعني شرط سبب به د جزا وي، نو قاضي بیضاوي ددې سوال د دفع کېدو لپاره داسي ویلي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دي والكفرو ان لم يكن سبباً التمتيع لكنه سبب لتقليله بان يجعله مقصوراً بحظوظ الدين غير متوسل بها الاخرة يعني ويمنعها من ان تكون وسائل لنيل ثواب الاخرة بخلاف المؤمن فان المؤمن ما انعم الله عليه في الدنيا لاجل شكره وصرفه في مرضات ربه سبب لنيل درجات الاخرة المؤبدة وتبع البيضاوي المحقق المظهري رحمه الله و زاد المظهري ويمكن ان يقال متاع الحيوة الدنيا خبيثة ملعونة عند الله كما مر في الحديث النبوي المذكور آنفاً) فيمكن ان يكون الكفر سبباً لحصوله لان الخبيث يكون سبباً للخبيث، انتهى مع الزيادة من الفقير غفرله

ثُمَّ أَضْطَرُّهُۥٓ إِلَىٰ عَذَابِ ٱلنَّارِ ۖ وَبِئْسَ ٱلْمَصِيرُ ﴿١٢٦﴾

او بيا زه دي مجبوره كوم و عذاب ته د اور او بد خاى د ورتګ دى اور، اعاذنا الله تعالى منه.

سوال: كافر خو مجبور نه دى وعذاب ته د اور ولي چي دا ممكنه وه چي په دنيا كي د ايمان راوړى واى، خفاجي رحمه الله وايي چي دا لفظ مجاز دى ددې څخه چي عذاب پر كافر په ورځ د قيامت واقع كېدونكى دى وقوعاً محققاً حتى كانه مربوط به.

ځوابش وايي:- چي دا سوال د سره وارد نه دى حتى چي جواب ته يې ضرورت پيدا سي، ولي چي لفظ د "ثم" دلته لپاره د تراخي بعيد دى يعني چي ورځ د قيامت ده، او په ورځ د قيامت خو كافر مجبور دى وعذاب النار ته يعني كه څه هم وقوع د اور خو دده نه ده خوښه لكن ناچاره دى په حكم د خداى ﷻ چي ملكي به دي دوزخ ته غورځوي او په قيامت كي ايمان خو سبب د خلاصون نه سي كېداى لانقطاع دار التكليف ولله در البيضاوي رحمه الله فسر هذه الاية بقوله اي الزه يعني زه مجبوره كوم كافر په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورځ د قیامت کي "اليه اي الى عذاب النار، لكفره اي في الدنيا، وتضيعه" او چي ده ضائع کړه مامتعناه چي ما ور کړي وده ته "من النعيم" يعني د هغو نعمتو يې شکر نه ووايي يعني چي سبب دده د ايمان ګرځېدلی وای، لذ المضطر" دا مفعول مطلق تشبيهي دی يعني كلذ المضطر يعني لكه په دنيا کي چي يو سړی مجبور کړه سي "ومايكره" کارته، والله اعلم بالصواب، او تفسير مظهري هم عيناً مشابت د تفسير د بيضاوي کړی دی، او دروح البيان د تفسير حاصل هم وما قلنا ته راجع کېږي.

ژوبښ وايي:- چي هذا سانح جديد ان شاء الله، او پوه سه چي "ښنس" د افعال ذم څخه دي او مخصوص بالذم يې محذوف دی يعني عذاب النار حاصل ددې ايت دادی چي کافر ته دا دنيايي فاني امهال ده يعني خدای ﷻ مهلت ورکړی دی تا چه حجت پر ده تام سي او امهال نسته يعني له عذابه خلاصېدل په اخرت کي، فان كل نفس تجزي بما كسبت" نو کافران بايد ددې دنيا په فاني نعمتو او جاه وجلا غوره نسي فان المطيع والعاصي فيها سواء ونسبت تلك النعم الدنيوية من موجبات الرفقة في الاخرة قال الحافظ الشيرازي رحمه الله

بهلئ که ميهوت دهد زراه مرو ترانه گفت که آن زال ترک دستان گفت

قال الله تعالي ﴿سنستدرجهم من حيث لا يعلمون﴾

پوه سه: چي د خدای ﷻ شان د بندګانو سره يعني وروسته تر ظهور د دين محمد ﷺ داسي دی لکه يو سړی چي مهماني جوړه کړي او دا اعلان وکړي چي څوك چي زما مهماني ته راغله زه به هغه ډېره و نازوم اوکه نه راغله سر به يې په تور ور غوڅ کړم قال الله تعالى "والله يدعو الى دار السلام" يعني خدای ﷻ بولي او دعوت ورکوي و دار السلام يعني جنت ته دا خو د خدای ﷻ اعلان مهماني وتولو انسانانو ته او بيا خدای ﷻ خپل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قاصد او داعي ته چې محمد ﷺ تورہ په لاس ورکړه چې څوك زما ضیافت قبول نه کړي یعني ایمان نه راوړي د هغه سر به په ټره ور غوڅ کړه نو عاقل سړي لره په کار ده چې د خدای پاك ﷻ ضیافت په خپل خوښه قبول کړي یعني ایمان راوړي .

فائده: روح البیان والا ﷺ ددې ایت مبارك تفسیر د اولیاء الله رح پر دول داسي کړی چې **بلدهو الصورة الجسماني دی، والكعبة هو القلب،** او طواف حقیقي طواف دی د زړه په حضور د **عالم الغیب والشهادة** یعني بیت الله شریفه مثال ظاهر دی په عالم الملك کې چې موږ یې په سترګو وینو، او قلب کعبه حقیقي ده په عالم ملکوت کې چې موږ یې په سترګو نه وینو، او ده زیاته کړې ده چې هغه اولیاء الله رح چې پر طواف حقیقي یعني د زړه قادر وي دا هغه کسان دي چې په شان کې د هغو مخبر صادق ﷺ داسي ویلي دي **ان لله عباداً تطوف بها الكعبة وفرق بين من يقصد صورة البيت وبين من يقصد رب البيت.**

حکایت: یو عارف د اولیاء الله څخه قصد د حج د بیت الله شریفي کړی و او په کور کې یې دا ویل چې زه بیت الله ته څم نو ده یو زوئ درلو دی نابالغه د هغه ګمان دا سو چې په بیت الله کې به خدای ﷻ موجود وي نو ده په خپل ګمان کې دا وویل چې که ما پلار د خان سره بوزي زه به د رب البیت په زیارت مشرف سم، نو کوچني و پلار ته وویل چې ماهم بیت الله ته در سره بوزه پلار یې ورته وویل چې ته کوچني یې د بیت الله د زیارت قابل نه یې کوچني بغاري کړې چې مابه خوامخوا درسره بیایې پلار یې مجبور سو نابالغ زوئ یې ورسره ملګری کړی. او میقات ته چې راغله دواړو احرام وتاړه او تلبیه یې وویله او پلار او زوئ دواړه چې مسجد حرام ته داخل سوه او د پلار سترګې یې پر بیت الله شریفي ولګیدې زوئ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

يې لوبه چغه وکړه او غځار سو پلار چې راپورته کاوه هغه مې وو نو پر پلار يې ډېر دهشت طاري سو او دايې وويله ما لولدي وما لقطة کبدي، څه وسوه زما په زوئ او څه وسوه زما دوينې په تبوتې نو د يوه جانبه څخه د کعبې شريفې يې هاتفي آواز واورېدی چې ته په طلب کې د بيت الله راغلی وې او ودي لېدله، او زوئ دي په طلب د رب البيت راغلی وو او هغه هم رب البيت ولېدی نو طاقت يې بالانه وو نو مې سو، او خلګ سره راټول سوه لکن کوچنی د اسمان وخواته پورته سو او د خلګو څخه غائب سو، او بيا هاتفي آواز وسو چې هغه کوچنی نه په يو ځای او مکان کې دی، او نه په جنت کې دی' بل هو في مقعد صدق عند مليک مقتدر والله علی کل شي قدير، ولقد صدق من قال من طلب فقد وجد،

وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرٰهٖمُ الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيْتِ وَإِسْمٰعِيلُ

او په ياد کړه هغه وخت يعنې اې محمده ﷺ وخلګوته چې پورته کوله ابراهيم عليه السلام تادايونه د بيت الله شريفې او اسماعيل ورسره وو.

سوال: دا رفع القواعد خو دېر په خوا تېر سوی وو نو د مضارع څه معنی ده.

ځواب: علماء د معاني او بيان وايي چې يو لوي کار او يا عجب کار چې په ماضي کې واقع سوی وي متکلم لره رواده چې د هغه حالت ماضيه تعبير په مضارع سره وکړي احضارا تلک الحالة الماضية في اعين المخاطبين، او ددې مجمل تعبير دادی چې اهل تفسير په ورته ځايو کې وايي احضار للحالة الماضية.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوښتنه: قواعد خو جمع د "قاعدة" ده چې په دې ځای کې معنی تادای ده چې اساس یې هم بولي نو سوال دادی چې قاعدة او اساس خو په مخکه کې د ننه پاتېږي فما معنی رفع القاعدة ؟

ځواب: عمومي اهل تفسیر خو وایي چې معنی د رفع القواعد داده چې نوره بناء پر وکړي ولي چې په بناء سره د تادای درك او ظهور کېږي، نو معنی د رفع القواعد اظهار د کښته والي څخه و لوړ والي ته، او کسائي رحمه الله وایي چې معنی د قواعد مطلق تادایونه د دېوالـه دي ولـي چې هر تادای یې قاعده ده د لوړ دای لپاره .

ډوېښې وایي:- چې پر تفسیر د کسایي رحمه الله جمعیت د قواعدو بلا تکلف صحیح دی، او پر اول تفسیر یې جمعیت په دې اعتبار دی چې بیت الله شریفه خو مربع ده نو هر دېوال یې تادای لري .

سوال:اسماعیل علیه السلام خو د ابراهیم علیه السلام سره شریك وو یعني دی خو هم فاعل دی بناء وو، نو ولي یې مفعول چې القواعد دی تر اسماعیل دمخه راوړی؟

ځواب: لپاره د تنبیه پر دې چې اصل بـاني ابراهیم و او اسماعیل خو لکه شاګرد د بناء وو ډېرې او ختې بې ورکولې چونکه اسماعیل علیه السلام لره هم دخل په بناء البیت کې وو نو عطف بعد ذکر المفعول علی ابراهیم وکړی، بغوي رحمه الله وایي چې راویان داسې روایت کوي چې ځای د بیت الله شریفې د مخه تر نوي مخکې دوه زره کاله خدای ﷻ پیدا کړی و، هغه داسې چې دغه ځای یو سپین څنګ وو پر اوبو باندې نو بیـا خدای ﷻ نوره مخکه تر هغه څنګ لاندې وغوړول بیا چې آدم علیه السلام مخکې ته راغلی نو په سبب د یـوازې والـي وحشت او دهشت ورتـه پېښ سـو نـو د خدای ﷻ په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دربار کي يې د دفع ددې وهشت خواست وکړي، نو خدای ﷻ بيت المعمور چې د سرو ياقوتو څخه جوړه وه او دوې دروازې يې درلودې د شنه زمرود څخه جوړې وې يو شرقي دروازه وه او يوه غربي وه او دا بيت المعمور يې پر ځای د بيت الله کښېښولە، او آدم ﷺ ته يې وحي وکړې چې ما ستا لپاره بيت المعمور د اسمانو څخه را کښته کړی نو ته ولاړسه پر هغې بيتې به طواف کوې لکه چې ملکي پر عرش طواف کوي او د هغې بيتې لوري ته به لمونځ کوې لکه چې ملکي په وړاند د عرش لمنځونه کوي، نو آدم د هند څخه د بيت الله پر لور را راوان سو او خدای ﷻ دده سره يوه ملکه ملګرې کړه چې د هغې بيتې لاره يې ورښوولە او پياده روان وه، اخر هر څو زمانه چې تېره سوه په لار کي بيت الله ته را ورسېده او په ښوونه د جبرئيل يې تولە مناسك الحج پر ځای کړه نو چې آدم ﷺ د مناسکو څخه د حج فارغ سو، نو ملکي په ډله ډله ورته راغلې او ده ته يې داسي وويل "بر حجک يا آدم لقد حججنا هذ البيت قبلک بالفي عام" او ابن عباس ﷺ وايي چې آدم ﷺ څلويښت حجه د هنده څخه پر پښو کړې دي راوي وايي چې کعبه مبارکه د سرو ياقوتو پر خپل ځای ولاړه وه تر طوفان نوح ﷺ پورې، کله چې طوفان د نوح ﷺ پر راتلو سو هغه بيت الله خدای ﷻ وځلورم اسمان ته پورته کړه او معبد د ملکو يې وګرځولە چې روزانه او يا زره ملکي ورځي، او بيا هغو ملکو ته چې اول وار ورغلي دي تر اوسه پورې نو بت نه دی رسېدلی وهذا يدل على كثرت الملائكة الكرام ولايعلم جنود ربک الاهو" او خدای ﷻ جبرئيل ﷺ راواستاوه چې حجر اسود د جبل ابي قبيس په يوه غار کي پټه کړي صيانة له من الغرق نو د بيت الله شريفي ځای خالي پاته وو نو تر زماني پورې د ابراهيم ﷺ نو وروسته ابراهيم ﷺ خدای ﷻ امر ورکړی چې زما د عبادت لپاره د بکې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

په شپله کي يوه خونه تعمير کړه په کومك د اسماعيل ﷺ چنانچه د مخه بعض قصه ددې تپره سوه، ئو ابراهيم ﷺ د تعين د ځای د بيت الله د خدای ﷻ څخه غوښتنه وکړه لکن د ځای د ښولو په باره کي د علماء اختلاف دی ابن عباس ﷺ وايي چي خدای ﷻ جبرئيل را واستاوه او ځای د بناء د بيت الله يې ور وښوولـه، او بعض راويان د ابن عباس ﷺ داسې روايت کوي چي خدای ﷻ په اندازه د بيت الله شريفي يو وريځ پيدا کړه، او ابراهيم ﷺ ته يې امر وکړی چي ددغي وريځي په سايه کي ورسره څه نو ابراهيم ﷺ د وريځي په سايه کي ورسره روان و څو چي وريځ د کعبې شريف پر اندازه ودربدل نو د وريځي ابراهيم ﷺ ته نعره وکړه چي ددې سايه پر اندازه خونه جوړ کړه لا نزد ولا تنقص .

ډوښش وايي:- چي پر هر تقدير دا ښونه د ځای د کعبې مصداق دی ددې قول د خدای ﷻ "واذ بوّنا لابراهيم مكان البيت .

وروي ابن عباس ﷺ دی وايي چي بناء د کعبې مبارکي چي ابراهيم ﷺ کوله د پنځو غرو د ډبرو څخه يه کړي ده طور سينا(۲) طور زيتا(۳) ولبنان چي ديوه غره نوم دی په شام کي (۴) والجودي وهو جبل بالخجريرة(۵) او تادي يه دحراء څخه وکړي وهو جبل بمكة.

پوښتنه: دا مذکوره غرونه خو ډېره فاصله سره لري نو دا ډبري چا ابراهيم ﷺ ته راوړي؟ بعض علماء وايي چي ملکو په هره شپه کي ديوه غره ډبري ورته راوړلې چي ابراهيم ﷺ ته ښول کيدلـه چي دا د فلاني غره ډبري دي، او بعض علماء وايي چي مومنانو د جناتو د هغې زماني به ورته راوړې والله اعلم بحقيقة الحال، ابن عباس ﷺ وايي چي څه وخت چي ابراهيم ﷺ وخای ته د حجر اسود ورسېدی نو خپل زوی اسماعيل ته يې وويل چي ته يو ښه ډبره راوړه چي نصب يې کړو اسماعيل ﷺ يوه ډبره

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ورته راوړه ابراهیم ﷺ ورته وویل چې تر دې ښه ډبره راوړه اسماعیل ﷺ چې په طلب د ډبرې را ووتی جبل ابي قبیس ورته ناره کړه چې ستا زما سره یو امانت سته دروایه خله نو ابراهیم ﷺ هغه ځای ته ورغلی او حجر اسود یې راواخستی او په موضع حال کې کښېښو وهو في ذالک الی یومنا هذا .

مسئله: مسحه کول د حجر اسود په هر شوط کې د(۷) شوطو سنت ده ولې آنحضرت ﷺ مسحه کړې ده .

سوال: علیه السلام چې مسحه کوله هغه وخت نو باید دا مسحه کول واجب وای ؟

څواب: هو واجب به وای که چېرې ﷺ هغه یو وخت نه وای پرې اینې لکن په احادیثو صحیحو کې ثابته ده چې آنحضرت ﷺ یو پلا پر اوښ سپور طواف یې کاوه چې پر حجر اسود به راغلی اشاره بې په لکړه سره ورته وکړه والله اکبر بې ووایه .

مسئله: مسحه کول د حجر اسود که څه هم سنت نبوي ﷺ دی لکن ازار د طواف کونکو حرام دی، نو بېله اذدحام اوبېله ډکو او تنبو که ممکن سې خو ډېر اعلی ده لکن په اوسنې وخت کې خصوصاً په آخرې ورځو کې د حج دا امکانات نسته .

د بعض حاجیانو غلطي کارنامې: بعض صحرائي حاجیان دا ګمان کوي چې د حجر اسود مسح کول په هره توګه چې وي ثواب او سنت کار دی نو بعض حاجیان ددغو صحرائي کسانو چې په بدن قوي وي طواف ګاه ته ور داخل سي اویو حاجي پورې وهي او بل غځار کې او په نر او ښځو کې لکه مست خړه اوږې ښوروي حتی چې حجر اسود ته خان ورسوي او د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

حجر اسود سر ه چي نور مسح کونکي وي د هغو مخانو ته منکولي ور واچوي او حجر اسود يا لآخر مسحه کړي، او بعض ددوئ د حجر اسود په غار ښه سر ور ننه باسي نو چي طواف خلاص کړي نورو ملګرو ته خپل جهالت پر ډول د سنت ورښيي او ووايي چي نن مي اوه واره حجر اسود مسحه کړي، او بعض حاجيان دري څلور سره ملګري سي اوخلګ نر او ښځي غځار وي او پري وهي څو تر حجر اسود خانونه ورورسوي او هوري يو پر بل پيره کوي حتی چي ټوله حجر اسود مسح کړي .

فروښش وايي:- چي دا ډول مسحه کول د حجر اسود خو يقيناً حرام ده البته که يو حاجي په اولو طيارو کي مکې مکرمې ته ورسېږي چي د حاجيانو ازدحام کم وي او يا په اخيرو طيارو کي سفر وکړي او چي اختر تېر سي او حاجيان مخ پر کم والي سي يعني د دولتو د طيارو پر وازنو ډېر وسي نو په دواړو صورتو کي امکان سته چي بېله ازاره د طواف کونکو دي حجر اسود مسحه کړي وقد جر بناه مراراً

رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا ۖ إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿١٢٧﴾

اي خدايه ﷻ زمونږ څخه قبوله کړې يعني دعا زمونږ او ټوله عبادات زمونږ چې د جملې څخه د هغو بناء البيت ده او ته اي خداي ﷻ اورېدونکی د ټولو مسموعاتو چې د جملې څخه د هغو زمونږ دعا ده او ته خبر يې په ټولو معلوماتو چې د جملې څخه د هغو زمونږ نيت دی په عمل د بناء البيت .

فروښش وايي:- چي ربنا منادی مضافه ده په تقدير د حرف نداء، او دا جمله حال د ابراهيم ﷺ او اسماعيل ﷺ څخه په تقدير د قول اي قائلين يارينا .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده: په دې آیت کې تنبیه پر دې ده چې یو سړی چې عبادت الهي کما امر الله به وکړي باید چې پس له تمامه د عمل تضرع او عاجزي وکړي وخدای ﷻ ته په قبول کې د هغه عبادت ولي چې خدای ﷻ فاعل مختار دی او قبول د عمل پر ده واجب نه دی.

فائده: بعض عاشقانو په مدح کې د کعبې مبارکې داسې ویلي دي

روبحرم نه که درآن خوش حریم — هست سه پوش نگاري مقیم
صحن حرم روضه خلد برین — رو بچنان صحن مرو نشین
قبله خوبان عرب روي او — سجده شوخان عجم سوی او
کعبه بود نوگل مشکین ما — تازه از و باغ دل ودین ما

ومما قيل في مدح هذا الحرم المنيف والبيت الشريف

اي که درین راه قدم مي نهي — روي توجه بحرم می نهی
پاي باندازه درین کوي نه — پاي اگر سوده شود روي نه
چرخ زنان طوف کنان در حضور — تو شود پروانه واو شمع نور
عادت پروانه نداني مگر — چرخ زند اول وسوزد دگر

فائده:- د ابراهیم ﷺ څلور زامن وه اسماعیل"" اسحق"" مدین" ومدآین.

فائده:- مجاهد رحمه الله وایي چې آدم ﷺ ته خدای ﷻ امر د تګ وبیت الله شریفې ته ورکړی یعني د هند څخه چونکه د هند او مکې مکرمې تر منځ دېر مفاوزه وه نو خدای ﷻ و طي مکاني کرامتاً ده ته ورکړې چې په یوه ګام کې ده د درو ورځو لار د نورو خلګو قطع کول انتهی والله اعلم

فائده: په صحیح متفق حدیث کې راغلي دي چې سیدنا عائشه ﷺ د رسول الله ﷺ څخه پوښتنه وکړه چې حطیم چې حجر یې هم بولي د کعبې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جزء دی او که څرنګه؟ علیه السلام ورته وویل هوا نو دې ورته وویل چې ولي یې په کعبه کې نه دا خله وه؟ علیه السلام ورته وویل چې ستا قوم چې چنده سره جمع کړې وه، په هغه چنده ټوله کعبه نه جوړېدله نو یې حطیم په قدر د شپږ زراع خندې وه ایستې، عائشه ﷺ وایي چې ما و علیه السلام ته وویل چې دا دروازه یې ولي دونه پورته ورکړې ده علیه السلام راته وویل چې دا ستا قوم لوړه دروازه ورکړه تاچې څوک چې ددوئ زړه غواړي هغه به ور داخل وي، او علیه السلام عائشه ﷺ ته زیاته کړه که چېرې ستا قوم تازه مسلمانان سوي نه وای مابه کعبه نړولې وای او دروازه به مې په مځکه پورې متصل کړې وای، او دوې دروازې به مې ورکړې وای یوه شرقي او بله غربي یعني پر یوه به خلګ ننوتلای او پر بله دروازه به وتلای او ما به شپږ ګزه د حطیم په کعبه کې داخل کړې وای مطلب د حدیث دادی چې قریش چونکه تازه مسلمانان سوي دي نو که زه کعبه ونړوم دوئ به وای چې زموږ د پلار اونیکه خونه یې وه نړوله او بیرته به کافران سي.


ژوبنه وایي: چې هم دا سبب دی چې علیه السلام د کعبې یو کنج چې رکن یماني دی او بل کنج چې حجر اسود پکښې دی مسحه کول ولي چې دا دوه کنجه پر بناء ابراهیمي دي او هغه نور دوه کنجان د مکې چې د حطیم پر خوا دي نه یې مسحه کول ولي هغه دوه کنجه پر بناء ابراهیمي نه دي واقع.

پوښتنه: کعبه مبارکه خو د ابتداء څخه د ابراهیم ﷺ مربع خونه وه نو چې شپږ زراع قریشو خندي ویستله باید شکل د کعبې او حطیم داسې وای



Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

نو چې حطیم په کعبه شریفه سره ګډوسي هم به کعبه شریفه مربع شکل سي او سره ددې چې شکل د کعبې او د حطیم اوس داسي دی



سوال: نو دا ګول ځای په حطیم کې ځکه سبب دی؟

ځواب: په دغه ګول ځای کې، یو څو قدیم قبرونه دي نو قریشو هغه قبرونه په حطیم کې دننه راوستل نوددې سببه دیوال د حطیم ګول سو، فافهم فانه سانح عزیز.

فائده: هغه وخت چې اهل مکه وو د عبدالله بن الزبیر ؓ سره پس له هرکه د معاویه ؓ بیعت د خلافت وکړی او شامیانو او شا وخوا خلګو د یزید بن معاویه سره بیعت د خلافت وکړی نو یزید حجاج بن یوسف امر کړی چې د عبدالله بن زبیر سره جنګ وکړي او ډېر شمېر فوج یې ورسره کړی او ابن زبیر په ابتداء کې خلافت خپل په متابعت د هغه حدیث چې دده خاله عائشه ؓ وده ته ویلی وو کمامر آنفاً د ګعبې شریفې خونه وه نړول او دوې دروازې شرقي او غربي یې په مځکه پورې ورکړې او شپږ زراع د حطیم یې هم په کعبه شریفه کې داخل کې نو څه وخت چې لوي فوج د حجاج بن یوسف وه مکې ته راورسېدی او اهل مکه او ابن زبیر ؓ د مقابلې او جنګ توان نه درلودی نو دوئ په حرم شریف کې پناه ونیوله نو حجاج بن یوسف پر جبل ابي قبیس باندې منجنیق ورته نصب کې چې د منجنیق ځخه په پخوا زمانو کې د توپ کار آخسته کېدی ده و عسکرو ته امر وکړی چې کعبه شریفه په منجنیق وولي عسکرو منع وکړه نو حجاج بن یوسف په خپله منجنیق پر کعبه شریفه وچلاوه او د منجنیق په غټو ډبرو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پې کعبه شریفه وویشتل خو کعبه شریفه پې وښرول او پښا غوښتونکي د حرم شریف د تسلیمېدو ته مجبوره شوه او حجاج حرم مکي ته داخل شو او عبد الله بن زبیر یې ګرفتاره کړی. او امر یې وکړی چې د زمزم وڅاه ته نژدې دې حلال کړل سي په دغه وخت کې اسماء بنت ابي بکر صدیق ﷺ چې د عائشه ﷺ خوره وه. او د عبدالله ابن زبیر مور وه ژوندی وه او عمر یې تر سل کاله بالا وو نو دا د خپل زوی د حلالېدو خبره سوه نو لکړه یې را واخسته په عاجزه بدن حرم ته راغله او پر لکړه یې تکیه وکړه او هغه وخت چې سنګدله حجاج ددې د زوی پر غاړه چاړه تېره کړه او اسماء ﷺ چې د زوی وینه ولیدله دستې حیض ورغلی سره ددونه عمره او تر تیو یې شیدې راغلې نو دې ﷺ وویل چې زویه هغه ځای چې ته په کښې وې خدای ﷻ اولاً پیدا کړی دی یعني رحم په تا پسې وژړل یعني دم الحیض. او هغه چې تا اول د هغه ځایه شیدې رو دلې وې هغه ځای هم درپسې وژړل یعني لبن ثدیها نو زه نو نه در پسې ژاړم او وه یې ویله "انا لله وانا الیه راجعون" او د سترګو اوښکې یې چا نه ولېدلې.

فروښتې والیې:- چې دغه دی نهایت صبر د یوې ښځې په امت محمدیه ﷺ کې.

تبصره: حجاج بن یوسف څونه دلاوره او د خدای ﷻ څخه ناخبره انسان وو. او سره ددې چې مسلمان هم وو چې یو وار د کعبې شریفې خونه ونړول او بیا یې عبد الله بن زبیر په حرم کې شهید کړی.

خوانندګان محترم: د امذکوره کارونه د حجاج بن یوسف د ضد انساني او ضد اسلامي کارو څخه یو نمونه مشت از خروار ده ولې د تاریخ په پاڼو کې ثبت د حجاج بن یوسف تر یولك بالا په شمول د تابعینو او اصحابو رضي الله عنهم خلګ ظلماً په قتل رسولي دي حتی چې په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

عربوکي دا یو متفق علیه خبره ده چي په ورځ د قیامت که د ټولو دنیا د ظالمانو ظلم به په یوه پله کي واچول سي او د حجاج بن یوسف دا په بله پله کي واچول سي نو د حجاج بن یوسف ظلم به باندي دروند وي. او تاریخ وایي چي همیشه به دحجاج په دربار کي څرمن اواره وه او سیاف یعني جلاد به موجود و چي دچا دغیبت دده په باره کي جاسوس ور ورساوه هغه بې پر هغه څرمن ودراوه او جلاد بې سر خندي غوځ کړی حتی هغه وخت چي حجاج مړ سو او د بنخپدو لپاره چي یې مقبرې ته وروړی وروسته تر بنخپدو بعض علماؤ ده ته د مغفرت دعا کوله. یوه سړي د حاضرینو څخه د جنازې د حجاج داسي وویله چي ته څه دعا د مغفرت ورته کوې پر مادي ماینه په دې طلاقه سره طلاقه سي که خدای ﷻ دی وبخښی بارد ملایانو د عصر دا سړی تر قال وقیل لاندي راوستی بعض ورته وویل پر تا ماینه طلاقه سوه ولي حجاج که هر څو ظالم وو لکن مسلمان خو وو نو تاته څه معلومه ده که خدای ﷻ بخښلی وو، او بعض ملایانو ورته وویل چي نه ده طلاقه ولي دا تعلیق بالمجهول دی.

اخر هغه سړی حسن بصري رحمه الله ته ورغلی او خپل خبره او د ملایانو اختلاف یې ورته ذکر کړی حسن بصري رحمه الله ورته وویل که خدای ﷻ دیو لك او څو زرو مسلمانانو قتل ظلماً ور معاف کړي ستا د یو څو کالو زنا به هم خدای ﷻ در وبخښي یعني که ستا ماینه دا اوس پر تا طلاقه هم سي نو ستا باقي مانده عمر خو به ته زاني یې دا زنا به هم خدای ﷻ در وبخښي.

حکایت: یو وخت د حسن بصري رحمه الله راپور یو جاسوس وحجاج بن یوسف ته رسولی و یعني حسن د حجاج غیبت کاوه، نو حجاج عسکر پسي واستوله په دې مجلس کي د حجاج یو خیر خواه د حسن رحمه الله موجود

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

و هغه سړي ژر وحسن بصري ته خبر ور کړی چې د حجاج عسکر در پسې راراوان دي خان یو خواته پټ کړه حسن بصري رحمه الله د کوره چابك ووتی او په یوه ټړدې غره کې یو زاهد عابد ولي الله سړی و حبیب عجمي رحمه الله په نامه یاد بدی او په غره کې یوه خونه جوړه کړې وه او د خدای ﷻ عبادت بې کاوه ورغلی او ورته وې ویله چې د حجاج عسکر راپسې دي حبیب عجمي رحمه الله ورته وویل چې دا زما په خونه نننوزه خدای ﷻ به دي وساتي او حبیب رحمه الله د باندي ناست و. خیر د حجاج عسکر د حسن بصري رحمه الله کورته ورغله په کور کې ورته وویل سوله چې حسن د باندي ولاړی نو د حجاج ظلم پښه عسکرو د یوه او د بله څخه د حسن رحمه الله پوښتنې کولې خو آخر یې دا معلومه کړه چې حسن رحمه الله د حبیب عجمي رحمه الله پر خوا تللی دی نو عسکرو حبیب رحمه الله ته راغله او حبیب ته یې وویل چې حسن دلته راغلی حبیب رحمه الله ورته وویل هو راغلی عسکرو ورته وویل چې څه سو حبیب ورته وویل چې په دغه خونه ننوتی عسکر په خونه ورننوتل هر څو چې یې په سپینه ورځ وکتله نه یې کړی پیدا بیرته راووتل حبیب رحمه الله ته یې وویله چې حسن خو دلې نه وو حبیب رحمه الله ورته وویل چې په دغه خونه خو ننوتی او بیرته نه دی راوتلي خیر عسکرو دا راپور حجاج ته ورساوه حجاج په خپله پسې راسپور سو او د حبیب عجمي رحمه الله خاي ته ورغلی او د حبیب څخه لکه دده عسکرو پوښتنه څندي وکړه حبیب رحمه الله وحجاج ته هم هغه مخنی جواب ور کړی حجاج په خونه ور ننوتی هر څه کوشش چې وکړی حسن یې نه کړی پیدا، بیرته راووتی حبیب رحمه الله ته یې وویل چې حسن په خونه کې نه وو حبیب ورته وویل په خونه خو ننوتی بیا نه دی راوتلی، حجاج ورته وویل که حسن ددغي خوني څخه راووتی زه هغه ته هیڅ نه وایم او ماتاته در بخښلی دی حبیب ور ناري کړې چې حسنه که په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خونه کي يې راووزه حسن بصري رحمه الله هم د هغې خوني څخه راووتی نو حجاج ورته وويل چي ته په خونه کي چېري ناست وې حسن بصري رحمه الله ورته وويل چي په مابين کي د خوني ناست وم هر پلا به تا پر ما لاس هم کښېښو خير حجاج خندي ولاړی او حسن ته يې هيڅ نه وويل حجاج چي ولاړی حسن يو مسخره پر حبيب عجمي رحمه الله وکړه او ورته وي ويل وينې زما جاسوسي دي وحجاج ته وکړه حبيب رحمه الله ورته وويل بڼ مه لره په رشتيا ويلو زما د حجاج څخه خلاص سوې.

حکايت: په مطول کي وايي چي په دوره کي د حکومت د حجاج يو شاعر وو چي د نورو کسانو سره په يوباغ کي د تورو انګورو ناست وو او انګور هغه وخت غوره وه يعني تور سوي نه وه او د حجاج بحث مابين ته راغلی نو دې شاعر بېله نوم اخستو د حجاج داسي وويله.

اللهم سود وجهه" خدايه تور کي مخ دده په زړه کي يې حجاج و" واقطع عنقه" او مغزی يې مات کړې واسقنی من دمه او په ما وچښي وينې دده په مجلس کي د حجاج راپور چي ناست و دستي يې دا خبره حجاج ته ورسول حجاج شاعر ور وغوښتی او ورته وې ويل چي تا دغه مذکوره خبري کړې دي شاعر ورته وويل هو لکن ستا نوم مي پر خوله ولاکه راوړی دی ما خو انګور يادوله چي ماوويله چي خدايه مخ يې تور کړې يعني پاخه يې کړې او مغزی يې مات کړې يعني چي تاك پوري پيوند وي زما په لاس يې مات کړې او وينه يې په ما وڅيښې يعني چي توري اوبه د انګورو زه وڅيښم حجاج د غضب په لهجه ورته وويل لاحملنك على الادهم" د حجاج مراد خو دا و چي توري زولنې به در واچوم او ادهم تور آس ته هم وايي نو شاعر خان ناپوه واچاوه که څه هم په مراد د حجاج پو هېدی نو داسي يې حجاج ته وويل " مثل الامير يحمل على الادهم والاشهب" شاعر په قصده اشهب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

درسره گله کړی چې زه خو سنا مقصد تور آس بولم حجاج ورته وویل ویلك انه لحدید افسوس دې وې تالره زما خو د ادهم څخه اوسپنه مراد ده او چونکه حدید نیز رفتار آس ته هم وایي نو شاعر خان غول واچاوه حجاج ته یې وویل چې تیز رفتار آس خو ببخي بنه دي، حجاج ته درد ورغلی پر دې چې ته ولې زما په مراد نه پوهیږي نو عسکرو ته یې وویل پورته یې کړئ د مخکې یې وواهئ عسکرو چې شاعر پورته کړی شاعر وویل سبحان الذي سخرلنا هذا پاکي دي وې هغه خدای لره چې ماته یې مسخر کړه دغه کسان چې زې پر اوږو واخستم حجاج بن یوسف ته د شاعر پر چالاکی خندا ورغله او شاعر یې خوشي کړی.

این قصه پایان ندارد پیش مگر خوانندگان محترم ازیان بعض کارنامهای حجاج بن یوسف بسنوه امده باشند ومیخواند که حجاج بعد از تخریب کعبه مبارکه عبد الله ابن الزبیر رضی الله عنه بر طرز محبوب آن حضرت نبوي ﷺ بناء کرده بود، چه طور کعبه خدا را تعمیر نمودند راویان مي گویند که حجاج بن یوسف رحمه الله کعبه خدا را بر طرز قریش مخالف بنایي ابراهیمي تعمیر نمود یعني یک دروازه شرقي بلند دادو وحطیم بقدر شش زراع از خانه خدا خارج نمود وباب غربي را بند نمود راوي میگوید که چون نوبت خلافت به هارون رشید رسید او انس بن مالک رضی الله عنه برای مشوره درباب کعبه خدا ﷻ احضار نمود وبه او گفت که من اراده دارم که کعبه شریف را منهدم سازم وبرطریق محبوب رسول ﷺ وبر طرز بناء عبد الله ابن الزبیر رضی الله عنه تجدید بنایش نمایم، مالک رضی الله عنه گفت تراقسم بخدا ﷻ می دهم یا امیر المومنین که اگر تو خانه خدا را برطرز ابن الزبیر رضی الله عنه بناء کني پس اگر پس از تو امیر دیگر شاید او بگوید که من کعبه خدا را بر طرز قریش بنا مي نمایم پس هیبت وحرمت خانه خدا ﷻ از دل مردم بیرون میگردد فترک الهارون امراً اراده وبقیت البیت الشریف علی بناء للحجاج علی طرز بناء قریش وهي آلان باقیت علی الطرز المذکور والله جل سلطانه یعلم مایحدث بعد ذالك

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

رَبَّنَا وَاجْعَلْنَا مُسْلِمَيْنِ لَكَ وَمِنْ ذُرِّيَّتِنَآ
أُمَّةً مُّسْلِمَةً لَّكَ وَأَرِنَا مَنَاسِكَنَا وَتُبْ
عَلَيْنَآ إِنَّكَ أَنتَ التَّوَّابُ الرَّحِيمُ ﴿١٢٨﴾

اي خدايه ﷻ مورِ وکړ خوې مخلصان ستا او يعض د اولادو زمورِ وکرخوې امت مخلص قالره او مورِ ته راوښيه احکام د دين زمورِ يعني شرائع د حج او زمورِ توبه قبلونکی يې او دېر مهربانه يې .

پوهېدنه: چې حقيقت اسلام او اخلاص فرمانبرداري د اوامرو د خداى ﷻ په کولو سره او فرمانبرداري د خداى ﷻ په ټولو منهياتو کې په پرېښولو کې ظاهراً او باطناً بدون اشراک غيره في عبادة الله ظاهراً کالمشرکين او قلباً کالمرائين، قال ﷺ المسلم من سلم المسلمون من لسانه ويديه .

پوهېدنه: چې ولي ابراهيم ﷺ او اسماعيل ﷺ تخصيص له بعض ذريته وکړی او ټوله ذريت نه يې دعا ونه کړه، ددې سبب دادی چې دوئ پوهېدله چې زمورِ په اولاد کې به محسن او ظالم نفسه مبين وي كما يفهم من قوله تعالى لا ينال عهدي الظالمين

پوښتنه:- تخصيص د ذرية يې په دعا سره وکړی او سره ددې چې اصحاب د همم عاليه و چې انبياء، دې بايد عام خلق په لېښې کې ددعا راولي ؟

ځواب:- وجه د تخصيص د ذريت هغه ايت دی "قوا انفسكم واهليكم نارا" او بل سبب دا دی چې په حديث شريف کې راغلي "مامن رجل من المسلمين يخلف من بعده ذرية يعبدون الله الاجعل الله له مثل اجورهم ماعبد الله منهم عابد حتى تقوم الساعة" نو چونکه په صلاح کې د اولاد نفع .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

د والد پنو سته نو خکه یې خواست او دعا د ذریت لپاره وکړه، او بل سبب دادی چې ذکر د ذریت په دعا کې که څه هم تخصیص دی ذکراً لکنه تعمیم معناً" ولې چې په اصلاح د اولاد الانبیاء علیهم السلام سره صلاح دعامه خلکو مربوط ده، ولې چې اولاد الانبیاء علیه السلام چې صالح سې هغه دعوت د صلاح عامه خلکو ته هم ور کوي، او بل سبب د دتخصیص دادی چې دوئ په دې پو هېدله عقلاً چې حکمت الهي ددې تقاضا نه کوي چې تولـه خلـک دي متفق سې پر اخلاص، او توجه ظاهراً او باطناً دي د دې تولو خلکو وخدای ﷻ ته سې ولې چې د دنیا نظام درهم او برهم کېږي ولذا قیل لو لاالحمقی لخربت الدنیا .

پوهه شه:- چې انبیاء علیهم السلام خو معصوم د ګناهو څخه دي قبل النبوة وبعد النبوة پر صحیح مذهب د اهل سنت والجماعت لکه دروېش چې نهایت تفصیل ددې مسئلې سره د بیان د دلائلو د مخالفینو او جوابونه له جانبه د اهل سنت والجماعت په مستقله رساله کې چې نوم یې کشف العظاء عن عصمت الانبیاء دی کړی دی او دا رساله د دېرو کلو راهسې طبع سوې ده او د کوتې په بنار کې دستیاب کیدای سې، نو اصل پوښتنه داده چې توبه خو فرع د ګناه ده نوچې چا لره ګناه نه وي نو توبه څه شي کاږي ، قاضي بیضاوي وایي استتابة لذریتهما ، حاصله چې مضاف محذوف دی یعني "تب علی ذریتنا" امام رازي رحمه الله په تفسیر کبیر کې وایي چې څه وخت خدای ﷻ ابراهیم علیه السلام خبر کړی چې ستا په ذریت کې به ظالم او عاصي وي نو خکه یې دلته داسې وویل "ومن ذریتنا امة مسلمة" او بیا یې سوال د توبې وکړی لپاره د مذنبینو عاصیانو د ذریت څېل یعني هغه کسان چې اهل توبه وي، او بل جواب قاضي بیضاوي رحمه الله داسې ورکړی دی چې توبه سبق د ګناه نه غواړي شاید د دوئ دغه سوال هضما لانفسهما دي وي .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوهه شه:- چي مناسك جمع د منسك ده بفتح السين وبكسرها والمعنى ابصرنا مواضع نسكنا اي المواضع التى يتعلق بها النسك اي افعال الحج كالمواقيت التي يحرم منها" او هغه ځايونه چي پر هغو حاجيان دربږي لكه عرفات مزدلفه، او ځای د طواف البيت او صفا ومروه ځای د سعي بعد الطواف او ځاينو د رمي الجمار في ايام النحر والتشريق او، دا هم احتمال لري چي مراد د مناسكو څخه دی، افعال د حج وي، لامواضعها نو پر دې باندې تقدير منسك مصدر ميمي دی د مكان نوم نه دی.

سوال:- د مصدر وجمع ته خو ضرورت نسته ؟

ځواب:- د مصدر جمع رواه ده چي انواع مختلفه تر لاندې وي، كما يقول الفقهاء كتاب الطهارات باعتبار انواع المختلفه المندرجة تحتها من الوضوء والغسل والتيمم وطهارة الثوب وغيرها ففي الجمعية تنبيه على تلك الاختلاف نو پردې تقدير "ارنا" په معنى دعرفتادى لان نفس الا فعال لاتدرک بالبصر بل تعرف بعين القلب وهو المعرفة، فتدبر.

رَبَّنَا وَابْعَثْ فِيهِمْ رَسُولًا مِّنْهُمْ

اي خدايه واستوې په دوئ كي يعني په ذريت كي زموږ يو رسول چي ددوئ د قوم او نسل څخه وي.

څوبښې وايي:- چي ټوله مفسرين پر دې خبره متفق دي چي دا سوال د ابراهيم او اسماعيل په محمد رسول الله ﷺ سره قبول سوی دی، ولې يوازې عليه السلام دی چي له نسله د ابراهيم ﷺ او اسماعيل د دواړو دی، او بل نبي مشترك النسل په ذريۀ كي د ابراهيم نه دی پيدا سوی بېله عليه السلام، البته نور انبياء عليهم السلام له نسله د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ابراهیم ﷺ ډېره وه لکن د هغو سلسله النسب و ابراهیم ته په واسطه د اسحاق او یا مدین او مدائن رسېدله، عرباض بن ساریه ﷺ راوایت کړی دی چې علیه السلام وویل "انی عند الله مکتوب خاتم النبیین و آدم لمنجدل في طینته وساخبرکم باول امري آنا دعوة ابراهیم" اشاره ده وآیت مذکوره ته یعني وبشارت عیسی ﷺ اشارتاً وهغه آیت ته د انجیل شریف چې ترجمه یې داده "ونبشرکم بنبي یاتي من بعدي اسمه احمد ورویا امي التي رئت حین وضعتني".

پوه شه:- چې د رویا څخه د سترګو لیدل مراد دي د خوب لیدل نه دی وقد خرجت منها نوراً اضائت لها منه قصور الشام، وهذا حدیث حسن صحیح.

يَتْلُوا عَلَيْهِمْ اٰيٰتِكَ وَيُعَلِّمُهُمُ الْكِتٰبَ وَالْحِكْمَةَ وَيُزَكِّيْهِمْ ؕ اِنَّكَ اَنْتَ الْعَزِيْزُ الْحَكِيْمُ ﴿۱۲۹﴾

داسي رسول چې هغه دي ایات ستا تلاوت کړي چې آیایت القرآن الحکیم دی او دوئ ته وښیي حکمت.

پوه شه:- د حکمت څخه مراد نور معارف او احکام دی سوی مافي القرآن، او بعض وایي چې مراد سنت نبوي ﷺ دی، او بعض وایي مراد څندي فقه ده، دوئ یې پاک کړه د شرک او نورو کنهو څخه. او بعض مفسران رح تفسیر د "یزکیهم" په اخستو سره د زکوات کوي د اموالو څخه ددوئ.

او ابن کیسان رحمه الله وایي چې مراد د علیه السلام به شاهد د تزکیه د خپل امت وي په ورځ د قیامت یعني په هغه وخت چې امت محمدي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

شاهدي اداء کړي پر نورو امتو چې نبي ددوئ ودوئ ته تبليغ د احکام الهيه وو کړی دی. دا شاهدي هغه وخت منځ ته راځي چې امتونه د نورو انبياؤ عليهم السلام له تبليغه د نبي خپل منکر سي او عليه السلام به شاهد د تذکيې د خپل امت د شاهدانو کرځي، والی هذا اشارا الله ﷻ، لتکونوا شهداء الله الناس ويکون الرسول شهيداً عليکم. او ددې قصې تفصيل په بخاري او نورو کتابو کي د احاديثو مبارکه وو موجود دی، او په تحقيق سره ته اې خدای ﷻ يعني غالب يې چې هر څه ته اراده وکړې هغه کار پای ته رسولای سې او ته حکيم يې يعني هر کار چې کوې او هر شی چې پيدا کوې په هغه کي به حکمت او مصلحت د عالم وي "سواء علم الناس تلک الحکمة او لم يعلموا، مثلاً وسپنه چې خدای ﷻ په کانو کي د غرو پيدا کول په هغې کي حکمت د موټر سازی، او طياره سازی، وغير ها من الاآلات الحربيه موجود وو، وان لم يعلم اوائل القرون الماضيه تلک الحکم الفائقه.

درويش وايي:- چې مجدد الف ثاني الشيخ احمد السر هندي قدس سره السامي د عليه السلام شان په دغه ښائسته مکتوب کي په عربي ژبه داسي بيان کړی دی.

شعر

ما ان مدحت محمداً بمقالتی ولکن مدحت مقالتي بمحمد ﷺ .

اقوال وبالله التوفيق والعصمة ان محمد رسول الله سيد ولد آدم واکثر الناس تبعاً يوم القيامة واکرم الاولين والآخرين علی الله و اول من ينشق منه القبر ، و اول شافع واول مشفع و اول من يفرع باب الجنة فيفتح الله له، وحامل لواء الحمد يوم القيامة تحته آدم ومن دونه قال عليه السلام نحن الاخرون يعني في الدنيا ونحن السابقون، اي في دخول الجنة وآنا قائل

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قولا غیر فخر ، یعني د فخر او کبر لپاره یې نه وایم یعني امتثال ددې ایت په وایم "واما بنعمة ربک فحدث" همغه قول دادی .

انا خاتم النبین ولا فخر، وانا خاتم المرسلین ولا فخر

وانا محمد بن عبد الله بن عبد المطلب ان الله خلق الخلق

مراد د خلق څخه انسان دی "فجعلني في خیرهم قبیلة ثم جعلهم بیوتاً فجعلني في خیرهم بیتاً و انا اول الناس خروجاً یعني من القبر و انا قائدهم اذا وفدوا وانا خطیبهم اذا انصتوا وانا مستشفعهم اذا حسبو، و انا مبشرهم اذا ینسو الکرامة والمفاتح بیدي، ولواء الحمد یومئیذ بیدي، وانا اکرم ولد آدم علی ربي یطوف علي الف خادم کانهم بیض مکنون واذا کان یوم القیامة کنت امام النبیین وخطیبهم، وصاحب شفاعتهم غیر فخر .

بیت

نماند بعصیان کسي در گرو چو دارد چنین سیدي پیش رو

پس ناچار مصدقان اینچنین پیغمبر سید علیه السلام خیر الامم باشند، کنتم خیراً امة اخرجت آه نقد وقت ایشانست،، ومکذبان او علیه السلام بد ترین بني آدم که الاعراب اشد کفراً و نفاقاً" حال ایشان است تا کدام صاحب دولت راباتباع سنت سنیه او بنوازند ، و بمتابعت شریعت رضیه او سرفراز سازند ، امروز عمل قلیل را که مقرون بتصدیق به حقیقت دین اوست علیه السلام بعمل کثیر بر میدارند ، اصحاب کهف این همه درجات که یافتند بواسطه یك حسنه است ، وآن هجرت بود از دشمنان حق سبحانه وتعالی بنور یقین ایماني در وقت استیلاي معاندان مثلا سپاهیان در وقت غلبه دشمنان و استیلاء مخالفان اگر اندك تر تردد اي پیش رفت کنند آن قدر نمایان میشود ، و اعتبار میکردد که در وقت امن اضعاف آن در چیزي اعتبار نمي آید ، وایضا چون آن سرور محبوب رب

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

العلمین است، متابعان او بواسطه متابعت بمرتبه محبوبیت میرسند چه محب در هر که از شمائل و اخلاق محبوب خود میبیند آن کس را محبوب خود میدارد ومخالفان را از آنجا قیاس باید کرد.

شعر: محمد عربي كه آب روي هر دو سرا ست كس كه خاك درش نيست خاك بر سراو و اگر بهجرت ظاهري ميسر نشود هجرت باطني را بكمال مرعي بايد داشت با ايشان (يعني په ظاهر) وبي ايشان (يعني په باطن كي) ولعل الله يحدث بعد ذالک امراً الی اخر المكتوب شريف.

ژوبڑه وايي:- چي په اول د مياشتي د روژې چي دجمعي ورځ هم وه دا خای او مکتوب تحرير سو ابن عساکر رحمه الله داسي روايت راوړی دی چي عبد الله بن سلام رضي الله عنه چي سابقاً يهودي و اسلام يې قبول کړی، نو دده د درور زامن وه چي يو مسلمه نومېدی او بل عبدالله، دواړو ته يې دعوت د اسلام ورکړی او ورته وه يې ويل چي تاسي خبر ياست چي په تورات کي خدای ﷻ ويلي دي چي زه يو نبي په اولاد کي د اسماعيل را استه وم چي نوم به يې احمد وي، نو که چاپر هغه نبي ايمان راوړی هغه هدايت ته ورسېدی اوکه چا ايمان نه پر راوړی هغه ملعون دی، نو مسلمه رضي الله عنه ايمان راوړی او مهاجرو منع وکړه د ايمان راوړلو څخه نو دا آيت نازل سو.

وَمَنْ يَّرْغَبُ عَنْ مِّلَّةِ اِبْرٰهٖمَ اِلَّا مَنْ سَفِهَ نَفْسَهٗ

او څوک به رغبت کوي له ملة او دينه د ابراهيم چي روښانه ملت دي

پښه ده:- چي دا استفهام انکاري دی يعني هغه څوک رغبت د ملة څخه د ابراهيم نه کوي.

پښه ده:- چي "رغبت" چي متعدي په "الی" سي نحو "رغب فلان الی الصلوٰة" مثلاً نو يې معنی اراده ده يعني اراده د لمانځه يې وکړه او که

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

متعدي په "عن" سره وي لکه په دي ايت کي نو معنی يې ترك دی يعني څوك به ترك کوي د ملت ابراهيم؟ يعني هيڅ څوك يې ترك نه کوي، مګر هغه څوك چې سپك يې اموخته کړی وي خپل نفس يعني په هر کار کي تلوار کوي په مقتضی د شهوت نفساني بيله فکره په نفع کي د هغه او په ضرر کي د هغه او روح البيان د هغه داسي ترجمه کوي "اي اذ لها وجعلها مهينا حقيراً" نو "نفسه" مفعول به دی، مبرد ﷺ او ثعلب ﷺ وايي هغه بکسر الفاء متعدي دی معناه جهل او په ضمه سره لازمي دی معنا يه بيعقل سو.

وَلَقَدِ اصْطَفَيْنٰهُ فِي الدُّنْيَا وَإِنَّهُ فِي الْاٰخِرَةِ لَمِنَ الصّٰلِحِيْنَ ﴿١٣٠﴾

پوهه شه:- چې لام موطئه دقسم دي اي با الله په تحقيق سره مور دي غوره بنده او مختاره بنده کړځولي و په دې دنيا يعني په نبوت او په خليل والي سره او په تحقيق ابراهيم په ورځ د آخرت کي دصالح بندګانو څخه دخدای ﷻ دي يعني مقرب بنده د خدای ﷻ چې دګنهو څخه د زړه او دبدن د ټولو څخه په اعلی درجه کي معصوم وو.

پوهه شه:- چې دا ايات دليل دی پر هغه آيت باندې "ومن يرغب آه" چې په استفهام انکاري سره راغلی ووم دلي هغه څوك چې په صلاح ظاهري او باطني سره موصوف وي په دنيا او اخرت نو د هغه د ملت مخ ګرځول سفاهت او بې عقلي ده.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

إِذْ قَالَ لَهُ رَبُّهُ أَسْلِمْ قَالَ أَسْلَمْتُ لِرَبِّ الْعَالَمِينَ ﴿١٣١﴾

پښتو ژباړه:- چې "اذ" ظرف دی د "اصطفینه" یعنې په هغه وخت کې دی موږ غوره او بر ګزیده کړی چې ده ته خدای ﷻ وویل چې ته خالص وګر ځوه خپل ځان وخدای ﷻ ته او تفویض د خپلو کارو و خدای ﷻ ته وکړه. دا هغه وخت وو چې ده له غاره څخه لمر. سپوږمۍ. او ستوري ولیدل، نو ابراهیم وویل چې ما خالص ګرځولی دی ځان ورب العالمین ته.

پښتو ژباړه:- چې ابراهیم امر الهي په اخلاص او انقیاد ظاهري او باطني پر وجه اتم پر خای کړی دی لکه چې دلته یې وویله "اسلمت آه" او په بل خای کې خدای ﷻ دده له قوله څخه داسې حکایت کړی دی" انې وجهت وجهي للذي فطر السموات الخ" او بل داچې نمرود چې دی اور ته په ذریعه د منجنیق وغور ځاوه او اورته نارسیده جبرئیل ﷺ ورته راغلی او ورته یه وویل "هل لک من حاجة" یعنې ته یو حاجت لري ابراهیم ورته وویل" اما الیک فلا" تاته خو مې هیڅ حاجت نسته. جبرئیل ﷺ ورته وویل" الا تسئال ربك" ایا ته خواست نه کوې چې ددې عذاب څخه دې خلاص کې، ابراهیم ﷺ ورته وویله حسبي بسئوالي علمه بحالي" ماله بس دی ولې چې خدای ﷻ زما په حال سره خبر دی یعنې د نمرود اور ته روان یم "وعند ذالک التوکل وعدم الالتجاء الی غیرها تعالی في دفع البلاء عنه قال الله تعالی قلنایا نار کوني برداً وسلاماً علی ابراهیم انا کذالک نجزي المحسنین" وفي روح البیان اهل تفسیر وایي ولد ابراهیم في امارة نمرود بن کنعان

پښتو ژباړه:- چې نمرود بن کنعان هغه تاریخي ګمراه و چې اول سړی دی تاج یې پر سر کښېښو، او د خدایي دعوه یې وکړه او خلګو په خدایي هم قبول کړی، او کاهنانو او منجمانو و د ته ویلې وه چې ستا په ښار کې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ښځ کال یو هلك زېږي چې زوال ستا د مملکت او هلاکت ستا به د هغه مولود د لاسه وي نو نمرود د تقدیر الهي سره لار د تدبیر شیطاني غوره کړه، هغه دا چې امر یې وکړی چې هر کوچنی یعنې نر چې سږ کال په دې ښار کې زېږي هغه دي وژل کېږي نو د ابراهیم مور چې دغه کال امیدوار وه څه وخت چې د وضع الحمل دردونه ورته پیدا سوه نو دکور څخه ولاړه ددې پیرې له سببه که مې عیال نر وو خو نمرود یه راڅخه وژني، نو یو واله وچه یې پیدا کړه چې پخوا اوبه په کښې بهېدلې او اوس وچه وه نو هورې خدای ﷻ زوئ ور کړی یعنې ابراهیم ﷺ نو کوم کالې چې دې وړې وه هغه یې په واغوسته او هورې یې تر خاشو لاندې کړی او کورته راغله مېړه یعنې د ابراهیم ﷺ پلار آزر یې په خبر کړی چې په فلانی والله کې ما څه خاشې پر اچولې دي ستا زوئ دی پټ کړی چاره یې وکړه، نو پلار چې ورغلی ابراهیم ﷺ یې د هغې شپلې یعنې ولې څخه نقل کړی او په محکه کې یې یو غار ورجوړ کړی په شان د خونې، او د غار پرخوله یې غټه ډبره ور کښېښوله د درندګانو له ډېرې نو مور یې پټه ورتله او ابراهیم ته یې شیدې ور کولې، او ابراهیم ﷺ ته به خدای ﷻ په شبانه روز کې دونه نما او قوت ورکاوه لکه نورو کوچنیانو ته دکمال قوت او نما، بعض راویان وایي چې ابراهیم ﷺ پنځلس میاشتې په دغه غار کې وو، او بعض راویان وایي چې اوه کاله دلته و، وقیل غیر ذالك نو ابراهیم ﷺ په هغه زمیني غار کې خواني ته نژدې سو او یاځوان سو۔

قال نو یې وویل و مور ته "من ربي" زما خدای ﷻ څوك دی، مور ورته وویل "انا" یعنې زه ستا رب یم" قال فمن ربك" ابراهیم ﷺ ورته وویل چې ستا رب څوك دی" قال ابوك" هغې ورته وویل چې زما رب ستا پلار دی" قال "نو ده ورته وویل چې زما د پلار رب څوك دی هغې ورته وویل ستا د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پلار رب نمرود دی، ابراهیم ﷺ ورته وویل چې د نمرود خدای څوک دی مور یې ورته وویل وغ مه لره نمرود خو خپله خدای دی، نو مابنام چې یې پلار کورته راغلی مور یې ورته وویل چې تاسي به د کاهنانو د خولې ویله چې سړ کال به یو هلك پیدا کېږي چې د ټولي دنیا دین ته به تغیر ورکوي هغه خو دا ستا زوئ دی، مور یې هغه ټوله بیان د هغې ورځې سوال او جواب ټوله وپلار ته بیان کړه، نو پلار ابراهیم ته ورغلی او څه رنګه بیان چې ابراهیم ﷺ مورته کړی وو هغه یې وه پلار ته هم وکړی لکن دې ځای ته چې ابراهیم ورسېدی چې د نمرود خدای څوک دی پلار پر مخ ټینګه چپلاخه وواهه چې داځه وایې نمرود په خپله خدای دی نو چې شپه تاریکه سوه نو ابراهیم ﷺ د غار و دروازې ته نږدې سو او د هغې لوې ډبرې تر چولو یې اسمان ولیدی او په هغه کې یې ستورې هم ولیدله، نو په خلق کې د اسمان او مخکې یې فکر وکړی چې خالق زما او د اسمانو او مخکو څوک دی، نو یو روښانه ستوری یې ولیدی" فقال هذا ربي" وروسته یې پسې کتله کتله څو چې ستوری کښته ولاړی او د ابراهیم څخه غائب سو" قال لااحب الآفلین" یعني زما نه دی خوښ یعني د ربوبیت لپاره تغیر کونکي شیان، خیر بیا سپوږمی یې ولیدل" فقال هذا ربي فلما افل قال لا احب الآفلین" او سحار یې لمر ولیدی" قال هذا ربي هذا اکبر" او بیا چې لمر غروب وکړی " کرر ذالك القول یعني لااحب آه .

تفسیر ایوبي حنفي د نصیراحمد احمدي لخوا سکین او pdf سو. د دعا په هیله احمدي! واتساپ ۰۷۴۹۸۴۹۵۶۹

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَوَصّٰى بِهَآ اِبْرٰهٖمُ بَنِيْهِ وَيَعْقُوْبُ ۭ يٰبَنِيَّ
اِنَّ اللّٰهَ اصْطَفٰى لَكُمُ الدِّيْنَ فَلَا تَمُوْتُنَّ
اِلَّا وَاَنْتُمْ مُّسْلِمُوْنَ ﴿۱۳۲﴾

او وصیت وکړی په هغه ملت سره او یا په هغه قول سره اسلمت په تاویل دکلمې و خپلو زامنو ته (بیضاوي) .

پوهه شئ:- چې روح البیان وایي چې د ابراهیم ﷺ څلور زامن وه چې نومان یې اسماعیل، اسحاق، مدین او مداین وه کما مر، او مظهري او په دې ځای کې روح البیان وایي چې د ابراهیم ﷺ اته زامن وه. (۱) اسماعیل چې مور یې هاجره القبطیة وه (۲) اسحاق چې مور یې ساره وه، او شپږ زامن یه د قنطورا بنت یقطن الکنعانیه څخه چې ابراهیم ﷺ وورسته تر وفات د ساره په نکاح کړې وه، یعقوب عطف دي پر ا براهیم یعني یعقوب هم وخپلو دولس زامنو ته دغه وصیت کړی وو .

پوهه شئ:- چې تر "ان الله آه" د مخه قول محذوف دی "اي قال کل واحد من ابراهیم ویعقوب وبنیهما" په تحقیق خدای ﷻ خوښ کړی دی تاسي لره دین یعني دین اسلام نو تاسي مه مړه کېږي مکر پر داسي حالت چې تاسي به مسلمانان مخلصان یاست .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

پوهه شوه:- چې "فلا تموتن" په ظاهره نهي دی د موت څخه لکن موت خو ددوئ په قدرت کې نه دی نو نهي راجع و ترك ته د اسلام ده تر مرګه پورې.

فائده:- یعقوب د اسحاق بن ابراهیم زوئ و او دده دوه زامنو نو مان دادي (۱) روحیل(۲) شمعون (۳) لاوي (۴) یهودا (۵) یستوخور (۶) زبولون (۷) زوایا (۸) نفتونا(۹) کوزا(۱۰) اوشیر (۱۱) بنیامین (۱۲) یوسف

تاریخ وایي چې یعقوب او عیصو سره غبرګولیان وه نو د دوئ د مور چې څه وخت د وضع الحمل وخت را ورسېدی نو ددې په نفس کې د دوو هلکانو سره اختلاف او خبري سوې چې مور هم اورېدلي نو هغه یوه هلك چې وروسته یې نوم یعقوب کښېښول سو، وخپل ورور ته چې ماته لاړ راګرځه چې زه د مور له نسه څخه ووزم هغه بل ورته وویل چې که تر ما د مخه ووتلي زه به د مور نس څیرمه، نو هغه د مخني هلك یعني یعقوب ورته وویل چې مور مه وژنه ورخه ته د مخه ووزه او هغه اول یعني یعقوب دده پښده ټینګه کړه او وروسته پسې راووتی، ځکه د هغه نوم یعقوب کښېښول سو چې پر عقب د عیصو خارج سو او چې اول د مور له نسه راووتی د هغه نوم یې عیصو کښېښو، ولي چې د مور په نس کې یې عصیان د مور وکړی.

پوهه شوه:- چې علماء وایي چې نومان یې په هره معنی چې وه هغه خپل د وضع علمي بنکاره کوي، یعني غالباً نوځکه عیصو یو سخت طبیعت او سخت ګیره شخصیت و او کسب او پیشه یه دهوسي او مرغانو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

بنکار و او ټبر اندازي به يې کوله، او يعقوب رحم دله او نرم سړی و او کسب او کښت کاري به يې کوله او مالداري به يې هم کوله .

تاریخ وایي چې يعقوب او عيصو په يوه ورځ دواړه مړه سوه په يوه قبر کي دواړه ښخ سوه لکه د مور به رحم کي چې سره يو ځای وه .

دروېش وایي:- وهذا من الواقعات الغريبة النادرة جداً، بعض علماء وايي چې يعقوب د يوسل اوه څلوېښت کالو په عمر کي وفات سو، په مصر کي او يوسف ته يې وصيت کړی وو چې زما جنازه به بيت المقدس ته وړې او دخپل پلار اسحق د څنګ سره به مي ښخوې او يوسف هم داسي وکړه، تاریخ وایي چې څه وخت چې يعقوب سره د زامنو اوفامیله په دعوت د يوسف مصر ته ورغله او وې ليدله چې مصريان اکثره مشرکان او بت پرستان وه نو څکه يې خپل زامن ټوله را وغوښتله او هغه وصيت يه ورته وکړی" يابني ان الله" الاية .

دروېش وایي:- د يعقوب دا وصيت پر اساس، مرګ پر اسلام او عمل صالح يې بهتر دی تر سلطنت د ټولي دنيا، او تر مرګ پر کفر باندي د دنيا ذليل ترين عمر او ژوند ښه دی.

پوښتنه:- د ابراهيم عليه السلام دعوت و ټولو انسانانو ته د دين ابراهيم لپاره خو معلوم الحال شی و نو نه په ذکر کي د دعوت د ابراهيم عليه السلام وخپلو زامنو ته په قران کريم کي د ذکر يې څه حکمت دی،؟

ځواب:- د دې حکمت دپاره ذکر سوه چې خدای عليه السلام وخلګو ته وښي چې دعوت و اسلام ته د هر اهم او مقصود اعلی کار دی حتی چې

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ابراهیم ﷺ مع عموم دعوته خص احب الناس الیه وهم الاباء بهذا الدعوت .

قیاس کن زگلستان من بهار مرا

ولهذا قال عز وجل لنبیه وحبیبه ﷺ و انذر عشیرتك الاقربین

وبېروه دخدای ﷻ له عذاب ستا هغه قبیله چې تاته نژدې وي په لحاظ د نسب .

پوه شه:- چې یهودو وه علیه السلام ته وویل چې ته نه یې خبر چې یعقوب ﷺ چې وفات کېدی وصیت یې وازامنو ته د یهودیت ددین وکړی نو دا آیت نازل سو، .

أَمْ كُنتُمْ شُهَدَاءَ إِذْ حَضَرَ يَعْقُوبَ الْمَوْتُ

آیا تاسي حاضر واست اي یهودو چې دعوه د وصیت د یهودیت کوی پر یعقوب باندې او اعراض د ملت څخه د ابراهیم ﷺ کوی، واست حاضر په هغه وخت کې چې یعقوب ته مرګ راغلی یعني علامت د مرګ "اذبعد حضور الموت حقیقة لایمکن الایصاء

پوه شه:- چې "ام" منقطعه دی او معنی یې بل آه" ده، او "بل" صرف د انتقال لپاره دی د وصیت څخه د ابراهیم ﷺ او یعقوب وخپلو زامنو ته ورد ته د قول د یهودو معاصیرینو، او معنی دهمزه انکار دی" اي ماکنتم حاضرین وقت وصیة یعقوب لانکم ایها المعاصرون" ده بر وروسته تاسي یاست تر عصر یعقوبي نو تاسي څرنګه دعوه د وصیت د یهودیت پر ده کوي، او په تفسیر تیسیر کې وایي چې تر "ام" د مخه چې همزه نه وي نو

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هغه په "ام" معنی د همزه الاستفهام دی، او استفهام هغسي انکاري دی، او بیضاوي احتمال د "ام متصله" هم راوړی بتقدیر همزه الاستفهام ، یعني "ام کنتم غائبین ام کنتم شهداء، او المخاطب حینئذ ایضا الیهود، والمقصود الرد علی الیهود المعاصرین المدعین لوصیة یعقوب" یعني تاسي به یا غائب یاست دعصر یعقوبي څخه نو بیا دعوه دهغه شي څرنګه کوئ چي تاسي نه وي لیدلی، او که ځانونه حاضر بولی نو دا خو بهخي درواغ دي لان بین عصرکم وعصر یعقوب قرون کثیرة، او بعض مفسران رح وایي چي مخاطب په کنتم سره مسلمانان دي نو معنا د آیت داده چي تاسي ای مسلمانانو خو حاضر نه واست په وخت کي د حضور د موت د یعقوب علیه السلام بلکه تاسي ته دا معلومات په وحي قرآني سره درکړه سو، اورد هذا الاحتمال البیضاوي رحمه الله وتبعه المظهري .

څرګندتیا وایي:- چي دا احتمال ډیر بعید احتمال دی ولي چي د سباق سره یې مناسبت کمزوری دی، او د سیاقه سره خو هیڅ مناسبت نه لري ولهذا اورد بلفظ قیل آه اشارة الی الضعف .

إِذْ قَالَ لِبَنِيهِ مَا تَعْبُدُونَ مِنْ بَعْدِي ؕ

چي ده وویل وخپلو زامنو ته چي تاسي به دځه شي عبدت کوئ ترما وروسته یعني زما تر مرګوروسته

پوهه ورکول:- چي غرض د یعقوب علیه السلام دا و چي زامن پر توحید او اسلام اقراره کړي او ددوئ څخه میثاق او ټینګه وعده واخلي، عطار رحمه الله وایي چي هیڅ نبي نه مري تر هغو پوري چي ده اختیار ورنه کړي په منځ کي د

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ژوند او مرګ نو څه وخت چې یعقوب علیه السلام ته په وخت کې د ناجوړې ده ته اختیار ورکړه سو، نو ده له عزرائیل علیه السلام څخه مهلت وغوښتی چې زه به زامنو ته وصیت وکړم، نو ټول زامنان او د دوئ اولادونه یې سره را جمع کړه او دا یې ورته وویل ما تعبدون من بعدي.

پوښتنه:- د یعقوب علیه السلام زامنان خو نبي زاده ګان وه نو د یعقوب علیه السلام دا خبره ودوئ ته کول آیا پر شرک ددوئ ببرېدی وروسته تر مرګ خپل ؟

ځواب:- راغب اصفهاني رحمه الله وایي چې مقصود د یعقوب علیه السلام له عبادت څخه فقط عبادت مشروعه نه و مراد، بلکه مراد دده دا و چې باید مقصود ددوئ په ټولو اعمالو کې رضا د خدای جل جلاله وي، او د هغو عملو څخه وېر لري ګرځي چې وسیله و خدای جل جلاله ته نه وي، ګویا غرض د یعقوب علیه السلام دا و چې دوئ ته دعوت د نجات د شرک خفي څخه ورکړي اعنی الریاء والسمعة، او دا بېره د یعقوب علیه السلام پر دوئ نه وه چې دوئ به شرک او عبادت د بتانو وکړي بلکه پردوئ ببرېدی چې دنیا به دوئ مشغوله کړي له عبادت او عمل څخه لوجه الله جل جلاله ولهذا قیل ماشغلك عن الله فهو طاغوت ای ضم، قال الرومي رحمه الله في مثنویه

چیست دنیا از خدا غافل شدن نی قماش ونقره وفرزندن وزن

قال العلامة التفتازاني رحمه الله في حاشیة الکشاف چې کلمه د ما عامه ده یعني ذوي العقول او غیر ذوي العقول دواړو ته شامله ده انتهی باختصار.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قَالُوا نَعْبُدُ إِلٰهَكَ
وَإِلٰهَ آبَائِكَ إِبْرٰهِمَ وَإِسْمٰعِيلَ وَإِسْحٰقَ
إِلٰهًا وَّاحِدًا ۚ وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ ﴿۱۳۳﴾

دا جمله مستانفه ده کانه قیل فماذا قالوا في جواب یعقوب قالوا الخ زامنو ورته وویل چې مورِ به عبادت کوو ستا د خدای ﷻ او ستا د پلرو د خدای ﷻ هغه پلرونه ستا چې ابراهیم او اسماعیل او اسحاق علیهم السلام دي چې یو خدای ﷻ ددوئ متفق د تولو وو، او مورِ وهغه خدای ﷻ ته منقاد او تسلیم او اخلاص درلودونکي یو .

سوال:- چې ابراهیم علیه السلام خو د یقعوب علیه السلام نیکه و او اسماعیل علیه السلام خو یې اکا و، نو ګردو ته یې آبا څرنګه وویل ؟

ځواب:- لفظ د اب پر جد باندي اطلاق بېخي شائع دی حتی چې لکه حقیقت طاریه ګرځېدلی دی، او عرب اکا ته هم پلار وایي او خاله ته مور وایي، قال رسول الله ﷺ عم الرجل صنو ابیه، رواه الترمذي کذا في المظهري، نو د اعراب له لارې د ابراهیم، اسماعیل او اسحق عطف بیان دی د آبائك الخ .

فائده:- چونکه عطف پر مجرور بېله اعاده د جار که اسم وي او که حرف وي نحاتِ ناروا بولي، نو ځکه پر مجرور محلاً چې ضمیر د "الهك" دی چې عطف د آبائك کاوه نو جار چې آله و د آبائك سره یې راوه ګرځاوه، لکن د تکرار د لفظ د آله چې توهم د تعدد د آلهه و کېدی، نو ځکه لپاره د دفع

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ددغه توهم يې آلهاً واحداً ووايي. وقوله ونحن له مسلمون، جمله اسميه ده او حال د فاعل څخه د "نعبد" او يا د مفعوله د نعبد او يا له دواړو څخه، ولي په نحو کي قانون دادی چې په جمله کي ضمير د فاعل او مفعول دواړه وي د هغې جملې په حالیت کي دري سره وجهي روا دي، او دا هم احتمال لري چې جمله د ونحن آه جمله معترضه وي قاله المظهري رحمه الله، او هغه احتمال چې قاضي بيضاوي بيان کړی دی چې الهاً واحداً منصوب علی الاختصاص دی يعني نخص الهاً واحداً او نعنی الهاً واحداً پر هغه ابو حيان رحمه الله دا اعتراض کړی دی چې نحات وايي په منصوب علی الاختصاص کي دا شرط دی چې نکره او مبهم به نه وي، نو ابو حيان آلهاً واحداً حال بولي، او روح البيان يې بدل د آله آبائك څخه بولي ولي نکره موصوفه حال د معرفې څخه بالاتفاق کېدای سي، او بصريون توصيف د نکره شرط نه بولي، فرجع الی النحو المبسوطة.

تِلْكَ أُمَّةٌ قَدْ خَلَتْ ۖ لَهَا مَا كَسَبَتْ وَلَكُمْ مَّا كَسَبْتُمْ ۖ وَلَا تُسْأَلُونَ عَمَّا كَانُوا يَعْمَلُونَ ﴿١٣٤﴾

دغه ابراهيم او يعقوب عليهم السلام او دده زامن يوه ډله وه چې تېره سوه يعنې په ماضيه قرونو کي او عند القضاء الآجال وفات سوه، او دغې ډلې لره هغه شی چې دوئ يې کسب کړی و يعنې اعمال ددوئ، او ناسي لره هغه څه دي چې ناسي يې کسب وکړی يعنې مطلب دا چې ستاسي هم نسبي له دوئ سره ناسي ته فائده نه کوي تر څو چې اشتراک عملي له دوئ سره پيدا نه کړي.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

معنی:- په قیامت نسته داسي پوښتنه د چا زوي يې له کوم وطنه، او ستاسي څخه پوښتنه نه کېږي د هغو عملو چې نامبرده ډلي کوله يعني په قيامت د هر چا څخه د خپل عمل پوښتنه کېږي نه د بل چا د عمل که خپل وي که بېګانه وي. امام بغوي په خپل تفسير کي وايي چې رئيسان د يهوديانو د مدينې منورې کعب بن الاشرف مالك بن الضيف وهب بن يهودا ياسر بن ابی الاخطب او نصاری د نجران يعني السيد، والعاقب وغير هما د مسلمانانو سره يې په دين کي بحث شروع کړی، او هري ډلي دا ويل چې دين حق او مرضي عندالله دين زموږ دين دی وبس نو يهوديانو دا وويل چې زموږ نبي موسی افضل الانبياء دی، او زموږ کتاب تورات افضل الکتب السماوية دی، او زموږ دين بهترين د دينو دی، او د عيسی او دده د کتاب انجيل څخه يې انکار وکړی او دغه رنګه د آنحضرت ﷺ او د قرآن څخه يې هم انکار وکړی، او دغه رنګه نصاری وو وويل چې زموږ نبي عيسی افضل الانبياء دی، او زموږ کتاب انجيل افضل الکتب الالهيه دی او زموږ دين افضل الاديان دی، وکفروا بمحمد ﷺ والقرآن، او يهود او نصاری و دواړو مسلمانانو ته دا وويل چې زموږ دين ته را واوړئ ولي چې بل دين حق مقبول عندالله نسته بېله زموږ له دينه څخه. فانزل الله تعالی

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

وَقَالُوا كُونُوا هُودًا أَوْ نَصَارَىٰ تَهْتَدُوا ۗ قُلْ بَلْ مِلَّةَ إِبْرَاهِيمَ حَنِيفًا ۖ وَمَا كَانَ مِنَ الْمُشْرِكِينَ ﴿١٣٥﴾

او ویل به یهود او نصاری وو یعنې و مسلمانانو ته چې تاسې د یهودو په دین سې او یا د نصاری و په دین سې نو تاسې به هدایت یعنې دین حق پیدا کړې.

پوه شه:- پوه سه: چې تهتدوا خواب د امر دی.

فائده:- چونکه یهود او نصاری یو او بل ته کافران وایي کمامر في شان نزول الآیت نو دا خبره ددوئ "کونوا هودا او نصاری ددوئ اتفاقي خبره نه ده بلکه یهود وایي "کونوا هودا" او نصاری وایي "کونوا نصاراً، لکن جمع الله سبحانه وتعالی بین قولیهما اختصاراً في العبارة، او ته ووایي ای محمد ﷺ چې نه مونږ یهود ګرځو او نه نصاری بلکه مونږ ملت ابراهیم یو یعنې مونږ اهل د ملت ابراهیم یو فحذف المضاف، او یا معنی داده بل نتبع ملة ابراهیم، او یا معنا داده چې تاسې ای یهود او نصاری و متابعت وکړئ د ملة ابراهیم یعنې مسلمانان سئ لکه مونږ.

وقوله حنیفاً، حال دی له ابراهیم علیه السلام څخه.

سوال:- نحات وایي چې حال ما یبین بهیئة الفاعل او المفعول به، لفظ د ابراهیم څو نه فاعل دی او نه مفعول به بلکه مضاف الیه دی د ملة د لفظ دی؟

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ځواب:- نحات دا هم وايي چې مضاف که يا فاعل و او يا مفعول به او حذف دده او مضاف اليه په ځای کې درول معنا ته خلل نه درلودی نو د هغه مضاف اليه څخه هم حال روا دی، ولې دا مضاف اليه حکما يا فاعل او يا مفعول به دی وفي مانحن فيه کذالك، ولې که لفظ د ملت حذف سي او داسي وويل سي "بل ابراهيم آه" معنا ته خلل نه پېښېږي، ولې چې معنا يې داده "بل نتبع ابراهيم، وهذا المعنى صحيح لانه يرجع الى المعنى الذي يكون على تقدير ذكر الملة كما لايخفى، او يعض مفسران وايي چې حنيفا حال دی د ملت څخه .

سوال:- لفظ د ملت خو مونث دی او حنيفا مذکر دی والنحاة يشترطون المطابقة بين الحال و ذي الحال في التذكير والتانيث ؟

ځواب:- چونکه ملت او دين يو شی دی نو به ملت په تاويل د دين وګرځوو فحصل المطابقة .

پوه سه:- پوه سه: چې حنف چې مصدر د حنيفاً دی په معنا د ميل دی نو معنا د حنيفاً داده چې حالګون کون د ابراهيم يا دين دده منحرف و د يهوديت او نصرانيت څخه يعني نه يهودي او نه نصراني و، قوله وماكان آه، رد پر مشرکانو د مکې چې دوئ دا دعوه کوله او پر يهوديانو او نصاری وو باندي چې مشرکانو سره د بت پرستي او يهوديانو سره ددې عزير ابن الله بالی، او نصاری وو سره ددې چې عيسى ابن الله بولي ټولو ځانو ته تابعان د ابراهيم د دين بوللل، وهذا جمع الضدين ولې ابراهيم عليه السلام خو په هيڅ نوعه مشرك نه و، نو ځرنګه دا دري ډلي سره د شرك دعوه د متابعت د ابراهيم او د دين دده عليه السلام کولای سي. اين خيال است ومحال است وجنون، بلکه دين د ابراهيم عليه السلام هغه دين و چې پر

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

هغه دين باندي نبينا عليه الصلوة والسلام او اصحاب كرام ﷺ او اتباع ددوئ دي چي هيڅ قسم شرك خاى نه پكښي لري، قال الله جل وجل سلطانه وصدق قوله وقرآنه

قُولُوٓا يعني اى مومنانو **اٰمَنَّا** يعني وحده بدون الاشتراك

بِاللّٰهِ وَمَآ اُنْزِلَ اِلَيْنَا

يعني قرآن مبارك پي دمخه راوړى ولي چي قرآن مبارك زمونږ د ايمان سبب دى پر نورو كتابو.

وَمَآ اُنْزِلَ اِلٰٓى اِبْرٰهٖمَ

چي لس (۱۰) صحيفې ده وې.

وَاِسْمٰعِيْلَ وَاِسْحٰقَ وَيَعْقُوْبَ وَالْاَسْبَاطِ

او چي نازل سوى وي پر اسماعيل او اسحاق او يعقوب عليهم السلام باندي.

پوهه شه:- چي اولاد د ابراهيم عليه السلام كه څه هم نوي صحيفه او كتاب يې نه درلودى بلكه د تولو اولادو د ابراهيم عليه السلام هم معمول هم هغه صحيفې وې چي پر ابراهيم عليه السلام نازلي سوي وې لكن چونكه دوئ په هغو صحيفو سره عمل كاوه نو هغه صحيفې خداى ﷻ پر دوئ هم نازل وګڼلې، لكه مونږ چي وايو قرآن مبارك منزل دى علينا.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

فائده:- اسباط جمع د سبط ده چې اصل ته د درختي وايي چې ډېر ښاخونه لري، او مراد دلته د اسباط څخه اولاد د يعقوب عليه السلام دي چې دولس (۱۲) وه، ولي چې هر يو يې لکه لويه درخته ډېر ښاخونه اولادونه يې درلوده .

فائده:- اسباط په بني اسرائيلو کې لکه قبائل د عربو دي يا قومونه په عجمو کې او په اسباطو کې د بني اسرائيلو انبياء وه که څه هم ټوله انبياء نه وه .

وَمَآ أُوتِيَ مُوسَىٰ وَعِيسَىٰ

او پر هغه کتابو مو ايمان دی چې موسی عليه السلام ته ورکړه سوی ويعنې تورات يا عيسی عليه السلام ته ورکړه سوی و يعنې انجيل .

فائده:- دا دوه نبيان او کتابونه د دوئ په ذکر سره يې خاص کړه په دې سبب چې خبرې د يهوديانو سره دي چې موسی خپل نبي بولي او تورات خپل کتاب بولي، او د نصاری و سره چې عيسی خپل نبي بولي او انجيل خپل کتاب بولي، يعنې د مسلمانانو او ددغو دوو ډلو تر منځ خبرې او بحث روان و کمامر سابقاً في القرآن العزيز .

وَمَآ أُوتِيَ ٱلنَّبِيُّونَ مِن رَّبِّهِمْ

او پر هغه کتابو زمور ايمان دی چې ټولو انبياء عليهم السلام ته ورکړه سوي وه که مذکورين دي او که غير مذکور نو دا تعميم بعد التخصيص دی .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّنْهُمْ وَنَحْنُ لَهُ مُسْلِمُونَ ﴿١٣٦﴾

او مونږ فرق نه کوو د یوه نبي او بل نبي، یعني چې یو منو او بل نه منو لکه یهود او نصاری چې دا فرق کوي کمامر عنقریب .

پوهه شه:- یوه سه: چې جمله د لانفرق حال ده د ضمیر څخه د آمناً، او مونږ مخلصان د خدای ﷻ یو، دا جمله هم حال ده .

پوهه شه:- چې دغسې ایمان او اسلام دین و د ابراهیم حنیف بلکه هم داغه و دین دهر نبي من الانبیاء، او هم داغه دی دین النبي آخرالزمان محمد ﷺ .

پوهه شه:- چې دلیل د عدم فرق بین الانبیاء دا دی چې هر څوك چې دعوه د نبوت وکړي او د خدای ﷻ له خوا یې تصدیق د نبوت وسي یعني په ورکړه د داسي معجزاتو چې د بشر له طاقته وتلي امور وي، نو پر هر انسان لازمه ده چې پر هغه نبي به ایمان راوړي او د هغه متابعت به کوي والانبیاء علیهم السلام في هذا القدر متساویة الاقدام دي وان کان بینهم فرق في الدرجات، ولهذا قال علیه السلام الانبیاء اخوة من علاة و امهاتهم شتی و دینهم واحد، متفق علیه، مظهري وایي چې معنا د حدیث مذکوره داده چې اصل د ین د انبیاء یو دی وهو الوحي من الله تعالی، او استعداد نو ددوئ مختلف دی فلاجل اختلاف الاستعدادات التي هي بمنزلة الامهات، اختلفوا في فروع الشرائع واصل دینهم واحد چې متابعت دی د اوامر و د خدای ﷻ په عمل کولو سره او د منهیاتو د خدای ﷻ په نه کولو سره، او د جملې څخه د اصل دین مشترك دی ایمان پر ذات د خدای ﷻ چې واحد لاشریك دی او پر صفاتو د خدای

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ﷻ من الحيرة والعلم والقدرة وغيرها، او ايمان دی پر احكام د خدای ﷻ، او ايمان دی پر اخباراتو د خدای ﷻ في المبدء والمعاد، امام بخاري رحمه الله د ابو هريره رضي الله عنه څخه داسي روايت كړی دی چي يهوديانو به تورات په عبراني ژبه وايه او مسلمانانو ته به يې په عربي ژبه ترجمه كاوه نو عليه السلام و مسلمانانو ته داسي وويل چي تاسي مه تصديق د اهل كتابو كوئ او مه يې تكذيب، يعني چي د اهل كتابو په كتابو كي تحريف ډير سوی دی بالزيادة والنقصان على حسب مقتضى علمائهم، وقولوا آمنا بالله الآيه.

ژوبښ وايي:- چي لله الحمد والمنة والاحسان چي زمونږ قرآن كريم په كر الازمان والدهور كي له تحريفاتو څخه د علماء سوء ساتلی دی، نحن نزلنا الذكر وانا له لحافظون، يعني مونږ قرآن نازل كړی او مونږ يې ساتونكي يو.

فَإِنْ آمَنُوا بِمِثْلِ مَا آمَنْتُمْ بِهِ فَقَدِ اهْتَدَوْا

نو كه اهل كتاب ايمان راوړي په مثل سره د هغه چي تاسي ايمان پر راوړی، نو په تحقيق دوئ هدايت ته ورسېدله.

ژوبښ وايي:- چي دلته يو سوال پيدا كېږي چي مسلمانانو خو ايمان راوړی دی پر قرآن او قرآن لره مثل نسته، او دغه رنګه د مسلمانانو خو ايمان دی پر عليه السلام او عليه السلام لره خو هم مثل نسته، مظهري په متابعت د بيضاوي بېله حوالې و هغه ته وايي چي باء په بمثل كي زائده ده، نو يې معنا داده چي كه اهل كتاب ايمان راوړي مماثل ستاسي د ايمان سره نو دوئ به پر هدايت سي، نو دابباء داسي ده

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

لکه په دې قول کې "جزآء سيئة بمثلها" ای جزاء سيئة مثلها، او یا لفظ د مثل زائد دی، نو یې معنا داسې کېږي، که دوئ ایمان راوړي "بما آمنتم به يعيني القرآن ومحمد ﷺ، نو نظیر لفظ د زیادت المثل هغه آیت دی "وشهد شاهد من بني اسرائيل على مثله ای علیه" او د عبدالله ابن عباس ﷺ قرائت ددې توجهه تائید کوي " فان آمنوا بما آمنتم به" او دغه رنګه یا تائید کوي قرآئت د ابي ﷺ "فان آمنوا بمنا آمنتم بهٖ" او بیضاوي داسې توجیه د آیت هم زیاته کړې ده چې کلمه د باء د تعدیه لپاره نه ده بلکه باء الآلة ده، نو یې معنا داسې کړې ده ان تحروا الایمان بطریق یهدي الی الحق مثل طریقکم، فان وحدة المقصد لاتابی تعدد الطرق الیه" معنا داده که اهل کتاب قصد وکړي و ایمان ته په یوه لار سره چې موصل وحق ته وي لکه ستاسې لار "فقد اهتدوا" ولې چې پر دېرو لارو یوه مقصد ته تګ پروانه لري، او بیضاوي او روح البیان په متفقه طور وایي چې دا ایت له قسمه څخه د تبکیت دی یعني الزام د خصم او تعجیز دی یعني اظهار د عجز د خصم کما في قوله تعالى "فاتوا بسورة من مثله وتحقیق هذا الجواب، چې ګویا مسلمانان و اهل کتابو ته وایي چې زمونږ مقصود خو هدایت ستاسې دی، نو که تاسې داسې دین پیدا کړئ لکه اسلام په صحت کې فقد اهتدیتم، نو بیا مونږ تاسې ته نه وایو چې مونږ پر حق یو او تاسې پر باطل نو خصم که د سلیم فکره څخه کار واخلي او په نظر عمیق وګوري نو به ورته معلومه سي چې نه مثل د قرآن سته او نه مثل د علیه السلام سته، نو به ایمان راوړي، او د مسلمانانو دا د انصاف نظر به یې خوښ سي او دا به ورته معلومه سي چې مسلمانان زمونږ سره ګوم عداوت او دښمني نه لري بلکه مقصود یې زمونږ هدایت دی .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

دروېش وايي:- چې دې طريقې ته د بحث طريقه د ارخاء العنان مع الخصم وايي، او په مناظره کې دا طريقه ډېره کاميابه طريقه ده، وكم من سالك سلكوا هذه الطريقة قديما وحديثا .

پښتو:- دروېش داسې عبارت ووايي ببله حوالې، په دې کې د دروېش غرض تعريض پر مظهري رحمه الله نه دی بلکه غرض مې دا وو چې نقل د يو کتاب څخه که په حواله وي او که بې حوالې وي د مصنفينو تر منځ مشهور دی، او عيب نه ګڼل کېږي، نو دروېش وخپلو حاسدانو ته حيران دی يعنې که دروېش حواله و ماخذ د دې تفسير ونه کړه نو دوئ وايي چې عبيدالله سارق دی وهذا جهل عظيم .

وَإِنْ تَوَلَّوْا فَإِنَّمَا هُمْ فِي شِقَاقٍ ۖ فَسَيَكْفِيكَهُمُ اللَّهُ ۚ وَهُوَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ ﴿١٣٧﴾

او که اعراض وکړي دوئ له ايمان څخه بالشرائط المذكورة او المفهومة من الآيات السابقة نو دوئ په خلاف کې د حق دي .

پښتو:- چې تنوين د شقاق لپاره د تعظيم دی اي في اختلاف من الحق عظيم .

پښتو:- چې خدای ﷻ شقاق د دوئ لپاره ظرف وګرځاوه مبالغةً في بعدهم عن قبول الحق والايمان .

پښتو:- چې شقاق مشتق دی له شق څخه بمعنى الجانب فكان كل واحد من الفريقين في شق غير شق الآخر، او ژر دی چې كفايت به وكړي ستا ای محمد ﷺ له دوئ څخه يعنې د دوئ له شره څخه، الله تعالى ﷻ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

اورېدونکی دی د اقوالو د کفارو او د مسلمانانو، او عالم دی په احوالو سره د ټولو یعني فیجزی کلهم في الآخرة مطابقا لعلمه في الدنیا .

پوهه شه:- چې دواړه ضمیره یعني "ك" او "هم" منصوب المحل دي مفعولان دي د یکفی، او په حقیقت کې مفعول ثاني مقدر دی یعني "شرهم ای الیهود والصناری .

پوهه شه:- چې دا وعده خدای ﷻ پوره کړې ده چې قتل او سبي یې پر بني قریظه مسلطه کړه، او فرارول وشام ته او نورو خایو ته پر بني نضیرو، او ذلت او جزیه پر نصاری و د نجران .

فائده:- د تفسیر مظهري په منهیه کي راغلي دي چې مصریانو او نورو چې پر امیر المومنین عثمان ﷺ په مدینه منوره کې حمله وکړه او دی یې په خپل سرای کې محاصره کړی نو د شپې چې امیر المومنین وروسته تر تهجد د لمانځه د قرآن مبارك تلاوت کاوه او باغیان یې وسرای ته ورواوښتل او امیرالمومنین ودغه ایت ته "فسیکفیکهم الله" د رسېدلو په وخت کې باغیان په دواړو لاسو په توره وواهه چې وینې یې پر دغه آیت ومبنتلې، نو عثمان ﷺ وویل "انها لاول ید خطت المفصل" راوي وایي چې د دغو باغیانو څخه یو هم پر سالم حالت نه دی مړ وتمام القصة یجئ في محل مناسب لها ان شاء الله والقصة المذکورة في کتب الآحادیث المبارکة مذکورة .

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

صِبْغَةَ اللّٰهِ ۚ وَمَنْ اَحْسَنُ مِنَ اللّٰهِ صِبْغَةً ۖ وَّنَحْنُ لَهٗ عٰبِدُوْنَ ﴿۱۳۸﴾

پوښتنه:- چې د صبغة الله تفسیر ابن عباس ﷺ په قول د مظهري رحمة الله علیه په دین الله سره کړی دی او په دې کې شک نسته چې د صبغ معنا حقیقةً رنګول د جامې دي په یو رنګ سره نو پر دین یې اطلاق مجاز دی، او علاقه د مجاز یې داده چې اثر د دین پر متدین سړي ښکارېږي لکه اثر د صبغ پر جامه باندې، نو پر دې تقدیر مصدر مؤکد لپاره د آمنا دی من غیر لفظه ولي چې ایمان او دین سره یو شی دي، او یا بدل دی د ملت ابراهیم سه، فالتقدیر بل نتبع دین الله، او یا منصوب دی علی الاغراء یعنې یو څوک پر یو کار ګومارل یعنې درواخلئ دین الله، او بیضاوي رحمة الله یې څو تفسیره کړي دي

(۱) اول ای صبغنا الله صبغة او د صبغة الله معنا یې هغه استعداد فطري او خلقي کړې ده چې خدای ﷻ انسانان پر هغه پیدا کړې دي یعنې استعداد قبول الاسلام کما اشیر الیه بقوله علیه السلام "کل مولود یولد علی فطرة الاسلام فابواه یهودانه الی اخر الحدیث.

پوښتنه:- دې فطرت الهي ته ولي صبغه وویل سوه، یعنې مجاز څو دی علاقه یې څه شی ده؟

ځواب:- علاقه یې داده چې دغه فطرت الهي د انسان زینت دی چې په دې زینت الهي سره انسان د حیواناتو بې ادارکو څخه جلا دی لکه رنګ چې زینت د جامې دی.

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

(۲) هدانا الله هداية يعني موږ ته يې طريقه، حجت او دلائل د هدايت رابنوولي دي .

(۳) او طهر قلوبنا بالايمان بتطهيره، والعلاقة انه ظهر اثر الايمان الذي هو المراد بتطهير الله عليهم كظهور اثر الصبغ على المصبوغ وتداخل في قلوبهم كتداخل الصبغ في المصبوغ، او يا مشاكلةٌ يې اطلاق د صبغ پر ايمان کړی دی .

فائده:- مشاكله دا بولي چې يو شی په لفظ د بل شي ذکر کړه سي ولي د هغه غيره همسايه راغلی وي کقوله تعالى "يخادعون الله وهو خادعهم، ای يجازيهم على خداعهم فسمى جزاء الخداع خداعاللمشاكلة، وقوله تعالى "جزاء سية سية مثلها .

فائده:- همسايه والی عادم دی که ظاهراً وي كما في الآيتين المذكورتين، او که تقديرا او حكماً وي كما في هذه الاية يعني صبغة الله لانه ليس آه مجاور ظاهرا ولفظا بلكه تقديراً، ولي چې په آحاديث مبارکه و کې راغلي دي چې د نصاری و عادت دا و چې په اومه ورځ د ولادت د اولاد د دوئ به هغه مولود خپلو د ملايانو کورته ور استاوه تاچې په هغو ابو چې عيسى عليه السلام په پرېوله سوی دی په وخت کې د ولادت چې دوئ معمودیه ابوبه بولي دا کوچنی يې په پرېمنځي او د هغو ابو ژړ رنګ دی، او ملايانو به نوري اوبه په ګډولي او مالګه به يې هم پکښې ايښوولې چې بد بويه نسي، او دوئ ته پر دې پرېولو باندې څه نقود د مولود د پلار له خوا لاس ته راتله، او ملايانو به وروسته تر غسل د ابی د مولود و پلار ويل چې الآن صار نصرانيا حقا، او پاک سو د ټولو اديانو باطله و څخه، نو دا صبغه د نصاری وو که څه هم لفظا نه ده ذکر لکن په

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

قرینه الحال سره ګویا ذکر د فالآیة المذکورة رد لزعمهم الفاسد قوله ومن احسن آه.

پوهه شه:- چې کلمه د من مبتداء ده او احسن يې خبر دی او استفهام انکاري دی، يعني هيڅ څوك احسن تر خدای ﷻ نسته از روی صبغه، ولې چې خدای ﷻ خپل بندګان صبغ کوي يعني پاکوي يې په ايمان سره د چرکه څخه د کفر او له نجاساتو څخه د شرك، او نصاری يې په اوبو پاکوي.

ع قیاس کن ز گلستان من بهار مرا

او مور خاص الخاص عبادت کونکي د خدای ﷻ يو، وفي المثنوي

گو را رنگ از برون ومرد را — از د رون دان رنگ سرخ وزرد را

رنگهای نیک از زخم صفات — رنگ زشتان از سیاه آب جفا است

پوهه شه:- په دې قول کې د خدای ﷻ " ونحن له عبدون اشاره و دې ته ده چې عارفان او اولیاء الکرام رح ددې لپاره عبادت کوي چې خدای ﷻ مستحق د عبادت دی، نه د شوق د جنت لپاره او نه له بېرې د دوزخ له سببه، په روح البیان کې وایي چې په زبور کې خدای ﷻ داسې فرمایلي دي " ومن اظلم ممن عبدني لجنة او نار فلو لم اخلق جنة ولا نارا لم اکن مستحقا لان اعبد" شیخ ابو العباس رحمه الله وایي چې اوقات د بنده څلور دي پنځم نه لري، الطاعة والمعصية والنعمة والبلية، او هر وخت لره برخه د عبودیت او بندګۍ سته چې زمور څخه يې خدای ﷻ غواړي په حکم د ربوبیت او خدایي، نو که د سړي وخت د عبات و يعني عبادت د خدای ﷻ يې کاوه، نو حق د خدای ﷻ دادی چې په خوشحاله به اوسي او دوام دي پر وکړي، او که يې وخت د معصیت و يعني ګناه څنډي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

صادره سوه، حق د خدای ﷻ دادی چې سړی دي په خوابدی سي او توبه دي وکړي او که وخت د سړي د نعمت و يعني خدای ﷻ نعمت ورکړی نو حق د خدای ﷻ پر بنده باندي شکر کول دي، او که وخت د سړي بلا وه من مرض و فقر وغير ذالك نو حق د خدای ﷻ پر بنده صبر کول دي او رضی په قضا د خدای ﷻ.

فائده:- پر بلا باندي د صبر معنا دا نه ده چې سړی به دفعه د هغې بلا نه غواړي بلکه معنا يې داده چې د خدای ﷻ څخه به ګله او شکايت نه کوي، قال المولى الرومي قدس سره في المثنوي

کافرم من گر ز يان کر د ست کس — در ره ايمان وطاعت يک نفس
سر شکسته نيست اين سر را مبند — يک دو روز صبر کن باقي بخند
تازه کن ايمان نه از گفت زبان — ای هوا را تازه کرده در نهان
تا هوا تازه است ايمان تازه نيست — کين هوا جز قفل آن دروازه نيست

پوه شئه:- روح البيان د سري سقطي رحمه الله څخه داسي روايت نقل کړی دی چې ما شل کاله نصيحت کاوه لکن په دام کي د نصيحت مي يو نفر واقع سو هغه داسي چې ما په جامه مسجد کي د بغداد په ورځ د جمعې نصيحت کاوه او دا جمله مي وويله عجبت من ضعيف عصى قويا، خير د شنبې د سهار لمونځ چې ما وګزاره يو ښه ځوان راغلی چې وروسته يې د آسانو سپاره په پسې وه او تر مخ يې مريان څغاسته، او خوان هم پر يوه آس سپور و، نو چې کښته سو پوښتنه يې وکړه ايکم السري السقطي يعني سري سقطي کوم يو دی ستا سو څخه، ناستو خلګو ماته اشاره وکړه يعني دغه سړی سري سقطي دی، نو ماته يې سلام ووايه او په آدب سره کښېنستی نو يې وويل چې پرون ما ستا څخه دا

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

جمله ووار ېدله عجبت من ضعیف عصی قویا" نو ده وویل چې ستا څه مراد و یعني ضعیف او قوي دي څوك ښوولە؟ نو ده ورته وویل لاضعیف اضعف من بني آدم ولاقوي اقوی من الله عزوجل، او سره د خپل ضعف بني آدم د قوي بلکه اقوی خدای ﷻ عصیان کوي، سري رحمه الله وایي چې دې ځوان وژړل او وه یې ویل چې ما غوندي غرق په ګناهو کې خدای ﷻ قبلوي، نو ما ورته وویل چې ته خپله معامله و خدای ﷻ ته په صدق او اخلاص او توبه سره صحیح کړه په ورځ د قیامت ستا خصوم خدای ﷻ له تا څخه راضي به کړي باعطاء العوض من جانبه، سري سقطي رحمه الله وایي چې رسول الله ﷺ وویل چې ورځ چې د قیامت سې او پر ولي الله خصوم جمع سي او هر یو خپل حق غواړي نو خدای ﷻ ټولوته ووایي چې زما دوست مه په عذابه وي ستاسي حقوق زه درکوم، فبکی ځوان بیا وژړل، بیا هغه ځوان و سري سقطي رحمه الله ته وویل ماته بیان کړه لار د خدای ﷻ سقطي ورته وویل که ته لاړه د میانه روو اولیاؤ غواړې نو تولي علاقې له مخلوقه څخه قطعه کړه او وخالق لایزال ته متوجه سه، نو ځوان دومره دېر وژړل چې د سمال یې په اوښکو لوند کړی، سري وایي چې دغه ځوان تولي علاقې له مخلوقه قطعه کړې او د اهل او عیال څخه ګوښه نشینه سو او ټوله ژوند یې په مقبرو کې ګذاره کوله فمات علی تلك الحال رحمه الله سقطي رحمه الله وایي چې ما یوه شپه ددغه ځوان د کشف الحال په باره کې استخاره یعني وروسته تر مرګ ددغه ځوان مې په خوب ولیدی چې ورښمین کالي د جنت یې اغوستي وه، او چې زه یې ولیدم وه یې ویل جزاك الله خیراً، ما ورته وویل چې خدای ﷻ څه معامله درسره وکړه، ده راته وویل چې وروسته تر مرګ یې دستي وجنت ته وروستلم او د هیڅ

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

ګناه پوښتنه يې هم را څخه ونه کړه، هذا حاصل ما في روح البيان مع زيادة يسيرة.

قُلْ أَتُحَآجُّونَنَا فِى ٱللَّهِ وَهُوَ رَبُّنَا وَرَبُّكُمْ وَلَنَآ أَعْمَٰلُنَا وَلَكُمْ أَعْمَٰلُكُمْ وَنَحْنُ لَهُۥ مُخْلِصُونَ ﴿١٣٩﴾

ته ووايه اي محمد ﷺ و يهود اونصارى وو ته ايا تاسي زمونږ سره د لاټل وياست يعني ناحقه بحثونه راسره کوئ په شان کي د خداى ﷻ، يعني خداى ﷻ ولي نبي ﷺ په عربو کي برګزيده کړى يعني محمد ﷺ، او سره ددې چي د نبوت کورنى خو يهود وايي مونږ وو او نصارى وايي مونږ او حال دادى چي خداى ﷻ خو زمونږ رب دئ او ستاسي يعني خداى ﷻ د يو قوم دون قوم سره علاقه خاصه نه لري نو خداى جل شانه د هر قوم څخه چي نبي مختاره کوي نو دى فاعل مختار دى کولاى يې سي "لايسئل عما يفعل وهم يسئلون" او مونږ لره خپل عملونه دي او تاسي لره خپل عملونه دي يعني لکل واحد منا ومنكم جزاء عمله ان خيراً فخير وان شراً فشر، او مونږ مخلص بندګان د خداى ﷻ يو او تاسي مشرکان ياست نو مونږ بايد احق په کرامت د خداى ﷻ سو.

پوهه شه:- چي په نبوت کي دوه مذهبه دي يو مذهب د اهل حق دى دوئ وايي چي نبوت فضل الهي دى او امر موهبي دى "يؤتيها من يشياء" او حكما وايي چي نبوت امر کسبي دى په مجاهده يعني په کوشش پورې د انسان کار لري او تصفيه د قلب او باطن غواړي، نو په دې آيت کي

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای ﷻ پر دواړو مذاهبو و دوئ تنه الزام ورکړی، اول رد د اهل حق د مذهب له لاړي دادی هو ربنا وربکم، نو که موږ ته اراده د موهبت د نبوت وسي او که وتاسي ته باید یو پر بل اعتراض ونه کړو، او پر مذهب د حکما و په دې قول سره رد وکړی و لنا اعمالنا ولکم اعمالکم" نو عین ممکنه ده چې زموږ په عملو کې دې داسې مجاهدات او تصفیه د باطن پیدا سي چې سبب د نبوت دی وګرځي .

فائده:- اخلاص په عمل کې چې په بل عبارت یې احسان هم بولي چې بنده خپل عمل د شرک جلي او خفي څخه چې ریا ده خلاص کړي

بیت

بروي وریا خرقه سهل است دوخت وگر برخدا در فروشي نکوست .

فائده:- که یو څوک مثلا دتهجد په لمانځه کولو کې په خلګو کې شهرت ولري، لکن ده څان له خلګو څخه پټ ساته یو خای د شپې مپلمه سو نو د تهجد لمونځ یې پربښوی دا هم ریا ده په دې معنا چې خلګ به وایي چې فلانی دومره تقوی داره دی چې په کور کې ده تهجد کاوه دلته یې په قصده پربښوی .

فائده:- د فرضي عملو په اصل ذات کې ریا نسته ولې چې سړی پوهیږي چې لمونځ خو پر ده فرض وه خود به یې کاوه، نو عامل الصلوة به په لمانځه کې علو نفس وخلګو ته وښیي او په کیفیت کې د اداء یې ریا سته مثلا چې یوازې فرضي لمونځ کوي چابک چابک یعنې بېله مراعته د تعدیل الارکان یې کوي، او په حضور کې د خلګو په ښه رکوع او قومه او په ښه سجده او جلسه بین السجدتین وغیر ذالک سره یې کوي، نو په دې صورت کې د اصل لمانځه ثواب په ورځ کې د اخرت

Maktaba Tul Ishaat.com
Scanned by CamScanner

خدای ﷻ ورکوي، او د تعدیل الارکان ثواب یې نسته. او د نفلي عباداتو په اصل او په کیفیت په دواړو کي د ریا امکان ستنه کما لایخفی فتدبر.

ژوپښ وایي:- چې سعدي شیرازي قدس سره په بیان کي د ریا کاره دېر په زړه پوري اشعار ویلي دي هغه دادي.

شنیدم که نا بالغي روزه د اشت — بصد محنت آورد روزي بچاشت
پدر دیده بوسید وما د ر سرش — فشاندند بادام وزر بر سرش
چو بروي گذر کرد یک نیمه روز — فتاد اندرو آتش معده سوز
بدل گفت اگر لقمه چندي خورم — چه داند پدر غیب یا مادرم
چو روي پسر در پدر بود وقوم — نهان خورد وپیدا بسر برد صوم
که داند که در بند حق نیستي — اگر بیوضوء در نماز ایستي
پس این پیرازان طفل نادان تر است — که از بهر مردم بطاعت درست
کلید در دوزخ است ان نماز — که درچشم مردم گزاري دراز
اگر جز بحق میرود جاده ات — در انش نشانند سجاده ات

